(مَنْ يُرِدِ اللهُ بِهِ خَيْرًا يُفَقِّهْهُ فِي الدِّيْنِ ط)

# د سعادت خزانه

## د قران ، سنتو او حنفی فقهی په رڼا کی

### په پښتو ژبه ترجمه


مولف
عزیز محمد پریس د میدان ښار خروټ کلی اوسیدونکی


ناشر: محترم الحاج نورمحمد خان ( اندړ)


Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کتاب ځانګړنې


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | د سعادت خزانه (د قرآن، سنتو او حنفي فقهې په رڼا کې) |
| لیکونکی: | الحاج عزیز محمد "درویش" |
| ناشر: | الحاج نورمحمد خان (اندړ) |
| ډیزاین: | محمد جواد "مبارز" |
| کمپوز: | عبدالرحمن (احمدی) |
| د چاپ کال: | ۱۳۹۷ هـ ش |
| د چاپ شمیر: | (۱۰۰۰) جلده |
| تلیفون نمبر : | ۰۷۰۷۸۵۴۹۴۲ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

## تقریظ

مونږ دا کتاب ټول مطالعه کړو. واقعا د پشتون قوم لپاره مفید او ضروری ده، استاز عزیز محمد (پردیس) په ډیر کوشش او تحقیق سره د ډیرو لویو معتبرو کتابونو نه په حواله نهایت صحیح او ضروری مسایل په عام فهم په پشتو کی لیکلی او د اسلام یو عظیم خدمت یی په بی نظیر طریقی سره انجام کړی ده.

مونږ دعا ورته کوو چی الله تعالی دی ده ته د دی خدمت مقابل کی دنیوی او اخروی اجرونه ورته نصیب وکړځوی ، امین یا رب العالمین.

۱ حضرت مولانا شیخ الحدیث و مفتی صاحب عبدالبصیر

۲ دوکتور روح الله احمدی

۳ حضرت مولانا الحاج مولوی ولی الله

۴ حضرت مولانا الحافظ مولوی سلطان عمرخان

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دکتاب متعلق یو څو ضروری هدایات

۱ د دی کتاب مسلی چی دکوموکتابونو نه اخستل شویدی د هغوکتابونو نومونه دادی لکه هدایه ، دورمختار ، رد مختار المعروف باشامی ، فتاوه عالمکیر ، فتاوه قاضیخان ، فتاوه ودودیه ، بحر راءق ، مبسوط ، مجمع الانهار ، دارالمنتقی ، خلاصه الفتوا طحطاوی ، رسائل الارکان ، مراءی ، الفلاح ، شرحه وقایه ،کنزالدقائق ، زیلعی ، منیه ، صغری ، کبیری، فضایل اعمال ، فضایل صدقات ، ترمذی ، ابو داود ، ابن ماجه ، مسلم ، مشکوت ، بخاری ،کنز ، جامع الصغیر ، احمد طبرانی ، دور منشور ، خواجه طبرانی ، نحوه ، نساءی ، فی شعیب الایمان ، حیات الحیوان ، او داسی نورکتابونو نه دلته مسایل رانقل شویدی .

۲ د هری مسلی حواله په اخر د حدیث او مسلی کی ورکړ شویدی او د حوالی نه علاوه د نورو مفیدو خبرو او ضروری نکاتو او اشاراتو په هره ورقه کی ځای پر ځای لیکل شوی.

۳ ځینی اهم مقاماتو ابتدا د ایات شریف او د احادیثو په رڼا کی د ترغیب او ترهیب په مختصر مضمون سره کړی شویدی . او اکثره احادیث د صحاح سته نه او د بعضی نورو کتب حدیث نه را اخستل شویدی ، او حدیث حواله هم با قاعده ورته درج شویده.

۴ ځنی مسلی داسی وی چی په پوښتنه کی خلق د عالم نه ځانته شرم بولی نو بهتره او شه خبره دا ده چی د دین باره کی شرم پکار ندی پدی باره کی هوشیاران وایی، چی په دری حالاتو کی شرم کول په خپل ځان ظلم کول دی.

الف/ یو د بی علمه انسان چی عالم نه پوشتنه نکوی ب/ بل وږی ده چی هغه ته طعام حاضر ایشی وی او دی ست غواړی ج/ بل مریض دی چی د علاج لپاره داکتر ته ځی او د خپل مرض حال پوره ورته نه وایی لکه چی فارسی کی هوشیارانو فرمایلی پرسیدن عیب نیست ندانستن عیب است

یوه ورځ حضرت اسما (رض) د نبی (ع) د زړوکی (حیض) پوشتنه وکړه نو دایی هم وویل چی یا رسول الله (ص) چی د خدای پاک په حقه خبره کی شرم نکوی مطلب دا چی د دین په کار کی حیا نشته د دی لپاره چی زه د چا نه پوشتنه کوم

الغرض چی دا قسم مسلی زمونږ په مذهبی کتابونو کی ډیری لیکل شویدی خو جدا جدا

(c) ketabton.com: The Digital Library



لیکل شوی لیکن ما په دکتاب کی په خپل باب کی یوځای لیکلی د دی لپاره چی بعضی وخت استاذ شاکرد ته دا مضامین فی الحال زده کول مناسب نه بولی یا ورته ځان ته دمطالعی کولو هدایت کوی نو په د طریقه کی مسولیت دی خصوصا د مدرسو طالبالعلما و ته د دی کتاب په زده کړه کی ډیر سهولیتونه ورته حاصیلیږی

بل دا چی په اسلامی ټولتنه نن ورځ بی علمی زیاته لیدل کیږی او اکثره مسلمانان د بی علمی او نا پوهی پواسطه خپل ورځنی ژوندکی د الله ﷻ د احکامو او د نبی کریم ص د مبارکو طریقو پیاده کولو نه بیل کل عاجز دی په دی وجه ما په خپل ځان لازم وکڼله چی باید خاص د الله ﷻ د رضا حاصلولو په خاطر او د دی مظلوم بی چاره او بی علمه او عوامو مسلمانانو لپاره په ساده او پشتو ژبه باندی ضروری او حقیقی شرعی مسایل د نورو کتابو نه راتول او په دکتاب کی درج کړم او د خپلو مسلمانانو ورونو په اختیارکی به یی عندالله و عندالرسول ورکړم الله ﷻ د وکړی چی دوی یی هم په خپل ځان کور او خپل ماحول کی په عمل کی پیاده کړی دلته زما غوشتنه له کرانو مومنو متدینو او مسلمانانو ورونو نه دا ده چی کله زما دا غوشتنه وینی نو ما حقیر فقیر مسکین او د عاصی بنده په حق کی د اخلاص دعا وکری

العبد حقیر فقیر او مسکین عزیز محمد (پردیس) د مرحوم حاجی خواجه محمد زوی د میدان شهر د سنک مرمرو د خروټو دکلی اوسیدونکی ۱۳۹۵ ه ش کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مضامینو فهرست


لومړی باب ..................................................... ۱
توحید ......................................................... ۱
د دنیا پیدایښت.................................................. ۲
د آدم ع پیدایښت ............................................... ۳
کوم انعامات چی الله ﷻ د مونږ نصیب کړئولی ......................... ٦
د الله ﷻ د مهرباني یو څو واقعی ................................... ۸
دین او د دین اهمیت په اسلام کی .................................. ۱۱
د دین په خاطر د پیغمبرانو قرباني او د هغوی د سختیو او مشقتونو زغمل.......... ۱۲
دوهم باب........................................................ ۱٦
د نبی کریم ص د مبارک ستوری ظهور و دنیا ته.......................... ۱٦
د نبی کریم ص کومی ستونځی او مشکلات چی د دین په خاطر کااللی دی ......... ۱۷
د نبی کریم ص د طائف سفر......................................... ۱۷
د نبی کریم ص د هجرت کولو موجبه.................................. ۱۸
د الله ﷻ د خوا نه د نبی کریم ص بلنه معراج ته ....................... ۲۰
د نبی کریم ص څو معجزی........................................... ۲۲
د نبی کریم ص د محبت واقعی........................................ ۲۳
دصحابه کرامو قربانی په دین د اسلام باندی ............................ ۲۷
دریم باب......................................................... ۳۱
په دین د اسلام کی د الله ﷻ څو صفتونه.................................. ۳۱
د الله ﷻ صفتونو کی دوهم صفت لمونځ دی .............................. ۳٤
د الله ﷻ صفتونو کی بل صفت علم دی .................................. ۳٦
د الله ﷻ صفتو کی یو صفت هم ذکر دی .................................. ۳۷
د الله ﷻ صفتو کی یو صفت هم اکرام مسلم ده ............................ ٤۰
د الله ﷻ صفتونو نه یو صفت هم صحی نیت دی.............................. ٤۲
د الله ﷻ صفتو نه یو صفت هم دعوت الاالله ده............................. ٤۳
د الله ﷻ صفتو کی یو صفت هم صدقه ده .................................. ٤٥
قرانکریم د الله ﷻ کلام دی .......................................... ٤۷
د قرانکریم د نزول سلسله............................................ ٤۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



سجده تلاوت قرانکریم........................................................................... ٥١
د صله رحمی باره‌کی ........................................................................... ٥٢
د زهد او تقوا باره‌کی ........................................................................... ٥٤
په مصیبتونو باندی صبرکول........................................................................... ٥٥
د شریعت حکمونه........................................................................... ٥٦
د مذهبونو خاوندان څلور امامان دی........................................................................... ٥٨
څلورم باب ........................................................................... ٦٠
د طهارت(پاکوالی) باب........................................................................... ٦٠
د اودس او غسل فضیلت ........................................................................... ٦٠
د اوداسه فرائض........................................................................... ٦٠
د اوداسه سنتونه ........................................................................... ٦١
د اوداسه مستحبات او مکروهات........................................................................... ٦٢
د اودس‌کولو طریقه په مسنونه شکل سره........................................................................... ٦٣
په هغو شیانو چی اودس ماتیږی........................................................................... ٦٣
غسل او د غسل اقسام........................................................................... ٦٥
د جنابت بیان او مسائل ئی........................................................................... ٦٦
د غسل‌کولو طریقه........................................................................... ٦٧
د غسل فرضونه........................................................................... ٦٧
د غسل سنتونه ........................................................................... ٦٨
په‌کومو اوبو اودس جواز لری ........................................................................... ٦٨
دکوهی بیان او مسائل........................................................................... ٦٩
د جُوتې بیان او مسائل ........................................................................... ٧١
د تیمم مسائل او بیان ........................................................................... ٧٢
ترتیب د تیمم ........................................................................... ٧٤
پر موزو باندی مسحه‌کول ........................................................................... ٧٥
پر پټی باندی مسحه‌کول........................................................................... ٧٦
د معزور بیان........................................................................... ٧٧
د حیض او استحاضی بیان ........................................................................... ٧٩
د حیض احکام........................................................................... ٨٠
د نفاس مسائل ........................................................................... ٨١

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنځم باب ........................................................................ ۸۲
د بانګ او اقامت بیان............................................................ ۸۲
د آذان لفظی ترجمه .............................................................. ۸۳
د لمانځه لفظی ترجمه............................................................ ۸۳
د جومات احکام.................................................................... ۸۵
د جومات باره کی مسائل........................................................ ۸٦
د امامت بیان او مسائل........................................................... ۸۷
په جماعت کی د شامليدو او نه شامليدو بیان............................... ۸۸
د مقتدی بیان او مسائل........................................................... ۸۹
شپږم باب........................................................................... ۹۳
د لمانځه بیان او مسائل........................................................... ۹۳
د لمانځه شرطونه .................................................................. ۹۹
د لمانځه مستحبه طریقه ........................................................... ۱۰۰
د ښځی د لمانځه طریقه ........................................................... ۱۰۱
د لمانځه فرائض یا احکام ........................................................ ۱۰۲
د لمانځه واجبات................................................................... ۱۰۲
د لمانځه سنتونه .................................................................... ۱۰۲
د لمانځه اداب او مستحبات...................................................... ۱۰۳
د لمانځه مکروهات ................................................................ ۱۰۳
په هغو شیانو چی لمونځ فاسدیږی.............................................. ۱۰٦
د وتر واجبو بیان................................................................... ۱۰۸
د سنتو بیان ......................................................................... ۱۰۹
د جُمعی د ورځی فضیلت......................................................... ۱۰۹
د جمعی لمونځ پر چا فرض دی................................................. ۱۱۱
د جمعی لمانځه د صحت شرطونه .............................................. ۱۱۱
د جمعی د لمانځه د خطبی مسائل .............................................. ۱۱۱
د جمعی د لمانځه مسائل.......................................................... ۱۱۲
د اختر د لمانځه مسائل........................................................... ۱۱۳
تکبیرات تشریق.................................................................... ۱۱۵
د جنازی د لمانځه بیان............................................................ ۱۱٦

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جنازي د لمانځه مسائل ........................................................ ۱۱۷
د جنازي د لمانځه د اداکولو طریقه.................................................. ۱۱۸
د جنازي د لمانځه فرضونه .........................................................۱۱۹
د تراویح د لمانځه بیان...............................................................۱۲۱
د نفلي لمونځونو مسائل او بیان ................................................... ۱۲۲
د قضائي لمونځونو راکرځول........................................................ ۱۲۷
د مریض د لمانځه بیان او مسائل ................................................. ۱۲۹
د مسافر د لمانځه بیان او مسائل.................................................. ۱۳۰
د صلات خوف مسائل ............................................................ ۱۳۲
د سجدی سهوی بیان او مسائل....................................................۱۳۳
د لمانځه فضیلتونه..................................................................۱۳۶
اووم باب.............................................................................۱۳۸
د روژي مبارکي بیان او مسائل ئي ..................................................۱۳۸
د شب قدر شپه .................................................................... ۱۳۹
د شب قدر د شپي تعریف د اِنَّا اَنزلنا په سورت کي..........................................۱٤۰
د شب قدر شپي علامي ...........................................................۱٤۱
د روژي نیت....................................................................... ۱٤۲
د شکي روژي بیان ................................................................ ۱٤۲
په کومو شیانو چي روژه نه ماتیږي ............................................... ۱٤۳
په هغه شیانو چي روژه ماتیږي خو تنها قضائي پري لازمیږي ............................... ۱٤٤
په هغه شیانو چي روژه ماتیږي کفاره او قضائي دواړه پري لازمیږي .......................... ۱٤٥
په کومو شیانو چي روژه مکروه کیږي ............................................. ۱٤٦
دکفاري بیان او مسائل............................................................ ۱٤۷
د فديي بیان او مسائل............................................................ ۱٤۸
د نذري روژي بیان ................................................................ ۱٤۹
د نفلي روژي بیان ................................................................ ۱٤۹
د اعتکاف بیان.................................................................... ۱٥۱
اتم باب ............................................................................۱٥۳
د زکات بیان.......................................................................۱٥۳
زکات پر چا فرض دي............................................................. ۱٥٦

(c) ketabton.com: The Digital Library



د قارون قیصه ........ ۱۵۷
دزکات مستحقین څوک دی ........ ۱۵۹
د څارویو زکات........ ۱۶۰
د وزو او پسو زکات........ ۱۶۰
د غوا او میخو زکات........ ۱۶۰
د عشر بیان او مسائل ئی ........ ۱۶۱
د صدقی فطر بیان........ ۱۶۱
نهم باب........ ۱۶۳
د ځنکدن د حالت بیان........ ۱۶۳
د مړی د لمبلو د طریقی مسائل ........ ۱۶۵
مړی ته د کفن ورکولو طریقه او مسائل........ ۱۶۷
د شهید احکام او مسائل ........ ۱۶۹
د قبر د حالت بیان او مسائل........ ۱۷۰
د دعا کولو طریقه او مسائل ئی........ ۱۷۲
د سوال کولو مسائل........ ۱۷۳
د بخل باره کی مسائل........ ۱۷۵
لسم باب........ ۱۷۸
د نکاح مسائل او بیان ئی ........ ۱۷۸
د نکاح تړلو طریقه ........ ۱۷۸
چا سره چی نکاح حرامه ده........ ۱۸۰
په نکاح کی د ولی بیان ........ ۱۸۱
د بیبیانو برابری........ ۱۸۱
د مهر بیان او مسائل ئی ........ ۱۸۲
د کفارو د نکاح باره کی........ ۱۸۳
د تی ورکولو بیان او مسائل ........ ۱۸۳
د طلاق مسائل او بیان ئی ........ ۱۸٤
یوولسم باب ........ ۱۸۷
د ښځي باره کی څو شرعی خبری........ ۱۸۷
د یوی مسلمانی او نیکی ښځی سره د الله ﷻ وعده........ ۱۸۸
د ښځی د بدرفتاری وعیدونه (عذابونه)........ ۱۸۸

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښځي په هکله نوری مسئلی ........................................ ۱۹۰
دولسم باب ........................................ ۱۹۱
متفرقه مسئله ........................................ ۱۹۱
د قسم خوړولو بیان ........................................ ۱۹۱
د قسم خوړلو کفاره ........................................ ۱۹۱
د قسم الفاظ او مسائل ئی ........................................ ۱۹۲
د حد مسائل ........................................ ۱۹۳
د مرتد د حکم مسائل ........................................ ۱۹٤
د لقطی (د میندلو) بیان ........................................ ۱۹۵
د مفقود بیان ........................................ ۱۹٦
د وقف بیان ........................................ ۱۹٦
د شکار بیان ........................................ ۱۹۷
د ذبحی بیان ........................................ ۱۹۸
د قربانی بیان او مسائل ........................................ ۱۹۹
د خوراک او څښاک بیان ........................................ ۲۰۱
د نیشی شیانو بیان ........................................ ۲۰۱
د زرو او وریښمو بیان ........................................ ۲۰۲
د بدن د صفائی بیان ........................................ ۲۰۲
د غیبت بیان ........................................ ۲۰٤
د سلام اداکولو بیان ........................................ ۲۰٤
د ستر بیان او مسائل ........................................ ۲۰۵
د رشوت اخستلو بیان ........................................ ۲۰٦
جنیات څو قسمه دی ........................................ ۲۰۷
د سکندرکبیر یا ذوالقونین قصه ........................................ ۲۰۷
د تعلیم اداب ........................................ ۲۰۸
د مشوری بیان ........................................ ۲۰۹
د دولس اوصولو عملی کول ........................................ ۲۱۰
کرام الکاتبین ........................................ ۲۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لومړی باب

د آیات شریف مفهوم دی چی اللهﷻ وعده کړی د هغو خلکو سره چی ایمان ئی راوړی او نیک عملونه کوی نو هغوی به ضرور د مځکی پر مخ خلیفه جوړوم او اللهﷻ مسلمانانو ته دا تسلی هم ورکړی ده چی مومنان به تل په کافرانو غالب وی او د کافرانو سره به هیڅ یار او مددګار نه وی ( سورت نور ۱ رکوع)

د آیات شریف مفهوم دی چی اللهﷻ فرمائی ای امت محمدیه تاسو بهترنی امت یاست او تاسو د خلقو د فایدی لپاره لیږل شوی یاست خلقو ته ښی خبری کوی او هغوی د بدوکارونو نه او خبرو نه منعه کړی او په خپل اللهﷻ باندی ایمان مظبوط وساتی (العمران ۱۷ رکوع)

د بل آیات شریف مفهوم دی چی اللهﷻ فرمائی چی ای خلقو پوه شی چی د اللهﷻ وعده حق ده هسی نه چی دنیوی زندکی تاسو دوکه کی واچوی او هسی نه چی دوکه باز شیطان د اللهﷻ سره تاسی په دوکه کی واچوی.

(رَبَّنَا عَلیکَ تَوَکَلنا وَاِلیکَ اَنَبْنَا وَاِلیکَ المَصیر) ترجمه ای اللهﷻ مونږ په تا باندی توکل کړی ده او ستا وخوا ته مو رجوع وکړه او ستا طرف ته به رجوع کوو (ابراهیم ع به تل دا دعا لوستله)

د حدیث شریف : مفهوم دی چی اللهﷻ فرمائلی دی چی ای د آدم ځویه ته ځما د عبادت او بندکی لپاره فارغ شه نو زه به ستا سینه د غنا نه ډکه کړم او د زړه نه به دی فقر لری کړم (رواه ابن ماجه و ترمذی)

د بل حدیث شریف مفهوم دی چی نبی کریم ص فرمائلی دی چی څوک دنیا سره محبت ساتی هغه آخرت ته نقصان رسوی او څوک چی آخرت سره محبت ساتی هغه دنیا ته نقصان رسوی ( رواه دور منشور)

## توحید

اللهﷻ ډیر لوی او عظیم ، واحد، لاشریک او باقدرته ذات دی او د ډیرو اوصافو خاوند دی . کله چی دنیا او د دنیا کائنات یو هم نه وه لکن دا واحد او لاشریک ذات

(c) ketabton.com: The Digital Library



موجود وه نوکله ئی چی دا دنیا او د دنیا کائنات پیداکړل لکه په ننی دنیا کی موږه ژوند کوو بیا هم د ده واحد او لاشریک ذات حاضر او ناظر دی. همدارنګه‌که دا دنیا او د دنیا ټول‌کائنات محوه او نابودیږی بیا به هم د الله ﷻ واحد او لا شریک ذات موجود وی او کله چی حشر بر پا کیږی هلته به هم د الله ﷻ د واحد او لاشریک ذات پادشاهی قائم مقام وی.

الله ﷻ داسی یو واحد او لاشریک ذات دی چی مثال ی نه مځکی موجود وه نه اوس شته او نه به وروسته د د مثال راپیداشی حقیقی خالق، رازق، مالک، حافظ، او ناظر ذات دی او هم ستار غفارکریم او رحیم ذات دی .

الله ﷻ خالق:- الله ﷻ داسی خالق دی چی اوه طبقی طبقی مځکی او اوه طبقی اسمانونه ئی پیداکړی او ټول‌کائنات ئی پکی ځای پر ځای کړی دی بل داسی خالق نشته چی دا شیان پیداکړی.

الله ﷻ رازق دی:- داسی رازق دی چی څه مخلوق پر مځکه او اسمانونوکی دی د ټولو رازق الله ﷻ حتی چی هواکی مرغانو اوبوکی ماهیانو ته رزق رسونکی دی بل داسی رزاق نشته چی دوی ته روزی ورسوی.

الله ﷻ مالک دی:- داسی یو لوی او با قدرته مالک دی چی د مځکی او اسمانونو په تولوکائناتو ئی پادشاهی قائمه ده او داسی مالکیت قرار لری چی یوه پاڼه ئی بی د ده د ایرادی حرکت‌کولای نشی.

الله ﷻ حافظ دی:- بل داسی حافظ نشته او نه به پیداشی چی د دنیا د تولو شیانو لکه حیوانات، نباتات، جمادات او مِاتُو حفاظت وکړی همدا حافظ ذات دی چی د ټولو حفاظت‌کوی اوکه وغواړی په یوه لحظه‌کی ټوله هستی نیست‌کولای هم شی.

## د دنیا پیدایښت

کله چی دا دنیا او د دنیا کائنات وجود نه درلوده یو د الله ﷻ لوی او عظیم ذات موجود وه نوکوم وخت چی الله ﷻ د دنیا او د دنیا دکائناتو د پیداکولو نقشه په خپل قدرت اذلی ترتیب‌کړه ابتدا کی ئی د خپل حبیب او نازولی رسول ص مبارک نور پیداکړو او خپله خدائی د حضرت محمد ص د مبارک نور په پیداکولو ظاهره‌کړه او په عرش معلا په ذرین خط‌کلمه شریفه د (لااله الاالله محمد رسول الله) ولیکله ۲ بیا ئی فرشتی په خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library



قدرت کامله سره د نور نه پیداکړی ۳ وروسته لدی شیطان په خپل قدرت اذلی سره د اور نه پیداکړو ۴ وریسی اللهﷻ د دنیا او د دنیا دکائناتو نقشه پدی ترتیب عملی کړه په حیات الحیوان نومی کتاب کی لیکلی چی د شنبی د ورځی نه شروع اول ئی ۷ اوه طبقی مځکی او ۷ اوه طبقی اسمانونه او په هغوی کی موجوده کائنات پیداکړل تر چهارشنبی پوری د پنجشنبی په ورځ ئی نارینه اس په خپل قدرت اذلی سره پیداکړو دلته غیر مسلم او د فاسدو عقیدو اشخاصو ته سوال پیدا کیږی چی ښځه اسپه نه وی نو نارینه اس دکومه کیږی؟ ځواب ئی دا دی چی د اللهﷻ قادر توانا ذات کولی شی چی بی موره او بی پلاره څوک پیداکړی لکه چی ادم ع ئی بی موره او بی پلاره پیداکړی دی همدارنګه اللهﷻ کولای شی چی بی موره اولاد منځ ته راوړی لکه څنګه چی بی بی حوا بی موره پیداکړی ده همداسی اللهﷻ کولای شی چی بی پلاره څوک پیداکړی لکه حضرت عیسی ع ئی بی پلاره پیداکړی د ذکر شوو مثالونو برسیره اللهﷻ کولای شی چی چاته هر څه وغواړی ورکولای ئی شی او چی وغواړی چی هیڅ ورنه کړی اوکه ئی ورکړی وی ورنه اخیستلای ئی هم شی اللهﷻ اس د جنوب هوا نه پیداکړی ده چی اس د اسماعیل ع تر زمانی پوری وحشی او ځنګلی وه چی اسماعیل ع اهلی کړی او اول وار اسماعیل ع په هغه باندی خپله مبارکه پښه اړه ولی ده.

## د آدم عليه‌السلام پیداینښت

په حیات حیوان نومی کتاب کی لیکل چی کله اللهﷻ دنیا او د دنیا ټول کائنات ترتیب کړی د شنبی د ورځی نه تر چهارشنبی پوری اوه طبقی مځکی او اسمانونه اوکائنات پیداکړی د پنجشنبی په ورځ ی اس د جنوب د هوا نه پیداکړو.

د جمعی په ورځ ئی د حضرت بابا ادم ع د مبارک جسد خاوره ئی د ملائکو په ظریعه د مځکی د مخه په خپل قدرت کامل راټوله او د ادم ع مبارک کالبوت ئی ورنه جوړ کړو.

او په خپل قدرت کامله سره ئی روح په مبارک جسد کی ورته وغزاوه په حرکت راغی د پرنجی په اظهارولو سره مبارک ځای کی کښینی او په عرش معلائی نظر لګیږی کوری چی د عرش معلا پر سر کلمه شریفه د (لااله الاالله محمد رسول الله ) لیکل شوی ده اللهﷻ ته عرض کوی چی یا اللهﷻ دا محمد نومی شخص څوک دی چی د هغه نوم تا د خپل نامه سره پیوست لیکلی دی اللهﷻ ورته فرمائی چی محمد ځما حبیب او آخری پیغمبر دی د

(c) ketabton.com: The Digital Library



نبوت سلسله به په همدی محمد ص ختميږی اللهﷻ فرمائی چی ما خپله خدائي هم د ده د نور پواسطه اظهارکړيده دا دنيا او د دنيا تول‌کائنات می د همدی حبيب په روی پيداکړی دی او د ا محمد به ستا د اولادی څخه وی نوکله چی اللهﷻ د ادم ع مبارک صورت ئی په خپل قدرت اذلی د خاورو نه ترتيب او جوړ کړو نو اللهﷻ ټول مخلوق آدم ع ته د سجدی کولو لپاره راوبلل او حکم ئي ورته وکړو چی ټول بابا ادم ع ته سجده وکړی ټول مخلوق د اللهﷻ حکم ته لبيک وويل آدم ع ته ئی سجده وکړه بی له شيطان نه چی شيطان وويل زه د اور نه پيدا شوی يم او ادم ع د خاوری نه نو زه څنګه ده ته سجده وکړم کبر او غرور ئی اختيارکړو د اللهﷻ حکم نه ئی غاړه وغړوله اللهﷻ مقابل‌کی شيطان رانده او معذول کړلو او د اسمانه ئی مځکی ته حواله کړوکه نه نو ابتدا کی شيطان د خپل لياقت او بندکی پواسطه اللهﷻ د فرشتو سره يو قطار درولی وه د هوشياری او پوهی پواسطه په اول اسمان‌کی د شيطان نوم عابد وه دوهم اسمان‌کی ئي نوم ذاهد او په دريم اسمان‌کی ئی نوم عارف وه او په څلوروم اسمان‌کی ئی نوم ولی وه او په پنځم اسمان‌کی ئي نوم متقی وه په شپږم اسمان‌کی ئی نوم عزازيل وه همدارنګه په اوم اسمان‌کی شيطان نوم ابليس شو.

مفسرينو ليکلی چی د نبی‌کريم ص زمانه‌کی فرعون ابوجهل لعين وه څکه چی ابو جهل شيطان ته د ورور خطاب‌کړی وه بيرته اصل موضوع تا راکرځو دا چی اللهﷻ د دنيا د نقشی د عملی‌کولو لپاره د ادم ع جنت‌کی د ميوی د خوراک نه منعه‌کړی وه او هغه د هغی ميوی نه د خوړولو استفاده وکړه مقابل‌کی اللهﷻ ادم ع د جنت نه يعنی د اسمانه مځکی ته راکوزوی اللهﷻ په خپل قدرت اذلی سره ادم ع د اسمانه مځکی ته د هندوستان په سر انديب بحر هند چی د چين يوه جزيره ده هلته ئی د غره پر سر په يوه روښانه ډبره باندی راکوزکړو چی د مبارکو پښو چاپونه ئی تر اوسه پوری روشانه ښکاری او هغه تل د باران د اوبو پواسطه پريولل کيږی د بجلی غوندی پرق وهی.

اللهﷻ بيت المعمور هم مځکی ته ورسره راکوزکړو ادم ع ته ئی وفرمائيل چی اوس دلته هم لکه څنګه چی تا اسمانوکی ځما توافونه او عباداتونه‌کول نو دلته ئی هم په هغه شکل سره خپل عبادتونه او توافوانه کوه.

بيت المعمور دوه دروازی درلودی چی يوه ئی شرق خواته او بله ئی غرب خواته وه خپله بيت المعمور د ياقوتو نه او دروازی ئی د زبرجدو نه جوړی شوی وی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ادم ع تر هغه وخته خپل عبادتونه او طوافونه بيت المعمور نه کول چی دی په هندوستان کی وه کله چی الله ﷻ د حضرت ادم ع ته حکم وکاوه چی نور به د هندوستان ه مکی شريفی خوا ته روان شه الله ﷻ فرشتی د لاری د رهنمائی لپاره ورسره مقرری کړی کله چی مکی شريفی ته ورسيد په مکه شريفه کی ئی د حج مراسم اداکړل نو ملائکو ورسره ملاقات شروع کړو ورته ئی وويل چی ای بابا ادم ع الله ﷻ دی خير درته نصيب کړی مونږه تا نه دلته دوه زره کاله مخکی د مکی شريفی نه طواف کړی ده.

په کتاب کی ليکلی چی د بيت المعمور وروسته الله ﷻ د حجر اسود ډبره مځکی ته نازله کړی ده دا چی حجر اسود ډبره پخوا تکه سپينه د شيدو غوندی روښانه وه ليکن په مرور د وخت سره د حج د مراسمو وخت کی د جهالت دوره کی د حيض والا ښځو د لاس ور وړو نه خپل سپين والی د لاسه ورکړيدی لږ غوندی توره کرځيدلی دی.

تر طوفان د نوح ع پوری بيت المعمور پر مځکه وه کله چی الله ﷻ د نوح ع په غوښتنه باندی په نازل شوی طوفان ټوله دنيا غرقه کړه نو د مځکی د غرقيدو نه الله ﷻ د حجر اسود ډبره د جبرئيل امين ع پواسطه جبل ابو قبيسپه سر کی امانت کيښوده چی د طوفان نه په امن پاتی شی د حجر اسود ډبری د خوندی کيدو وروسته الله ﷻ بيت المعمور ئی د مځکی نه اسمان ته اوچت کړو چی بيت المعمور هم د طوفان لاندی رانشی  د نوح ع طوفان راپدی خوا د مکی شريفی ځای خالی وه د ابراهيم غ تر زمانی پوری.

حيات الحيوان نومی کتاب کی ذکر شوی چی بی بی حوا د حضرت ادم ع د چپی پښی نه پيداشوی چی پس د ۴۰ کلونو حضرت بابا ادم ع سره يوځای شوی ده او په جنت کی ژوند اختيارکړی دی کله چی الله ﷻ په خپل حکمت اذلی حضرت ادم ع د اسمانه هندوستان کی او بی بی حوا په عربستان کی د عرفات په غوندی او شيطان ئی د عربستان په جده کی او ماران ئی د عربستان په اصفهان شهر کی راکوز کړی.

کله چی ادم ع الله چی د اسمانه (جنت نه) د ورپيښی اشتبا پواسطه مځکی ته راکوز کړ نو مبارک ۴۰ څلويښت کاله ژړلی دی داسی ئی ليکلی چی پدی ژړا کی ادم ع دومره اوښکی توی کړی چی د ټولی دنيا د مخلوق د اوښکو د پيمانی (وزن) نه د ادم ع د اوښکو وزن زيات وه د اخر الامر ادم ع په سجده پروت الله ﷻ ته عرض وکړو چی يا الله ﷻ د هغه محمد ص په روی چی تا ئی نوم د عرش معلا په سر په ذرين خط ليکلی نو د هغه حبيب په روی ما ته عفوه وکړه الله ﷻ عفوه ورته وکړه او وئی بخښه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## کوم انعامات چی الله ﷻ د مونږ نصیب کړځولي

څنکه چی الله ﷻ دیني جسمي غذائي او نورانعامات چی د مونږه ئی نصیب کړی دی نوکه مونږه شپه او ورځ ۲۴ کینتې الله ﷻ ته په سجده پریوزو او ټول عمر په عبادت او بندګی کی تیرکړو نو مونږه په سلوکی نیم فیصد د الله ﷻ د یوه انعام مقابل د شکرانکی لیاقت نلرو او نه به ئی لیاقت پیداکړو او نه به په حشرکی د الله ﷻ په مبارک حضورکی د خپل عمل نه داسی یو نیک عمل پیش نشوکړای چی د ده د یوه عادی انعام یا نعمت پیمانه پوره کړی.

۱ دیني نعمتونه ئی : الله ﷻ پر مونږه ډیر مهربان دی چی مونږه په ټول مخلوق کی انسانان پیداکړی یو بیا ئی په انسانانوکی مسلمانان پیداکړی یو او په مسلمانانوکی بیا په امت محمد رسول الله ص پیداکړی یو او د خپل کلام قرانکریم پیرویان ئي کرځولي یو او د خپلو خزانو نه ئی دا مبارکه کلمه شریفه د (لااله الاالله محمد رسول الله) د مونږه نصیب کرځولي ده او په ټول مخلوق کی ئی اشرف المخلوق کرځولي یو

۲ **جسمي نعمتونه** که مونږه په واقعیت د خپل وجود تشکیل ته متوجی شو او د خپل صورت هر عضوه تر مطالعی لاندی ونیسو لکه څنکه چی الله ﷻ مونږه ته اول ټول صورت بیا په صورت کی سر ژبه غوږونه سترکی لاسونه پښې زړه کلمی وغیره اعضا راکړی که د دی اعضاو نه د مونږه یوه عضوه مادرزاتی یا په حادثاتوکی ضایع شی اول به ئی پیدا نشوکړای فرضاً که ئی پیدا شی خپل اصلی حالت باندی هغه نصب کولای نشو اوکه ئی نصب کړو بیا هم هغه به ناقص او بی کیفیته وی غریب خو ئی بلکول اچولی نشی اوکه کوم سرمایه دار ئی اچوی نو په میلونو دالرو قیمت ورته تمامیږی.

د سترکو لیدلی او په غوږو اوریدلی حال زمونږ خپل کلی کی یو نفر په نامه د حاجی فضل الحق د خپل ځوی چی ګنګ دی په ۱۳۹۳ ه ش کال ئي خپل ځوی هندوستان ته د تداوی لپاره بوته د هغه سر کی ئی یو رک عملیات کړو چی داکتر وعده هم ورکړه وه چی پدی عملیات سره دا هلک خبری هغه هم دکوشی په کمک ۳۵ فیصده واوری نو حاجی فضل الحق نه ئی هندوستان کی ۲۵ زره دالر اخستی وه بیا هم د هلک لپاره ئی لس فیصده فایده نده کړی دا چی مونږه ته الله ح شه صورت او په صورت کی ښکلی ښکلی اعضاوی د سالمی تندرستی راکړی دی شپه او ورځ فایدی ورنه اخلو لکه:

الف الله ﷻ مونکه ته داسی عقل فکر دماغ او حافظه راکړی چی ټول کمپیوترونه ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



عاجز دی.

ب او داسی ژبه ئي راکړی ده چی د ټولی دنیا ژبی لکه پښتو دری انکلسی ازبکی ترک منی بلوچی عربی اوردو وغیره ژبو ترجمانی پوره کوی.

ج الله جل جلاله مونږه ته بدن کی داسی یوه ټوټه غوښه (زړه) را په برخه کړی دی چی دا زړه زمونږه په ټول بدن او د بدن په اعضاو حاکمیت لری او ټول لحظه لحظه کنترولوی زړه بدن ته د موټر د ماشین غوندی حیثیت لری لکه څنکه چی موټر د خپل ماشین پواسطه کنترولیږی همداسی بدن د زړه پواسطه کنترولیږی لکه زړه د بدن هری حصی ته د رکونو پواسطه وینه رسوی او ورته پمپ کوی ئی ۲ د ورځی یو لک سل زره ضربات اجراکوی ۳ د ورځی ۷ زره کرته وینه وجود ته پمپ کوی ۴ همدارنکه وجود ته ۳۶۰ لیتره اکسیجن داخلوی ۵ په دی شکل ۳۶۰ لیتره کاربن دای اکساید بدن نه خارجوی.

په همدی شکل که مونږه د الله جل جلاله انعامات او نعمتونه تر مطالعی او دقیقی پلټنی لاندی راولو نو دا راته ثبوت ته رسیږی چی اټکل ئي نه په فکر کی او نه تر قلم لاندی راوستلای شو.

په جسمی انعاماتو کی خپل د پیدایښت سلسه تر مطالعی لاندی ونیسو چی الله جل جلاله مونږه څنکه د نیستی نه هستی ته اول د یوی قطری مرداری مادی (منی نه) د پلار پوشت نه د مور رحم ته داخل کړی یو د مور رحم کی هغه ماده په وینه بیا وینه په یوه ټوټه غوښه او هغه ټوټه غوښه بیا په شکل صورت د مور په رحم کی الله جل جلاله په خپل قدرت کامله سره پیداکړی یو او دنیا ته ئی د طفل په شکل راظاهر کړی یو د طفولیت نه ځوانی ته او د ځوانی مرحله ئی زمونږ په بوډائی او د بوډائي عاقبت ئي مرک ته حواله کړی دی.

۴ **غذائي انعامات** ئي : الله جل جلاله دنیا کی ژوند راته نصیب کړی دی او دا ژوندی شیان ئی لکه:

الف د تنفس پواسطه چی په فضا کی هوا دخولی او پوزی پواسطه وجود ته داخلوی چی د ژوند لپاره آهمه او ضروری وسیله ده چی بی د دی وسیلی ژوند امکان نلری

ب همدارنکه د ټولو ساه لرونکو لپاره الله جل جلاله د اوبو لوی نعمت ئی د مونږه رانصیب کړی چی په همدی اوبو باندی ئی زمونږ د بدن وده او ژوند ۲۴ کینتی تړلی ده

ج په همدی شکل ئی د ژوند د بقا لپاره قسما قسم نعمتونه له قبیله د خوراکی شیانو د استوکنی مکانونه او د پوښاک لپاره شه شه لباسونه ورته پوره کړی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د همدارنکه ئی په ټولنه کی ئی د عیش او نوش اسبابو ته ښکلی ښکلی شادی کانی او نور د ژوند پوره پوره د احتیاج وړ شیان راته مهیا کړی دی

نوټ دا چی د الله ﷻ انعامات مونږه لپاره بی شماره الله ﷻ په اختیار راکړی دی او د ده د انعاماتو او نعمتونو مقابل کی د مونږه نه یو داسی نیک عمل یا عبادت او بندکی نه ده ظاهره شوی چی د الله ﷻ د یوه عادی نعمت بدله د حشر په ورځ ورکړای شو. دا چی د الله ﷻ د نعمتو نه مونږه پوره برخورداره یو او برخورداروی مو او مقابل کی مونږه د ده د عبادت او بندکی نه عاجز وو او عاجز پاتی یو لیکن دا دعا او زاری به هره لحظه کوو چی الله ﷻ مونږه او ټول مسلمانان د الله ﷻ د رحمت نه نه محروموی امین یا رب العالمین او تل به د الله ﷻ د رحمت په انتظار شپی او ورځی تیروو او د الله ﷻ د رحمت نه خپل ځان نه غافله کوو او که د الله ﷻ د رحمت نه مو ځان غافله کړو نو د تباهی کندی ته لاهو یو.

دا چی الله ﷻ خپل کلام کی فرمایلی چی (ما انسانان او پیریان د خپل عبادت او بندکی لپاره پیداکړی ) نو الله ﷻ دی مونږه ته توفیق را په برخه کړی چی پر خپل ځان د الله ﷻ حکمونه او د نبی کریم ص مبارکی طریقی پر خپل ځان عملی کړو که د الله ﷻ حکمونه او د نبی کریم ص طریقی مو پر خپل ځان عملی کړی جای به مو جنت وی او که مو عملی نکړی خامخا به دوزخ ته حواله یو.

## د الله ﷻ د مهربانی یو ښو واقعی

الله ﷻ ډیر مهربان ،کریم ، غفور او رحیم ذات دی ځینی وخت په معمولی نیک عمل باندی انسان ته بخښنه او عفوه کوی الله ﷻ دی خپل رحمت او مهربانی زمونږ د ټولو مسلمانانو نصیب وکرځوی امین یا رب العالمین

یادونه :ـ یو نیک ، صادق او مخلص مومن چی هغه شپه او ورځ ۲۴ ساعته د ابتدا نه تر پای د عمره خپل ټول وخت په عبادت او بندکی ، روژه ، ذکر او صدقه ورکولو تیر کړی وی نو دا مومن باید خپل عبادت باندی مغروره نشی او دا فکر وکړی چی زه به خامخا د خپل عبادت او بندکی پواسطه حشر کی میدان وړم او خدا نخاسته خپل ځان د الله ﷻ د رحمت نه غافل کړی نو داسی شخص خپل ځان د تباهی کندی ته غورځوی دا ځکه چی د الله د انعاماتو مقابل د دی مومن عبادت او بندکی د ټول عمر یوه زره قدر او قیمت نلری دا ځکه چی د الله ﷻ عادی انعام او نعمت بنده ته د بحر د اوبو غوندی مثال لری او د یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



من د ټول عمر عبادت او بندکی الله ﷻ ته د یوی قطری اوبو نه بلکه د یوی زری اوبو په اندازه قدر او قیمت نلری د حشر په میدان حساب کتاب کی الله ﷻ ته هیڅ مومن حساب پوره کولای نشی نو هر مسلمان ته لازم او ضروری ده چی خپله بندکی او عبادت هم وکړی او د الله ﷻ د رحمت امید نه هم ځان غافله نکړی د الله د رحمت په امید خپلی شپې او ورځی تیری کړی

د الله ﷻ د مهربانی واقعی لکه:-

اول واقعه/ یوه کنهکاره سړی د مرک وخت کی خپل ځامن راټول کړی ورته وئی ویل چی زه کله مړ شوم په اور می وسوزوی ایره می دری حصی کړی یوه حصه ئی اوبو کی دریا ته واچوی بله حصه ئی ځنکله کی تیت کړی او بله حصه ئی هوا ته پاش کړی ځامنو ئی همسی وکړه نو الله ﷻ په قدرت کامله سره د بحر نه ځنکلو نه او هوا نه د دی شخص ایری راټولی دا کنهکار سړی ئی خپل مخ کی ودراوه الله ﷻ ورته وویل چی تا ولی داسی کار وکړ کنهکار سړی ورته وویل یا الله ﷻ دا کار می ستا د ویری نه وکړ الله ﷻ بیا دی سړی ته عفوه وکړ ع وئی بخښنه ( رواه فضائل صدقات)

دوهمه واقعه/ یوه ډیره کناهکاره حتی چی یوه ډمه ښځه په لاره د فسق او فساد لپاره چیرته روانه وه چی په لاره یو سپی ولیده چی د تندی نه ئی نفس اوت د دی کنهکاری ښځی رحم پری راغی خپله پښه ئي د پوړنی په کنج وتړله د څا نه ئی اوبه راووستلی د سپی خوله کی واچولی سپي ته ئي د مرک نه نجات ورکړو ښځی ته الله ﷻ بخښنه وکړه (فضائل اعمال)

دریمه واقعه/ الله ﷻ به د قیامت په ورځ دوه کسانو ته امر وکړی چی تاسو جنهم ته لاړشی یو به په منډه د جنهم خواته روان شي دوهم به شا شا ته کوری روان به شی الله ﷻ به دواړه راوغواړی یوه ته به وائي چی تا ولی منډه کړه دا به ورته ووائی چی یا الله ﷻ ما دا چی په دنیا کی تل ستا نافرمانی کړی وه نن می ستا فرمان په چالاکی ومانه ځکه می منډه کړه دوهم نفر ته به ووائي چی تا ولی بیرته بیرته کتل کرا کرا روان شوی هغه ورته وویل چی یا الله ﷻ ما په دنیا کی ستا د رحمت اوریدلی وه نو ستا د رحمت خواته می کتل نو الله ﷻ د دواړو جواب خوخیری دواړو ته عفوه او بخښنه کوی دواړو ته د جنت د تلو امر ورکوی (فضائل صدقات)

څلورمه واقعه/ د حشر په میدان به د حساب کتاب وخت کی د یوه شخص یوه نیکی

(c) ketabton.com: The Digital Library



کمه شي ورته وبه ویل شي چې ورشه یوه نیکي دې راپیداکړه دې به لاړشي خپل خپلوانو دوستانو او اشنایانو باندې وکرځي هر یو به جواب ورکړي ورته وائي به چې مونږه د خپل ځان په غم کې ډوب یو تاته څه درکړو بل اخره یو سړی به ورته پیداشي چې د هغه ټوله عملنانه یوه نیکي لرې نو دا شخص به ورته ووائي چې ځما خو هسې یوه نیکي ده او پدې یوه نیکي زه جنت ته داخلیدای نشم راځه تاته به زه دا یوه نیکي درکړم ته خو جنت ته لاړشه په خپل مقصد ځان ورسوه نو الله ﷻ یوه نیکي صدقه کوونکي ته ووائي چې ما نه خو ته دیر سخي ی الله ﷻ دواړو ته امر وکړو چې دواړه جنت ته لاړشي (فضائل اعمال)

پنځمه واقعه/ کله چې حضرت موسی ع ته قارون د یوې بدکارې ښځې پواسطه دسیسه جوړه کړه قارون غوشته چې موسی ع پدې دسیسه کې راګیر کړي او په جزا ئې ورسوي د بني اسرائلو ټول مخور علما او سپین ږیري حاضر وه عام مجلس کې قارون بدکارې ښځې ته وویل چې جکه شه حال بیان کړه نو الله ﷻ د هغې ښځي ژبه په حق چلوې او اعلان کوي وائي چې ای موسی ع ته معصوم او سپیڅلی شخص ئی د الله ﷻ پیغمبر ئی قارون په غلطه او ظالم دی ما ته ئی دومره مال او متاع منلې دی چې ته ووایه چې موسی ع ما سره زنا وکړه ته پاک او معصوم شخص ئي قارون ظالم او جابر انسان ده غواړي چې تا ته دام جوړ کړي او تا پکې راګیر کړي الله ﷻ د قارون او د هغوی د ملګرو کسیفه چهره د دې ښځي پواسطه برملا کړه چې اکثره بني اسرائیل مسلمان شول او په موسی ع ایمان راوړ. پدې وخت حضرت موسی ع الله ﷻ ته په سجده پرئیوت د الله ﷻ شکراني اداکړه او الله ﷻ حضرت موسی ع ته وفرمایل چې د مځکې اختیار دې پلاس کې ده پر مځکه هر امر چې کوي اجرا کوي یې نو موسی ع پر ځمکه امر وکړو چې قارون او ملګري ونیسه کله چې مځکې قارون او د ده ملګري مځکې ونیول تر زنګنو ئی ونیول قرا قرا ئي لاندې کول او هره لحظه به خپله قارون او ملګرو ئی موسی ع ته زاري عذرونه او خواستونه کول چې مونږه ته نجات راکړه نور مونږه ایمان راوړو څومره زاري خواستونه او امیدونه ئی چې موسی ع ته وکړل موسی قبول نکړل بل اخره قارون ئي سره د مال دولت او ملګرو سره مځکې قُرت کړل په جزا ئي ورسول دې وخت الله ﷻ موسی ته وویل چې ای دوسته ځما که چیرې خپله قارون یا ئي ملګري ماته یو وارې رجوع کړي وای لکه څنګه چې تاته زاري او خواستونه وکول له ما نه ئی مدد غوښتی وای ما د خپلې مهرباني پواسطه بخښنه ورته کوله او نجات می ورکاوه خو دوی زه هیر کړم او تاته ئی رجوع وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دین او د دین اهمیت په اسلام کی

دین په اسلام کی ډیر غټ او ستر اهمیت لری دین د اسلام روح دی لکه څنکه چی سر د انسان بدن ته اهمیت لری که چیری سر د انسان په بدن نه وی نو د بدن لپاره بیا ژوند نا ممکن دی همدارنکه که چیری دین په دنیا کی نه وی نو بیا به نه دا دنیا وی او نه د دنیا کائنات دا ځکه چی دین د اسلام الله ﷻ ته ډیر اهمیت لری.

کله چی الله دنیا او د دنیا کائنات پیداکړل او په کائناتو کی بیا انسانان او پیریان پیداکړل او د دنیا کوډګوډ کی ئی خپاره کړل نو الله ﷻ د ټولو انسانانو او پیریانو د نظم او دسپلین لپاره دنیا ته پوره دین راولیږه

الله ﷻ د دین تهداب په کلمه شریف د ( لااله الاالله ) تهداب کزاری کړو بیا ئي د دین د اشاعت (خپرولو) لپاره پیغمبران راولیږل چی هر پیغمبر په خپل وخت او زمان سره خپل قوم او د ماحول خلق دین ته راوبلل او هر پیغمبر به خپلو خلقو ته ویل چی قُولُو ( لااله الاالله) تُفلِحُون او د الله ﷻ حکمونه به ئی ورته رسول چا به چی د هغه وخت د خپل پیغمبر خبره ومنله هغوی ته د الله ﷻ د خوا نه د دنیا او اخرت خوبائی ورنصیب شوی. دنیا کی ئی ورته دین د اسلام پیغمبری د صحابه کرامو صفت خلفای راشیدینو او د عشره مبشره صفتونه ورنصیب کړی حتی چی په دنیا ئی د جنت زیری ورکړی او اخرت کی معلومداره خبره ده چی الله ﷻ د جنت او د جنت د نعمتونو وعده ورکړیده.

او چاچی د هغه وخت د خپل پیغمبر خبره ونه منله او د الله ﷻ حکمونو ته ئی غاړه کینښوده هغوی ټول الله ﷻ هم په دنیا او هم اخرت کی به شرمنده رسوا او تبا کوی لکه چی په دنیا کی ئی نمرود د یوه میاشي پواسطه مردارکړو چی د خدائی دعوه ئی هم کړی وه همدارنکه فرعون چی ده هم د خدائی دعوه ئی کړی وه الله ﷻ په رود نیل غرق کړو په همدی شکل قارون چی د دنیا غټ سرمایدار وه چی د الله حکمونه او د موسی ع دعوت (خبره) ئی ونه منله الله (ج) د مځکی تل ته د مال دولت او ملکرو سره کوزکړو په همدی شکل ابوجهل لعین د نبی کریم ص دعوت (خبره) ونه منله او د الله ﷻ حکم ته یې غاړه کینښوده الله ﷻ د احد په غزا کی د دوو ورکوټو انصارو ماشومانو پواسطه مردار او د دوزخ کندی ته لاهو کړی همداسی نورکفار لکه ابرهه اوبی بن خلف هامان وغیره نو دا ټول الله ﷻ دنیا کی هم تبا او برباد کړل او په اخرت کی معلومداره خبره ده چی ابدالابد

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوری به دوی جهنم کی سوزی نو داځکه چی دوی د خپل پیغمبر خبره ونه منله او د اللهﷻ حکمونو ته غاړه نده ایخی

### د دین په خاطر د پیغمبرانو قربانی او د هغوی د سختیو او مشقتونو زغمل

اللهﷻ کله چی دین د اسلام دنیا ته راولیږه او د دین تهداب ئی په کلمه شریفه د (لااله الاالله) تهداب کذاری کړو د دی دین د خپرولو لپاره اللهﷻ وخت په وخت سره یو لک ۲۴ زره انبیا ع (پیغمبران) رالیږی چی هر پیغمبر په خپل وخت او زمان سره خلق به ئي دین د اسلام ته رابلل او د اللهﷻ حکمونه به ئي ورته بیانول او ورته ویل به ئي چی قولو (لااله الاالله) تُفلِحون او دا مبارکه کلمه به ئي د خلقو زړونو ته کوزوله

دا چی د دین په خپرولو کی پیغمبرانو ډیری قربانی ورکړی دی او راز راز ستونځی سختی او مشقتونه ئی برداشت کړی دی لیکن بیا به هم ټولو انبیا ع مو د اللهﷻ حکمونه خلقو ته رسول او دین د اسلام ته ئي رابلل لکه

اول/ حضرت نوح ع د اللهﷻ د حکم په اساس ۹۵۰ کاله دین اسلام په خاطر خپل محنت او خواری کاللی دا چی قوم ئي بدبخته وه په عوض د دی چی د خپل پیغمبر خبره ومنی او د اللهﷻ حکمو ته غاړه کیږی برعکس نوح ع ته به ئی ستونځی مشکلات او زجرونه رسول ملنډي به ئی پری وهلی رشخند ئی پری واهه حتی په تیکو لوټو به ئي ویشته تردی پوری چی مبارک به د تیکو لوټو لاندی شو نو کله به ئي د تیکو او لوټو نه راوویست چا به ورته وویل چی ای نوحه نور به څه کوی مبارک به وفرمائل چی د اللهﷻ حکمونه به چلوم او خلق به دین ته رابلم نوح ع په ټول عمر (۹۵۰) کلو کی ۸۰ الا ۸۱ کسه اسلام ته دعوت کړی دا ځکه چی قوم ئي ډیر کمراه او بدبخته وه د ده مبارک خبره به ئي نه منله نوح ع مجبور شو اللهﷻ نه ورته د عذاب غوشتنه وکړه نتیجه کی د یوه ځوی او ښځی په شمول ئی ټوله دنیا غرقه او د اللهﷻ په عذاب اخته شول.

دوهم/ حضرت ابراهیم ع چی په ابتدا د پیداش کی ده سره د اللهﷻ مینه وه د خپل پلار او نمرود د دین په مقابل قد علم وکړو د کفری ټولو ادیانو نه ئی انکار وکړو خاص الخاص په یو اللهﷻ خپله عقیده مضبوطه کړه او د اللهﷻ خواته به ئی خلق څه حتا چی نمرود خدائی دعوه کړی وه او پلار ئی چه تارُخ نومیده په آزر مشهوره وه هغه نمرود په خدائی یی منلی وه غوشته ئی چی خپل پلار حتی نمرود هم اسلام ته دعوت کړی ډیری

(c) ketabton.com: The Digital Library



خواری پری وکړی لیکن اسلام راوړو ته حاضر نشول بل آخره حضرت ابراهیم ع مجبور شو علنی ئی مبارزه ورسره شروع کړه کله چی یوه ورځ نمرود او نمرودیان د خپلی مذهبی میلی لپاره ځی او دی مبارک په یوه بهانه ځان په مریضی اچوی میلی ته نه ځی بیا کله چی نمرودیان ټول میلی ته ځی حضرت ابراهیم ع مبارک تبر اخلی بتخانی ته ننوزی د لات ، منات ، او عزات او نور غټ بتان ریز مریزکوی خپله راوزی نوکله چی نمرودیان راځی خپل بوتان کوری ټول ریز مریز شوی دی، دی راغواړی چی دا ولی تا دا کارکړی دی ابراهیم ع مبارک ورته وائی ما نه دی کړی کفارو ورته وویل چی چا وکړل تا ونه کړل ؟ ابراهیم ع ورته فرمائی چی د خپلو خدایانو نه پوښتنه وکړی چی چا دوی تبا کړی دی نو نمرودیان ورته وائی چی دا کله خبری کوی ابراهیم ع ورته وائی چی دوی خبری نشی کولای او د خپل ځان دفاع نه هم عاجز دی نو تاسو څه احمقان یاست چی سجدی ورته لکوی او دا باطل دین باندی روان یاست راځي د هغه الله ﷻ حکم ته غاړه کیږدی چی هغه مونږه او تاسو او دا دنیا پیداکړی ده دلته نمرودیان ډیر په غصه کیږی شورا دایروی فیصله کوی چی د اور پواسطه باید ابراهیم ع ختم کړو یو جریب ځمکه باندی دیوال راچاپیروی په هفتو او میاشتوکی دا احاطه د خس او خاشاک نه ډکوی ابراهیم ع ورته اچوی چی ۴۰ شپی او ورځي پدی اورکی پروت وه او پدی اورکی د الله ﷻ د لطف کرم او مهربانی په وجه روغ رمټ خوشحاله او په قسما قسم نعمتونو برخورداره کړو چی یو ویښته ئی هم ضایع نشو په همدی قسم نور مشکلات او ستونځی هم کاللی دی.

خاطره/ چا ورنه پوښتنه وکړه چی ابراهیم ع تاته د خپل ژوند کومه خاطره د قدر وړ او خوږه وه ابراهیم ع ورته وفرمائل چی ماته د ټولو خاطرو نه د نمرود په اورکی ۴۰ ورځی او شپی بهترینه خاطره وه.

دریم/ همدارنکه حضرت موسی ع هم پدی دین دیری ستونځی او خواری کاللی دی خپل قوم بنی اسرائیل او نور خلک به ئي تل دین ته رابلل حتی قارون چی د ده د تره ځوی هم وه او د جهان غټ سرمایه دار هم وه تل به ئي ورته د الله ﷻ حکمونه بیانول کله ئي چی د زکات ورکولو ته بلنه شروع کړه قارون دا بلنه ونه زغمله د وغوښته چی د یوی فاحشی ښځی پواسطه موسی ع بدنام او د تباهی دام لاندی راولی د موسی ع الله ﷻ دفاع وکړه خپل قارون الله ﷻ د ټول باند او مال دولت سره د مځکی تل ته حواله کړو.

همداسی فرعون ته ئی په سل کونو واری اسلام ته بلنه ورکړه لیکن فرعون ظالم په

(c) ketabton.com: The Digital Library



عوض د دی چی د موسی ع خبره ومنی برعکس ستونځی مشکلات حتی د مرک تصمیمونه به ئی ورته نیول چی بل اخره یوه ورځ ئي موسی ع د ملکرو سره د رودنیل دریاب پر غاړه محاصره کړو او اعلان ئی ورته وکړو چی نن ورځ ته دلته په جزا د اعمال رسیږی هغه وه چی الله ﷻ رودنیل اختیار موسی ته ورکړو موسی ع ئي د خپل قوم سره الله ﷻ روغ او رمټ وساته فرعون ئی د ټول فوج سره رودنیل تباکړو.

په همدی شکل کله چی حضرت موسی ع پیغمبر شو ابتدا کی فرعون ورته یوه غټه دسیسه جوړه کړه غوښته ئی چی د ټول ملت پرمخکی مبارک د نجومیانو او ساحرانو پواسطه ملامت کړی نو ۷۰ زره ساحران فرعون راوغوشتل چی د ټول ملت مخ کی موسی لاندی او ملامت کړی او د ټول ملت مخکی د ساحر په نامه محوه او نابود کړی. لیکن د الله ﷻ مدد ورسره وه کومه لکړه چی الله ﷻ موسی ع ته ورکړی وه هغه یوه غټه او ستره معجزه وه کله چی د فرعون ۷۰ زره ساحرانو خپل سحرونه میدان کی اچوی او بیا موسی ع مبارک خپله لکړه میدان کی اچوی اژدها ورنه جوړیږی د ټولو ساحرانو سحر ورته محوه کوی پدی معجزه د موسی ع ټول ساحران مسلمانیږی بیا فرعون دا ټول ساحران چی مسلمان شول په شهادت ئی رسوی او د فرعون دسیسه شنډه کیږی په همدی شکل په سل کونو مشکلات او ستونځی ئی نوری هم کاللی دی.

څلورم/ حضرت هود ع هم په خپل نوبت سره خلقو ته تل د دین احکام رسولی دی لیکن هغوی کمراهانو د خپل پیغمبر خبره ونه منله او د الله ﷻ حکمو ته ئی غاړه کینښوده د دوی د کمراهی او سرکشی له کبله الله ﷻ توره وریځ راوخیږوله د باران په طوفان ئی یو بل باندی وویشتل ټول ئی تبا کړل.

پنځم/ صالح ع هم په کلونو کلونو خلقو ته د دین احکام ورسول او دین ته ئی راوبلل ظالمان په عوض د دی چی د خپل پیغمبر خبره ومنی اسلام راوړی بل اخره ملنډی او رشخندونه ئی پری شروع کړی اخرالامر ئی صالح ع نه داسی یو معجزه وغوښتله چی پدی غره کی د دی کانړی نه یوه بلاربه اوښه راوباسه نو مونږه ایمان راوړو صالح ع الله ﷻ ته لاس اوچت کړل دعائی وکړه الله ﷻ هسی چی دوی غوښته ورته وئی کړل لیکن بیا هم بدبختانو ایمان رانه اوړ بیا الله ﷻ هغه اوښه ورته بلا وکرځوله ټول خوراکی شیان ورنه وخواړه بیا ئي ټولی اوبه ورنه وڅښلی بیا کله چی یوه بدبخته دا اوښه حلاله کړه په اتفاق ټول غرو ته وختل غره کی ئی کورونه جوړ کړل ویل به ئي چی دلته بلا راتلای نشی

(c) ketabton.com: The Digital Library



اللهﷻ ورته هیبت ناکه ملائیکه راولیږله هغی ملائیکی یوه هیبت ناکه چغه وکړه ټول ئـي هلاک کړل او زړونه ئی ور وچول.

شپږم/ د قوم سبا واقعه: د قوم شبا یوه هیبت ناکه واقعه ده څنکه چی د یمن خلق ټول تجارت پیشه وه کاروبار ئي زراعت وه د ټولو ورځ بلکول جوړه وه ټول یمن پاک صفا او شایسته وطن وه صافه هوا ښه ښه باغونه ئی درلودل هر قسم میوی پکی وی ماران لړمان میاشی ئی نه درلودل لیکن دا چی د خپل پیغمبر خبره ئي ونه منله او د اللهﷻ حکمونه ئی ونه منل اللهﷻ د دوی د عیش نوش مقابل کی چی کبر اوغرور اختیار کړ اللهﷻ دوه مږی ورولیږلی په هغوکی یوه ږنده وه د اوبو ډیم ئی پری سوری د ډیم اوبه پری خوشی کړی ټول یمن ئی د خلقو مال او زندکی سره نیست او نابود وکرځاوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوهم باب

## د نبی کریم ص د مبارک ستوری ظهور و دنیا ته

د حضرت عیسی ع او حضرت موسی ع دوری راپدی خوا تقریبا ۵۷۰ کلوکی د نبی کریم ص تر زمانی پوری بل پیغمبر ندی راغلی نو په ټول سرزمین د دنیا کی بلخصوص په عربوکی داسی وحشتونه ظلمونه قتل قتال ملوک الطوائفی خپل سری حکومتونه شراب خوری او چورچپاول اوج ته رسیدلی وه ۳۶۰ بوتان ئی مکه کی د هر قسم عبادت په خاطر ځای پر ځای کړی وه مکی شریفی نه دکفارو نر او ښځی بربند طوافونه کول په عادی موضوع به ئی په کلونوکلونو دشمنی کانی کولی د انسانانو په کوپړیوکی به ئي افتخاری شراب څښل بهادر او شه ځوان به هغه وه چی مهمان خانه به ئي د انسانانوکوپړی ډیری لیدل کیدی یو ځوان به لاره خپلی پښی وغزولی اعلان به ئی وکړو چی داسی ځوان شته چی ځما پښي راټولی کړی بل ځوان به ورغی پښي به ئي په توره ورغوڅ کړی هغه به اعلان وکړ چی داسی څوک شته چی ستا انتقام واخلی همداسی وړه نجلی به ئي پيداشوه هغه به ئي ژوندی ښخولی همداسی نوری بی بندوباری زیات پکی اوج ته رسیدلی وی.

د نبی کریم ص د مبارک ستوری ظهور و دنیا ته:- د نبی کریم ص هم ابتدا د طفولیت نه اللهﷻ سره مینه وه او د اللهﷻ په مینه ئی شپی ورځی تیرولی د نبی کریم ص مشهور نوم محمد ص د پلار نوم ئی عبدالله او د نیکه نوم ئی عبدالمطلب او د غورنیکه نوم ئي هاشم او د هاشم د پلار نوم عبدمناف وه د مور نوم ئی امنه د مور د پلار نوم ئی وهب او د نیکه نوم ئی عبدمناف دی. د ربیع الاول د میاشتی په۱۲ د پیر(دوشنبی) په ورځ په سنه د (۵۷۰ - ۵۷۱)میلادی کال کی تولد شوی دی د ابرهه کافر پادشاهی وخت کی چی د مکی د ورانولو قصد ئی وکړو مکر اللهﷻ تباه کړو د نبی کریم ص د تولد نه ۲ میاشتی مخکی پلار عبدالله وفات شو د مبارک څوکاله پالنه ئی بی بی حلیمی رضائي مور وکړو مور مبارکه ئي په پنځه کلنی وفات شوه.

د نبی کریم ص پالنه ئی نیکه عبدالمطلب ته پاتی شوه کله ئي چی نیکه وفات شو پالنه ئی ابو طالب تره ته پاتی شوه چی بی بی خدیجی یوه بډایه ښځه وه د هغی د ځان سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



شام ته د تجارت لپاره محمد روان کړو په لاره کی یو راهب ده کی د پیغمبری علامی ولیدی بی بی خدیجی ته وویل چی دا هلک شام ته مه بیا یه چی خطر سره مواجه نشی د نبی کریم ص د نبوت کواهی بی بی خدیجی ته ورکړه د شام د سفر نه ئي منعه کړو.

په ۲۵ کلنی کی بی بی خدیجی نکاح ورسره وکړه دی وخت کی بی بی خدیجی ۴۰ کلنه وه نبی کریم ص په ۶۱۰ میلادی کال د عمر په ۴۰ کلنی کی پیغمبر شو د نبوت په ۱۳ کال الله ﷻ معراج ته وباله د نبوت ۱۳ کاله په مکه شریف کی تیر کړی په ۵۲ کلنی کی په ۶۲۲ په میلادی ئی مدینی منوری ته هجرت کړی خلاصه چی په مدینه منوره کی ۱۰ کاله پاتی شوی دی.

د چهارشنبی په ورځ د صفری د میاشتی دوه ورځی پاتی وی چی مبارک بیمار شو د ربیع الاول ړومبی خور په ۱۲ تاریخ د ځابنت په وخت د ۶۳ کلنی په عمر د ۶۳۳ کال ئي دنیا نه مبارکی سترکی پټي کړی په مدینه منوره کی خاورو ته وسپارل شو.

## د نبی کریم ﷺ کومی ستونځی او مشکلات چی د دین په خاطر کاللی دی

نبی کریم ص کله چی د موره تولد شوی د نبوت او خوشبختی علایم پکی ظاهر شوی په طفولیت کی مبارک په اخلاقو دیانت راست کوئی او امانت داری کی ئی د امین لقب پیداکړو. ابوجهل لعین ابتدا نه ورسره مبارزه خپله شروع کړی وه دا ځکه چی نبی کریم ص خلک تل ښو اخلاقو ته رابلل او د بدو نه ئي خلق منعه کول او ابو جهل کینه ورسره کوله نو کله چی پیغمبر شو د ابوجهل او د مکی نورو کفارو دښمنی ورسره شروع قسما قسم تکلیفونه او مشکلات به ئي ورته پیداکول کله چی دی پیغمبر شو په ښځو کی اول بی بی خدیجی لویانو کی اول حضرت ابوبکر صدیق رض وړوکی حضرت علی( رض) پری ایمان راوړ چی ورو ورو مسلمانان ۱۳ کسو ته ورسیدل لږ موده وروسته د مسلمانانو شمیر ۴۰ کسو ته ورسیدل مسلمانان د مکی شریفی د کفارو د لاسه سخت په تنک او عذاب وه د کفارو شمیر زیات وه او مسلمانان کم وه.

## د نبی کریم ﷺ د طائف سفر

نبی کریم ص پدی خاطر چی د مسلمانانو تعداد کم ده چی راځه زه به طائف شریف ته لاړشم هغه یو ستر قوم دی نو زه به هغوی ته دعوت ورکړم په اسلام به ئی مشرف کړم چی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مسلمانانو شمیر زیات شي او د کفارو مقابل کی خپله دفاع وکړو.

کله چي مبارک طائف ته ورسیده نو په طایف کی دری غټ مشران وه ویې غوښتل چي اول هغو مشرانو ته دعوت ورکړی بیا به د هغوی په مرسته نور خلک اسلام ته راوبلی بدبختانه د طائف اول مشر ته چي ورغی هغه ورته وویل چي پیغمبر ئي شه شخص ئی لیکن مطالبه دی نه منم دوهم مشر ته ئی تشریف ور ووړ هغه ورته وویل چي ته نه پیغمبر کیدای شي او نه پیغمبر ئی داځکه چي عربو کی بل د پیغمبری لایق شخص نه وه چي الله ﷻ ته پیغمبر کړی نو دی کافر هم ځواب ورکړو دریم مشر ته ته چي ورغی هغه بدبخته بلکول د خبرو او صحبت اجازه ورنه کړه امر ئی صادرکړو چي د طائف نه ووزه خلقو او ماشومانو ته ئی د ستور ورکړو چي چغی ورپسی ووهی کنځلی ورته کوی لاسونه ورپسی پړقوی په تیکو او لوټو ئی ولی د شهر نه ئي وباسی کفارو هسی پری وکړل د مبارک بدن ئی ټوکر ټوکر او زخمی کړو حتی چي د مبارک د بدن په وینو ئي مبارک پڼی د وینو نه ډکی شوی

یوځای ئي لیکلی چي اسمان دوه کرته ژړلی دی او خپلی اوښکی ئي توئي کړی دی چي یو ئی د د نبی کریم ص د طائف په مشکل او دوهم وار ئي کله چي اسماعیل (ع) ئي چړی لاندی غورځول شوی وه الله ﷻ نبی ع ته وفرمائیل چي ملائیکی می درته په اختیار درکړی که غواړی چي د طائف غرونه ورباندی راولم خچ پچ ئي کړم اوکه یی پورته اسمان ته جک کړم او په مځکه ئي راکوزار کړم نبی ع ورته وفرمائیل چي یا الله ﷻ هدایت ورته غواړم کیږی چي اولادونه ئي اسلام راوړی او زما د امت ټولی پری زیات شي

## د نبی کریم ﷺ د هجرت کولو موجبه

کله چي مکه مکرمه کی د مسلمانانو شمیر ورځ په ورځ په زیاتیدو شه کفارو د نبی کریم ص سره خپل مقاومت زیات کړو مسلمانانو ته ئي قسما قسم مشکلات ایجادول بیا کله چي د نبی کریم ص اخلاقو، دیانت داری ، ښو خویونو ، امانت داری ، تقوا او خواریو ورځ په ورځ کفار اسلام ته رابلل بل خصوص هغه کفارو چي د مسلمانانو وینو ته تږی ناست وه اکثره ئي مسلمانان شول مثال به ئي په عمر عمر رض ختم کړو چي خپله عمر رض د نبی کریم ص د سر غوڅولو په خاطر ځی پّ عوض د سر راوړو ئي اسلام قبول کړو.

په همدی شکل د مسلمانانو شمیر لس کونو نه لکونو ته ورسیده او په زیاتوالی ئي شروع

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړه نو ابوجهل او نور غټ غټ کفارو ځان لپاره د نبی کریم ص پیشرفت نه خطر حس کړو. نبی کریم ص ته الله ﷻ یوه خوشبختی ورنصیب کړی وه چی ابوطالب تره ئي ډیره حمایه کوله دا چی ابو طالبه د قریشو د قوم یو نامداره شخصیت وه د ده د ویری کفارو په نبی کریم ص بیځایه تیری نشو کولای او په اکثره ځایو کی حمایه کړی هم ده.

بل اخره د عربو مشرانو د ابوجهل په مشری او د شیطان په رهنمائي د مکی او د مکی د شاوخوا ټول عرب راوغوښتل په نبی کریم ص ئي جرکه جوړه کړه کله ئي چی په مکه معظمه کی جرکه دایره کړه ابوجهل ابوطالب ته وویل چی وراره دی محمد راوغواړه هغه تل د مونږه په عقایدو او خدایانو باندی تل بدرد وائي او خلق خپل دین ته دعوت کوی. مونږه ټول د عرب سرزمین خلک دا ورته اعلان دی که چیری محمد څومره دنیا غواړی کومه ښایسته ښځه ئي خوښه وی ورته کوو ئی او کوم مقام رتبه چی عربو کی غواړی ورکوو ئي لیکن زمونږ خدایان دی نه ردوی د اسلام نوم دی نه اخلی بیرته دی دی دین ته د مونږه راواوړی که نه نو مونږه خپله معامله ورسره کوو. ابوطالب حضرت محمد جرګی ته راوغوښته دا چی هر وخت او په هر ځای کی به ابوطالب حضرت محمد ص خپل څنګ کی کیناوه په همدی ورځ ابوجهل لعین د ده ځای ونیوه او د ابوطالب څنګ کی کیناسته کله چی نبی کریم ص راغی کوری چی د تره ترڅنګ ئي ابوجهل ناست دی. مبارک د حرم شریف په دروازه کی ودریده تره ئی ابوطالب ورته وویل چی دا مشران وائي چی محمد څومره مال او دولت غواړی یا دا چی کومه ښځه ئی زړه وی ورته ورکوو ئي او په عربو کی کوم مقام او چوکی غواړی ورکوو ئي لیکن د مونږه خدایانو باندی دی بدرد نه وائی نور د اسلام دعوت نه لاس واخلی. نبی کریم ص په فصاحت او په جرئت ورته جواب ورکړ چی کاکا ځما د په هغه ذات قسم وی چی ځما نفس د هغه په قبضه کی ده چی زه به د خپلی مبارزی لاس وانه خلم او دخپل اسلام په پیشرفت کی به خپلی هلی ځلی کوم د الله ﷻ د دین د پیشرفت لاره کی ځان قربانوم کله چی ابوطالب د نبی کریم ص ایمانداری جرئت او غیرت ولیده اواز ئی پری وکړو چی وراره ازاد ئی داسی څوک نه وینم چی پورته درته وکوری د کفارو بل خصوص د ابوجهل او نورو مشرانو غصه نوره هم زیاته شوه.

بل اخره بله شورا ئي جوړه کړه د هر قوم نه ئي څو څو تنه ځوانان ټول او یو ټولی ورنه جوړ کړو د نبی کریم ص لپاره ئي پلان جوړ کړ چی چاپه پری واچوی او په شهادت ئی ورسوی کله چی نبی کریم ص کور کی محاصره کوی نبی کریم ص او حضرت ابوبکر صدیق

(c) ketabton.com: The Digital Library



رض د اللهﷻ په یاری او مدد دکفارو د چاپی نه روغ او رمټ باسی د ثور غار ته دواړه ځی پدی غارکی د جمعی شنبه او یکشنبه ورځ تیروی د دوشنی په ورځ مدینی منوری ته هجرت اختیار وی.

همدانکه نبی کریم ص د دین په خاطر په هره غزا کی لکه د احد خندق تبوک د مکی فتحه داسی په لس کونو غزاکانوکی په غټ پیمانه قربانی کانی ستونځی او مشکلات کاللی دی حتی چی غاښ مبارک ئی د احد غزا کی په شهادت رسیدلی دی حتی چی د همدی دین په خاطر ابولهب بی دینه په ښپیره وهلی دوه لورکانی ئي ورته طلاقی کړی دی او نورمشکلات ئی ور رسولی دی.

## د اللهﷻ د خوا نه د نبی کریم ﷺ بلنه معراج ته

کله چی اللهﷻ نبی کریم ص معراج ته وباله او معراج ته ورسیده نو نبی کریم ص غوښته چی خپلی مبارکی پڼی وباسی او عرش معلا ته داخل شی اللهﷻ ورته وفرمائیل راځه خپل پیزار مه باسه عرش معلا نه ماته د خپل حبیب جمال د قدر وړ ده

بیا نو نبی کریم ص څو د معراج حالتونه داسی بیانوی لکه

۱ نبی کریم ص فرمائیلی دی چی د معراج په شپه ځما ملاقات حضرت ابراهیم ص سره وشو هغه راته وویل چی امت ته دی ځما سلام وایه او ورته ووایه چی د جنت یوه دیره صافه خاوره ده بهترینی خوږی اوبه لری او یو دیر ښکلی او هوار میدان لری چی د هغه میدان ټولی ونی او بوټي ئي (سبحان الله والحمدل االله و لااله الا الله و الله اکبر) دی ستا امت چی څومره وغواړی هلته دی د خپل ځان لپاره ونی ولکوی (رواه ترمذی، بخاری او مسلم).

۲ بل حدیث کی راغلی چی د (ولاحول ولاقوت الا باالله العلی العظیم) د ویلو مقابل کی هم هلته یوه ونه لکولی شی همدارنکه د ی ( سبحان الله وبحمد سبحان الله العظیم ) ویلو هم جنت کی یوه ونه لکولی شی ( رواه بخاری مسلم او ترمذی).

۳حدیث شریف : نبی کریم ص مهربانی کړی ده چی ما د معراج په شپه داسی حالت مشاهده کړو چی د سړیو نه د یوی ډلی خلکو د بدن غوښي په قیچی کانو قیچی کیدی ما د جبرئیل امین ع نه وپوشتل چی دا کوم خلک دی هغه راته وویل چی دا هغه کسان دی چی خپل ځانونه به ئي سینګارول او دکوره به وتل او بل ځای می کوهی ولیده چی د هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځایه بدبوی او چغی راوتلی ما دجبرئیل امین نه پوښتنه وکړه چی دا کوم کسان دی هغه راته وویل چی دا هغه زنانه دی چی دوی به خپل ځانونه سینګارکړل او د کوره به وتلی.

بل ځای می ولیدی چی مردانه او زنانه یوځای ځوړند دی او د تیونه اویزان شویدی ما د جبرئیل امین نه وپوښتل چی دا کوم کسان دی هغه راته وویل چی دا خلک تهول پیغور ورکونکی او چغلکر دی (رواه دور منشور).

۴حدیث شریف : نبی کریم ص فرمائی چی ماته کله الله ﷻ معراج کی جنت راوښوده کا ته می چی په اعلی درجه کی فقرا او مهاجرین وه مالدار او زنانه پکی کم لیدل کیده ما د جبرئیل امین نه پوښتنه وکړه چی دا ولی ؟ هغه راته وویل چی مالداران د جنت دروازه کی په حساب اوکتاب اخته دی او زنانه د خپلو سرو او سپینو په محبت کی اخته دی ( رواه مشکوته).

۵حدیث شریف : نبی کریم ص فرمائلی چی ما د معراج په حالت کی یوه ډله کسان ولیدل چی شوندی ئی د دوزخ د اور په قیچی کانو قیچی کیدی ما د جبرئیل امین نه وپوښتل چی دا کوم کسان دی هغه راته وویل چی دا ستا د امت واعظان دی چی په خپل علم ئي عمل نه کاوه ځکه نن ورځ ئي چی وینی پدی بدبختی اخته دی (رواه مشکوته).

۶حدیث شریف : کله چی نبی کریم ص معراج ته تشریف یو ووړ د الله ﷻ د خوا نه (پنځوس) وخته شواروزکی لمنځونه ورکړل شول نبی کریم ص فرمائي چی ما سره موسی ع معراج کی ملاقات وشو هغه راته وویل چی ستا امت پنځوس وخته لمونځونه اداکولو نه عاجز راځی اداکولای ئی نشی د موسی ع په مشوره می څو واری الله ﷻ دکمولو عرض وړاندی کړو بل اخره چی شواروزکی پینځه وخته لمونځونه الله ﷻ راوستل نو نور ئي په کمولو کی حیا راغله په پنځه وخته می قناعت حاصل کړو الله ﷻ پنځه وخته لمونځ شواروز کی پر مسلمانانو فرض کړو که څوک دا پنځه وخته لمونځونه په ښه ترتیب اداکړی نو الله ﷻ د پوره پنځوس لمونځونو ثواب ورکوی.

۷حدیث شریف : کله چی نبی کریم ص ته د الله ﷻ د خوا نه د جنت د خزانو نه څلور تحفی لکه د سورت فاتحی سورت ، ایات کرسی ، د سورت البقری اخری څو ایاتو او سورت کوثر تحفی ورکړی شوی نو نبی کریم ص صحابه کرامو ته وفرمائیل چی الله ﷻ ماته د خپلو خزانو نه داسی تحفی راکړی چی هیچا ته ئي نه دی ورکړی.

حسن د بصری رحمته الله د نبی کریم ص ارشاد نقل کوی چی څوک یو واری سورت

(c) ketabton.com: The Digital Library



فاتحه ولولی نو لکه د ه چی سل صحیفی ، تورات ، انجیل ، زبور ، او قرانکریم ټول تلاوت کړی وی.

## د نبی کریم ﷺ ځو معجزې

د نبی کریم ص یوه معجزه دا وه چی په روښانه لمر او سپوږمی کی د ده د وجود مبارک سیوری پر مځکه نه معلومیده دا ځکه چی د لمر او سپوږمی نه د ده د نور روښنایی زیاته وه

۲ د نبی کریم ص بله معجزه دا وه چی نورو خلکو به غذائي مواد خوړل یا ئي خوری نو بقایا ی په فضله ئي مواد تبدیلیدل او تبدیلیږی لیکن د نبی کریم ص د غذائی مواد بقایاوو نه خوشبوئي تولیدیده کله به چی صحراکشت ته به مبارک کیناست پر مځکه بـه د ده مبارک د صحراکشتی هیڅ اثار نه معلومیده بی له خوشبو ئي نه.

۳ معجزه ئي دا وه کله به چی نبی کریم ص په کوم ځای کیناست او یا چی په کومه لاره تشریف یووړ د هغه ځای او هغی لاری به خوشبوئي تله نو خلک به پوه کیده چی دلته نبی کریم ص ناست ده او یا ئي پدی لاره تشریف وړی ده.

۴ معجزه ئي دا وه کله چی نبی کریم ص مدینه منوره کی خطبه ویله نو په یوه وچه خرمائی تکیه کوله کله چی هلته د مسجد نبوی د جومات د محراب ممبر جور شو او نبی کریم ص هلته د خطبی ویلو لپاره کیناست کوری چی هغه وچه خورما په چغو چغو ژاړړی او سلکی وهی چی دا چغی صحابه کرامو هم مشاهده کړی نبی کریم ص دفعتاً ممبر نه کوزیږی وچی خورما ته تسلی ورکوی ونه چپ کیږی.

۵ حضرت علی رض فرمائلی چی زه یوه ورځ نبی ع سره په سفر روان وم چی ما کتل او هم می اوریدلی چی د کاڼو او بوټو نه دا (اسلام علیکم یا رسول الله اسلام علیکم یا رسول الله) اوازونه پورته کیدی.

۶ یوه ورځ یوه یهودی یوه مړه (سمساره) راوړه نبی کریم ص ته ئي وویل چی ای محمده که دی حیوان پر تا کواهی درکړه نو زه مسلمان کیږم هغه وه چی نبی کریم ص سمساری ته اشاره وکړه سمساره پورته شوه (اشهد ان لا اله الاالله واشهد ان محمد عبده ورسول) وویل وریسی وویل چی څوک تا منی جنتی دی او څوک تا نه منی جای دوزخ ده.

۷ حضرت ابوهریره رض فرمائی چی یوه ورځ ډیر وږی شوم لارکی ودریدم چی څوک پیداشی ما د ځان سره بوزی او څه وخورم کتل می چی حضرت ابوبکر صدیق رض راغی

(c) ketabton.com: The Digital Library



رانه تیر شو ورپسی نبی کریم ص راغی مبارک راته مسکی شو اشاره ئی راته وکړه چی راځه راپسی ورپسی روان شوم یوه کور ته ورغلو چی هغه کورکی یوه پیاله شیدی وی نبی کریم ص حکم راته وکړو چی ورشه صحابه صُفه ټول راوله ما خپل ځان سره فکر وکړو چی یوه پیاله شیدی دی لپاره ۷۰ کسه صحابه صُفه هم راولم نو دا کله کفایت کوی خیر د نبی کریم ص امر می پر ځای کړو لاړم صحابه صُفه می هم راوستل نبی ع راته وفرمائیل چی پیاله واخله په ټولو شیدی وخوره ما د یوه سره پیاله هر یوه ته ورکوله او شیدی ئی خوړلی ټولو چی شیدی وخوړی ښه ماړه شول نبی کریم ص پیاله ماته ونیوله دوه پیالی شیدی پر ما وخوړی نبی کریم ص هم وخوړی کتل می چی پیاله هسی ډکه پاتی شوه (رواه فضائل صدقات).

۸ حضرت بی بی عایشی فرمایلی چی یوه شپه ما خپله د نبی ع د مبارک د مخ رڼا ته په ستنه کی تار واچاوه دا ځکه چی ورځ کی په لمر باندی د نبی کریم ص مبارک نور غالب وه او شپه کی تیاری هم د نبی کریم ص مبارک نور مغلوب کولای نشو.

۹ د خندق غزا کی صحابه کرام ټول داسی وږی وه چی پر سینه ئی کانی تړلی وه. هغه وه چې حضرت جابر رض خاص د نبی کریم ص او د هغه څو تنو ملګرو لپاره څه غذا تیار کړه نبی کریم ص ته وویل چی د خپلو خاصو ملګرو سره ځما کورته تشریف راوړی اوغزا وخوری نبی ع زر ۱۰۰۰ تنه صحابه ټول ځان سره د حضرت جابر رض کور ته بوتلل کوم طعام چی حضرت جابر رض د څو تنو لپاره تیار کړی وه ۱۰۰۰ زر کسه ئی هم وربانـدی ماړه شول کورکی ورته دیک کاسه او دستارخوان کی هم ورته پاتی شول.

## د نبی کریم ﷺ د محبت واقعی

محبت یو داسی شی دی چی کله پر زړه کی ځای ونیسی نو هغه خپل محبوب په هر څه غالبوی نو هغه ته نه دځان پروا وی نه د خپل ژوند تمنا او نه د مال ملک خیال ورسره وی د تکلیف او خوف نه د مرک نه ویره حتی د ننک او ناموس خیال ورسره نه وی نو الله ﷻ دی د خپلی مهربانی او لطف په وسیله خپل او د خپل پاک رسول ص مینه او محبت رانصیب کړی امین یا رب العالمین.

دا چی په هر عبادت کی خوند او لذت دی او د دین هر یو تکلیف راحت دی

۱ حضرت ابوبکر صدیق (رض) کله چی د مسلمانانو شمیر ۳۹ تنو ته ورسیده حضرت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابوبکر رض په ډاکه برملا شو صحابه‌کرام ځان سره واخیستل په مکه معظمه‌کی علنی تبلیغ او خطبه شروع کړه داځکه چی پخوا د مسلمانانو د شمیرکموالی په وجه هر یوه خپل اسلام پټ ساته. په شروع د دی خطبی سره د نبی کریم ص تره سید شهدا امیر حمزه رض په همدی ورځ ایمان راوړ د هغه نه دری ورځي وروسته عمر رض اسلام راوړ پس لدی د کفارو روحیات بلکول ضعیف شول کله چی بله ورځ حضرت ابوبکر صدیق رض مکه شریفه‌کی په جهر خطبه شروع کړه کفار پری راغلل حضرت ابوبکر صدیق رض دومره وواهه چی د مبارک ټول مخ په وینو ډک شو حتی د مبارک غوږونه او پوزه ټول په وینو رنک شول چی پیژندل کیده هم نه او مبارک بلکول بی هوشه شو د خپلی قبیلی خلکو راوچت کړو د ابوبکر صدیق رض په وهلوکه عُتَبَه بن رَبیعَه ډیره حصه درلوده مبارک تر ماښامه بی هوشه وه کله چی پر خبرو راغی نو اولینه خبره د مبارک دا وه چی د نبی کریم ص څه حال دی ناستو خلکو ورته وویل چی ته د نبی کریم ص اوس هم پوښتنه کوی د هغه پواسطه ته داسی شوی ټول ورنه پاځیده ورنه لاړل مور اُم خَیر د ده د خوراک لپاره څه تیارکړل ورته کیشوده بیا هم د نبی ع مینی غلبه ورسره وه اواز ئی وکړو چی رسول الله څنکه دی او په څه حال کی ده مور ئي ورته وویل چی ماته پته نشته ام جمیل رض د عمر رض خور چی د ابوبکر صدیق رض پوښتنی ته ورغله د محمد ص پوښتنه ئي ام جمیل نه وکړه ام جمیل بیا دی ابوبکر صدیق رض نه ئی چی د حال پوښتنه وکړه چی ای ابوبکر څنکه ئي حضرت ابوبکر صدیق رض ورته اواز وکړو چی ځما څه پوښتنه کوی رسول الله څنکه ده ام جمیل ورته وویل چی الحمدالله هغه روغ رمټ دی ورته وئي ویل چی رسول الله چیرته ده ام جمیل رض ورته وویل چی هغه د ارقم رض کورکی ده ابوبکر صدیق رض قسم یادکړو چی تر څو می په رسول الله باندی سترکی نه وی لکیدلی نو زه هیڅ خوراک او څښاک ونه کړم. دا شپه ئي مور مبارکی ورسره په یو مشکل صبا کړه سبا ئي تیاره کی ابوبکر صدیق رض د ارقم کور ته د نبی کریم ص حضور ته ور اوست هلته دواړه غاړه په غاړه او په ژړا شول چی نور ټول مسلمانان ئی هم وژړول بیا حضرت ابوبکر صدیق نبی کریم ص ته وفرمائیل ځما د مور په حق کی د هدایت دعا وکړه او هم د اسلام ترغیب ورته وکړه هغه وه چی مسلمانه شوه (رواه خمیس) .

۲ د یوی زنانه د نبی کریم ص په خبره نارامه کیدل:- د احد غزا کی مسلمانانو ته تلفات واوښتل اکثره شهیدان شول مدینه منوره کی هیبت ناکه اوازی تیت شوی چی رسول الله ص

(c) ketabton.com: The Digital Library



شهید شو دا زنانه ډیره پریښانه شوه دکوره ووتله یو انصاری مخی ته راغی پوښتنه ئی وکړه چی نبی ع څنکه ده هغه ورته وویل چی ته د هغه پوښتنه کوی ستا پلار شهید شوی اِنالِ الله واِنا اِلیه راجعون وویل د نبی ع په فراق کی بیا هم روانه شوه پوښتنه ئی وکړه چاو ورته وویل چی خاوند دی شهید شوی بل ورته وویل چی ځوی د شهید شوی بل ورته وویل چی ورور د هم شهید شو د ټولو خپلوانو د شهادت په خبر ئی اِنالِ الله واِنا اِلیه راجعون وویل بیا هم پوښتنه وکړه چی رسول الله ص څنکه دی چا ورته وویل چی د سول الله ص په حال کی خیر او خیرت دی بیا هم د دی شخص په تصلی ئی قناعت حاصل نشو د نبی کریم ص په لټه کی شوه ترڅو چی خلکو ورته نبی کریم ص ورووښوده هلته ورغله کله چی سترکی ئی په نبی کریم ولکیدی ډیره خوشحاله شوه او د نبی کریم ص جامه ئي ونیوله عرض ئی وکړو چی ای د الله ﷻ رسوله څما مور او پلار دی تا نه قربان شی دا چی ته ژوندی ئی روغ رمټ ئي نو ما ته د هیچا د مرک پروا نشته ورونو دی ته وائی د رسول الله سره مینه مونږه خو د رسول الله سره مینه ناری او سوری وهو لیکن د رسول الله د سنتو او طریقو د تدبیق نه لری تښتو (رواه خمیس).

۳ بلی زنانه د رسول الله ص د خولی نه مړی واخیسته:- یوه مستانه ټوقی زنانی ځان سره تصمیم ونیوه چی نن ورځ به د رسول الله په دیدن خپل ځان مشرف کوم صحابه کرامو ته ورغله ټوقی او مسخری ئی وکړی صحابه کرامو ورته وویل چی ټوقی او مسخری مه کوه دا کناه دی ښځی ورته وویل چی په رسول الله ص هم ټوقی کوم صحابه کرامو دا ښځه رسول الله ص ته ورواستوله پدی وخت کی رسول ص یو دعوت کی د ټولو نه وروسته اخر کی ناست او په مړی مصروف وه دفعتاً دی ښځی وویل چی رسول الله ص ته کوری غلام غوندی ناست دی او دغلام غوندی مړی خوری نبی کریم ص د مړی خوړلو دعوت ورکوی نو دا ښځه په جرئت ورته وائي چی د لاس مړی دی نه خورم ما ته د خولی مبارکی نه مړی راکړه رسول الله ص خولی ته لاس کوی د خولی مړی هغی ښځی ته نیسی هغه ئی په جرئت سره اخلی او خولی ته وړی خوری ئی شکر ادا کوی وائي چی څما څه مقصد وه خپل مقصد ته الله ﷻ ورسولم. یو بزرک فرمائی چی پس د همدی لحظی نه هر وخت او هر ځای کی به د خوشبوئی بوی لدی ښځي نه تل روان وه حتی چی مړه شوه او دفن ئی هم کړه لیکن د قبر نه ئی خوشبوئي روانه وه.

۴ د حضرت ابن زبیر رض د نبی کریم ص وینه څکل :- نبی کریم ص یوه ورځ په

(c) ketabton.com: The Digital Library



مبارک ځان شکرونه ولکول کله ئی چی وینه ووتله حضرت عبدالله بن زبیر رض ته ئی ورکړه چی دا چیرته ښخه کړه هغه لاړ او بیرته راغی وئی ویل چی وینه می ښخه کړه نبی ع ورنه وپوښتل چی چیرته د ښخه کړه ؟ عرض ئی وکړو چی ما قربان هغه وڅکله نو نبی کریم ص ورته وفرمائیل چی د چا بدن ته ځما وینه لاړه شی هغه د دوزخ اور نشی مسحه کولی (رواه خمیس).

۵ د حضرت مالک بن سینان د نبی کریم ص وینه څکل :- د احد جنګ کی د رسول الله ص پر مخ مبارک د خور دوه کړی ننوتلی د یوی خوا نه حضرت ابوبکر صدیق رض ورمخکی شو او د بلی خوانه حضرت ابوعبید رض ورمنډه کړه. د خورکړی ئی په غاښو راویستلی. یوه کړی ئي راووستله په اوله کړی کې غاش مات شو د خپل غاښ پروائی هیڅ ونه کړه په بله کړی کی دوهم غاښ مات شو لیکن دا کړی ئی هم راووستله دی وخت کی د نبی کریم ص مبارک وجود نه وینه جاری شوه د حضرت ابوسعید خدری رض پلار مالک بن سینان رض په خپلو شونډو هغه وینه او رودله او تیره ئی کړه نبی کریم ص ارشاد وفرمایه چی د چا په وینه کی ځما وینه یوځای شی هغه د دوزخ اور نشی مسحه کولای ( رواه قرة العیون ) .

۶ د حضرت انس بن نصر د احد جنګ کی عمل:- د احد جنګ کی په شکست د مسلمانانو کی اوازه تیت شوه چی رسول الله شهید شوی په صحابه کرامو ئی سخت اثر واچاوه حضرت انس روان وه د مهاجرو او انصارو په یوه ټولی مخامخ شو کله ئي چی په عمر رض او طلحه رض سترکی ولکیدی ډیر په پریشان حال ئی ولیدل حضرت انس رض پوښتنه وکړه چی مسلمانان ولی پریشان ښکاری حضراتو ورته وویل چی رسول الله شهید شوی دی حضرت انس رض وفرمایل چی نور د مونږه ژوند څه پکار توره واخلی لاړشی ځانونه قربان کړی حضرت انس رض توره واخیسته کفاروکی ورننوت تر هغه وجنګیده تر څو ئي خپل ځان په شهادت ورساوه (رواه خمیس).

۷ حضرت علی رض نه چا پوښتنه وکړه چی ستا له رسول الله سره څومره مینه ده ارشاد ئی وفرمایه چی ځما د په الله جَلَّ جَلَالُهُ قسم وی چی نبی کریم ص مونږه ته د خپلو مالونو د خپلو اولادونو د خپل مور او پلار او د سختی تندی په حالت کی د یخو اوبو نه زیات محبوب وو (رواه شفاء).

۸ د حضرت انس رض روایت دی چی نبی کریم ص فرمائلی دی چی تاسوکې هیڅ یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کس تر هغه وخته مومن کیدای نشی چی تر ځو پوری چی د هغه ما سره محبت د خپل پلار او اولاد او ټولو خلکو نه زیات نشی.

۹ حضرت ابوهریره رض هم فرمائیلی دی چی نبی ع فرمائیلی هیڅ یوکس پوره مومن کیدای نشی چی د هغه ما سره محبت د خپل پلار مور اولاد او تول دنیوی شیانو نه زیات نشی .

۱۰ حضرت عمر رض یو واری عرض وکړو چی ای د الله ﷻ رسوله ماته د ځانه علاوه د ټولو شیانو نه تاسو ما ته زیات محبوب یاست.

۱۱ نبی کریم ص فرمائیلی چی د بنده حشر به د هغه چا سره وی چی د ده هغوی سره محبت وی.

۱۲ یو صحابی د نبی کریم ص حضورکی حاضر شو عرض ئی وکړو چی ای د الله ﷻ رسوله ستاسو محبت ما ته ځما د ځان مال اهل او عیال نه زیات دی کله چی زه کور ته لاړشم ستاسو خیال چی راشی صبر می ختم شی تر څو چی ستا حضور ته رانه شم او ستاسو په زیارت مشرف شم چاره نلرم.

۱۳ یوه صحابی نبی کریم ص ته وویل چی ای د الله ﷻ رسوله ځما تاسره زیاته مینه او محبت دی کله کله ماته داسی خیال راشی چی زه ستاسو زیارت ته راشم او تا ونه وینم زما ساه ووزی نو بیا که زه حشرکی جنت ته داخل هم شم او تا نه په کمه درجه کی قرار هم لرم نو ما ته جنت کی هم ستاسو زیارت کول کران دی نو دا ایات شریف نازل شو چی ترجمه ئی داسی ده ( څوک چی د الله ﷻ او د هغه د رسول وینا ومنی نو داسی کسان به جنت کی هغو حضراتو سره وی چی کومو ته الله تعالی انعام فرمائلی دی( انبیا، صدقین، شهیدان، او صالحینو سره دیر شه ملکری دی او له دوی سره ملکرتیا خاص د الله تعالی فضل دی او الله تعالی د هر یوه په حال ښه خبر دی (سورة انسا).

## دصحابه کرامو قربانی په دین د اسلام باندی

څنکه انبیا ع په دین د اسلام خپلی جانی او مالی قربانی کړی دی او راز راز ستونځی او مشکلات ئی زغملی دی همدارنکه صحابه کرامږ هم کاللی او هم ئی زغملی دی.

نبی کریم ص د حجة الوداع په خطبه کی یو لک ۲۴ زره صحابه کرام او مخلوق راوغوښتل ورته وئی فرمائیل چی ای خلکو مخکی انبیاو بلخصوص ما خپله خو دین د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسلام دغی مرحلی ته راوست دا چی زه اخری نبی یم ما نه وروسته بل نبی نه راځی زه د دنیا نه رحلت کوم تاسو دی شاهد یاست چی ما نور دین او د دین خدمت صحابه کرامو او هغو اشخاصو ته وسپاره چی کلمه شریفه د (لااله الاالله محمد رسول الله) وائی.

صحابه کرامو وفرمائیل چی ای د الله ﷻ رسول تا دین ته وسعیت هم ورکړو او هم د دین خدمت د وکړو کله چی نبی کریم ص د دنیا نه سترکی پټي کړی رحلت ئی وکړو تولو صحابه کرامو هم په شکل د انبیا ع مو د دین لپاره خپلی هلی ځلی خواری او قربانی ورکړی او هر قسم ستونځی او مشکلات ئی پکښی وزغمل لکه

۱ حضرت علی رض کله چی د احد په غزا کی مسلمانان د شکست سره مواجه شول څه شهیدان شول بعضو فرار وکړو دی وخت کی کفارو د نبی کریم ص د شهادت اوازه تیت کړه حضرت علی رض په ژوندیو صحابه کرامو کی نبی ع وکوت پیدائی نکړو په شهیدانو کی وکوت پیدا ئی نکړو ځان سره ئی فکر وکړو چی نبی ع خو د شکست شخص نه وه چی دشمن ته شا ورکړی او فرار وکړی نو حتمی نبی کریم ص یا شهید شوی دی یا دا چی الله ﷻ خپل حبیب اسمان ته اوچت کړی او ځانته ئی بللی دی ځان سره ئی تصمیم ونیوه چی محبوب می نه وی نو زه څه ژوند غواړم توره ئی واخیسته کفارو کی کډ شو عین جنګ کی کوری چی رسول الله ص د کفارو منځ کیر ولاړ دی د الله ﷻ شکر ئی اداکړو وئی فرمائیل چی الحمدالله رسول الله ص خو می ژوندی دی نور به هر څه الله ﷻ اسان کړی بیا ئی کفارو کی خپل جنګ شروع کړو نبی کریم ص هلته او ده لدی خوانه کفارو کی کوڅی جوړی او رسول الله ص ته ئی ځان ورساوه په ښه میرانه دواړه حضراتو کفارو کی خپلی توری داسی وچلولی چی اکثره ئي مردار او قتل کړل نور فرار ته مجبوره شول فرار ئی وکړلو دی وخت کی نبی کریم ص د حضرت علی رض سره لاس پلاس کی نیسی د حضرت علی رض بهادری داسی تعریفوی فرمائي اِنَّهُ مِنِی وَ اَنَا مِنهُ بیشکه علی رض څما نه دی او زه د علی نه یم بیا حضرت جبرئیل امین فرمائي وَاَنَامِنکُم یعنی زه ستاسو دواړو نه یم ( رواه قرة العیون).

۲ حضرت امیر حمزه رض د نبی کریم ص کاکا هم د دین په لاره کی تل خپل دلاوری او قربانی مشکلات او ستونځی کاللی دی بل آخره د احد غزا کی شهید شو او کفارو ئي سترکی وویستلی پوزه ، غوږونه او شونډي ورنه غوڅ کړی سینه مبارکه ئی ورخیری زړه ورنه راوویست ورسره ۷۲ صحابه کرام شهیدان شول چی تراوسه مقبری ئي د احد د غره لمنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



موجود دی.

۳ حضرت حنظله رض د ده مبارک د واده اوله شپه هم وه کله چی د شپی اوازکیږی چی مسلمانانو شکست وکړو د شکست اواز د ده وینه په جوش راولی توری ته لاس کوی د کفارو مقابلی ته په تنهائي صورت وردانکی او خپله ناوی پالنک کی پریږدی تر هغو پوری جنکیږی تر څو ځان ئي په شهادت ورساوه الله ﷻ ته ئی د ده قربانی دومره خوښه شوه چی فرشتی غسل ته مقرری او په فرشتو غسل ورکړو.

۴ حضرت مَصعَب رض د قادسی جنک ته په شدت روان وه او د ده مبارک د اسلام بیرغ پلاس د غازیانو مخ کی په جرئت روان وه چی کفارو ئی ښی لاس ورغوڅ کړو بیرغ په چپ لاس ونیوه کفارو ئی چپ لاس هم ورغوڅ کړو بیرغ ئی د دواړو لاسو په مټ په سینه مبارکه کلک نیولی د غازیانو مخ کی روان وه کفارو چی مرکانه کزار پری وکړو خپله مبارک لویږی او بیرغ هم ورنه پر مځکه لویږی مسلمانان د شکست سره مواجه کیږی ( رواه قرُه اصابه ).

۵ حضرت بلال حبشی رض ده مبارک چی کله ایمان راوړ دی وخت دی د یوه کافر امیه بن خلف غلام وه کفار ئي چی د ایمان راوړو نه خبر شول قسما قسم ظلمونه هره ورځ هر یوه کافر پری عملی کول اُمیه بن خلف چی د مسلمانانو سخت دښمن وه ده به بلال رض ډیر به ئي وواهه بیا به ئي د غرمی سوزنده کرمی کی په سرو شکو ستونی سنخ واچاوه او په سینه مبارکه به ئي ډبره کیښوده ورته وبه ئي ویل چی یا د اسلام نه واوړه یا به په دی حال مری. او ده مبارک به احد احد ویلی همدارنکه کله به ابوجهل ته نوبت ورسیده هغه کافر به د ورځی واهه او د شپي به ئي په ځنځیرو وتاړه او په قمچینو به واهه ورته ویل به ئی دی اسلام نه اوړی او که په همدی شکل مرک غواړی بیا به مبارک احد احد ویل یوه ورځ حضرت ابوبکر صدیق رض چی د ده حال ولیده کفارو ته ئی پشنهاد وکړو ورته وئي ویل چی راځی لدی تور او ضعیف غلام نه به زه تاسو ته تکړه او تندرست غلام چی ستاسو په دین هم ده درکړم تاسی دا غلام ماته راکړی بلال حبشی ورنه اخلی او خپل غلام ورکوی چی نتیجه کی بلال رض د مسجد نبوی موذن مقرر شو (اسد الغایه)

۶ ابوذر غفاری رض دی مبارک داسی وخت کی اسلام راوړ چی ټولو مسلمانانو خپل اسلام هلته د کفارو د ویری پټ ساته ده چی اسلام راوړ په ډاګه مکی شریفی کی خپله کلمه شریف لااله الا الله محمد رسول الله اعلان کړه کفار د مکی دیر په غصه شول حضرت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابوذر غفاری رض ئی داسی وواهه چی بلکول بیهوشه شو حضرت عباس رض دنبی کریم ص تره ورنه خلاص کړوکله چی لږ غوندی صحت پیداکړو بیا لاړو مکه شریفه کی کلمه په جهر اعلان بیا کفارو راونیوه داسی ئی مبارک وواه چی بیا بیهوشه شو همدارنکه څو ځایه او څوکرته د اسلام د دین په خاطر دکفارو نه قسما قسم مشکلات او ستونځي ليدلی دی.

۷ حضرت عماد رض : د حضرت عماد رض پلار ئی یاثر مور ئي سُمیه رض وه کله چی دوی ایمان راوړو یاثر رض به کفارو واخیست وبه ئي واهه بیا به ئی بلال رض غوندی په کرمو او سرو شکو واچاوه او ډبره به ئی په سینه ورته کیښوده بل اخره دکفارو د وهلو ټکولو پواسطه زخمی زخمی شوی وه د همغو زخمو نه وفات شو.

همدارنکه کله چی سُمیه د حضرت عماد رض مور ایمان راوړ دا هم کفارو بلخصوص ابوجهل لعین قسما قسم په جزا ورسوله. حتی چی دوه اوښان ئی راوستل ورته وئي ویل چی یوه پښه دی په یوه اوښ تړم او بله پښه دی په بل اوښ تړم یوه ته یوی خوا ته او بل اوښ ته بلی خوا ته حرکت ورکوم چی دوه ټوټی شی اوکه د اسلام نه اوړی لیکن دی مبارکی وویل چی ماته د اسلام مقابل کوم نوعه تکلیف رسیږی قبول می دی په هیڅ صورت د اسلام نه نه اوړم بل اخره ابوجهل لعین سمیه مبارکه په شرم کاه کی په نیزه ووهله د هغه د زخم د لاسه په شهادت ورسیده چی په مسلمانانو کی اولینه شهیده حضرت بی بی سمیه وه

مسجد قبا چی ټولو کی اولین جومات اسلام کی ده دا جومات حضرت عمار رض د نبی کریم ص د ارام ناستی او عبادت لپاره جوړکړی دی. یوه ورځ حضرت عماد رض چانه اوبه وغوښتی هغه ورته یوه پیاله شیدی راوړی کله ئی چی دا وڅکلی نو وئی ویل چی ماته نبی کریم ص ویلی چی تولو نه اخرکی به ته یوه پیاله شیدی څکی دی نه پس شهید شو دغه وخت عماد رض ۹۴ کلن وه (رواه اسد الغایه)

په همدی شکل ټولو صحابه کرامو د دین لپاره تر خپلی وسی پوری خپلی هلی ځلی خواری او قربانی کانی ورکړی دی د خپل اولاد یتیم کیدل د ښځوکونډیدل د مور بوریدل مال او دولت ئی ټول د الله ﷻ په لاره کی وقف کړی دی. چی دین د اسلام ئي عربو نه تر هندوستان ، ایران ، پاکستان ، بلخ ، او بخارا پوری ورساوه چی ټولو صحابه کرامو د وطن لری په لارو دښتو او نورو مملکتو کی ځانونه شهیدان او خاورو ته سپارل شوی تنها په افغانستان کی په لس کونو صحابه کرام دفن او خاورو ته سپارل شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دريم باب

### په دين د اسلام کی د الله ﷻ خو صفتونه

۱ په دين د اسلام کی اولين صفت کلمه شريفه د (لااله الاالله) ده چی اقرار د بندکی ده. او د الله ﷻ د خزانو نه يوه بهترينه اعلی او دکامل صفت يوه غټه تحفه ده چی الله تعالی د مسلمانانو لپاره نصيب کرځولی ده کله چی بنده کلمه شريفه د (لااله الاالله) وويلی اقرار د بندکی ئي وکړو نو د الله ﷻ حکمونه ټول ورباندی فرض شول. نور په کلمه ويونکی باندی دا لازم او ضروری ده چی دکلمی شريفی ، لفظ، معنی ، مقصد او فضيلتونه پوره وپيژنی او ياد ئی کړی لکه:-

الف/ لفظ دکلمی شريفی په عربی ژبه ده مسلمان چی په هره ژبه خبری کوی نو کلمه شريفه په عربی ژبه وائی لکه (لااله الاالله).

ب/ معنی دکلمی شريفی (لااله الاالله) نشته لايق د عبادت او بندکی سوا د الله ﷻ نه او محمد ص د الله ﷻ رسول او پيغمبر دی.

ج/ دکلمی شريفی مقصد په کلمه شريفه کی څلور صحی يقينه دی چی هغه صحی يقين سره زړه ته داخل کړو.

۱ پدی پوره يقين ولرو چی الله ﷻ وغواړی بی له مخلوقه او بی د اسبابه هر څه وغواړی کولای شی.

۲ پدی يقين ولرو چی مخلوق بی له ارادی د الله ﷻ نه سره له مخلوق او اسباب نه هيڅ کولای نشی.

۳ او پدی يقين ولرو چی د نبی کريم ص په طريقو کی د دنيا او اخرت کاميابی ده.

۴ او په دی يقين ولرو چی د نبی کريم ص طريقو سره مخالفت د دنيا او اخرت ناکامی ده.

**دکلمی شريفی فضيلتونه:** دا چی دکلمی شريفی فضيلتونه ډير دی يو څو د نمونی په شکل ليکو

حديث شريف : د نبی کريم ص ارشاد مبارک دی فرمائی چی يوه ورځ حضرت موسیؑ الله ﷻ ته عرض وکړو چی يا الله ﷻ ما ته يوه داسی وظيفه راکړه چی زه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ئی وایم او تا پری یادوم الله ﷻ ورته وفرمائیل چی (لااله الاالله) وایه موسی ع ورته وویل چی یا الله ﷻ ماته یوه اوچته او ښه وظیفه راکړه چی زه ئی وایم او ستا محبوبیت پری حاصل کړم الله ﷻ ورته وویل چی (لااله الاالله) وایه حتی موسی ع دری واری الله ﷻ ته عرض وکړو نو الله ﷻ ورته وفرمایل چی ای موسی ع پدی پوه شه که چیری اوه طبقی اسمانونه او اوه طبقی ځمکی سره د ټولو کائناتو په یوه پله د ترازوکی واچوی او په بله پله د ترازوکی کلمه شریفه کیږدی نو د کلمی شریفی وزن به پری ډیر وی (رواه نسائی مشکوة او کنز).

فایده: د الله ﷻ په نزد زیات وزن په اخلاص کی ده نو په یوه کار یا عمل کی چی څومره اخلاص وی په هغه اندازه ئی وزن دروند وی نو د اخلاص پیداکولو لپاره فایده من دکلمی شریفی د ویلو ډیروالی دی د ځکه چی د دی نوم جلاالقلوب ( د زړونو صفائی ) ده. دا ځکه چی صوفیان حضرات دکلمی شریفی ذکرکول په سوونو واری د ویلو روزانه معمول تجویز کوی.

ملا علی قاری رح فرمائی چی یوه مرید خپل شیخ ته عرض وکړو چی زه ذکرکوم لیکن زره می غافله دی شیخ ورته وویل چی ذکر خپل برابرکوه او پدی شکر باسه چی الله تعالی ماته ټول بدن کی یو اندام ژبه راکړی چی زه خپل ذکر او د الله ﷻ یادونه پری کوم بیا د زړه په توجو الله ﷻ ته دعا او زاری کوم. دا ځکه چی الله ﷻ خپل کلام کی فرمائلی چی که تاسی په یوه شی شکر وکړی نو زه زیاتوالی پکښی راولم

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمائلی دی چی په ځنکدن کی د چا کلمه شریفه نصیب شی ځنکندن به ئی اسان شی مخ به ئی روښان شی د خوشحالی منزل به ئی الله ﷻ ورته نصیب کړی

فایده :کله چی موسی ع وفات شو الله ﷻ ورته وفرمایل چی ای موسی ع تا د ځنکندن حال څنکه مشاهده کړو موسی ع ورته وویل تا ته هر څه معلو م دی خو زه به دومره عرض وکړم چی ما ته د ځنکندن حالت دومره معلوم شو لکه څنکه چی څوک یو ژوندی مرغه په اور اړه وی او را اړوی ئی او د مرغه نه نفس وزی او نه الوتلی شی او نه په بله طریقه ځان ته نجات ورکولای شی

حدیث شریف : نبی کریم ص مهربانی کړی ده چی د هر عمل الله ﷻ ته د رسیدو لپاره ترمنځ پرده شته لیکن دکلمی شریفی د (لااله الاالله) او الله ﷻ ترمنځ همداسی د پلار دعا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوی لپاره په همدی شکل د صالح ځوی دعا د پلار لپاره او د الله ﷻ ترمنځ پرده نشته راساً قبلیږی (رواه ترمذی، جامع الصغیر)

حدیث شریف : یوه ورځ نبی کریم ص صحابه کرامو ته وویل چی خپل ایمان تجدید کړی چی صحابه کرامو عرض وکړو چی ای د الله ﷻ رسوله ایمان څنګه تجدید کړو نبی کریم ورته وویل چی کلمه شریفه ډیره ډیره وایی

فایده: په یوه روایت کی راغلی چی ایمان داسی زړیږی لکه څنګه چی جامه زړیږی نو دی زړیدو معنی دا ده چی په ګناهونو قوت او تازه کی د منځه ځی ( ترمذی او بخاری)

بل حدیث کی بیا راځی چی انسان کله ګناه وکړی نو یو تور داغ ئی پر زړه پیداشی بیا که هغه انسان توبه وباسی بیا هغه تور داغ پاکیږی او که توبه ونه باسی ګناه بیا بیا کوی نو په هره ګناه زړه باندی یو یو تور داغ زیاتیږی بل آخره زړه داسی تور شی او زنګ ونیسی لکه څنګه چی وسپنه زنګ ونیسی نو بیا د هغه انسان پر زړه خبره هیڅ تاثیر نه کوی

یوځای نبی کریم ص مهربانی کړی ده چی دکم عقلو سره مقابله زنانه وو سره ناسته پاسته ، دګناهونو ډیروالی ، او متکبر مالدار سره د سړی زړه بربادیږی

حدیث شریف : د نبی کریم ص ارشاد مبارک دی چی حضرت عیسی ع فرمایلی چی د حضرت محمد ص د امت عملونه د حشر په تله کی ټولو امتونه زیات درانه وی د اځکه چی د دوی ژبی داسی کلمی شریفی سره بلدی دی چی دا کلمه پخوانی امتونو کی نه وه چی هغه کلمه شریفه (لااله الاالله ) ده (رواه ترغیب کذا فی الدر)

فایده : په جامع الاصول کی لیکلی چی د الله ﷻ ذکر د ورځی کم دکمه باید ۵۰۰ کرته وویل شی او شا ولی الله د خپل پلار د قول لیکلی چی ۲۰۰ واری باید روزانه کلمه د لااله الاالله وویل شی

همدارنګه شیخ ابوزید قرطبی رح فرمائی چی څوک اویازره کرته کلمه شریفه لااله الاالله وائي هغه شخص د دوزخ اور نه خلاص دی دا شیخ قرطبی رح پدی خاطر لیکلی چی ده تجربه کړی ده چی ده اویا زره کرته د یوی ښځي په حق کی ویلی هغی ښځی ته الله ﷻ د دوزخ نه نجات ورکړی ده.

حدیث شریف : د نبی کریم ص ارشاد مبارک دی چی ټولو ذکرونو کی افضل ذکر لااله الاالله ده او په ټولو دعاګانو کی افضله دعا استغفار دی څوک چی استغفار ډیر ډیر وائی الله ﷻ ئی ګناهونه ورته معاف کوی داځکه چی شیطان وائي ما خلک په ګناهونو هلاک

(c) ketabton.com: The Digital Library



او غرق کړی او هغوی زه په لااله الاالله او استغفار هلاک او غرق کړم (رواه کنزفی الدر جامع الصغیر)

فایده: د صغیره کناهونو کفاره په نیکو اعمالو او ذکر سره ده او د کبیره کناهونو کفاره په استغفار سره ده لیکن شرط داده د استغفار وروسته کناه تکرار نشی.

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمائیلی چی د کلیمی شریفی اقرار د جنت کلیانی دی او د جنت د هری دروازی کلی کلمه شریفه د لااله الاالله یوه کلی ده او دوهمه کلی ئی محمد رسول الله اقرار کول دی.

حدیث شریف : د نبی کریم ص ارشاد مبارک دی فرمائی چی څوک تل کلمه شریفه د لااله الاالله وائی او ژبه ئی پری لمده وی هغه شخص د ځنکدن قبر او د حشر عذاب نه ویره نلری کله چی د حشر په ورځ د قبر نه راپاځی د خپلو سرونه به خاوری څنډی او وائي به چی ټول تعریفونه هغه الله سره دی چی مونږه ئی تل لپاره د تکلیف او غم نه لری ساتلی وو (جامع الصغیر).

حدیث شریف : د نبی کریم ص ارشاد مبارک دی چی څوک د ورځي ۱۰۰ واری کلمه شریفه لااله الاالله ووائي د قیامت په ورځ به هغه شخص د الله جلاله په حضور داسی روښانه مخ لکه د ۱۴ سپوږمی نورانی راپاځاوی (رواه ابن ماجه و طبرانی).

حدیث شریف : د معاذ بن جبل رض نه روایت دی چی نبی کریم ص فرمائلی چی څوک د کلمی شریفی د اقرار حالت کی مړ شی نو کلمه شریفه د لااله الاالله محمد رسول الله په پاخه زړه شهادت ورکوی ضرور به جنت کی داخل شی الله جلاله هغه ته ضرور ښښنه کوی (رواه ترمذی، نسائی، طبرانی).

## د الله جلاله صفتونو کی دوهم صفت لمونځ دی

لمونځ د الله جلاله د حکمونو نه اولین حکم دی او خپله لمونځ چی دی اظهار د بندکی ده چی په هر مومن مسلمان چی عاقل او بالغ وی مریی وی یا ازاد نو پنځه وخته لمونځ شواروزکی ورباندی فرض عین دی منکر ئی کافر دی او څوک ئی چی بی د عذره ترک کړی هغه لپاره سخت وعیدونه (عذابونه) الله جلاله مقررر کړی دی . بعضی وائی چی څوک بی د عذره لمونځ ترک کړی هغه کافر ده او بیا ئی فرمایلی چی څوک لمونځ بی د عذره ترک کړی باید قتل کړای شی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت امام ابوحنیفه رح فرمائی چی ځوک بی د عذره خپل لمونځ ترک کړی هغه دی زندان ته واچول شی چی یا توبه وباسی یا په زندان کی مړ شی نو دا به ئی دنیوی جزا شی اوخروی جزا ئی دی پوه شه او د الله ج محاکمه.

د لمانځه په باره کی لنډ لنډ حدیثونه:-

۱ لمونځ د دین ستنه ده ۲ لمونځ د مومن معراج ده ۳ لمونځ د جنت کلی ده ۴ لمونځ بهترین جهاد دی ۵ لمونځ د الله ﷻ د خزانو د غوښتنی بهترینه وسیله ده ۶ لمونځ د زړه لپاره نور دی ۷ لمونځ د نبی کریم ص د سترکو یخوالی دی ۸ لمونځ د شیطان مخ توروی او رانده کوی ئی.

حدیث شریف : نبی کریم ص د الله ﷻ ارشاد نقل کوی چی الله ﷻ فرمائی چی ما ستا په امت پنځه وخته لمونځ فرض کړی ده او ځان سره می وعده کړی ده چی ځوک دا پنځه وخته لمونځونو اهتمام وکړی نو د هغه ضمه واری پر ما ده زه هغه په خپله ذمه واری جنت کی داخلوم او ځوک چی د پنځه وخته لمانځه اهتمام نکوی د هغوی ضمه واری پر ما نشته (رواه ابو داود، ابن ماجه ، بخاری او منشور).

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمایلی چی ځوک خپل اودس په ښه شان وکړی جومات خوا ته جمعی لپاره روان شی په هر قدم الله ﷻ ورته عملنامه کی یوه نیکی لیکی او یوه بدی ئی عملنامه نه لری کوی او یوه درجه ورته جنت کی زیانیږی.

بل حدیث شریف کی فرمایلی چی ځوک اودس وکړی جومات ته د جمعی لپاره روانیږی د هغه لاس کی د ایمان جنډه وی او ځوک چی بازار ته روانیږی د هغه لاس کی د شیطان جنډه وی.

بل حدیث کی راغلی چی د جمعی د لمانځه فضیلت ۲۷ درجی د کور بازار او پولی پټی د لمانه نه فضیلت لری.

بل حدیث شریف دی چی ځوک اودس وکړی جومات خوا ته د جمعی لپاره روان شی داسی مثال لری لکه څنکه چی احرام تړلی وی د حج عمری لپاره روان وی.

د حدیث شریف مفهوم دی چی نبی کریم ص یوه ورځ صحابه کرامو ته وفرمایل چی ځما زړه غواړی چی ځوانان راولم خش او خاشاک راټول کړم د هغه چا کور ته اور واچوم چی دوی د جمعی لمانځه ته نه راځي (رواه ابومسلم ، ابو داود).

حدیث شریف : د نبی کریم ص ارشاد مبارک دی فرمایی چی د قیامت په ورځ به ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



اعمالوکی اول د لمانځه پوښتنه کیږی که د لمانځه امتحان کی کامیاب راووت نور په ټولو اعمالوکی به هغه شخص کامیاب وی اوکه په لمانځه کی ناکام شو نور به په تولو اعمالو کی هغه ناکام وی.

نتیجه کی به ورته اللهﷻ وفرمائی چی تاسی وکوری چی نفل عملنامه کی لری اوکه نه ؟کی ئي ولری په فرضو ئی ورته تبادله کوی همدارنکه د روژی زکات او نورو اعمالو حساب کتاب ورباندی شروع کوی (رواه طبرانی ، حدیث المغیره ابن مسلم).

## د اللهﷻ صفتونو کی بل صفت علم دی

دا ځکه چی علم معرفت د بندکی ده او مقصد علم نه داده چی الله تعالی خپله عالم دی غواړی چی خپل احکام او د نبی کریم ص مبارکی طریقی په خپلو بندکانو باندی د علم پر رڼا کی عملی کړی چی بنده وکولای شی د حلالو او حرامو ، د حق او باطل ، د عزت او ذلت ، د خیر او شر ، د ښو او بدو ، د ثواب او عذاب ، د نفعی او نقص ، د تور او سپین فرق وکولای شی نو ځکه اللهﷻ په بنده کانو باندی علم فرض کړو او مسلمانان وکولای شی چی د الله تعالی حکمونه د نبی ص په طریقی ۲۴ ساعته خپل ژوند او د نورو مسلمانانو ژوند کی راولی.

په احادیثوکی راغلی چی علم رڼا ده ناپوهی تاریکی ده ، او د علم زده کړه ئی په عبادت بهتره کڼلی ده. د عابد عبادت نه د عالم خوب فضیلت لری.

په بل حدیث کی راغلی نبی کریم ص فرمایلی چی د عالم فضیلت په عابد باندی داسی دی لکه ځما فضیلت پر تاسو باندی (رواه فضائل اعمال).

حدیث شریف : د نبی کریم ص ارشاد مبارک دی فرمائی چی الله تعالی وغواړی چی چاته د دنیا او اخرت خوبائی او ښیکڼه ورنصیب کړی اللهﷻ د علم لاره ورته غوره کړی.

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمائی چی څوک د علم په طلب روان شی فرشتی ورته وزرونه غوړوی .

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمائیلی چی د قیامت په ورځ به دری ډلی سپارش کونکی وی نبیان، علما ، او شهیدان دی.

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمایلی چی د قیامت په ورځ به بعضی کسان به دوزخ کی د خپل بد خوسا بوی نه نور دوزخیان په عذاب کړی نور دوزخیان به ورته ووائی چی

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسو دنیا کی څه عمل درلوده چی تاسو اوس مونږه په خپلو خوسا بویونو په عذاب کړو دوی به ورته ووائی چی مونږه عالمان وو او د خپل علم نه مو فایده اوچتوله (رواه ترغیب).

## د اللهﷻ صفتوکی یو صفت هم ذکر دی

د ذکر پواسطه مومن د اللهﷻ محبت پیداکوی او د اللهﷻ لویی او ویره د مومن زړه ته کوزوی د شیطان ویره او د مخلوق ویره زړه نه باسی او ذکر زړه ته قوت ورکوی.

په حدیث شریف کی راغلی چی د جنت ۸ دروازی دی یوه دروازه ئی خاص د زاکرینو لپاره ده ذاکر چی وغواړی دکومی دروازی داخلیږی داخلیدای شي.

بل حدیث شریف کی راغلی چی ذکرکوونکی په شان د ژوندیو او نه ذکرکوونکی په مثال د مړو دی (رواه مسلم او مشکوة) .

حدیث شریف : رسول الله ص فرمائی چی د قیامت په ورځ به یو اواز وشی چی عقلمندکسان چیری دی ارشاد به وشی چی عقلمندو نه مراد څه شی دی اللهﷻ وفرمائی عقلمندو نه مراد هغه کسان دی چی په دنیا کی په ولاړه ناسته او ملاسته کی دالله ذکرکاوه او د اللهﷻ په کائناتوکی سوچونه کول بیا به دوی نه ټولی جوړ شی جنډه به ورکړه شی ورته وبه ویل شی تاسو به تل لپاره جنت کی زندکی اختیارکړی(رواه فی الترغیب) .

حضرت ابن عباس رض فرمائی چی د یوه ساعت سوچ او غور د اللهﷻ کائناتوکی د یوی شپی عبادت نه بهتر ده حضرت ابوهریره رض بیا فرمائی چی د یوه ساعت سوچ او غورکول د اللهﷻ په کائناتوکی دا بهتره دی د ۶۰ کلونو عبادت نه (رواه فضائل اعمال) .

د حدیث شریف مفهوم دی نبی کریم ص فرمایلی چی څوک د اللهﷻ د ویری نه وژاړی نو هغه شخص تر هغه وخته دوزخ ته تلای نشی چی تر څو پی تیوکی بیرته واپس نشی یعنی دا امکان نلری چی شیدی بیرته په تیوکی بدن ته داخلی شي.

بل حدیث شریف کی راځي چی په دو سترکو د دوزخ اور حرام دی یو هغه سترکی چی د اللهﷻ د ویری نه ژاړی او بل هغه سترکی چی په جهادکی په خپلو مسلمانانو ورونو پیره کړی وی (رواه فضائل اعمال) .

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمائی چی څوک په تنهائی صورت ذکرکوی داسی یو مثال لری لکه څنکه چی دی په تنها ئی صورت کفارو سره د جهاد مقابله کی وی.

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمائی چی جنت کی به د جنت تلو وخت کی مومن به د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیخ شی ارمان نه‌کوی اوکه ئی‌کوی نو د هغه ساعت ارمان به‌کوی چی هغه ساعت د ده بی ذکره تیر شوی وی (رواه مسلم شریف) .

حضرت سعد رض فرمائي چی بهترین ذکر ذکر مخفی ذکر دی او بهترین رزق هغه ده کافی‌کیدو درجه ولری (رواه فضائل اعمال).

حدیث شریف : نبی‌کریم ص فرمائلی چی تاسو د جنت د باغچو تیریږی نو پکی وخری صحابه‌کرامو عرض وکړو چی ای د الله ﷻ رسول د جنت د باغچو نه مراد څه دی نبی‌کریم ص ورته وویل چی هغه عبارت دی د ذکر دمجلسو نه (رواه خواجه احمد ترمذی).

حدیث شریف : د نبی‌کریم ص مبارک ارشاد دی فرمائی چی څوک د شپی د عبادت نه عاجز وی او د بخل پواسطه صدقه نشی ورکولای او د بزدلی پواسطه جهاد نشی‌کولای نو هغه ته لازم دی چی د الله ﷻ په ذکر خپل ځان مصروف وساتی (رواه ترمذی او بخاری).

بل حدیث شریف‌کی راغلی چی د الله ﷻ ذکر د زړونو لپاره شفا ده او د تکبر اوکینی لپاره او داسی نورو مرضو لپاره علاج ده چی د زړه نه ئی لری‌کوی (فضائل اعمال).

بل حدیث شریف‌کی بیا راغلی چی‌کومو کورونوکی چی د الله ﷻ ذکرکیږی هغه کورونه اسمان والو ته داسی ښکاری لکه ځنکه چی مځکی والاو ته د اسمان ستوری ځلیږی.

په بل حدیث‌کی بیا فرمائی چی د بنده لپاره د هر عمل نه زیات د قبر عذاب بچ‌کولو لپاره ذکر دی. (رواه طبرانی و مشکوة) .

حدیث شریف : نبی‌کریم ص فرمائي چی‌کوم‌کورکی څوک د الله ﷻ د ذکر لپاره راجمعه شی او مقصد ئی هغه‌کورکی د الله ﷻ ذکر وی عین ذکرکولو وخت‌کی یوه فرشته اعلان‌کوی چی تاسو وبخلای شوی او ستاسو بدی په نیکو بدلی شوی (رواه طبرانی او مسلم) .

حدیث شریف نبی‌کریم ص فرمائی چی چا سره ډیری پیسی وی او هغه مسکینانو ته صدقه ورکوی او بل شخص یوه‌کوشه‌کی ناست وی د الله ﷻ ذکرکوی نو د ذکرکوونکی صدقه د صدقه‌کوونکی نه بهتره او فضیلت زیات لری (رواه خواجه طبرانی‌کذر فی الدر) .

حضرت سلیمان ع یوه ورځ په تخت ناست او دیوانو ئی تخت په هوا اوړ شاخوا

(c) ketabton.com: The Digital Library



فوجونـه ورسـره روان وه مرغـانو ئـی پـر سـر بانـدی سـيوری جـوړکـړی وه روان وو د لاری پرځنک يوه کوشه کی يو عابد ناست وه وئی ويـل چـی سـبحان الله سـليمان ع تـه اللهﷻ څومره دبدبه ورکړی سليمان ع دا خبره د عابـد چـی اوری امـرکـوی ديـوان تخت کـوزوی سليمان ع عابد ته ورځي ورته وائـي چـی ای عابـده پـه دی پـوه شـه چـی ځمـا دا تختفـوج پادشاهی ختميدونکی ده زه ورنه هيڅ ثمره اخيستلای نشم ليکن ستاسو ديو وار سبحان اللـه ويل به جنت کی يوه داسی ونه درته سمسورکړی چی تل به هلته ته ارام تـری لانـدی وکـړی نو ځکه ځما دا دبدبه تخت عزت اوکمال څـو ورځـو لپـاره مـوقتی دی او سـتا سـبحان اللـه تاته ابدی سرمايه د اخرت ده.

حديث شريف : حضرت ابوهريره رض فرمائی چی ما د نبی کريم ص نـه وپوښـتل چـی ستا د شفاعت نه د ټولو نه زيات فايده اوچتوونکی د قيامت په ورځ څوک وی او هغـه راتـه وفرمايل چی ځما د شفاعت نه زيات فايده اوچتونکی به هغه څوک وی چی هغه تل (لااله الاالله) وائی او دا کلمه شريفه ئی خپه وظيفه کرځولی وی (رواه بخاری شريف) .

حديث شريف : د نبی کريم ص مبارک ارشاد دی فرمـائی چـی هـر څـوک د هـر لمانځـه وروسته ۳۳ واری سبحان الله ۳۳ واری الحمدالله او ۳۴ واری الله اکبر ووائـی وروپسـی يـو کرت څلورمه کلمه (لااله الاالله وحده لا شريک له له الملک وله الحمـد يحـی ويميـت وهـو حی لايموت ابد ابد ذوالجلال والاکرم بيدک الخير وهو علی کل شی قدير) ووايی.

د هغه بنده کـه د سـمندر پـه شـان کناهونـه وی نـو اللـهﷻ ئـی ورتـه معـاف کـوی (رواه مشکوة او مسلم) .

قصه يوه ورځ يوه بوډي نبی کريم ص ته راغله عرض ئی وکړو چی ای د اللهﷻ رسـول ص ماته يوه اسانه وظيفه راوښيه چی ثوابونه ئی ډير وی نبی کريم ص ورتـه وفرمايـل چـی د ورځی ۱۰۰ کرته سبحان الله وايه دا دومره ثواب لری لکه چی تا ۱۰۰ غلامان ازادکـړی وی او ۱۰۰ کرتـه الحمداللـه وايـه دا دومـره ثـواب لـری لکـه تـا چـی ۱۰۰ اسـونه مجهـز مجاهـدينو تـه بخشش کړی وی او ۱۰۰ کرته الله اکبر وايه دا دومره ثواب لری کله تـا چـی ۱۰۰ اوښـان ذبحـه کړی وی او د اللهﷻ لپاره د صدقه کړی وی (رواه فضائل اعمال) .

حديث شريف : يوه ورځ نبی کريم ص صحابه کرامو مخکی وفرمايل چـی واه واه دا پنځـه شيان د عملنامی په تله کی څومره ډير وزن لری لکه (لااله الااللـه) (اللـه اکبر) (الحمداللـه) او (سبحان الله) او پنځم دا چی کوم وخـت د مـور او پـلار بچـی مړ شـی او دوی قـالو انـال اللـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



واناالیه راجعون ووایی. او پوره صبر اختیارکړی (رواه نسانی او جامع الصغیر).

**ذکر** پر څلور قسم دی لکه ۱ مسنونه دری تسبیحات ۲ تلاوت د قرانکریم ۳ مسنونه دعاکانی ۴ د شیخ او استاد وظیفه.

فایده هر مومن مسلمان باید ضروری د ورځی اقلا یوه سپاره یا نیمه یا ربعه د کلام ربی نه ذکرکری چی دا یو بهترین ذکر دی او د قیامت په ورځ بهترین شفاعت کوونکی دی.

۲ هر مومن باید د ورځی ۱۰۰ واری کلمه شریفه (لااله الاالله) ذکر وکړی چی د افضل ذکر دی ویونکی به الله ﷻ قیامت په ورځ د ۱۴ سپوږمی غوندی نورانی د قبر نه پاڅوی.

۳ څوک چی د ورځی سل سل واری سهار او سل سل واری بیګاه استغفار درود شریف او دریمه کلمه د تمجید ووائی نو دا شخص به الله ﷻ د حشر په ورځ ذاکرینو کی پورته کوی.

۴ کوم شخص چی د ورځي ۱۰۰ کرته سبحان الله وبحمدالله او سبحان الله العظیم ووائی الله ﷻ ورته عملنامه کی ورته د احد د غره د وزن په اندازه دروند والی ورکوی (رواه فضائل اعمال) .

۵ د ایات شریف مفهوم دی فرمائی چی د یوه مسلمان لپاره د یوی نیکی بدله لس چنده ثواب او اجر ده اوکوم شخص چی بد او ناروا کارکوی هغه لپاره یو په یو بدله ورکول کیږی (الایه) .

## د الله ﷻ صفتو کی یو صفت هم اکرام مسلم ده

اکرام مسلم دا عزت د بندکی ده.

مقصد د اکرام مسلم: مطابق د ارشاد الهی دا چی مسلمانان ټول سره ورونه دی خپل منځ کی باید ورورې مینه او محبت پیداکړی.

او خپل منځی اختلافات کینه او بدبختی کانی لری کړی خپل منځ کی یو د بل سره په مړی او ژوندی کی رسم رواج او سیالداریو کی شراکت وکړی او خپل منځ کی د علما کرامو قدر د مشرانو احترام او کشرانو سره شفقت وکړی (رواه ترغیب عن احمد) .

حدیث شریف : نبی کریم ص مهربانی کړی ده چی څوک د عالم قدر ونه کړی د مشرانو احترام ونه کړی او د کشرانو سره شفقت ونکړی هغه ځما امتی نه دی (رواه ترغیب عن احمد) .

په حدیث شریف کی راغلی چی جنت ته داخلیدای نشی چی ده نه کاونډیان د زجر او

(c) ketabton.com: The Digital Library



مصیبتونه په امن نه وی.

حضرت عمر رض او بی بی عایشه رض دواړه فرمائی چی نبی کریم ص بـه تـل فرمائـل چی ماته حضرت جبرئیل ع د کاونډی د حق تل تاکیدونه کول ما داسـی فکـر کـاوه چـی د میراث وارث ئی جوړ نکړی (مشکوة).

بل حدیث کی راغلی چی څوک په الله تعالی ایمان لری نو هغه د خپل میلمه عزت کـوی تکلیف به نه ورته رسوی تل دی د صله رحمی کار اخلی (رواه کنز فی المشکوة).

حدیث شریف : یوه ورځ نبی کریم ص وفرمایل چـی څمـا د پـه اللـهﷻ قسـم وی چـی هغه مومن ندی څما د په اللهﷻ قسم وی چی مومن ندی دری واری تکـرار کـړو چـا ورتـه وویل چی ای د اللهﷻ رسوله ص کـوم شـخص مـومن نـدی ورتـه وئـی فرمائـیل چـی هغـه شخص چی کاونډیان ورنه په امن نه وی (رواه مشکوة) .

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمایلی چی د میلمـه اکـرام او عـزت وکـړی چـی د میلمـه حق یوه شپه او یـوه ورځ ده د میلمسـتیا ئـی دری شـپې او دری ورځـې دی میلمـه لپـاره لازم دی زیات لدی نه نور هغه کورکی قیام ونه کړی کور والا به نه په عذاب کوی د میلمه سره د کور تر دروازی پوری تک او پذیرائی سنت طریقه ده.

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمایلی چی چا د یوه مسلمان پـرده وغوښـتله نـو اللـهﷻ به په دنیا او اخرت کی پرده پرده واچوی او څوک چی د خپل مسـلمان ورور پـرده اوچتـوی او بی عزته کوی ئی نو د ده پرده به اللهﷻ اوچته کړی حتی کورکی به ناست وی رسـوا بـه ئی کړی.

حدیث شریف : نبی کریم  ص فرمایلي چی څوک د یوه مسلمان ورور د مریضی پوښـتنی ته سهارکی لاړشی تر بیګاه پوری ۷۰ زره فرشتي ورته د مغفرت دعـاوی کـوی اوکـه بیګـا د مریضی پوښتنی ته لاړشی تر سحره پوری دعا ورته کوی (رواه فضائل اعمال) .

بل حدیث شریف کی راغلی چی څوک د یوه مسلمان ورور حاجت پوره کولو لپـاره قـدم اخلی نو په هر قدم باندی اللهﷻ ورته ۷۳ نیکی عملنامه کی ورته لیکی چی ۱ نیکی ئـی د دنیا او اخرت سرخ رویی ده او ۷۲ نیکی ورتـه جنـت کـی درجـی پورتـه کـوی (رواه فضـائل اعمال)

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمایلی چی څوک د یوه یتیم پر سر د محبت لاس راکـش کړی نو څومره ویښتان ئی چی لاس لاندی راغلی وی د هر ویښـته پـه پیمانـه اللـهﷻ ورتـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه نیکی عملنامه کی ورته لیکی (رواه دورمنشور) .
د ایات شریف مفهوم دی الله ﷻ فرمایلی چی څوک د یتیم مال په ظلم او جبر سره وخوری نو هغوی خپلی خیټی د اور ډیپو کړه د قیامت په ورځ به دخولی اورونه بادیږی.
په حدیث شریف : کی راغلی چی پس یا وروسته د لمانځه نه بهترین عمل د مسلمان ورور زړه خوشحالول دی.
دل بدست آر که حج اکبر است – زهزاران کعبه یکدل بهتر است.
حدیث شریف : فرمائی تر هغه وخته څوک د جنت مستحق کیدای نشی چی ترڅو هغه پوره مومن جوړنشی او مومن جوړیدای نشی ترڅو چی خپل منځ کی محبت پیدانکری او محبت پیداکولای نشی ترڅو چی خپل منځ کی د سلام اچول رواج نکړی.
د ټولو امامانو رح اتفاق دی چی صله رحمی واجب طریقه ده او قطعه د صله رحمی حرامه ده (رواه فضائل صدقات).

## د الله ﷻ صفتونو نه یو صفت هم صحی نیت دی

چی خپله صحی نیت قبولیت د بندکی ده.
مقصد د صحی نیبت دا ده چی کله یو مسلمان هر نیک عمل اجرا کوی باید مقصد ئی خاص د الله ﷻ رضا وی او په خپل عمل کی ریا شهرت او خودنمائی ونکړی لکه چی
حدیث شریف : نبی کریم ص فرمایلی چی څوک په ریا کاری لمونځ کوی په ریاکاری روژه نیسی او په ریاکاری صدقه ورکوی هغه مشرک دی (رواه مشکوة عن احمد) .
حدیث شریف : نبی ع فرمایلی چی د قیامت په ورځ به اواز وشی چاچی دنیا کی په خپل عمل کی د الله ﷻ سره بغیر شریک نیولی وی اوس د ورشی خپله بدله هغه نه وغواړی.
حدیث شریف : نبی کریم ص فرمائی چی د الله ﷻ ارشاد دی فرمائی چی زه ستاسو شکلونو او مالونو ته نه کورم بلکه ستاسو زړونو او عملونو ته کورم (مسلم او مشکوة) .
حدیث شریف : نبی کریم ص فرمائی چی څوک یوه خرما یا د یوی خرما په اندازه یو شی د الله ﷻ د رضا په خاطر بی ریا او مقصده چاته ورکړی الله ﷻ عملنامه د احد د غره په پیمانه وزن ورته علاوه کوی او که څوک د احد د غره د وزن په پیمانه صدقه وکړی او په هغه کی ریا یا څه مقصد وی الله ﷻ ته هیڅ منظور نه ده موجب د جزا ئی کرځي (رواه

(c) ketabton.com: The Digital Library



فضائل اعمال) .

حدیث شریف : نبی‌کریم ص فرمایلی چی دا دری ډلی اشخاص جنت ته داخلیدای نشی.

۱ هغه اشخاص چی چاته څه ورکړی بیا ئی احسان لاندی راولی او ورته یادوی ئی.

۲ هغه اشخاص چی د مور او پلار نافرمانی کوی.

۳ هغه اشخاص چی شراب استعمالوی او څښی ئی.

په یوه حدیث‌کی راغلی چی صدقه د بدی او ناکاروالی ۷۰ دروازی بندوی (رواه فضائل صدقات) .

## د الله ﷻ صفتو نه یو صفت هم دعوت الاالله ده

چی خپله دعوت اشاعت د بندکی ده.

مقصد د دعوت ال الله دا ده چی دین دنیا کی عام شی او بی دینی کی ختمه شی او په بی طلبو کی د دین طلب پیداشی . مسلمانان خپله ښه کارونه وکړی نور خلک بدو نه منعه کړی.

د آیات شریف مفهوم دی الله ﷻ فرمائی چی تاسو بهترین امت یاست او د خلکو فایدی لپاره کمارل شوی یاست نو تاسو خلکو ته د نیکوکارو حکم کوی او د بدوکارو نه ئی منعه کوی او په الله ﷻ ایمان پوره ولری (ب ۴ – ۳ رکوع) .

د ایات شریف مفهوم دی نبی‌کریم ص د الله ﷻ ارشاد بیانوی فرمائی کوم شخص چی امر باالمعروف نهیه عن المنکر کوی هغه ځما د نبی او او ځما د کلام خلیفه ده.

حدیث شریف : حضرت بی بی عائشی رض نه روایت دی فرمائی چی یوه ورځ نبی کریم ص کور ته تشریف راوړ مائی پر مخ مبارک یو خاص اثر ولیده محسوسه می کړه چی څه خبره خو شته مبارک اودس وکړو چا سره ئی خبری ونه کړی جومات ته ئی تشریف یووړ زه د کور دیوال سره ودریدم چی نبی‌کریم ص څه ارشاد فرمائی نبی‌کریم ص ممبر ته وخوت حمد او ثنا ئی وویل وروسته ئی وفرمایل چی ای خلکو د الله ﷻ ارشاد دی فرمائی چی تاسو امربالمعروف او نهیه عن المنکر کوی هسی نه چی یوه ورځ به راشی چی تاسو به دعا غواړی دعا به مو نه قبلیږی سوال به‌کوی نو سوال به مو نه پوره کیږی او د دښمنانو خلاف به ما نه مدد به نه درسره‌کوم د ممبر نه‌کوز شو (رواه ابن ماجه) .

(c) ketabton.com: The Digital Library



حدیث شریف : نبی کریم ص فرمائی چی تاسو کی څوک ناروا کارونه وینی نو تاسو هغه اول د لاس پواسطه منعه کړی اوکه طاقت نلری نو هغه د خولی په نصیحت منعه کړی اوکه د خولی طاقت نلری د هغه سره په زړه کی لری والی اختیارکړی (رواه ترمذی ، مسلم ، ابن ماجه ) .

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمائی چی کوم قوم کی څوک دکناه عمل کوی او د هغه قوم مشران د هغوی د اصلاح لپاره قدرت ولری او دوی ئی اصلاح کی غفلت کوی او هغوی نه منعه کوی نو الله ﷻ هغه قوم ته مخکی د مرک نه عذاب راولی او پری مسلط کوی ئی (رواه ابو داود) .

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمایلی چی د دری کسانو عزت د الله ﷻ عزت دی ۱ د بوډا مسلمان عزت کول ۲ د عالم دین او د قرانکریم د حافظ عزت کول ۳ د انصاف دار حاکم عزت کول (رواه ترغیب طبرانی) .

د بل حدیث شریف مفهوم دی چی نبی کریم فرمایلی چی تر او تازه دوی هغه څوک چی ځما خبره اوری او بیا هغه نورو ته کوی او ورسوی ئی.

د نبی کریم ص ټول ژوند د ټولی دنیا لپاره رحمت دی او د هغه ژوند یوه یوه واقعه د شهادت کواهی ورکوی نو تاسو د هغه ژوند د واقعاتو تحقیق وکړی او تابعداری ئی وکړی.

حدیث شریف : په حدیث شریف کی راغلی چی څوک د الله ﷻ په لاره روان شی د لاری کرد (دوړی) په هغ شخص پریوزی دا شخص د دوزخ اور څه چی لوکی به ئی مسحه نکړی.

بل ځای فرمائی چی څوک د الله ﷻ په لاره کی دکوره ووځی د هغه شخص دکور د حفاظت لپاره الله ﷻ ۵۰۰ فرشتی مقرری کوی حفاظت ئی کوی.

بل حدیث شریف کی راځی چی څوک د الله ح په لاره کی یوه روپی د خپل جیب نه خرچوی الله ﷻ عوض کی ورته یو په ۷۰۰ اجر ثواب ورکوی.

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمایلی چی داعی دعوت ال الله الله تعالی ته ډیر نږدی ده او محبوب دی د نور په ممبر به ناست وی د نبیانو او شهداو سره به سیالی کوی.

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمائی چی د نفلی لمونځو نه روژی صدقی او نورو عملو نه بهتر عمل الله ﷻ ته د خلکو روغی ته بلل دی داځکه چی روغه د مسلمانانو منځ کی ورانی ، دښمنی اوکهوډی داسی صفا کوی لکه څنکه چی چاړه د سرو یشتان صفا کوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حدیث شریف : نبی کریم ص فرمائی چی د قیامت په ورځ به د بنده قدمونه تر هغه وخته پورته نشي تر څو دا څلور سوالو ته ځواب ونه وائی لکه ا عمر دی په څه مشغولتیا کی تیر کړو ۲ ځوانی دی په څه کار کی لکولی ده ۳ مال دی په څه قسم کټلی وه او څه کی د ولکاوه ۴ تا چی علم زده کړی په علم دی څه عمل وکاوه (رواه فضائل صدقات).

## د الله ﷻ صفتو کی یو صفت هم صدقه ده

حضرت مولانا تهانوی رح فرمائی چی اعمال پر دوه قسمه دی چی یو ئی ظاهری اعمال دی او دوهم ئی باطنی اعمال دی.

۱ ظاهری اعمال په دوه قسمه دی چی یو ئی بدنی عبادت دی او بل ئی مالی عبادت دی

الف بدنی عبادت عبارت د لمانځه نه او مالی عبادت عبارت دی له زکات او صدقی نه ده بیا په ټولو عباداتو کی اول او غوره عبادت د لمانځه ده په دوهمه درجه کی بیا زکات دی چی صدقه هم پکی شامله ده لکه چی :-

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمائی چی تاسو خپل مالونه په زکات محفوظ کړی او د مرضو علاج په صدقی سره وکړی د بلاکانو او مصیبتونو موجونه په دعا سره دفعه کړی.

د صدقی او مال خرڅولو باره کی د الله ﷻ مبارک کلام کی او د نبی کریم ص مبارکو احادیثو کی

د صدقی ترغیب او فضائل ډیر بی شماره راغلی دی

د ایات شریف مفهوم دی الله ﷻ فرمائی چی ای خلکو تاسو د الله ﷻ په لاره کی خرچه وکړی د هغو شیانو نه چی ما تاسو ته درکړی دی پخوا د هغی نه چی هغه ورځ به راشي چی په هغه ورځ به نه خرڅول وی او نه اخستل وی نه به دوستی وی او نه به د چا سپارش بغیر د الله ﷻ د ذات نه (سورت البقره ۲۴ رکوع) .

د بل ایات شریف مفهوم دی الله ﷻ فرمائی چی د الله تعالی په محبت او رضا حاصلولو کی تاسو خپل مالونه رشته دارانو یتیمانو او غریبانو مسافرو سوالکرو بندیانو او غلامانو ته ورکړی خپله غاړه خلاصه کړی خرچه وکړی لمونځونه وکړی زکات اداکړی چی دا ټول د کمالاتو بهترین شیان دی.

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمایلی چی سخی شخص الله ﷻ ته نژدی دی جنت ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



نژدی دی او خلکو ته نژدی دی او بخیل شخص الله ﷻ نه لری دی جنت نه لری دی خلکو نه لری دی او دوزخ ته نژدی دی (رواه ترمذی او مشکوة) .

بیشکه جاهل سخی د الله ﷻ په نزد عابد بخیل نه زیات محبوب او خوښ دی.

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمایلی چی څوک یوه مړی ډوډی یا یو موټی خرما د الله ﷻ په لاره کی په اخلاص ورکړی یا د یوه مسکین ضرورت پوره کړی نو داسی صدقه دری کسان جنت ته داخلوی ۱ د کور خاوند ۲ د کور بی بی ۳ هغه څوک چی فقیر ته ئی وروړی (رواه فضائل صدقات)

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمائی چی که ماسره د احد د غره په اندازه سره زر وی نو لدی سرو زرو نه ماته دا بهتره ده چی پر ما باندی د چا قرض وی او هغه قرض له دری ورځو نه څلورمی ورځی ته پاتی نشی (رواه بخاری او مسلم) .

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمائی چی څوک دنیا سره محبت ساتی هغه اخرت ته نقصان رسوی او چی څوک اخرت سره محبت ساتی هغه دنیا ته نقصان رسوی.

بل حدیث شریف کی راځی چی دنیا د هغه چا کور دی چی اخرت کی کور ونه لری او دنیا هغه چاته مال دی چی هغه اخرت کی مال ونه لری (رواه دورمنشور)

بل حدیث شریف : نبی کریم ص فرمائی چی د قیامت په ورځ به اعلان وشی چی چیرته دی هغه کسان چی دنیا کی د فقیرانو او مسکینانو اکرام او عزت کړیده او د فقیرانو مسکینانو ئی مریضی کی پوښتنه کړی ده نن ورځ به هغه جنت ته داخل شی د نور په ممبر به الله ﷻ خبری کوی (رواه کنز) .

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمائی چی څوک په وږی څه وخوری او تږی څه وڅښی او په بربند جامی واغوندی الله ﷻ ه به په هغه د جنت شین لباس او د جنت ښکلی نعمتونه او د جنت د مهر کړی شرابونه نصیب وکرځوی (رواه ابوداود ترمذی مشکوة) .

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمائی چی کله انسان مړ شی قبر کی داسی وی لکه څنګه چی اوبو کی کی سړی ډوبیږی هره خوا لاس پښی او سترکی اچوی چی اوس به ماته څوک نجات راکړی همدارنکه قبر کی مړی هم پلار ورور او دوستانو په انتظار وی چی ما پسی به اوس څوک صدقه یا دعا وکړی داځکه چی مړی پسی صدقه او دعا د دنیا او مافیها نه بهتره ده (رواه احیا).

یو بزرک فرمائی چی ځما ورور مړ شو بله ورځ می پر خوب ولیده ما د قبر د حال

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوښتنه ورنه وکړه هغه راته وویل چی کله تاسو دفن کړم کتل می چی د ما خواته د اور یوه هیبت ناکه شغله راروانه کله چی یوه شخص ما پسی د مغفرت دعا وکړه الله جَلَّ جَلَالُهُ د هغه شخص دعا قبوله کړه هغه د اور شغله الله جَلَّ جَلَالُهُ رانه دفعه کړه (رواه بزل).

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمائی چی ما د حضرت جبرئیل ع نه پوښتنه وکړه چی صدقه څو قسمه ده هغه راته وویل چی صدقه ۶ قسمه ده ۱ هغه صدقه چی مالدار او ظالم ته ورکړی یو په یو ثواب لری ۲ صدقه چی هغه شخص ته چی کارکولای نشی وضع د اقتصاد خرابه وی دا صدقه یو په لس ثواب لری ۳ هغه صدقه ده چی فقیرانو مسکینانو ته کوندو او یتیمانو ته ورکړه شي دا صدقه یو په سل ثواب لری ۴ هغه صدقه ده چی مور پلار ئی څه ونه لری ورکړه شی نو دا صدقه یو په اووه سوه ثواب لری ۵ کومه صدقه چی معذور ته چی کار نشی کولای ورکړه شی نو دا صدقه یو په نهه سوه ثواب لری ۶ کومه صدقه چی متقی طالب العلم ته ورکړه شی نو دا صدقه یو په نهه لکه اجر ثواب لری.

قصه یوه ورځ حضرت علی رح د حضرت حسین ځوی ته مینځی د اوداسه اوبه واچولی دی وخت کی د مینځی د لاسه کوزه ولویده د حضرت علی رح خوله ئی زخمی کړه او مینځی ته ئی په تیز نظر وکتل نو مینځی ورته د الله جَلَّ جَلَالُهُ ارشاد والکاظمن الغیظ وفرمایل حضرت علی رح ورته وویل چی ما خپله غصه وزغمله مینځي بیا ورته وویل والعافین عن الناس حضرت علی رح ورته وویل چی الله تعالی دی تا معاف کړی مینځی بیا ورته وویل والله یحب المحسنین حضرت علی رح د حسین زوی ورته وویل ازاده شوی.

د حدیث شریف : مفهوم دی چی هره ورځ دوه فرشتی د اسمانه راکوزیږی اوله دعا کوی چی یا الله جَلَّ جَلَالُهُ خرچه کوونکی ته بدله ورکړه او بله دعا کوی چی یا الله جَلَّ جَلَالُهُ د زخیره کوونکی مال ورته تبا او برباد کړه

دا دواړه ملکی هر ورځ د اسمانه راکوزیږی یوه د مال د ډیریدو او بله د مال د تبا کیدو دعا کوی (رواه فضائل صدقات).

## قرانکریم د الله جَلَّ جَلَالُهُ کلام دی

الله جَلَّ جَلَالُهُ کله چی دنیا او د دنیا کائنات په کائناتوکی بیا انسانان پیداکړل د انسانانو د نظم او دسپلین لپاره ئی خپل اسمانی قانون ابتداکی صحیفی د رسالو په شکل چی ۱۰ صحیفی ئی په ادم ع ۵۰ صحیفی ئی په حضرت شیش ع ۳۰ صفیحی ئی په ادریس ع ۱۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



صفیحی ئی په حضرت ابراهیم ع باندی نازلی کړی دی چی ټولی ۱۰۰ صحیفی شوی. وروسته ئی بیا تورات په حضرت موسی ع باندی انجیل ئی په حضرت عیسی ع باندی زبور ئی پر حضرت داود ع باندی نازل کړل. دا چی د هغه وخت زمامدارانو زورواکانو او صاحب رسوخ اشخاصو په نوموړو کتابونو کی لاسونه ووهل بعضی مسائلو ، بابو او جملو ته ئی د خپل شهرت او موقف اوچتولو لپاره تغیر ورکړو او په نومول شووکتابوکی کډوډی راوستله وروسته اللهﷻ قرانکریم ئي یوځای مکمل کتاب ئی د لیلة القدر په شپه د لوح محفوظ نازل کړو وروسته ئی په مختلفو وختو او مختلفو ځایوکی پر حضرت محمد ص نسخه نسخه مطابق د موضوع د اللهﷻ د جبرئیل امین پواسطه نازل کړی ده.

خپله نبی کریم ص زده کړه نده کړی او تعلیم ئی چا نه حاصل کړی نه دی او نه ئی علم درلوده د نبی کریم ص پوه او زده کړه ازلی وه چی د اللهﷻ د خوانه د حضرت جبرئیل امین پواسطه به ورته ساعت په ساعت او یو میه رهنمائی کیده.

کله چی اللهﷻ قرانکریم پر حضرت محمد ص نازل کړو اللهﷻ سل صحیفی تورات انجیل او زبور کتابونه ټول منسوخ کړل او حکم ئی وکړو چی د نومول شووکتابونه نور د قرانکریم خواته خپل مخونه راواړوی چا چی د اللهﷻ حکم ومانه د قرانکریم خواته ئی مخ کړو هغه مسلمان شول چا چی د اللهﷻ حکم ونه مانه قرانکریم ته ئی مخ نکړو هغه ټول په خپل یهودیت نصرانیت مجوسیت بوت پرستی اتش پرستی او نورو ادیانوکی پاتی شول.

## د قرانکریم د نزول سلسله

الحمدل الله چی قرانکریم د اللهﷻ داسی یو جامع روښانه واضح او نه تغیر ورکونکی کلام دی. چی دی کلام ته به هیڅ نبی صحابی امام عالم بزرک داکټر او مولف تغیر ورنه کړی او نه به ئي ابدالابد پوری تغیر ورکړای شی داځکه چی دا کلام په لکونو او ملیاردونو علما کرام مفسرین حافظان او قاریان لری مونږه به سپاره سورت ایات اوکلمی پر ځای پریږدو حتی یو زور زیر پیښ شد مد او غړوندی ته څوک تغیر ورنکړی الحمدالله دا قرانکریم چی څومره شایقین قاریان تلاوت کوونکی مفسرین او علما کرام لری نورکتابونه ئی یو په میلوینم برخه ئی نلری او نه به ئی پیداکړی.

قرانکریم د لیلة القدر په شپه یو ځل پوره مکمل کتاب د لوح محفوظ نه نازل شوی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا کله چی نبی کریم ص څلویښت کلنی کی پیغمبر شو (۲۳) کلو کی د عمر تر اخره یعنی ۶۳ کلنی پوری نسخه نسخه مطابق د هغه وخت او مطابق د موضوع په مختلفو وختو کی ډیرک د الله ﷻ د خوانه د حضرت جبرئیل امین پواسطه پر حضرت محمد ص نازل شوی ده.

ټول قرانکریم ۳۰ سپاری دی ۱۱۴ سورته ۵۴۰ رکوع ۶۶۶۶ ایاتونه ۷ منزله او ۳۲۰۰۷۸۶ حرفونه لری الله ﷻ د ټول مسلمانان د خپل کلام محبان وکرځوی.

د ایات شریف مفهوم دی الله ﷻ فرمائی که چیری ما دا قران پر غره باندی نازل کړی وای او په غره کی شعور وای نو تاسی به دا غر لیدلای وه چی د ویری به ټوټه شوی وای.

حضرت اکرمه رض به کله چی قرانکریم د تلاوت لپاره خلاص کړو نو مبارک به بیهوشه شو او د خولی نه به ئی دا وینا راوتله هذا کلام ربی هذا کلام ربی یعنی دا ځما د رب کلام دی دا ځما د رب کلام دی.

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمائی چی صاحب د قران ته به وویل شی چی قرانکریم لوله د جنت په درجو خیږه کله چی اخری ایات ته ورسیدی هغه ستا مقام دی (رواه ابوداود او نسایی) .

حدیث شریف : / روایت دی د عبدالرحمن بن عوف رض څخه : په حدیث شریف کی راغلی چی دری شیان به عرش عظیم لاندی په جکړه کی وی ۱ قرانکریم ۲ امانت ۳ رشته داری اواز به کوی چی چا زه یو کړی یم الله ﷻ دی هغه د خپل رحمت سره یوځای کړی حضرت عبدالله بن عباس رض د نبی کریم ص ارشاد نقل کوی فرمائی چی د چا زړه کی څه حصه د قران نه وی نو هغه زړه د کنډوالی حیثیت لری (رواه ترمذی) .

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمائی که د واقعی طبیب سره تعلق پیداکوی نو سورت فاتحه د هر مرض شفا یعنی دوا ده (رواه بیهیقی) .

په حدیث شریف کی راغلی چی قرانکریم داسی یو شفیع دی چی شفاعت ئی قبول شوی او داسی جکړه کوونکی دی چی جکړه ئی قبوله شوی ده نو څوک چی قران مخی ته ږدی هغه جنت ته کاږی او څوک چی مخ ورنه اړوی هغه دوزخ ته کاږی.

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمائی څوک چی د ورځی سورت یاسین لولی د ورځی ټول مشکل ئی الله ﷻ حلوی او څوک ئی چی د مخی یا یادی لولی هغه ته الله ﷻ د لسو ختمو ثواب ورکوی (رواه الدامی) .

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوټ نن ورځ د مسلمانانو په ټولنه کی حکمی ختمونه د قرانکریم مروج شوی دی او بعضی اشخاص د پوره ختم نه حکمی ختم پدی بهتر بولی چی بعضی اشخاص قرانکریم شه لوستلای نه شی یا ئی غلط لولی د ختم شریف په قبلیدو یا نه قبلیدوکی د بی علمی وجی نه خبری او اتری کوی.

په احادیثوکی راغلی چی کوم شخص قرانکریم په شوق او زوق ولولی او په لوستلوکی ئی د حروفو په اداکولوکی سرکردانه او مصروف وی الله ﷻ هغه شخص ته د بل تلاوت کوونکی نه دوچند ثواب ورکوی اوکوم شخص چی قصداً په تلاوت کی غلطی راولی یا ئی پانبی اړوی نو دا د هغه شخصی کناه او جرم دی لیکن څوک چی داسی اشخاص راغواړی ختم والا ته الله ﷻ پوره د ختم ثواب ورکوی قصدی غلط کوونکی ته الله ﷻ خامخا عذاب ورکوی.

د حدیث شریف مبارک مفهوم دی چی په تلاوت د قرانکریم تلاوت کوونکی ته الله ﷻ په یوه حرف لس نیکی عمل نامه کی ورته لیکی دا چی ټول قرانکریم ختم کړی شی او د ټول قرانکریم چی ۳۲۰۰۷۸۷ حرفونه دی نو په یوه حرف چی ۱۰ نیکی الله ﷻ ویونکی ته ورکوی پدی حساب په لس کونو میلونو نیکی ته رسیږی دومره نیکی چی د هغه مقصد لپاره د ختم کونکو د خوانه ور وبخلی شی ایا د حکمی ختم چی هغه یوه سپاره لوستل کیږی دا به بهتره او غوره نه وی ؟ بیا چی نن ورځ بعضی کوروکی د ختم مراسمو کی چی یو سورت یا یو یا دوه ایاتونه لولی دا خو بلکول د ختم شریف اصولو سره په ټکر کی قرار نیسی دی نه باید مسلمانان ځان بلکول وساتی پوره ختم باید وکړی.

حدیث شریف : حضرت ابن مسعود رض د نبی کریم ص ارشاد نقل کوی فرمائی چی څوک یو حرف د قرانکریم نه تلاوت کړی الله ﷻ مقابل کی ورته د یوه حرف بدله کی ورته لس نیکی ورکوی لکه چی الم چی راټول شی دری حرفه راځی یو حرف ئی الف بل حرف ئی لام او دریم حرف ئی میم دی نو ویونکی ته ټولی ۳۰ نیکی شوی (رواه ترمذی) .

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمایلی چی څوک قرانکریم حفظ کړی او په حلالو او حرامو ئی پوره عمل وکړی د داسی قاری چی خپلوانو نه لس کسه واجب الدوزخ شوی وی د دغو لسوکسانو شفاعت کولای شی (رواه بن ماجه) .

حدیث شریف : حضرت ابو هریرة رض نه روایت دی چی نبی کریم ص فرمائی په کوم ځای کی څوک د الله ﷻ د کلام تلاوت لپاره سره راجمعه شی یا دا چی هلته تدریس د

(c) ketabton.com: The Digital Library



کلام پاک کیږی هغه کور کی الله ﷻ سکینه نازلوی هفه ځای کی د الله ﷻ رحمت اوریږی او د رحمت ملائیکی کرد چاپیره حلقه ورته جوړوی او الله ﷻ د هغوی ذکر په فرشتو کوی (رواه ابوداود او مسلم) .

حدیث شریف : نبی کریم ص حضرت ابوذر غفاری رض ته وفرمایل چی ای ابوذره رض سحر لاړ شه یو ایات د قران کریم یادکړه نو دا تاته ۱۰۰ رکعتو نفلو نه بهتره ده او که چیری یو باب د علم یادکړی دا درته ۱۰۰۰ رکعتو نفلو نه بهتره ده چی دغه وخت کی ته عمل وکړی یا ئی ونه کړی (رواه ابن ماجه با اسناد حسن) .

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمایلي چی څوک د قرانکریم په ویلو خلکو نه خوراک یا بل شی حاصلوی د قیامت په ورځ به د هغه پر مخ هیڅ غوښه نه وی تش هډوکی به وی (رواه فی شعب الایمان)

## سجده تلاوت قرانکریم

کوم عاقل بالغ مسلمان چی هغه نر وی یا ښځه په تلاوت کی ورته سجده راشی یا ئی بل شخص نه واوری نو سجده تلاوت ورباندی واجب شوه.

چی ټول قرانکریم کی ۱۴ سجدی په ۱۴ ایاتونو کی دی چی څلور اولینو سپاروکی او لس سجدی په اخرینو پنځلس سپاروکی دی (رواه شرح وقایه) .

**د سجدی تلاوت ترتیب** په سجده تلاوت کی تکبیر تحریمه نشته صرف الله اکبر به وائی بی له لاس پورته کیدو نه به سجده ته ځی دری واری به سبحان ربی الا علا به وائی بیا به بیرته خپل سر د الله اکبر په پورته کیدو جیکوی سجده ئی ادا شوه دا یوه سنت طریقه ده.

مسله عالم وی که اعجمی وی او سجده تلاوت ئی واوریده او پری پوه شو نو سجده تلاوت پری واجب شوه او که ئی وانه اوریده یا پوه نشه بیا پری نشته (رواه فتح القدیر) .

مسله سجده تلاوت کی دوه تکبیرونه چی یو مخکی د سجدی نه او بل وروسته د سجدی نه دی دا سنت دی او همدارنکه دوه قیامه ورته مستحب دی اول به هم دریږی نیت به کوی الله اکبر به وائی سجدی وروسته به هم الله اکبر وائی دریږی به وروسته ناسته ورته بهتره ده (رواه دورمختار).

مسله تکبیرونه به د سجدی تلاوت په زوره وائی که امام وی چی ټول مقتدیان ئی

(c) ketabton.com: The Digital Library



واوری اوکه تنها وی چی خپله ئی واوری (رواه دورمختار) .

مسئله‌که نابالغ هلک یا جلی همدارنکه حیض او نفاس والا ښځه چی سجده تلاوت واوری نو سجده تلاوت پری نه واجب‌کیږی همدارنکه‌که نارینه یا ښځه په جنابت‌کی وی هم سجده پری نه واجب‌کیږی (رواه دورمختار) .

مسئله‌که د چا ډیری سجدی باقی وی اوکړی ئی نه وی نو په اداکول‌کی ئی ترتیب نشته وړاندی او وروسته ئی اداکولای ئی شی.

په عذرکی‌کولای شی چی سجده تلاوت په ناسته او اشاره وکړی (رواه عالمکیر) .

## د صله رحمی باره کی

د مور او پلار حقوق

د ایات شریف مفهوم دی الله‌ﷻ فرمائی چی مونږه انسان ته د مور او پلار سره د نیک سلوک‌کولو حکم‌کوو بل خصوص مور سره ځکه چی مور ورسره ډیر مشقتونه‌کاللی دی په‌کیډه ئی‌کرځولی په تولدکییدوکی تکلیفونه‌کاللی او ۳۰ میاشیت‌کم دکم شیدی ورکړی دی (سورت احقاف۳ ع) .

فقه ابولیث‌کی فرمائی چی قطعه د صله رحمی دومره‌کناه ده چی د ده سره د ناستی کسان د الله‌ﷻ د رحمت نه محروم دی‌که پدی مرض څوک اخته وی باید توبه وباسی صله رحمی اختیارکړی (تنبه الغافلین) .

حدیث شریف : نبی‌کریم ص نه چا وپوښتل چی ماته د ټولو نه مسحق د احسان او سلوک وړ څوک دی نبی‌کریم ورته وفرمایل چی مور ده بیا ئی ورته وویل بل څوک وئی ویل چی مور ده دری واری ئی مور یادکړه څلورم وار ئی وویل چی پلار ده وروسته بیا رشته دار څومره چی ورنژدی وی (رواه متفق علیه‌کذر فی المشکوة) .

بل حدیث‌کی راغلی چی د الله تعالی رضا د مور او پلار رضا کی دی او د الله‌ﷻ ناراضی توب د مور او پلار ناراضی توب‌کی دی (رواه دورمنشور)

حدیث شریف : د نبی‌کریم ص نه حضرت علی رض ارشاد نقل‌کوی چی څوک صله رحمی‌کوی د هغه ۱ عمر زیاتیږی ۲ عزیزان به ئی ورسره محبت‌کوی ۳ په رزق‌کی به ئی فراخی راشی ۴ بل اخره جای به جنت‌کی وی (رواه‌کنز)

حدیث شریف : نبی‌کریم ص فرمایلی چی مور او پلار سره حسن سلوک اعلی درجه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د هغوی وروسته د خپلو متعلقینو سره حسن سلوک کول دی (رواه ابو مسلم مشکوة)

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمایلی چی د چا مور او پلار مړه شوی یا یـو د هغـوی نـه مر شوی وی او ژوندکی ده ورسره نافرمانی کړی وی د مرک وروسـته چـی دی دعـا ورپسـی کوی نو دا شخص به فرمانبرداره اولادکی راځی (رواه بیهقی فی الشعبان المشکوت)

په حدیث شریف کی راغلی چی څوک د خپل مور او پلار لپاره حج وکـړی حـج هغـوی لپـاره وشـو او د هغـوی روح تـه اسـمان کـی د خوشـی خبر ورکـوی داسـی اولاد فرمانبـداره اولادو کی راځی.

په یو روایت کی بیا راځی چی څوک د مور او پـلار لپـاره حـج وکـړی نـو د مـور او پـلار لپاره ئی د یوه حج ثواب وشو او چا چی دا حج ورته کړی وی اللهﷻ ورتـه د نهـو حجونـو ثواب لیکی (رواه رحمت الهدا)

حدبث شریف فرمائی چی بنده صدقه وکړی پدی کی هیڅ نقصان نشته چی ثـواب ئـی مور او پلار پسی وبخښی هغوی ته به د صـدقی ثـواب ورسـیږی د ده بـه ثـواب کـی کمـی نـه راځی (کنز)

یوه حدیث کی راغلی چی څوک مور او پلار زیارت ته لاړشی د مغفرت دعا ورته وکـړی دا په فرمانبرداره اولادکی راځی.

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمائی چی څوک وغواړی چی په قیامت کـی د شـه مقـام او اوچتی درجی ولرم هغه له پکار دی چی د ظلـم مقابـل کـی معـافی وکـړی او څـوک چـی دی د خپلو تحفو نه محروم کړی دی مقابل کی احسـان ورسـره وکـړی او څـوک چـی تعلـق ورسره پری کوی او دی ئی ورسره کوی (رواه دورمنشور)

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمایلی چی نشته کناه هیڅ چـی بـی د اخـرت نـه پـه دنیـا کی ورتـه عـذاب ورکـړای شـی بـی لـه ظلـم او قطعـه صـله رحمـی نـه (رواه ترمـذی ابـوداود مشکوة)

حدیث شریف : حضـرت طلحـه رض نـه روایـت دی چـی یـو شـخص نبـی کـریم ص تـه راغی او عرض ئی وکړو چی زه جهاد ته ځم نبی کریم ص چی ئی د مـور او پـلار د ژونـدی لرلو پوښتنه وکړه او ورته وئی وویل چی مور می ژوندی ده نبی کـریم ص ورتـه وویـل چـی د خپلی مور خدمت وکړه ځکه چی ستا جنت د مور تر پښو لاندی ده مبـارک دری واری ورتـه تکرار وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حدیث شریف : حضرت انس رض نه روایت دی چی فرمائی چی څوک خپل امانت ادا نکړی د هغه ایمان نشته او څوک چی خپله وعده پوره نکړی د هغه دین نشته (رواه دورمنشور)

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمایلی چی د رحمن د عرش سیوری لاندی دری قسمه شخاص وی ۱ صله رحم کوونکی ۲ هغه زنانه چی خاوند ئی مړ شی د خپلو وړو ماشومانو په خاطر دا خپله ځوانی بی خاونده تیره کړی ۳ هغه اشخاص چی طعام تیارکړی په یتیمانو او مسکینانو ئی وخوری (رواه فضائل صدقات)

## د زهد او تقوا باره کی

د ایات شریف مفهوم دی الله ﷻ فرمائی چی تاسو خو ما نه د دنیای مال او اسباب غواړی نو الله ﷻ تاسو نه اخرت غواړی یعنی تاسی د اخرت په فکرکی اوسی او د ده په تیاروکی مشغول اوسی.

د ایات شریف مفهوم دی الله ﷻ فرمائی چی ای خلکو خپل رب نه وویریږی او د هغه ورځی نه وویږی چی هغه ورځ کی به ستاسو مطالبه نه پلار او نه مور پوره کولای شی او نه به تاسو د خپل پلار او مور مطالبه پوره کړی بیشکه د الله ﷻ وعده ریښتنی او حقه ده.

د ایات شریف مفهوم دی الله ﷻ فرمائی چی ما پیریان او انسانان د دی لپاره پیداکړی چی هغوی صرف ځما عبادت وکړی زه دوی نه رزق نه غواړم د دوی د ټولو شیانو رزق ورکوونکی قوت والا زه یم.

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمایلی چی د قیامت په ورځ انسان نه د بدن د صحت او یخو اوبو پوښتنه کوی .

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمایلی چی د قیامت په ورځ به د یوی مړی ډوډی یو غړپ اوبو چی تنده ئی پری ماته شوی وی او یو جوړ جامو چی بدن ئی پری پټ شوی پوښتنه کوی (رواه فضائل صدقات) .

په احادیثو کی راغلی چی :

یوه ورځ د غرمی سخته کرمی کی حضرت ابوبکر صدیق رض د لوږی نه جومات ته تشریف یووړ حضرت عمر رض هم د لوږی نه ورغی نبی کریم ص هم د دوی په شکل د لوږی نه جومات ته تشریف یووړ دری واړو د ایوب انصاری کره تشریف یووړ ابو ایوب

(c) ketabton.com: The Digital Library



انصاری اول ورته د کهجورو شنکلی کیښودی بیا ئی چلی ورته زبحه او پخه ئی کړه دری واړو چی په خوراک شروع وکړه نبی کریم ص لږ غوندی غوښه ډوډی کی تاوکړه ابو ایوب انصاری رض ته ئی وکړه چی دا بی بی فاطمی رض ته ورووړه چی هغه هم دا دری ورځی لوږی پاتی ده.

په عین خوراک کی حضراتو ورنه پوښتنه وکړه چی ای د اللهﷻ رسوله مونږه به د دی نعمتو جواب ورکوو نبی کریم ص ورته وفرمائیل چی هو حضراتو وفرمائیل چی دا خو د ابو ایوب انصاری رض مهمانی ده نبی کریم ص ورته وویل چی د هر نعمت خوراک او چښاک او اغوستونکی سوال او ځواب شته نوکله چی څوک خوراک او چښاک وخت کی اول بسم الله اخرکی شکر او دعا وکړی نو دائی کفاره کرځی (رواه دورمشور)

## په مصیبتونو باندی صبر کول

دا چی مسلمانانو د اسلام د اصولو په بنا په (امنت با الله) واضح اقرارکړی دی چی ټول او خیر او شر د اللهﷻ د خوانه ده نوکله چی د اللهﷻ د خوانه چاته خیر یا شر رسیږی په خیر رسیدوکی باید شکر اداکړی او الحمدالله ووائی خوشی حاصل کړی.

همدارنکه که انسان ته کوم مصیبت یا شر واقع کیږی باید انال الله وانا الیه راجعون ووایی د صبر او زغم او تحمل نه کار واخلی نو داسی انسان واقعا په خپل اقرارکی صادق وی.

د ایات شریف مفهوم دی اللهﷻ فرمائی چی تاسو په مصیبتونو باندی صبر او په لمانځه باندی خپل مدد حاصل کړی دا چی اللهﷻ صبرکوونکی سره دی.

حدیث شریف : نبیانو ع ته به چی کوم مشکل پیښ شو نو ژر به په لمانځه مشغول شول.

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمایلی چی څوک وږی یا محتاج شی او هغه خپل حاجت د خلکو نه پټ وساتی اللهﷻ پدی ضمه واری کړی چی تر یوه کاله حلاله روزی زه ورسوم. څوک چی هر شی غواړی د الله نه دی غواړی او خپل توکل دی په اللهﷻ کوی او پدی پوره پوه شی چی په صبرکی د الله پوره مدد شته مصیبت پسی راحت او تنکدستی پسی فراخی شته.

د ایات شریف مفهوم دی په الله تعالی توکل وکړی بیشکه هغه اوریدونکی او عالم دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ټولو حالاتو هم خبر دی او تل د دی ایات شریف مطابق لکه (رَبَّنَا عَلیکَ تَوکَلنا و اِلیک اَنَبنا وَ اِلیکَ المصیر) ترجمه ای ربه مونږه په تا توکل کړی او ستا طرفته مو رجوع وکړه په هر صورت کی ستا خواته درتلل شته.

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمائی چی څوک ځانته د سوال دروازه خلاصه کړی اللهﷻ پر ده باندی د اخرت د فقر دروازی خلاصی کړی (رواه فضائل صدقات)

حدیث شریف : یو واری نبی کریم ص وفرمایل چی واه واه چی دا پنځه شیان په تله د میزان کی د یوه کس په عملنامه څومره دروند وزن لری یو د لااله الاالله بل د الله اکبر بل احمدالله څلورم سبحان الله ویل دی پینځم د مور او پلار اولاد مړ شی او دی قالو انال الله وانا الیه راجعون ووائی او صبر اختیار کړی (رواه نسائی او جاحع الصغیر)

## د شریعت حکمونه

د شریعت حکمونه ۸ قسمه دی. حکمونه جمعه د حکمو ده او حکم په شریعت کی د اللهﷻ هغه خطاب ته وائی چی بنده ئی په افعالو او اعمالو مکلف کړی دی چی دا حکمونه په دری قسمه دی

۱ هغه دی چی هغه کی طلب د کولو وی ۲ هغه دی چی په هغه کی طلب د نه کولو وی ۳ هغه دی چی هغه کی تخیر وی یعنی د هغه په کولو یا نه کولو کی اختیار کړی.

۱ هغه کی چی طلب د کولو وی هغه څلور قسمه دی لکه فرض ، واجب ، سنت ، او نفل دی.

۲ چی په هغه طلب د نه کولو وی په دری قسمه دی لکه حرام ، مکروه تحریمی ، او مکروه تنزهی.

۳ په هغه چی تخیر وی هغه یو قسم دی لکه مباح. پدی حساب د شریعت حکمونه ټول ۸ قسم شول.

۱ فرض د اللهﷻ هغه حکم چی په دلیل قطعی سره ثابت شوی وی منکر ئی کافر دی او بی د عذره چی څوک ئی پریږدی هغه فاسق دی او مسحق د عذاب کرځی. فرض په دوه قسمه دی الف فرض عین ب فرض کفائی.

الف فرض عین هغه دی چی کول ئی په هر یوه لازم او ضروری وی لکه پنځه وخته لمونځ ، او د رمضان د میاشتی روژه او نور.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ب فرض کفائی هغه دی چی پر هر یوه لازم نه وی بلکه د بعضی کسانو په کولو سره د ټولو غاړی پری خلاصیږی او که بیا هم یو ونکړو د ټولو غاړی پری بندیږی لکه د جنازی لمونځ (رواه توضیح او ترویح)

۲ واجب هغه حکم ته وائی چی په دلیل ظنی سره ثابت شوی وی او څوک ئی چی بی د عذره ترک کړی هغه فاسفق او مسحق د عذاب کرځی منکر ئی کافر نه دی بلکه فاسق کرځی.

۳ سنت: سنت پر دوه قسمه دی الف سنت هدا ب سنت زائده.

۱ سنت موکد یا سنت هدا هغه ته وائی چی نبی کریم ص تل د عبادت به طریق کړی وی.

سنت موکد حکم دا دی چی څوک ئی بی د عذره پریږدی کنهکار دی چی دا په فعل د نبی کریم ص او فعل د خلفا راشدینو ثابت شوی دی.

۲ سنت زوائد هغه دی چی په نه کولو ئی بدی او کراهیت نشته لکه چی نبی کریم ص عادت په ناسته والاړه کی په کولو ئی ثواب شته او په نه کولو کی کناه نشته (رواه مولوی)

۴ نفل : چی کولو کی ثواب دی او په نه کولو کی ئی عذاب نشته فضیلتونه ئی مستحبه طریقه ده (رواه شامی)

۵ حرام هغه دی چی نه کول به دلیل قطعی سره ثابت شوی چی بی دعذره څوک وکړی هغه فاسق منکر ئی کافر دی (حرام حلال کنڼل) کافر او مستحق د عذاب دی.

۶ مکروه تحریمی هغه دی چی په دلیل ظنی سره ثابت شوی وی کول ئی بی د عذره کناه ده او منکر ئی فاسق دی لکه د واجبو منکر چی دی.

۷ مکروه تنزهی هغه دی چی نه کول بهتر دی او په کول ئی څه کناه و عذاب نشته چی مکروه تنزهی حلالو ته او مکروه تحریمی حرامو ته نږدی دی.

۸ مباح هغه فعل ته وائی چی په کولو ئی ثواب نه وی او په نه کولو ئی څه بدی نه وی.

په شریعت کی دا پورته ۸ قسمه حکمونه د الله ﷻ حکمونه دی چی بیان شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مذهبونو خاوندان څلور امامان دي

په دنیا کې دا څلور مذاهب لکه ۱ حضرت امام ابوحنیفه رح ۲ حضرت امام مالک رح ۳ حضرت امام شافعي ۴ حضرت امام احمد ب حنبل رح دي چې دا څلور امامان دي دنیا کې قبول او خواره شوي دي او دا څلور واړو امامانو ټول عمر د علومو په خدمت کې او د فقې د مسلئلو په اجتهاد او استنباط کې تیر کړي دي اسلام ته ئي بې شماره خدمتونه کړي دي نو د دوی منځ کې شرعي اصُولي اختلاف هیڅ نشته لیکن په فروعو کې اجتهادي اختلاف راغللی چې په ټولو کې د امام اعظم رح د مذهب د مقبولیت جذبه حنیفي مذهب ته حاصله شوی ده او د نورو امامانو نه ئي مرتبه لویه هم ده پدی وجه د امام اعظم لقب ورکړ شوی دی.

۱ امام اعظم رح د والد نوم ثابت دی چې په کوفه کې پیداشوی دی پیشه ئی تجارت وه چې رب العزت په ۴۰ کلنی کې یو ځوی ورکړو چې دهغه نوم ئی نعمان کیښوده په مرور د وخت د امام اعظم لقب باندی مشهور شو د امام اعظم رح نوم نعمان رح لقب ئی امام اعظم رح او کنیت ئی ابوحنیفه رح ده.

امام اعظم رح د فقې تحصیل د متعددو استادانو نه لیکن زیات ئی حمار نه کړی ده کله چې منصور بغداد ته راغی نو امام اعظم ئي بغداد ته کوفی ته وغوښته نو منصور ورته د قضا پیشنهاد وکړو لیکن امام صاحب قبوله نکړه بیا منصور دی زنداني کړو لیکن بیا هم زندان کې ئی تدریس ته دوام ورکړو ډیر طالبان به ورته راتلل بل اخره په سنه ۱۵۰ ه کې وفات شو.

۲ امام یوسف رح دا مبارک په سنه ۱۱۳ ه په کوفه کې پیداشوی دی چې په غریبې پیچارکي او مزدوری کې علم حاصل کړی دی کله چې پلار ئی دی د ابوحنیفه د درس نه جک کړو ورته وئی ویل چې ځویه ابوحنیفه رح خو مالدار او شته من شخص دی بیا هم په مزدوری کې علم کاوه د علما کرامو سره ئی ناسته ولاړه کوله علم به ئی زده کاوه بل اخره الله ﷻ غټ اوچته مرتبه ورکړه بیا کله چې هارون الرشید د هغه کمالات او لیاقت ولیده نو قاضي قضاد ئی مقرر کړ بل اخره سنه ۱۸۲ ه لدی فاني دنیا نه جامي بدلې کړی.

۳ امام محمد رحمت الله امام محمد بن حسین شیباني به سنه ۱۳۵ ه د ورشد شهر کې بیداشوی کله چې ځوان شو کوفی ته د علم حاصلولو لپاره راغی لویو محدیثنو نه ئی علم

(c) ketabton.com: The Digital Library



حاصل کړو د ابوحنیفه رح نه ئی د فقی علم زیات حاصل کړو نور علم ئی امام یوسف رح نه زده کړو په شلوکلوکی د علم عالی درجی ته ورسیده نوکله چی هارون الرشید د ده علمیت ولیده د قضا وظیفه ئی ورکړه او تل به ی خپل ځان سره کرځاوه کله چی په ۱۸۹ ه ری نومی ځای ته لاړه هلته ی اجل ته لبیک وویل نو خپله هارون الرشید په ډاکه اعلان وکړو چی نن ورځ می فقه او نحوه دواړه له لاسه ورکړل.

۴ امام احمد بن حنبل رح دی مبارک نه چا پوښتنه وکړه چی تا دا باریکه مسائل د چا نه او دکوم ځایه حاصل کړی دی ورته وئی ویل چی د امام محمد صاحب دکتابو نه.

فقها کرامو د اختصار لپاره کله کله هم دا الفاظ استعمالوی : صاحبین رح ، شیخین رح ، طرفین رح

صاحبین رح نه مراد ۱ امام یوسف رح ۲ امام محمد صاحب رح دی.

شیخین رح نه مراد ۱ امام اعظم رح ۲ امام یوسف رح دی.

طرفین رح نه مراد ۱ امام اعظم ۲ امام محمد رح دی.

چی د دی کتاب په بعضی بعضی مقاماتوکی هم دا الفاظ راوړل شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خلورم باب

## د طهارت(پاکوالی) باب

### د اودس او غسل فضیلت

اودس د نورو امتونو لپاره وه او که نه وو ؟ اکثره علما کرام وائی چی وه.

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمایلی چی کله مسلمان اودس کوی او خپل مخ ومینځي نو د سترکو کناه ئی لری شی د اوبو په آخری قطری سره همداسی چی دواړه لاسونه ومینځي د اوبو په آخری قطری سره ئی کناهونه لری شی کله چی دواړه پښي ومینځي کناهونه ئی د اوبو په آخری قطری سره لری شی د اوداسه آخر کی اودس کوونکی د کناهونو نه صاف او پاک ووځی چی دلته د کناهونو نه مراد صغیره کناهونه دی لکه پردی ښځي ته کتل د لاس کناه په بد نیت وروړل د پښو کناه لپاره د قدم اخیستل دی (رواه دورمختار شامی مشکوة) .

حدیث شریف : حضرت انس رض فرمائی چی ما لس کاله د نبی کریم ص خدمت کړی ده هر وخت به نبی کریم ص ماته ویل چی ای انس رض تل به جنابت کی مبالغه (کوشش) کوه چی ښه پاک شی چی داسی غسل نه راووزی لکه څنکه چی تا هیڅ کناه نه وی کړی البته صغیره کناه . مبالغی نه مراد دا دی چی غسل کی به کوشش دومره کوی چی یو ویښته دی وچ پاتی نه شی (رواه ابوعلی)

### د اوداسه فرائض

الف په اوداسه کی داسی شیان شته چی پریښودل شی یا څه کمی پکښی راشی اودس ئي نه کیږی چی هغه ته د اوداسه رکن یا د اوداسه فرض ویل کیږی.

ب بیا ځینی داسی شیان په اوداسه کی شته چی په پریښیدو ئی اودس کیږی لیکن په کولو کی ثواب دی او په نه کولو کی ئی عذاب دی چی د اوداسه سنت دی.

ج او بعضی شیان په اوداسه داسی دی چی په نه کولو کی نه عذاب او نه کناه شته چی

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه مستحبات دی.

مسئله د اوداسه فرضونه څلور دی . ۱ د مخ مینځل ۲ د دواړو لاسو مینځل تر څنکلو پوری ۳ د سر مسحه څلورمی حصی پوری ۴ د دواړو پښو مینځل تر بجلکو پوری (رواه بدایع الصنایع)

مسئله د مخ مینځل د سر د ویښتانو د شنه کیدو نه زنی لاندی پوری او د یوه غوږ د نرمی نه د بل غوږ نرمی پوری ، د دواړو لاسو مینځل تر څنکلو پوری چی څنکل هم پکښی شامل دی ، د سر مسح د سر څلورمه حصی پوری ، د ټول سر مسحه کی هم فرض اداکیږی او هم سنت اداکیږی همدارنکه د دواړو پښو مینځل تر بجلکو پوری چی بجلکی هم پکښی شامل دی (رواه شرح التنویر، شامی ، بحر رائق)

## د اوداسه سنتونه

په اوداسه کی ۱۴ سنتونه دی ۱ نیت کول ۲ په شروع د بسم الله ویل ۳ دواړه لاسونه تر مړوندو مینځل ۴ د هری عضوی مینځل دری دری کرته ۵ مضمضه یعنی خوله کنکالول ۶ استنشاق یعنی پوزه مینځل ۷ مسواک وهل ۸ د کیری خلالول ۹ د ټول سر مسح کول ۱۰ د دواړو غوږو مسحه کول ۱۱ د لاسونو د کوتو خلالول ۱۲ د پښو د کوتو خلالول ۱۳ ترتیب ده په اوداسه کی ۱۴ د اعضاو مینځأ پرله پسی (رواه دورمختار و شامی)

مسئله که د اوداسه اوبه لږ وی د مضمضی او استنشاق سره ئی د اوداسه فرض اداکولی یعنی مینځلی شو دری دری واری مینځل کیده نو صحیح خبره ده (رواه شرح التنویر)

مسئله د مسواک استعمال دی چی د خولی د غاښو ښی خوا نه شروع کیږی د غاښو دواړو طرفو نه د خولی مابین ته حتی تالو ته بـه مسواک رسول کیږی در صورت چی روژه دار نه وی نو هر کرت به مسوالک لمدوی مسواک یوی لویشتی نه زیات نه وی د مسواک نیولو کی به غچه او غټه کوته لاندی کوی منځنی دری واړه کوتی به پری د پاسه وی غاښونه به پری مینځي (رواه دورمختار و شامی)

مسئله که ئي ږیره لویه وه مخ به دری واری ومینځي د خپلی ږیری خلال هم وکړی نو دا یوه سنت طریقه ده او که احرام ئی تړلی وی نو بیا ورته د ږیری خلالول مکروه ده چی کوم ویښته ورنه ونه وزی (رواه المنتقی)

مسئله که د سر د مسح وخت کوتی په پټکی ولکیدی یا په ټوپی ولکیدی د غوږو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسحی لپاره خپلی کوتی بیا په اوبو لمدی کړی (رواه شرح منیه)

مسئله دکوتو خلالول هم سنت دی حتی مینځلوکی به اوبه دکوتو منځ ته رسوی اوکه نه دکوتو منځ ته اوبه نه وی رسیدلی نو بیا خلالول ورته فرض دی باید اوبه ورته ورسیږی (شرح التنویر)

مسئله په اوداسه د اندامونو پی در پی مینځل سنت طریقه ده یعنی یو اندام چی مینځي باید بل اندام ورپسی متصل ومینځل شی وقفه پکښی رانه شی چی وروستی اندام اوبه وچی نشی داسی هم نه چی خپل اودس ژر ژر وکړی او اندامونه ورنه کډوډ پری ولل شی (تنویر الابصار)

## د اوداسه مستحبات او مکروهات

په اوداسه کی ۱۵ مستحبات دی ۱ قبلی ته مخ کول ۲ په اوچت ځای کیناستل ۳ پوزه په چپ لاس پاکول ۴ دکوتو شورول ۵ په مینځلوکی اول په اندام د لوند لاس کش کول بلخصوص ژمی کی ۶ د مینځلو وخت کی د اندامونو موښل ۷ بی ضرورته دنیوی خبری نه کول ۸ په خپل لاس اودس کول ۹ اودس په اطمنان کول ۱۰ په مینځلوکی ښه غورکول ۱۱ د ښټ مسحه او غوږ مسحه کولوکی د غوږ سوری لمدول ۱۲ خپی په چپ لاس مینځل ۱۳ د خپو دکوتو خلالول د چپ لاس په غچه کوته باندی ۱۴ د هر اندام په مینځلوکی بسم الله اوکلمه شهادت ویل یا منقوله دعاکانی به وائی (شامی و مجمع الانهار)

مسئله د ژمی موسم کی په هر اندام مخکی د مینځلو نه لوند لاس تیرول دی ځکه چی ژمی کی بدن وچ وی مسامات بندوی هغه ژر اوبه نه تیروی او نه ئی اخلی (رواه بحر رائق)

مسئله د اوداسه وروسته د اندامو وچول په دسمال باندی جواز لری لیکن د استنجا په ټوټه به نور اندامونه نه وچوی (رواه قاضی خان)

یادونه په جومات کی او پلیت جای کی اودس کول مکروه ده.

مسئله یو اودس چی ترکومه پوری چی باقی وی باقی ټول منځونه وربانندی کولی شی بیا نو چی څوک اودس په اوداسه کوی بهتره خبره ده اوکه چیری اولنی اودس ئی لمونځ نه وی کړی بل اودس ورته اصراف دی ندی کوی (رواه شامی)

مسئله که اودس کوونکی د دریاب په غاړه هم وی د ډیرو اوبو استعمالول ورته اصراف دی لکین کمی دی هم نکوی په اوداسه کی په مخ اوبه په څپیړه نه اچوی د ښځي د اوداسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په بقایا اوبو اودس کوی ندی پکار په اوبوکی توکول وغیره وغیره هم ندی پکار دا ټول مکروه دی (رواه شرح تنویر و ردمختار)

## د اودس کولو طریقه په مسنونه شکل سره

په اوداسه کی به په لوړ ځای کینی جامی به ښی راټولوی اول به بسم الله ووائی بیا به نیت وکړی هر اندام به په ترتیب دری دری واری ومینځي مسواک به استعمال کړی بی د ضرورت نه به خبری اوداسه کی نه کوی لاړی او د پوزی شیان به په اوبوکی نه اچوی د سر د مسحی نه وروسته به د لاسونو دکوتو په شا د خپل څټ مسحه وکړی په آخرکی به یو موټی اوبه واخلی هغه به وڅښي کلمه د شهادت به ووائی الله ﷻ ورته صغیره ګناهونه که د سمندر په شان وی هم ورته بخښی ئی (رواه تحطاوی)

الهی بهشت بی دیدار تو زندان است
زندانی را بزندان بردن کارکریمان است
الهی اکر به دوزخ ما را فرستی دعوا دارنیستم
و اکر به بهشت فرمائي بی جمال تو خریدار نیستم
یا رب ز شراب عشق خود سر مستم کن
وزعشق خودت نیست کن وهستم کن

## په هغو شیانو چی اودس ماتیږی

په هغو شیانو چی اودس ماتیږی ۹ شیان دی لکه : ۱ د وړو یا لویو بولو د ځاینه څه وتل بی د هغه نه چی باد د مخی ووزی ۲ د بدن نه وینه یا ژوه یا بله څه وتل دی یا بهیدل ۳ په ډکه خوله قی کول ۴ په یوه ډډه خوب کول ۵ په لمانځه کی د بالغ په قهقه سره خندا بی له جنازی لمانځه نه ۶ بی هوشی ده ۷ شکر ۸ لیونتوب ده ۹ مباشرت فاحش.

مسئله که د وړو بولو لویو بولو اوکوم باد چی د شا د خوانه ووځی اودس پری ماتیږی همدارنګه که دواړو لارو نه چینجی یا بل شی راووت اودس پری ماتیږی اوکه چیری د وړو بولو د لاری نه باد ووځي چی اکثره وخت مریضی کی دا حال راځي پدی سره اودس نه ماتیږی همداسی د غوږ یا پوزی نه چینجی راووت اودس ئی نه ماتیږی همداسی که د بدن له دانی یا زخم نه جینجی راووت وغورځیده یا د پرهر نه څه غوښه جدا شوه اودس پری نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماتیږی در صورت چی د زخم نه څه نه وی بهیدلی (رواه دورمختار دارالمنتقی)

مسئله که د زخم نه لږ غوندی وینه راووتله او خاوره ئی پری واچوله یا ئی په څه شی پاکه کړه او بیا لږ لږ وینه ورنه وتله بیا ئی خاوره پری واچوله یا ئی پاکه کړه بهیدو ته ئی پری نښوده اوکه دغه وینه پریښی وای او بیا هغه بهیدلای وای نو اودس ئي مات شو اوکه د بهیدو نه وی نو اودس پری نه ماتیږی (رواه شرح التنویر او منیه)

مسئله که چا پوزه سوڼ کړه د وینی ټوټه ورسره ولویده وینه ونه بهیده اودس ئی نه ماتیږی.

مسئله که چا لاړی توکړی وینه پکښی معلومه شوه دلته به دری حالاته وی چی یا به وینه لاړو سره برابره وی یا به زیاته وی یا به کمه وی دلته که وینه برابره یا زیاته وی اودس ئی مات شو اوکه وینه لاړو نه کمه وه نو اودس ئی نه ماتیږی (رواه شامی و مراقی الفلاح )

مسئله که چاقی وکړو طعام یا ټرخی اوبه یا هسی اوبه راوغورځیدی پدی اودس ماتیږی دا که په ډکه خوله وی یا کمه وی. که په ډکه خوله نه وی اوکم وه نو اودس پری نه ماتیږی اوکه په قی که بلغم ولویده هم اودس پری نه ماتیږی (رواه هدایه)

مسئله که څوک ستونی ستغ یا په ډډه یا پر مخی پروت وه نو اودس ئی مات شو اوکه په ناستی ویده شو او دواړه کناتی ئی پر مځکه لکولی وه او په داسی شی ئي تکیه ایښی وه چی د هغی په لری کولو سره وغورځیده نو اودس ئی مات شو اوکه د شی په لری کولو ونه لویږی نو اودس ئی نه ماتیږی لیکن اختلاف د علماو پدی کی شته (رواه هدایه)

مسئله که په ولاړی، ناستی، رکوع یا سجده کی ویده شه نو پدی سره اودس نه ماتیږی او که ښځه په لمانځه کی په سجده کی ویده شوه اودس ئی ماتیږی (رواه ردمختار)

مسئله که څوک په ناستی ویده شو په دی ویده کیدوکی ځنکیده ځنکیده او تاو شو او ځمکی ته ونه رسیده له رسیدو مخکی بیدار شو اودس ئي مات ندی اوکه مځکی ته ورسیده لږ غوندی وروسته بیدار شو داسی حال کی اودس ماتیږی (رواه شامی وکبیری)

مسئله که چا په لمانځه کی قهقه وکړه او شاوخوا ئی دا خندا واوریده د قهقه کوونکی اودس مات شو لمونځ ئي هم مات شو قصداً وی اوکه سهواً ښځه وی یا مردانه وی لیکن بیرون د لمانځه نه په خنده قهقه سره اودس نه ماتیږی (رواه هدایه)

مسئله په لمانځه کی د نابالغ هلک یا نجلی همداسی د جنازی لمانځه کی بالغ یا صغیر په قهقه خندا وکړه داسی حالاتوکی اودس نه ماتیږی لیکن لمونځ او سجده تلاوت ماتیږی

(c) ketabton.com: The Digital Library



(دورمختار و منیه)

مسئله که اودس کول چاته په یاد وی او د اودس ماتیدل ئی یاد نه وه چی یا زه اودس لرم اوکه می اودس مات شوی دی نو اودس ئی پر ځای دی لیکن کول ئی بهتر دی (رواه کبیری)

مسئله که پس د اوداسه نه ئی د زکر په سر باندی لوندوالی ولیده شک وه ورته چی دا متیازی دی اوکه اوبه نو که کمان ئی متیازو راغی اودس به وکړی اوکه د اوبو راغی نه به ئی کوی.

مسئله که د وړو بولو قطره ذکرکی راغله خارج نشوه اودس ئی نه ماتیږی اوکه د ښځي قطره فرج نه راووتله نو اودس ئی مات شو (رواه شرح تنویر و ردمختار)

مسئله که د چا د لویو بولو ځای نه دکلمی څه حصه ووتله نو اودس ئی مات شو (رواه دورمختار)

## غسل او د غسل اقسام

غسل پر څلور قسمه ده فرض واجب سنت او مستحب غسل

۱ فرض غسل په دری صورتوکی غسل پر مسلمانانو فرض کرځي لکه په جنابت کی او په بندیدو د حیض او نفاس کی غسل فرض کرځی.

۲ واجب غسل په څلورو صورتوکی غسل واجب کرځی (الف) کافر چی مسلمان شی او هغه په جنابت کی (ب) مسلمان مړی ته په ژندیو غسل ورکول واجب دی (ج) کله چی په ټول بدن نجاست ولکیږی غسل پری واجبیږی (د) کله چی په بدن نجاست ولکیږی او ځای ئی معلوم نه وی نو غسل پری واجب شو (دورمختار و ردمختار) .

۳ سنت غسل پر څلورو حالاتوکی غسل سنت کرځی لکه په (الف) د جمعی د ورځی غسل (ب) د اخترو د لمانځه غسل (ج) د حج او عمری لپاره غسل سنت طریقه ده (د) د وقوف عرفی او وقوف مزدلفی لپاره غسل کول بیا سنت طریقه ده (رواه دومختار و ردمختار)

۴ مستحب غسل په ۲۵ حالاتوکی غسل مستحب کرځي ۱ کوم هلک یا نجلی چی بلوغ ته ورسیږی ۲ کافر چی مسلمان شی او هغه جنوب نه وی ۳ د لیونتوب او بی هوشی چی فارغ شی ۴ د خکر لکولو وروسته غسل کول ۵ د شب قدر د میاشتی ۱۵ شپه کی ۶ د لیلته

(c) ketabton.com: The Digital Library



القدر شپه چی څوک ووینی ۷ د مزدلفی قیام لپاره ۸ د عرفی په شپه کی ۹ د رمی جماد (شیطان ) ویشتلو لپاره ۱۰ مکی شریفی داخلیدو لپاره ۱۱ طواف زیارت لپاره ۱۲ مدینی منوری ته داخلیدو لپاره ۱۳ د استسقا لمانځه لپاره ۱۴ د خسوف کسوف لپاره ۱۶ د ویری وخت کی ۱۶ د سختی سیلی او طوفان وخت کی ۱۷ کوم وخت چی ورځ تیاره شی ۱۸ د نوو جامو اغوستلو لپاره ۱۹ عام مجلس ته د ورتلو لپاره ۲۰ څوک چی مړی ولمبوی ۲۱ څوک چی کناه نه توبه وباسی ۲۲ څوک چی سفر نه راشی ۲۳ څوک چی قتل کیږی ۲۴ کوم وخت چی د مستحاضی وینه ودریږی ۲۵ کوم وخت چی د سړی احتلام وشی او بیا غواړی چی ښځي سره یوځای شی په پورته ۲۵ حالاتو کی سړی باندی غسل مستحب کرځي (رواه دورمختار و ردمختار)

## د جنابت بیان او مسائل ئی

د جنابت لپاره دوه سببه دی. ۱ یو سبب ئی دخول د حشفی ده چی د مشتهی انسان حشفه چی د ژوند ښځي په قبل یا دُبُر کی داخله شی اکر که منی وتلی وی یا وتلی نه وی نو غسل پری فرض شو دلته که دواړه عاقل او بالغ وه یا داچی یو پکښی عاقل او بالغ وه نو په یوه غسل فرض شو داځکه چی څوک عاقل او بالغ نه وی غسل وربانـدی نه واجبیږی (رواه دورمختار و شامی)

۲ دوهم سبب ئی انزال دی یعنی چی منی د خپل اصلی ځای نه په شهوت سره جدا شی او هغه خارج شی که هغه په جماع سره وی یا صرف په خیال او تصور سره وی که هغه په خوب کی وی یا په ویښه کی وی نو په هغه باندی غسل لازم شو (رواه منیه و خانیه)

مسئله که د چا دواړو بولو نه وروسته پداسی حال کی چی ذکر ولاړ وه منی ووتل نو غسل پری فرض شو (رواه بحر رائق)

مسئله که د چا انزال وشو بیا ئی متیازی وکړی یا ئی څلویښت قدمه واخیستل یا اوده شو بیا ئی غسل وکړو وروسته د غسل نه ئی بی شهوته منی ووتل پداسی حال غسل پری نه لازمیږی (رواه شامی)

مسئله که غسل نه مخکی او انزال وروسته چی ده نه خوب کړی وی او نه ئی متیازی کړی وی او نه ئی څلویښت قدمه اخیسته وه او ده غسل وکړ د غسل نه پس بی شهوته منی ووتل غسل پری بیا لازم شو اعاده ئی ضروری ده اوکه ئی په اول غسل باندی لمونځ کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



وی د لمانځه اعاده پری نشته (رواه شامی)

فایده د شوق وخت‌کی چی چانه منی ، ودی ، مذی ووزی دا دی شهوت د زیاتیدو علایم دی د مذیو وتل شوق‌کی د شهوت د زیاتوالی سبب‌کرځي چی په ښځوکی زیات وی د منیو وتل په ختمیدوکی شوق مړ شی.

بل فرق ئی دا ده چی منی ټینک وی مزی اوبزن او سریښ ناک وی ودی د پیو په شان وی چی د متیازو وخت‌کی وروسته ځی په مذیو او ودیو غسل نه واجبیږی (رواه مراتی فلاح)

## د غسل کولو طریقه

څوک چی د غسل اراده وکړی اول د غسل نیت به داسی وکړی (نیت‌کوم چی غسل وکړم چی بی اودسی رانه لری او لمونځ ماته رواه شی) بیا به د تبرک لپاره زړه‌کی بسم الله الرحمن الرحیم ووائی بیا به دواړه لاسونه تر مړوند پوری دری واری ومینځي استنجا به وکړی بیا به‌کومه پلیتی چی په بدن لګیدلی وی هغه به ومینځي بیا به وړکی اودس پوره وکړی وروسته د وړکی اودس نه به خوله دری واری ومنیځی پوزه به هم دری واری ومنیځی ۱ به اوبه په ښی اوړه بیا اوبه په خپل سر باندی بیا اوبه په چپه اوره واچوی خپل ځان شه وموږی د غوږو مابین او د نامه منیځ‌کی به‌کوته ووهی‌که‌کوتی ساعت او بنکری په لاس وی هغه به ښه وشوروی چی د هغوی لاندی یوه زره ځای وچ پاتی نشی په پوره شکل به د اوبو استعمال دری واری تکرار‌کړی چی ټول بدن ته ئی اوبه ورسیږی حتی چی یو ویښته هم وچ پاتی نشی دارنکه غسل‌کول یوه سنت طریقه ده (رواه دورمختار و شامی)

## د غسل فرضونه

په غسل‌کی دری فرضونه دی ۱ ابتدا د غسل‌کی د خولی‌کنکالول دری واری چی ټوله خوله لمده شی بی له روژی نه اوبه خوله‌کی باید غړ غړ شی چی ستونی ته ورسیږی ۲ په پوزه باندی اوبه تیرول حتی چی د پوزی منځ هم لوند شی ۳ د ټول بدن مینځل چی ټول بدن لوند شی او یو ویښته ئی وچ پاتی نشی (رواه هدایه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د غسل سنتونه

په غسل کی څلور سنتونه دی ۱ استنجا کول ۲ کوم حقیقی نجاست په بدن لکیدلی وی د هغه لری کول ۳ د ټول بدن دری دری واری مینځل لکه اول به په ښی اوږه بیا په سر بیا په چپه اوږه اوبه اچوی خپل ځان به ښه وموږی دا عمل دری واری تکرارکړی ۴ د اوداسه غوندی د بسم الله ویل نیت کول مسواک وهل خلال کول او شه موږل د بدن دی (رواه دورمختار و شامی)

مسئله که غسل کوونکی په جاری اوبو کی یا باران کی په قدر د اودس کولو یا د غسل کولو په اندازه حصار شه او ټول بدن ئی لوند شو اوبه پری روانی شوی غسل ئی وشو (دورمختار و شامی)

مسئله که غسل کی چا خوله کنکال نکړه او ده په ډکه خوله اوبه چښلی وی نو غسل ئی کیږی.

مسئله ښځی لپاره ضروری دی چی په غسل کی بنکړی کوتی او لښتی شی وښوروی چی لاندی اوبه ورته ورسیږی اوکه ارت وی بیا ئی شوررولو ته ضرورت نشته (رواه شرح تنویر)

مسئله که چا د اختر یا د جمعی په ورځ غسل کاوه البته د جنابت نو په یوه نیت کیږی (رواه فتاوه)

مسئله که په ښځه د جنابت غسل واوښت په لمبلو کی حیض ورباندی راغی یا دا چی ورغلی وه بیا ئي احتلام وشو نو دا به د حیض بندیدو وخت کی غسل کوی (رواه بحر رائق)

مسئله که څوک اودس ونه لری او جنوب هم نه وی نو د کلام ربی قرائت ورته باک نلری اوکه بی پوښه وی نو لاس به نه وروړی بهتره خبره دا ده چی قرانکریم لوستل او لاس ور وړل باید په اوداسه سره وی (رواه بحر رائق)

## په کومو اوبو اودس جواز لری

مسئله د باران، خوړ، چینی، لختی، کوهی او سمندر په اوبو اودس کول جواز لری که هغه اوبه خوړی یا ترخی وی یا واوره چی ویلی شوی وی نو اودس پری کیږی اوکه چیری مالکه ویلی شوی وی د مالکی په اوبو اودس نه کیږی (رواه دورمختار)

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسئله د ونو میوی یا د پاڼو اوبه په خوړکی وتلی وی همدارنکه د هندوانو ، کینو په اوبو اودس یا غسل کول جواز نلری اکر که نهرکی وی (رواه دورمختار و شامی)

مسئله امام محمد صاحب وائی چی مستعملی اوبه نجسی دی لکه د مړی اوبه اودس پری نه کیږی (رواه شامی و عالمکیر)

مسئله که چا اودس درلوده د تبرک لپاره ئی د آب زم زم په اوبو غسل یا اودس کاوه فرق نه لری اوکه په جنابت کی وه یا ئی اودس نه درلوده بیا ورته په آب زم زم غسل او اودس کول جائز ندی په ضرورت کی باک نلری (رواه طحاوی)

## د کوهی بیان او مسائل

په کوهی کی د ژور والی اعتبار نشته اوکه چیری کوهی لس د لسو نه کم وه او په هغه کی نجاست ولویده هغه ټول ناپاک شو نو ټولی اوبه به ئي باسی پاکیږی (رواه منیه)

مسئله په کوهی د کوتری زرکی چنچړی غول که ولویده د کوهی اوبه نه خرابیږی اوکه د کورنی چرکی یا هیلی غول کوهی ته ولویدل کوهی خرابیږی ټولی اوبه ئی ویستل کیږی همدارنکه که د سپی پشو غوا پسه یا وزی متیازی کوهی ته ولویدی ټول کوهی اوبه خرابیږی د ټول کوهی اوبه ویستل کیږی (رواه مینه وکبیری)

مسئله کوم حیوان لکه ماهلی چنکښه وغیره چی اوبو کی ژوندکوی یا کوم حیوان چی هغه وینه ونه لری لکه مچ میږی وغیره پدی سره اوبه نه ناپاکی کیږی لدی سوا که بل حیوان اوبو ته ولویږی او مړ شی بیا هغه وپړسیږی یا پکښی وچاوده یا وریژیده ټولی اوبه پری ناپاکیږی د کوهی ټولی اوبه ویستل کیږی (رواه هدایه و دورمختار)

مسئله که سړی وزه پسه یا سپی داسی بل حیوان کوهی ته ولویده او مړ شو د کوهی ټولی اوبه خرابی شوی ټولی به باسی یا بیرون مړ شوی وی چا هغه کوهی ته غورځولی وی هم ټول کوهی اوبه ناپاکی ټولی به باسی (رواه مینه و هدایه)

مسئله که د کوهی اوبه زیاتی وی د ټولو اوبو ویستل امکان نه درلوده داسی حالت کی به د کوهی خواکی د همدی کوهی په اندازه بل کوهی کینی د دی کوهی اوبه دومره باسی چی د هغه کوهی د اوبو ځومره پیمان وی (رواه منیه وکبیری)

مسئله کله چی کوم حیوان اوبو ته ولویږی هلته مړ شو یا مړ حیوان ورولوید بیا ئی هغه راوویسته او هغه نه چاودلی وه نه پرسیدلی وه او نه ریژیدلی وه اول به هغه حیوان ته وکتل

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي که کربوړی یا چنچړی مرغی یا داسی بل حیوان وه کوهی ته ولویده داسی حالت به د کوهی نه ۳۰ ډولچی اوبه کوهی نه راباسی اوکه نه ۲۰ ډولچی به ضروری راباسی اوکه چیری کوتره چرکه او پشو یا داسی بل حیوان کوهی ته ولویده نو داسی حالت کی بیا ۶۰ ډولچی اوبه به کوهی نه راباسی اوکه چیری وزه پسه یا بل دومره حیوان کوهی ته لویده داسی وخت د کوهی ټولی اوبه ویستل کیږی (دورمختار)

مسئله کوم حیوان چی کوهی ته ولویده ژوندی راوویستل شو او دا حیوان نجس العین نه وه اوبه پری نه خرابیږی او د کوم حیوان اوبه چی خولی ته تللی وی نو دلته به د جوټې حکم مدی نظر نیسو که ئی جوته پاکه وه اوبه ئی پاکی دی اوکه جوټه ناپاکه وه اوبه ئی هم ناپاکی دی اوکه چیری پسه وزه غوا یا اوښ یا بل داسی حیوان کوهی ته ولویده خولی ته ئی اوبه هم تللی وی او را وویستل شو ژوندی وه نو اوبه پاکی دی لیکن د احتیاط لپاره به ۲۰ ډولچی راوباسی چی د زړه تسکین پری وشی اوکه سپی یا داسی بل پلیت حیوان کوهی ته ولویده او خولی ته ئی اوبه ننوتلی بیا هغه ژوندی راوویستل شو نو د ټول کوهی اوبه پلیتې شوی ټولی راویستل کیږی. اوکه چیری پیشو یا ازاده چرکه کوهی ته ولویده بیا ژوندی راوویستل شو پدی حالت کی به (۴۰) ډولچی اوبه راباسی دا مسحب طریقه ده.

همدارنګه که جنوب سړی یا ښځه کوهی ته ولویده او په بدن حقیقی پلیتی نه وه بیا هغه ژوندی راوویستل شو داسی حال کی به ۴۰ ډولچی اوبه راباسی دا هم مستحبه طریقه ده او که کوهی ته خنزیر ولویده خولی ته ئی اوبه تللی وی یا نه وی تللی نو بیا هغه ژوندی راوویستل شو دی حالت د کوهی ټولی اوبه پلیتی دی ټولی اوبه باید وباسی.

مسئله که چیری ډولچه کوهی ته ولویده که چری د راویستونکی په بدن او جامه حقیقی ناپاکی نه وه او لوی صحراکشت ئی نه وه کړی بدن ئی پاک وه دی حالت دی که ډولچه غوټه کیدو باندی راوباسی اوبه پاکی دی صرف په نیت د ډولچی راویستلو وی اوکه ډولچه ایستونکی جنوب وه یا دا چی د لویو بولو استنجا په لوټه کړی وه یا ئی په جامو او بدن څه پلیتی وه ډولچه پسی غوټه کړه اوبه ناپاکی شوی د کوهی ټولی اوبه ویستل کیږی (رواه شرح تنویر)

مسئله که موږک کوهی ته ولویده راویستلو کی هغه نه پر سیدلی وی او نه خراب شوی وی که په هغه اوبو چا اودس کړی وی او لمونځ ئی کړی وه نو لمونځ به راګرځوی اوکه ئی په هغو اوبو ئی جامی مینځلی وی بیا به ئی ومینځي اوکه ئی کتغ اوبه اچولی کتغ به اوبو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



اچوی که چیری کوهی کی یوه شپه او یوه ورځ پری تیر شوی وی دا پورته حکم مطابق به چلن کوی او که چیری موږک یا داسی بل حیوان کوهی ته ولویده بیا هغه پړسیدلی او رژیدلی وه داسی حالت کی بیا دری شپې او دری ورځی تیری شوی دی لمونځ کوونکی به د دری شپو او دری ورځو لمونځونه راکرځی. امام اعظم په قول دی (رواه شرح تنویر او منیه )

مسئله که ناپاکه دوړه یا دوزی یوه یا دوه پچی په لږ مقدار کوهی ته ولویده او کوهی په ځنګله کی وه یا دا چی آبادی که وی همدارنګه د وزی یا میږی پچی د شیدو لوسلو کی یوه یا دوه پچی ولویدی او ماتی نشوی او پیو ته ئی رنګ هم نه وه ورکړی راوئي ویستلی نو شیدی پاکی دی (رواه دورمختار و شامی)

## د جُوټې بیان او مسائل

مسئله مسلمان وی او که کافر نر وی او که ښځه او که په حالت د جنابت حیض او نفاس کی وی داسی حالاتو کی د انسان جوټه پاکه ده او که چیری په خوله ئی یا ئی په لاس ظاهری پلیتې لکیدلی وی داسی حالت کی بیا جوټه ناپاکه ده لکه دا چی په خوله ئی شراب وی یا ئی خوله وینی شوی وی او دی اوبه وڅښی دی حالت کی اوبه جوټه ناپاکی دی (هندیه ، منیه و غنیه)

مسئله کوم حیوان چی حلال وی لکه وزه پسه غوا میشه هوسی وغیره د ټولو جوټه حلاله او پاکه ده همدارنکه د کوم پرنده لکه زرکه تارو طوطی صحرائی چرکه وغیره د داسی مرغانو جوټه هم پاکه او حلاله ده لیکن شرط دا ده چی په مشوکه ئی څه پلیتی نه وی او که په پلیتې ئی درلوده نو جوټه ئی ناپاکه ده (رواه شرح تنویر)

مسئله د لیوه کیدړی منزری شادو او نورو پدی شکل چی چیرل او ماتول کوی د ټولو جوټه ناپاکه ده همداسی د سپی جوټه هم پلیته ده کوم وخت چی سپی په کوم لوښی خوله ولکوی او وئی څټی نو هغه لوښی به دری واری او یا دا چی اوه کرته به هغه په اوبو ومنیځی یا به ئی په خاورو وموښی هم پاکیږی.

همدرانکه د پشو جوټه مکروه ده که نوری اوبه پیداکیدی د پیشو په جوټه به اودس نه کوی او که پیشو موږک خوړلی وه نو جوټه ئی پلیته ده.

همدارنکه پیشو که خوراکی کتغ جوټه کړو غریب او مسکین وه ودی خوری او که غنی وه هغه د نه خوری کوم غریب ته دی ورکړی او که پیشو د چا لاس یا بل ځای وڅاټه تر هغو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوري به اودس نه کوي چې تر څو ئې هغه ځاى مينځلى نه وي (رواه دورمختار و هدايه)

مسئله کوم مرغان چې ښکارکوي کورنې چرکې ، موږک ، مار ، چرمښکې وغيره حوتړه مکروه ده اوکوم حيوان چې وينه نلري لکه لړم مچ مچې ميږې وغيره د دې حيواناتو جوټه پاکه ده.

همدارنکه د نامحرمې ښځې نامحرم سړي ته او د نامحرم سړي نامحرمې ښځې ته جوټه مکروه ده داځکه چې ناجائزه لزت او خوند ورنه اخستل کيږي. نوکه چيرې د سړي خپله ښځه وه يا ئې خپلوان وه چې نکاح ورسره حرامه وي جوټه ئې پاکه ده که چيرې نوري اوبه ورته پيداشي اودس د پرې نه کوي (رواه درمنتقى و شامى)

مسئله د خره اوکچرې جوټه پاکه ده که چيرې نوري اوبه وي نو اودس به پرې نکوي او که چيرې نوري اوبه نه وي نو اودس دې پرې وکړي د اوداسه برسيره به تيمم هم وکړي (رواه مجمع الانهار)

مسئله که موږک دوړې نه څه ځاى وشکوي لازم او ضروري دي چې د هغه د شکولې ځاى شاوخوا برابر تړې لرې کړي (رواه دورمختار)

## د تيمم مسائل او بيان

کوم وخت چې اوبه يو ميل لرې وي او په استعمال ئې څوک قادر نه وي يا ورته معلومې نه وي داسې حالت شريعت جواز ورکوي چې د لمانځه لپاره تيمم وکړي او خپل لمونځ اداکړي (رواه منيه و دورمختار)

مسئله که لمونځ کوونکې آبادي که وه او د لمانځه وخت راغې طلب د اوبو ورته واجب دي اوکه په ځنکله يا دشته کې وه اوبه ورته معلومې نه وي نو بيا ورته حد د مسافې نشته تيمم به کوي او خپل لمونځ به اداکړي که څوک ئې وليده پوښتنه ورته ضروري ده (رواه زيلعى)

فايده د شرعي ميل اندازه (څلور) زره کزه شرعي ده يو شرعي کز ۲۴ کوتې يوه کوته شپږ کوتې ده (رواه شامى او عرف شندى)

مسئله که کوهې لاره کې وه اوبه ئې درلودې د راويستلو لپاره څه وسيله نه وي يا ورسره وه څاه غاړه ته ځناور پروت وه يا د څاه اوبه ناپاکې وي د اوبو وسيتلو نه عاجزه وه نو داسې حال کې ورته تيمم جواز لرې لمونځ به وکړي (رواه مجمع الانهار و دورمختار)

مسئله چاته معلومې وي چې هلته اوبه شته ليکن راوړلوکې خطره ده يا دا چې اوبه هلته

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پیسو خرڅیدی او ده سره روپی نه وی داسی حالاتو تیمم ورته جواز لری لمونځ به اداکوی (بحر رائق و ردمختار)

مسئله که یو سړی جنوب وه او ښځه د حیض حالت کی وه هلته یو مړی پروت وه او اوبو ته ضرورت پیداشو لیکن دلته اوبه کمی نو کوم سړی سره چی اوبه وی هغه به خپل ضرورت پری رفعه کړی اوکه شریکی وی یو بل ته به ئی بخشش کړی مړی ته به غسل ورکړی نو دواړه به تیمم ووهی خپل لمونځونه به اداکړی (شرح تنویر و ردمختار)

مسئله یو سړی جنوب وه دومره اوبه ورسره وی چی اودس پری کیده دی به وړکی اودس وکړی اوکه پدی اوبو پوره اودس نه کیده نو تیمم به وکړی لمونځ به اداکړی (رواه دورمختار و شامی)

مسئله که چا په تیمم لمونځ کړی وه وروسته ئی اوبه پیداکړی نو لمونځ به نه راکرځوی لمونځ شوی ده (رواه منیه)

مسئله تیمم یا غسل لپاره ضرور نه ده چی ووائی چی زه د تیمم د غسل لپاره یاد اودس لپاره کوم بلکه اول به اراده وکړی چی زه تیمم کوم د ناپاکی لپاره او د لمانځه لپاره یا به په عربی ووائی (نویت ان تیمم لرفع الحدث لحستباحة الصلاة) نو دا نیت د غسل او اودس لپاره کفایت کوی جدا جدا نیت ته ضرورت نشته (رواه عالمکیر)

مسئله که د چا دواړه لاسونه او دواړه پښي بندکی پری وی او مخ ئی زخمی وه داسی حالت کی مریض ته نه د اوداسه او نه د تیمم ضرورت شته هسی به خپل لمونځ کوی ( رواه ابوسعود بحر رائق)

مسئله که د سړی پر ځان دانی وی یا ئی بدن د نیم نه زیات زخم وه جنابت ورته پیښ شوکولای شی چی د لمانځه لپاره تیمم وکړی اوکه پر ځان ئی زخم وه روغ جای مینځلو باند زخم ته ضرر وه داسی حال هغه روغ ځای د زخم حکم پیداکوی تیمم به وکړی (رواه در ورد)

د تیمم شرائط : ۱ اسلام دی ۲ کوم شی چی تیمم سره منافی وی لکه حیض او نفاس د هغه بندیدل ۳ د اوبو نه معزورتیا ده ۴ طالب د اوبوکه چیری کمان ئی وه چی نږدی دی او تیمم ئی کاوه د اوبو نشتوالی په وجه ۵ نیت دی ۶ خاوره وغیره ۷ دهغه پاکوالی ۸ لاس په اکثره حصی سره مسحه کول دا پورته اته شیان د تیمم شرائط دی.

د تیمم ارکان : په تیمم کی ۲ رکنه یعنی دوه ضربه دی په یوه ضرب د ټول مخ مسحه کول

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی په دوهم ضرب د دواړو لاسونو مسحه کول دی تر څنکلو پوری

د تیمم سنتونه : ۱ د بسم الله ویل ۲ دواړه رغوی د کوتو په شمول په لوټه وهل ۳ د کوتو پراخ نیول ۴ په مخ راشکل ۵ شاته بوول ۶ پس د اوچتولو نه ټک وهل ۷ ترتیب دی یعنی اول به مخ بیا لاسونه مسحه کول ۸ ولا یعنی د وروستی اندام مسحه لمړی اندام نه موخر نه کول پی در پی والی دی. بعضی علما کرامو ۱ تیمم کول په لوته یا ځمکه ۲ د ږیری خلال ۳ اول د ښی لاس خلالول په کین لاس او د کین لاس په ښی لاس دی دا هم سنتو کی داخل دی (رواه من الدرالمختار وردمختار)

## ترتیب د تیمم

په تیمم کی اول نیت کول دی بیا د بسم الله ویل دی بیا به دواړه لاسونه په داسی حال کی چی کوتی پراخی نیولی وی پر لوټه یا مځکه یا د ځمکی د جنسه چی وی وهی پورته کړی ټک وهل دی بیا به ئی د مخ مخی او شاته به ئی کش کړی بیا دی اوچتی کړی بیا به دواړه لاسونه پرمځکه ووهی تک به ئی ووهی دواړه لاسونه به پری مسحه کړی (رواه شرحه مینه الکبیر)

### صحت د تیمم

تیمم په لوټه یا مځکه ، خلال د ږیری ، د شی لاس مخکی مسحه کول چپ لاس نه سنت طریقه ده.

مسئله د ځمکی سیوا چی داسی شی هغه د ځمکی د جنسه وی او پاک وی تیمم وربانَدی جواز لری لکه خاوره شکه چونه رانجه وغیره دا چی د مځکی د جنسه نه نوي لکه وسپنه سره زر سپین زر غنم لرکی دانی وغیره پداسی شیانو تیمم جواز نلری او که چیری پدی شیانو د وړی خاوری پری پرتی وی نو بیا تیمم پری جواز لری همدارنکه په تیکه یا له جنسه د تیکی که هغه بالښت یا بل شی وی تیمم پری جواز نلری او که د وړی او خاوری پری پرتی وی نو بیا تیمم پری جواز لری (رواه منیه و بحر)

مسئله د جمعی د لمانځه او د اخترو د لمنځو لپاره تیمم جواز نه لری د جمعی لمانځه لپاره دی اودس حتمی وکړی خیردی که لمونځ ورنه فوت شی خپل د ماسپشین لمونځ به وکړی (رواه بحر رائق)

اوکه د اختر لمانځه کی اودس مات شی نو تیمم کولای شی (رواه هدایه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسئله د جنازې لمونځ تيار وه يقين ئې وه چې تر څو زه اودس کوم لمونځ رانه ځې نو تيمم ورته جواز لرې او که وروسته بله جنازه راغله بيا ئې يقين وه چې تر څو زه اودس کوم جنازه لمونځ رانه ځې بيا هم ورته تيمم جواز لرې ليکن په تير تيمم به د دې جنازې لمونځ نه اداکوې بيا به تيمم وهې.

مسئله که چا د تلاوت لپاره اوبه نه وې حتمې به د تلاوت لپاره او هم لاس وروړو لپاره تيمم ووهې ليکن پدې تيمم لمونځ نشې کولاې (رواه دورمختار)

مسئله په يوه تيمم چې اوبه نه وې څومره فرضې لمونځونه چې اداکوې اداکولاې ئې شې همدارنکه د نفلو واجبو او سنتو حکم هم دې (رواه هدايه)

## پر موزو باندې مسحه کول

د څرمنې هغه موزې چې پښې ئې تر شنکرو پورې پټې کړې وې هغه ته موزې ويل کيږې څوک چې درې يا څلور ميله منزل مخ کې ولرې کولاې شې چې پر موزو باندې مسحه وکړې (رواه مجمع الانهار)

مسئله نارينه او ښځه ته چې موزې ئې پر پښو وې اوداسه کې کولاې شې چې مسحه وکړې مسافر لپاره درې شواروزه او مقيم لپاره يو شواروز جواز لرې چې مسحه وکړې کله چې وخت کې پوره کيږې موزې به اوداسه ته باسې د خپو مينځل ورته واجب طريقه ده (رواه دورمختار)

مسئله که چيرې اودس ئې وکړو موزې ئې پښو کړې اودس ئې لامات نه وه خوب پرې راغې ويده شو نو د مسحې موده ئې د خوب د اول حصې نه شروع کيږې د بيداريدو نه (رواه شامې)

مسئله په موزو باندې د مسحې سنت طريقه دا ده چې د خپلو لاسونو کوتې لمدې کړې بيا به ئې د پښو د کوتو د پاسه په ښې پښه ښې لاس او په چپه پښه په چپه لاس کيژدې بيا به خپلې کوتې د پرکونو د پاسه تر پنډيو پورې راکش کړې د لاسونو د رغو اښودل د کوتو سره په موزو باندې غوره ده يو وار به مسحه کوې (رواه مينه)

مسئله په مسحه کولو کې کوتې داسې لمدې شې چې اوبه ورنه وڅاځې بيا به ئې رغوو سره کوتې پر موزو راکش کړې.

مسئله پر موزو باندې په بر هم مسحه جواز لرې او په لاندې برخه جواز نلرې (رواه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دورمختار و منیه)

مسئله پر موزوکم دکمه پر دری کوتو مسحه کول فرض ده. په کمو باندی مسحه نه صحیح کیږی اوکه د مسحی پرځای ئی دری کوتی لمدی کیشودی هم صحیح ده مسحه ئی وشوه (رواه شرح تنویر)

مسئله که د چا په باران یا شبنم کی موزی لمدی شوی هم مسحه ئی کیږی (دورمختار)

مسئله په جورابو مسحه جواز نلری اوکه د پخی په اندازه څرمن پری کنډل شوی وی بیا جواز لری (رواه شرح تنویر)

مسئله که موزه د دوه کوتو په اندازه څیری وه او پښه ورنه ښکاریده مسحه پری جواز نلری اوکه د دووکوتو کمه څیری وی مسحه پری جواز لری (رواه مینه)

مسئله په کوم شی چی اودس ماتیږی مسحه هم پری ماتیږی بل دا چی کوم وخت موده پوره شی مسحه ماتیږی کوم وخت ئی چی موده پوره شوه موزی به باسی خپلی پښی به مینځی نوی اودس ته ئی ضرورت نشته (رواه دورمختار)

## پر پټی باندی مسحه کول

مسئله که د چا نوک پری شوی وه یا ئی پخه چاودی وه په هغه ئی وازده یا بل شی ایښی وه او لری کولو ئی ضرر رساوه او هغه د پاسه به اوبه وبیوی اوکه اوبه ضرری وی نو مسحه به پری وکړی یا ئی که بدن زخم یا دانه وه اوبو ورته ضرر رساوه نو مسحه به خپل خوک ځای کولای شی (رواه مینه)

مسئله په پټي هغه وخت مسحه جواز لری چی اوبه ورته ضرر رسوی او مینځل ورته مُضر تماميږی نو لوند لاس به پری راکش کړی اوکه لاس کش کولو ضرر رساوه مسحه به پری وکړی (رواه قاضی خان بحر رائق)

مسئله که بدن زخم وه او پټی ئی پری لکولی وه اوداسه کی د پټي لری کولو نقصان رساوه د پټی برسیره به مسحه وکړی اوکه مینځلو ورته نقصان نه رساوه پټی به لری کړی ودی مینځي (رواه دورمختار)

مسئله که چا اودس درلوده پټی ورنه ولویده او زخم ئی جوړ نه وی نو خپله پټی به وتړی پخوانی مسحه صحی ده اوکه زخم ئی جوړ وه او پټی ورنه ولویده مسحه ئی ماته شوه مینځی به ئی (رواه کبیری)

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسئله معزور ته په موزو باندی مسحه جائز ده اوکه نه ؟ پـه‌کوم وخـت چـی ده اودس کړی وی بیا ئی موزی پر پشوکړی وی په دومره ساعت‌کی به دننه بـه څـه وخـت هغـه عـزر چی دی دکوم عزر په وجه معزور شوی وی یا مخکې شوی وی نوکـه د لمانځـه وخـت‌کـی دننه دننه ورته بله څه خبره د اودس ماتوونکی پیشه شوه او د هغه په وجه ئی اودس‌کـاوه او د لمانځه وخت لا پاتی وه مسحه به‌کوی‌که د لمانځه د وخت په تلو سـره څرنکـه چـی د ده اودس ماتیږی مسحه ئی هم ماتیږی نـو چـی د وخـت تلـو نـه وروسـته چـی دی اودس‌کـوی خپی به هم مینځی اوکه هغه ساعت دننه دننه ورته عزر وه پیش شوی نو د وخت به تلو سـره اکرکه د ده اودس ماتیږی خـو مسـحه هـم ورلـه جـایزه ده لکـه چـی سړی مسـافر وی دری شواروزه اوکه مقیم وه یو شواروز ده (رواه دورمختار و شامی)

## د معزور بیان

که د چا په بدن په‌کوم ځای داسی زخم وه چی تل تـری وینـه بهیـده یـا ئـی پـوزه داسـی ماته شوه چی روانه وه او یـا د وړو بولـو مریضـی وه چـی تـل ورنـه څـاڅکی وتـل یـا داسـی ناجوره وه چی هر وخت ورنه باد خارجیده یا ښځه داسی ناجوړه وه چی په حیض‌کـی هـر وخت وینه ورنه روانه وه یا د چـا غـوږ خـوږ وه هـر وخـت ورنـه ژوه روانـه وه وتلـه او ده بـه لمانځه‌کی دومره وخت نه مونده چی د اودس‌کولو په اندازه ئی وخت قدری فرض پکښـی پوره‌کړی او خپل لمونځ پکښی اداکړی داسی‌کسانو ته معزور ویلـی شـی نـو د معـزور حکـم دا دی چی هغه دی د هر فرض لمانځه لپاره اودس وکړی د ده اودس به ترکومه وختـه چـی د لمانځه وخت پاتی وی اودس به ئی هم پاتی وی

که معزور سړی د ماسپښین لمانځه لپاره اودس وکړو او د ده د بدن نه د ماسپښین تـر اخـره پوری څومره وینه یا ژوه وبهیده نو د ده اودس بـاقی دی‌کلـه چـی د مـازدیکر وخـت داخـل شـو نـو د ده اودس چـی د ماسپښـین لمانځـه لپـاره ئـی‌کـړی وه هغـه اودس ئـی مـات شـو د مازدیکر اودس به وکړی

مسئله معزور به د هر لمانځه لپـاره اودس تـازه‌کـوی پـدی اودس‌کـولای شـی چـی خپـل قضائی فرض لمونځونه نفل او تلاوت دکلام ربی پری وکړی (رواه هدایه)

مسئله هغه وخت سړی ته معزور ویلی شی چی د لمانځه پـه اداکولـوکـی یـا د لمانځـه د اداکولو په اندازه د ده بـدن نـه وینـه یـا ژویـه جـاری وی مـثلا د یـو وخـت لمانځـه لپـاره ئـی

(c) ketabton.com: The Digital Library



اودس وکړ د بدن نه ئی وینه یا ژوه جاری وه یا دا چی په لمانځه‌کی یا دا چی د لمانځه او اودس ترمینځ ده نه وینه یا ژوه جاری وه نو همدا یو اودس د یو وخت لمانځه لپاره‌کافی دی‌کوم وخت چی د بل لمانځه وخت داخل شو د ده اودس هم مات شو بل اودس تازه کوی هغه وخت د معزوریت نه ووت چی د یوه لمانځه وخت د ده زخم نه وینه یا ژوه لاړه نشی (رواه دورمختار و شامی)

مسئله‌که د مریض داسی زخم وه چی وینه ئی جاری وه لاندی یا برسیره ئی ټوټه واچوله هغه ټوټه بیا د لمانځه مخکی بی نمائحه شوه خیردی لمونځ دی اداکړی د همدی یو وخت لمونځ ئی کیږی (رواه خلاصة الفتاوا و دورمختار)

مسئله د معزور اودس تر هغه وخته پوری اودس ثابت وی چی‌کوم وخت د بل فرض لمانځه وخت داخل شی‌کله چی د بل فرض لمانځه وخت داخل شو نو د معزوره اودس ماتیږی‌که فرضا چا د سحر د لمانځه لپاره اودس وکړوکله چی لمر راوخوت نو د سحر اودس ئی مات شو د لمر ختلو وروسته بل څه د سهار په اودس نشی‌کولای

که چیری معزوره د لمرختلو وروسته اودس وکړو پدی اوداسه‌کولای شی چی د ماسپښین لمونځ هم اداکولای شی او همدا اودس به ئی د ماسپښین د وخت ختمیدو پوری باقی وی (رواه هدایه و رد)

مسئله‌که معزور د وینی یا ژوی په بندیدلو پوری قادر وی نو دا طریقه ورباندی واجب ده چی په هره ظریعه چی وی خپل وینه یا ژوه بنده‌کړی یا ئی‌کمه‌کړی‌که د معزور وینه سجده کی روانه وه البته د پزی نه خیردی خپل لمونځ دی وکړی خیردی‌که په ناسته ولاړه اشاره د وکړی‌که په ولاړه وینه ورنه تله په ناسته د وکړی اوکه په ناسته وینه یا ژوه ورنه تله په اشاره د خپل لمونځ وکړی د ملاستی په اشاره به لمونځ نه‌کوی د ولاړی په اشاره خپل لمونځ وکړی (روه در و رد)

مسئله‌که معزور اودس وکړ پداسی حال چی وینه ئی بنده وه او د وخت لمونځ ئی هم پداسی حال‌کی وکه چی بیا دغه وخت ووت او ده ته څه خبره د اودس ماتوونکی نه وه پیشه شوی نو د وخت په تلو سره دغه اودس نه ماتیږی (رواه دورمختار و ردمختار)

مسئله‌که د معزور وینه یا ژوه وغیره په جامه لکیدلی وه او ده ته معلومه وه چی زه‌که دا مینځم او لمونځ پری‌کوم لمونځ به می لانه وی خلاص او دا به ناپاکه شی نو د هغه مینځل پری واجب نه دی او دا ورته معلومه وی چی دومره ساعت‌کی نه پلیته‌کیږی نو چی د

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوی روپی په اندازه وی یا زیات وی مینځل ئی پری واجب دی فتوا پدی راغلی چی بی د هغی مینځلو نه ئی لمونځ نه کیږی(رواه شرح التنویر)

## د حیض او استحاضی بیان

په هره میاشت کی چی کومه معروفه وینه د ښځي نه ځی هغی ته حیض وائی چی د حیض موده کم د کمه دری شپی او دری ورځی ده او زیات د زیات نه لس شپی او ورځی ده که چیری د دری شپو او ورځو نه مخکی وینه بنده شوه نو هغه ته حیض نه دی بلکه هغه استحاضه ده استحاضه مرض ته ویل کیږی او که چیری د لسو شپو او ورځو نه واوښت که دا عمر کی یو کرت وه نو لس ورځی ئی حیض ده متباقی ورځی ئی استحاضه ده (رواه هدایه)

مسئله د نهو کالو نه مخکی ښځی ته حیض نه ورځي که چیری نجلی ته په نهو کالو کی وینه راغله هغه حیض نه دی بلکه استحاضه ده بیا کله چی (۵۵) کلو ته ښځه ورسیده نو بیا هغی ته زړوکی (حیض) نه ورځي، بیا هم که پداسی عمر کی ورته سور رنکه یا تور رنکه وینه راغله نو هغه حیض دی او که چیری رنک ئی ژیړ شین او خړ رنکه وی نو دا حیض ندی او که همدی عمر ئی عادت وه نو بیا هغه حیض دی (رواه بدایع و ردمختار)

مسئله که د حیض وخت سور تور ژیړ او خړ سیوا د خالص سپینوالی هر څه چی وی دا حیض دی (رواه ردمختار )

مسئله که د وړوکی نجلی زړوکی بیلمازه شو او هغه لس شپی ورځی یا د دی نه کم وی یا زیات وی دری شپی ورځی ئی حیض او که د لسو شپو ورځو نه زیات شو نو دغه لس شپی ورځی ئی د حیض دی نوری زیاتی ئی مستحاضه ده (رواه هدایه)

مسئله د یوی ښځي خاص عادت نه وه بلکه کله کله به ئی پنځه ورځي زړوکی ورته وه او که به اوه ورځی وه همدارنکه به بدلیده او رابدلیده یا یوه میاشت کی پوره لس ورځی وشو نو دا ټول لس ورځي په حیض کی راځي (رواه بحر و شامی)

مسئله که د نجلی اول وار وینه یوه میاشت پوره روانه وه نو اول نه تر لسو ورځو پوری حیض دی متباقی ورځي ئی استحاضه ده (رواه ردمختار)

مسئله که ښځي ته دری شپی او ورځي څه پلیتی راغله بیا دا پنځلس ورځی بنده شوه بیا ئي دری شپی او ورځی پلیتی راغله په منځ کی پنځلس ورځي ټولی د پاکی دی اول او آخر ئی د حیض وخت دی (رواه شامی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د حیض احکام

په ښځه باندی د حیض وخت کی لمونځ او روژه نیول نشته کوم وخت چی پاکه شوه نو د لمانځه قضائی پری نشته د روژی قضائی به راوړی (مجمع الانهار)

مسئله ښځو باندی د حیض وخت کی لمونځ او اودس نشته لیکن د هر لمانځه وخت کی به اودس کوی په جای نماز به د یوه وخت لمانځه په اندازه کینی الله ﷻ به یاد وی دا د دی لپاره چی د لمانځه عادت ورنه هیر نشی (رواه مجمع الانهار)

مسئله کوم وخت چی ښځه حیض کی وی خاوند لپاره ئی د نامه لاندی لاس وړل حرام دی اوکه چیری کوم زړوکی او پرده منځ کی وی بیا نو فرق نه لری د نامه پورته د زنکانه کوز لاس وروړل فرق نه لری همدارنکه ښځي سره د حیض وخت کی ملاسته، ښکلول ، ناسته ، ولاړه ، خوړل ، او څکل وغیره جائز دی (رواه دورمختار و ردمختار)

مسئله که خاوند ته معلومه وه چی ښځه حیض کی ده او جماع ئی ورسره وکړه نو دا کناه کبیره ده حتمی به توبه باسی یو یا نیم دینار به خیرات ورکړی(رواه در و رد)

مسئله که ښځه نیکه او صالحه وه رښتیا کویه وه خاوند ته ئی وویل چی زه په مرض کی یم بیا نو نژدی کیدل ورته حرام دی اوکه دروغژنه وه د خاوند پری اعتبار نه وه صرف د هغی په وینا حرام والی نه راځی.

مسئله که دی ښځي زړوکی پوره لس شپی ورځی وه نو د خاوند صحبت ورسره جواز لری اکرکه غسل ئی هم نه وی کړی او د لمانځه وخت پری تیر شوی هم نه وی (رواه هدایه و شامی)

مسئله که دی ښځي عادت پنځه ورځی وه او پدی میاشت کی دوه ورځی پلیتی راغله بیا هغه بنده شوه اودس به کوی لمونځ به هم کوی لیکن تر هغه وخته چی د لمانځه وخت پوره شوی نه وی جماع به نکوی (بحر رائق)

مسئله د واده شوی ښځی لپاره د حیض وخت کی او پاکی کی د مالوچ وغیره ایښودل فرج کی غوره ده او د ناواده شوی ښځی لپاره خاص د حیض وخت کی غوره دی همدارنکه د واده شوی ښځي لپاره بعضی علما کرام وائی چی د حیض وخت کی د مالوچ وغیره ایښودل سنت دی او د پاکی وخت کی ښځی لپاره بیا د مالوچ وغیره ایښودل مستحب دی (رواه دورمختار و شامی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د نفاس مسائل

ښځې نه چې د بچی د پیداکیدو وروسته کومه وینه چې څلویښت شپې او ورځې روانه وی هغه ته نفاس ویل کیږی د نفاس موده کم د کمه څلویښت شپې او ورځې ده او د کمې مودی ئی حد نشته نوکه یو ساعت وینه ورنه لاړه شی هغه نفاس دی نو داسی ښځو ته هم روژه نیول او لمونځ کول معاف دی (رواه مجمع الانهار)

مسئله که د بچی د پیداکیدو وروسته ښځی نه وینه جاری نشوه نو دا به غسل کوی.

مسئله که د ښځی حمل وغورځیده که یو یا نیم اندام ئی روغ شوی وه کوته نوک ویښته وغیره بیا ئی حمل وغورځیده وروسته کومه وینه راغله نو د هغه د نفاس وینه ده اوکه چیری کوم اندام ئی روغ شوی نه وه بیا نو نفاس کیدای نشی نو دا وینه د حیض ده دری ورځی یا کم د کمه پنځلس ورځی پاکه هم وه اوکه داسی نه وه بیا نو دا استحاضه ده (دورمختار و شامی)

مسئله که د ښځی د نفاس عادت ۲۵ ورځی وی او دا ۲۵ ورځی پوره شوی لیکن وینه ئی ونه دریده غسل به تر هغه وخته نه کوی تر څو وینه ئی بنده شوی نه وی مثلاً ۳۰ مه ورځ وینه بنده شوه غسل به کوی لمونځ به آداکوی د نورو لمونځو قضائی پری نشته ولی چی عادت ئی ۲۵ ورځو نه ۳۰ ورځی شوی (شرح التنویر)

مسئله د ښځی وینه په نفاس کی څلویښت ورځو نه مخکی بنده شوه د وینی بندیدو نه وروسته به غسل کوی لمونځ به کوی او قضائی به نه کوی که لمبول ورته ضرر رساوه نو تیمم به کوی (رواه شرح التنویر و ردمختار)

مسئله د دو نفاسو ترمنځ د پاکی موده کم د کمه شپږ میاشتی دی (رواه دورمختار و ردمختار)

مسئله په شپږو میاشتوکی دننه دکومی ښځی چی دوه بچی پیداشوی نو دا حمل په یوه حسابیږی نفاس ئی یو دی او د نفاس موده کی اول بچی نه شروع کیږی در صورت چی د اول بچی لا څلویښت ورځی نه وی وتلی نو دا وینه نفاس ده اوکه وتلی وی دا وینه استحاضی ده (بحر شامی)

د استحاضی مسائل په اوداسه او لمانځه کی د استحاضی احکام لکه څنګه چی د معزور په بیان کی ذکر شوی نو پداسی ښځی باندی لمونځ او اودس هم شته نوکوی به ئی او هم به خپل خاوند سره صحبت کوی (رواه دورمختار)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پنځم باب

## د بانک او اقامت بیان

د هر لمانځه لپاره بانک سنت موکد دی چی حکم ئی د واجبو هم دی که هغه لمونځ په جماعت وی یا بی له جماعت نه وی قضائی ته هم بانک ضروری دی

مسئله که مسافر وه او ملکری ئی ټول حاضر وه نو بانک ورته سنت موکد دی همدارنکه اقامت هم ورته سنت موکد دی (رواه دورمختار)

مسئله که چیری د ماسپښین لمونځ په اذان او اقامت سره اداشوی وی دی جومات ته د لمانځه لپاره نور خلک راغلل دوی لپاره اذان او اقامت کول مکروه ده که چیری په همدی جومات موذن او امام مقرر نه وی خلک ورته تک او راتک کوی خپل لمونځونه کوی بیا نو ورته بانک او اقامت ویل مکروه نه ده بلکه غوره هم دی (رواه فتاوه عالمکیر)

مسئله د قضائی لمونځ چی څوک په جماعت کوی نو بیا به اذان او اقامت ورته کوی (رواه دورمختار)

مسئله د پنځه وخته لمونځونه سِوا او د جمعی د لمانځه نه سِوا د بل لمانځه لپاره بانک او اقامت نشته بلکه مکروه ده (ردمختار)

مسئله موذن لپاره د لوئی بی اودسی وخت کی اذان کول مکروه تحریمی دی همدارنکه په وړه بی اودسی کی د اذان کول موذن ته هم مکروه تحریمی ده باید وئی نکړی (رواه شرح تنویر)

مسئله کوم هلک چی ځوانی ته نږدی وی اذان کول ورته کراهیت نلری همدارنکه ړانده ته هم (دورمختار)

مسئله یوه موذن ته یو وخت کی د دووجوماتو اذان کول مکروه دی (رواه شامی)

مسئله د جومات لپاره داسی موذن مقرر شی چی هغه په مسائلو پوه وی پرهیزکار وی اوچت اواز ولری د لمانځه وختونه ورته معلوم وی اذان په ولاړه وی په ناسته اذان کول مکروه دی (بحر رائق)

مسئله څوک چی اذان کوی اقامت د هغه حق دی هغه که حاضر وی یا غیر حاضر وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوک چی اقامت وائی موذن باید ورنه راضی وی او پری خفه نشی (خاینه او عالمکیر)

مسئله په بانک او اقامت کی دومره فرق دی چی بانک کی پر سحر کی اصلات خیر من النوم دوه واری ویل کیږی او په اقامت کی د اصلات خیر من النوم په عوض کی قد قامت الصلات ویل کیږی بل فرق ئی اذان په جک اواز ویل کیږی او اقامت لږ غوندی قرار ویل کیږی (رواه شرح التنویر و ردمختار)

## د آذان لفظی ترجمه

الله اکبر الله ﷻ ډیر لوی ذات ده دا به څلور واری وائی اشهدان لااله الاالله زه کواهی ورکوم چی نشته بی له الله ﷻ نه بل لایق د عبادت او بندکی دا به هم دوه واری وائي اشهدان محمد رسول الله کواهی ورکوم چی محمد ص د الله ﷻ رسول دی دا به هم دوه واری وائی حی علی الصلات راځی لمانځه ته دا به هم دوه واری وائی حی علی الفلاح راځي کامیابی ته دا به هم دوه واری وائی د سحر په اذان کی به اصلات خیر من النوم لمونځ بهتر دی د خوب نه دا به هم دوه کرته وائی او اقامت کی به د اصلات خیر من النوم پر ځای به قدقامت الصلات په تحقیق سره ودریدی د جماعت په لمانځه کی دا به هم دوه کرته وائی بیا به دوه کرته الله اکبر وائی اخر کی به لااله الاالله نشته بل معبود بی له الله ﷻ یو واری ووائی . بیا به دعا وکړی.

## د لمانځه لفظی ترجمه

د ثنا لفظی ترجمه:- (سُبحانَکَ الّهُم) پاکی وایو تا لره ای الله ﷻ (وَبحمدکَ) او ستا تعریف سره یادوو مونږ تا لره (وَتَبارَکَسمُکَ) او مبارک د وی نوم ستا (وَ تَعالاَ جَدُّکَ) او لوی شان دی ستا (وَلَااِلَهَ) و نشته معبود برحق (غَیرُک) بی له تانه یا الله ﷻ.

(اعوذ باالله) پنا غواړم زه د پاک خدای نه (من الشیطان الرجیم) د شیطان رټل شوی نه (بسم الله) شروع کوم په نامه د خدای ج (الرحمن الرحیم) چی رحک کوونکی او مهربان ذات

د سورت فاتحی لفظی ترجمه (اَلحَمدُ ل لِلّهِ) ټوله ثنا او صفت الله ﷻ لره ده (رب العلمین) چی پالونکی د مخلوقاتو دی (الرحمن الرحیم) رحم کوونکی او مهربان دی (مالک یوم الدین) مالک د ورځی د قیامت (اِیاک نعبدُ) ای الله ﷻ خاص ستا عبادت

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوو (وَاِیاکَ نَستعَین) او خاص تا نه مدد غواړو (اِهدنا) هدایت کړی مونږ ته (صِراط المستقیم) د مستقیمی لاری (صراط الذین) لاره د هغوکسانو چی (انعمت علیهم) تا د نعمت انعام کړی پر هغوی (غیرالمغضوب) نه د هغه کسانو چی غضب پری کړای شوی دی (ولاالضالین) او نه د کمراهانو. امین دا دعا قبوله کړه

د سورت اخلاص لفظی ترجمه: (قُل)ووایه (هُو) شان دا دی (الله احد) چی الله یو دی (الله الصمد) خدای پاک بی نیازه دی یعنی ټول ورته احتیاج دی او الله ﷻ چاته محتاج نه دی (لم یلد) نه تری څوک پیداشوی (ولم یولد) او نه دی د چا نه پیداشوی دی (ولم یکن له کفو احد) او نه شته د هغه مثل.

تسبیح: (سبحان ربی العظیم) پاک دی رب څما چی ډیر لوی دی (سمیع الله) واورید خدای پاک لمن حمد د هغه چا چی د هغه ثنائی وکړه (ربنا لک الحمد) ای پروردکاره تالره ثابته ده ثنا او (سبحان ربی الاعلی) پاک دی رب څما چی ډیر عالی شان دی.

د تشهد لفظی ترجمه: (اَتَّحِیاتُ لِ الله) د ژبی ټول عبادتونه خاص الله ﷻ لری دی (وَالصَّلاتُ) او هم بدنی عبادتونه (والطیِباتُ) او هم مالی عبادتونه (اسلام علیک ای ها النبی) سلام دی وی پر تا باندی ای نبی ع (ورحمة الله وبرکاةُ) او رحمت د خدای پاک او برکتونه د هغه (اسلام علینا) سلامتیا دی وی پر مونږ باندی (وعلا عبادالله الصالحین) او په بنده کانو د خدای پاک باندی چی نیک دی (واشهد ان محمد عبده و رسول) او شاهدی ورکوم چی محمد د هغه بنده او د هغه رسول دی.

درود شریف: (اَلّهُمَّ صَلِّ) ای خدایه رحمت نازل کړه (علی محمد) پر محمد ص باندی (وعلا ال محمد) په آل د محمد باندی (کما صلیت) لکه چی رحمت دی کړی په (علی ابراهیم) په ابراهیم باندی(و علی ال ابراهیم) په آل د ابراهیم باندی (انک) په تحقیق سره ته (حمید مجید) ستایل شوی او خاوند د لوئی یی.

(الهم بارک) ای خدایه برکت نازل کړی (علی محمد وعلی ال محمد) په محمد باندی او په آل د محمد باندی (کما بارکت) لکه چی تا برکت کړی دی (علی ابراهیم و علی آل ابراهیم) په ابراهیم باندی او په آل د ابراهیم باندی (انک حمید مجید) په تحقیق سره ته ستایل شوی او خاوند د لوئی یی.

(الهم ربنا) ای پروردکاره زمونږ (آتنا فی الدنیا) راکړی مونږ له دنیا کی (حسنة) نیکی (وفی الاخرة حسنة) او په اخرت کی نیکی (وقنا عذاب النار) او وساتی عذاب د اور نه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دعا قنوت: (الهم انا) ای خدایه په تحقیق سره مونږ (نستعینک) مدد غواړو تا نه (ونستغفرک) او طلب د بخښنی کوو تا نه (ونومنوبک) او ایمان راوړو په تا باندی (ونتوکل علیک) او توکل کوو پر تا باندی (ونثنی علیک الخیر) او ثنا وایو پر تا باندی نیکه (ونشکرک) او شکر اداکوو ستا (ولانکفرک) او ناشکری نه کوو ستا (ونخلع ونترک) او لری کوو مونږ او پریدو ئی (من یفجرک) څوک چی نافرمانی کوی ستا (الهم ایاک نعبد) ای الله ﷻ خاص ستا عبادت کوو (ولک نصلی ونسجد) او خاص ستا لپاره لمونځ کوو او سجدی کوو (والیک نسعی)او خاص ستا طرفته زغلو مونږ (ونخفد) او خدمت ته حاضریږو مونږ (ونرجو ورحمتک) او امید لرو مونږ د رحمت ستا (ونخشی عذابک) او ویریږو مونږ ستا د عذاب نه (ان عذابک) په تحقیق سره عذاب ستا چی دی (بلکفار ملحق) پر کفارو باندی پیوست کیدونکی دی.

## د جومات احکام

جومات د الله ﷻ عبادت کاه او مسلمانانو لپاره د عبادت بهترین مقام دی.

په حدیث شریف: کی راغلی چی جومات د متقیانو کور دی هر څوک چی جومات سره مینه لری الله ﷻ هغه ته د ایمانداری کواهی ورکوی او هر څوک چی جوماتونه ابادوی هغوی ته الله ﷻ کورونه ابادوی او د رحمت ملائکی تل ورسره ملکری او کمکونه کوی (فضائل اعمال)

بل حدیث شریف کی راغلی چی څوک جومات ته ځي هغه سره د ایمان جنډه وی او په هر قدم ورته الله ﷻ عملنامه کی یوه نیکی زیاتوی او یوه بدی ئی عملنامی نه کټ کوی او یوه درجه ورته جنت کی زیاتوی او د جومات دروازه بند ساتل مکروه تحریمی دی بی له ضرورت نه.

د حدیث شریف مفهوم دی چی څوک جومات جوړ کړی ولو که د یوی خیمی په شکل وی نو الله ﷻ جنت کی کور ورته آبادوی (رواه فضائل اعمال)

فایده: په کوم قوم یا ټولنه کی چی جومات آباد وی هغه قوم ته الله ﷻ د رزق دروازی خلاصوی په روزی کی فراخی راولی او د قهطی دروازی پری بندوی او الله ﷻ هغه قوم کی د اتفاق اتحاد وروکلوی مینه او محبت پیداکوی د نفاق کمپله ورنه ټولوی.

حدیث شریف: د نبی کریم ص ارشاد مبارک دی چی جومات کی په جماعت سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



لمونځ کول د کور دښتې پولې پټې او نورو ځايونو چې کوی نو جومات کې ۲۵ درجې فضيلت او بهتری لری.

بل حديث شريف کې راغلي چې څوک اودس وکړی او د جمعې په نيت جومات ته روان شي دومره ثواب لری لکه چې ده د عمری احرام تړلی وی او مکې شريفې ته روان شوی وی (فضائل اعمال)

حديث شريف : نبی کريم ص فرمايلي چې د قيامت په ورځ به يو اعلان وشي چې چيرته دی ځما کاونډيان ارشاد به وشي چې يا الله ﷻ ستا کاونډيان څوک دی الله ﷻ به وفرمائی چې ځما کاونډيان هغه اشخاص دی چې هغوی دنيا کې جوماتونه ابادکړی او جوماتو سره ئی مينه درلوده. نن به هغه شخص راساً جنت ته داخليږی (فضائل اعمال)

حديث شريف : نبی کريم ص فرمائی چې څوک جومات سره محبت ساتی هغه راساً الله ﷻ سره محبت ساتی (رواه مشکوة)

حديث شريف : نبی کريم ص فرمايلي چې څوک تياروکې جومات ته ځی هغوی ته پوره د نور زيری ورکړی حشر به ئی متقيانو سره وی (رواه مشکوة)

## د جومات باره کې مسائل

مسئله کوم کور کې چې جومات ته ځای جوړ شی هغه د جومات حکم نه لری (رواه بحر و هنديه)

مسئل جومات ته د جنوب او حائضی ښځي داخليدل منعه دی.

مسئله جومات کې د تجارت د خريد فروش خبری بلکول منعه دی (رواه عالمکير دورمختار)

مسئله د جومات په ديوال او محراب د قرانکريم اياتونه ليکل منعه دی داځکه چې کله جومات شهيدکيږی بيا هغه اياتونه حيوانات پايمالوی (رواه هنديه و عالمکير)

مسئله جومات کې اودس کول او مضمضه کول مکروه دی او که جای ورته جوړوی بيا فرق نلری (هنديه و شامی)

مسئله جومات کې د کاسب کارکول منعه دی ځکه چې جومات د عبادت ځای دی (هنديه)

مسئله جومات کې خوراک کول او خوب کول منعه دی که مسافر وی يا متعکف فرق نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



لري (هنديه)

مسئله جومات کی لاره جوړول نيالکی ايښودل شه ندی او که د جومات لپاره وی فرق نلری (شامی)

مسئله جومات کی تل لپاره د ناستی ځای تعين کول مکروه دی (رواه هنديه)

مسئله د توتکی او شاپرک د جالی ورکول جواز لری (رواه شامی)

مسئله که د چا په جامو او پښو باندی خټه يا بل شی نښتی وی د هغه موشل د جومات په ديوال يا د دروازی په تادری باندی مکروه دی (رواه دورمختار)

نوټ: مسئله د آذان او اِقامت منځ دومره درنګ تيرول چی لمونځ کوونکی په کی ورشی او لمونځ غوره وخت کی وشی اقلً د پنځوس اياتو لوستلو په اندازه وی او د ماښام بانک او د لمانځه ترمينځ بايد اقلً دری اياتونه ولوستل شی (رواه شرح التنوير و ردمختار)

## د امامت بيان او مسائل

په امامت کی ۶ شرطونه دی لدی شپږو نه که يو شرط ترک شی امامت ئی نه صحيح کيږی.

۱ اسلام دی کافر امامت صحيح نه دی ۲ بلوغ دی د صغير امامت صحيح نه دی ۳ عقل دی د ليونی امامت نه صحيح کيږی ۴ نارينه دی د ښځی امامت نه صحيح کيږی ۵ قرائت دی د امی امامت نه صحيح کيږی ۶ سالم دی د معزور امامت نه صحيح کيږی.

نوټ : که چيری تول جماعت د ښځو وه نو د هغوی لپاره نارينه صرور نه دی او که جماعت د نابالغو وه نو بالغوالی ورته ضرور نه دی او که جماعت د معزورو وه د بی عزره امامت ورته ضروری نه دی.

مسئله د ټولو نه اول د هغه شخص امامت بهتر دی چی هغه د لمانځه په مسائلو ښه پوهيږی بل دا چی قرائت ئی درست وی بل دا چی فاسق نه وی د تقوادار امامت درست دی بل دا چی پرهيزکار وی عمر ئی زيات وی، ښايسته وی ، خوش اواز وی ، پاک دامنه وی ، ښايسته ښځه ولری دا ځکه چی د نورو ښځو کتلو نه مسئون وی. بل دا چی د هغه شخص رعب قرب زيات وی بل جامی ئی ښی اغوستی وی بل دا چی د مسافرو نه د مقيم امامت بهتر دی د تيمم کوونکی نه د اودس کوونکی امامت ښه دی.

په پورته اشخاصو کی چی ذکر شوی که مناسب خلک موجود وه نو د نا مناسب امامت

(c) ketabton.com: The Digital Library



مکروه تحریمی ده چی په بعضوکی د امامت سلسه مکروه تنزهی ده او په بعضوکی مکروه تحریمی ده (دور مختار و ردمختار) .

## په جماعت کی د شامليدو او نه شامليدو بيان

مسئله چا چی لمونځ نه وی کړی اذان نه وروسته د هغه وتل جومات نه مکروه تحریمی ده همدارنکه که د جومات اذان شوی نه وی چا چی لمونځ نه وی کړی وتل ورته مکروه تحریمی دی بی له ضرورت نه.

مسئله که ځوک په نفلو ولاړ وی هلته جمعه ودریده دی به نفل نه ماتوی بلکه فرضو غوندی به دوهم او ځلورم رکعت پوره کوی (رواه دورمختار)

که په فرض لمانځه ځوک ولاړ وی دی وخت کی جمعه ودریده که دی شخص ځلور رکعته نیت کړی وه او د لمړی رکعت سجده ئی نه وه کړی نو لمونځ به مات کړی امام پسی به اقتدا وکړی البته سلام به په ولاړی کرځوی.

اوکه چیری ئی د اول رکعت سجده کړی وی نو دوهم رکعت به پوره کوی خپل سلام به کرځوی امام پسی به اقتدا وکړی همدارنکه که ئی د دریم رکعت سجده کړی وی هلته جمعه ودریده نو دی به ځلورم رکعت پوره کوی بیا به امام پسی اقتدا وکړی لیکن د مازدیکر لمانځه کی به ځان نه شاملوی دا ځکه چی مازدیکرکی نفل نشته اوکه بیا نورو لمنځوکی شامليږی هغه ورته نفل کرځي (رواه شامی)

مسئله که ځوک د ماسپښین په سنتو ولاړ وی جمعه شروع شو یا ئی خطبه شروع کړه نو دی به لموځ نه ماتوی دوه رکعته به پوره کوی سلام به وکرځوی امام پسی به اقتدا وکړی د خپلو دو رکعتو سنتو قضائی به د فرضو وروسته راوړی اوکه په دریم رکعت کی جمعه ودریده نو بیا به دی ځلورم رکعت پوره کړی بیا به خپل امام پسی اقتدا وکړی (روا دورمختار و ردمختار)

مسئله که چا سره د جمعی د فوت کیدو ویره وی داسی حالت کی به سنت پریږدی امام پسی به اقتدا کوی وروسته به د فرضو نه به د سنتو قضائی اداکړی (رواه شامی)

مسئله که د سهار جمعه ولاړه وه یا اقامت وویل شو او د سنت نه وی کړی نوکه ئی یقین وه چی زه اول یا دوهم رکعت نیسم نو صف نه به جدا سنت وکړی اوکه جای نه وه په صف کی دی خپل سنت وکړی بیا به امام پسی اقتدا وکړی اوکه یقین وه چی زه امام پسی

(c) ketabton.com: The Digital Library



لمونځ نشم نیولای نو سنت به نکوی امام پسی به اقتدا وکړی (رواه شرح تنویر)
مسئله یو سړی د جمعی لپاره جومات ته روان شو اخره قاعده ئی ونیوله او ټول لمونځ ورنه فوت شوی وه دی شخص لپاره د ټول لمانځه او جمعی ثواب شته او اجروکی شامل دی اوکه چا قسم وکړ چی زه به دی جومات کی لمونځ نه کوم نو پدی صورت دا شخص نه حانث کیږی (رواه شامی)

## د مقتدی بیان او مسائل

مسئله که مقتدی یو نفر وه یا نابالغ هلک وه نو هغه به د امام ښی خوا ته لږ غوندی بیرته ودریږی داسی وخت کی به مقتدی د امام شاته یا چپی خواته نه دریږی مکروه ده (شرح تنویر)
مسئله که مقتدیان دوه نفره وه یا زیات وه نو د امام شاته به صف تړی د امام ښی او چپی خوا ته دریدل ئی مکروه تحریمی دی (رواه عالمکیر)
مسئله که اول کی مقتدی یو نفر وه نور مقتدیان راغلل نو اولنی مقتدی به خپل ځان بیرته راباسی چی پښی ئي جکی نشی په کش کیدو به پښی رابیرته کوی نورو سره به صف کی ځان یوځای کوی اوکه مقتدیان ناپوه وه خپله امام به ځان ورو ورو مخی ته کړی چی بیرته صف جوړ شی (شامی)
مسئله که مقتدی ښځه یا نابالغ انجلی وه هغه به د امام شاته دریږی که هغه یوه یا دوه زیاتی وی اوکه چیرته مقتدیان ښځي او نارینه کېوډ وه نو هغه به امام څو صفه جوړوی چی اول صف د سړیو دوهم صف به د هلکانو دریم صف به د ایزکانو وروسته به د ښځو صف وتړی خپل لمونځ به جماعت سره اداکړی (شرح تنویر)
مسئله امام د جمعی شروع کی اول بیرته خپل مخ مقتدیانو راواړوی که څوک صف کی وړاندی وروسته وه پوه دکړی پای څی به پورته وی البته په اشاره به ئی پوه کوی په صف کی د جفت دریدو چی فاصله منځ کی پاتی نشی (رواه دورمختار و شامی)
مسئله که مقتدی اتحیات تر عبده ورسول پوری ویلی نه وه امام پورته شو دلته به مقتدی اتحیات پوره کوی بیا به پورته کیږی همدارنکه که مقتدی قاعده کی اتحیات پوره کړی نه وه امام سلام وکرځاوه مقتدی مجبور دی اتحیات به پوره کوی سلام به کرځوی (دورمختار و شامی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسئله که امام نه مخکی مقتدی اتحیات خلاصه کړه مقتدی به چپ کینې دا مستحبه طریقه ده او امام چی اتحیات خلاصه کړه علما وائی چی بیرته د سره به اتحیات بیا شروع کوی چی مقتدیان ځان ورپسی ورسوی لیکن بهتره داده چی امام التحیات په دمه دمه ولولی تر څو مقتدیات ورپسی ورسیږی بیا به سلام وکرځوی (رواه در ورد)

مسئله که مقتدی امام نه مخکی رکوع ته لاړه او مام ژر ورپسی ورسیده نو لمونځ ئی وشو اوکه چیری ځنډ پکښې راغی نو بیا مکروه تنزهی ده د امام نه مخکی تلل لویه کناه ده (شرح تنویر)

مسئله که مقتدی امام نه مخکی رکوع کی اوچت شو اوکوری چی امام لا رکوع کی ده دلته به مقتدی بیرته رکوع ته ځي امام سره به یوځای پورته کیږی دا ئی په یوه رکوع حسابیږی (دورمختار و شامی)

مسئله که امام رکوع کی وه مقتدی نیت پسی وتاړه رکوع ئی پوره ونیوله نو دا رکعت ئی پوره شو اوکه امام رکوع کړی وه مقتدی ورپسی نیت وتاړه نو د مقتدی دا رکعت پوره نه دی دلته د امام متابعت شرط دی خپلی دوه سجدی به امام پسی وکړی (دورمختار و شامی)

مسئله مقتدی به پدی پنځو شیانوکی د امام مطابعت کوی یعنی چی د امام هیر شو یا ئی ونه کړو نو مقتدی به ئی هم نکوی لکه ۱ په وتروکی ئی دعا قنوت هیر شو یا ئی پریښود ۲ د دواړو اخترونو تکبیرات ۳ اوله قاعده ۴ سجده تلاوت ۵ سجده سهوه (رواه دورمختار و بحر )

او پدی څلور شیانوکی به د امام مطابعت نکوی یعنی که امام ئی وکړی مقتدی به ئی نکوی لکه ۱ د اختر لمونځوکی زیات تکبیرات ویل ۲ د جنازی لمانځه پنځم تکبیر ویل ۳ د رکن نه زیات یعنی یو رکعت کی دوهمه رکوع او یا دری سجدی ۴ پنځم رکعت ته اوچتیدل (دومختار و بحر)

او دا اته خبری به مقتدی کوی اکرکه امام ونه کړی لکه تکبیر تحریمه لپاره لاس اوچتول ۲ د ثنا ویل اکرکه امام ویلی وی یا ئی نه وی ویلی او امام لا قرائت شروع کړی نه وی ۳ قامه کی ربنا لک الحمد ویل دی اکرکه امام سمع الله نه وی ویلی ۴ په رکوع تسبح ویل دی همدارنکه سجده کی هم ۵ تشهد په قاعده کی ویل اکرکه امام نه وی ویلی ۶ د تکبیراتو انتقال یعنی رکوع نه سجدی ته تلل ۷ د سلام کرځول اکرکه امام په څه وجه پریښی وی یا جک شو نو مقتدی به حتمی سلام کرځوی ۸ تکبیرات تشریق دی اکرکه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



امام هیر شول نو مقتدی به ئی حتمی شروع کوی (رواه دورمختار و بحر)

مقتدی په څلور قسم ده مدرک / مسبوق / لاحق / او مسبوق لاحق.

۱ مدرک هغه مقتدی ته ویل کیږی چی اول تر اخره پوری امام سره لمانځه کی شریک شی.

۲ مسبوق هغه مقتدی ده چی هغه یو یا څو رکعته ورنه تیر شوی وی وروسته چی لمانځه کی داخل شی خپل لمونځ به داسی کوی لکه:

الف: په پاتی رکعتو کی به اول ډک رکعتونه کوی بیا به تش رکعتونه کوی وریسی به خپله قاعده کوی چی په دوه رکعتی کی اخره قعده راځی او که دری یا څلور رکعتی وی نو اوله قاعده ئی قاعده اولی راځی فرضاً د مازدیګر جمعه ولاړه وه دری رکعته ئی تیر وه او زید راغی څلورم رکعتی کی شامل شو دلته زید مسبوق شو کوم وخت چی امام سلام وکرځوی زید به پورته کیږی ثنا اعوذبالله او بسم الله به وائی وریسی به الحمدالله او سورت لولی د رکوع او سجدی وروسته به اوله قاعده وکړی داځکه چی یو رکعت ئی امام پسی نیولی دی نو دا ئی دوهم رکعت شو د قاعدی وروسته به جګیږی دریم رکعت به پوره کوی لیکن قاعده به نه کوی داځکه چی ده کوم رکعت امام پسی نیولی ده هغه سره ئی دا دریم رکعت شو بیا به څلورم رکعت کوی تنها الحمدالله به پکښی لولی رکوع سجده اخره قعده به کوی (شرح التنویر وفتح القدیر)

ب: امام اعظم رح فرمائی چی کوم وخت مسبوق امام پسی یو رکعت ونیوه نو دی اول دوه رکعته ډک کوی که دا د ماښام لمونځ وی نو دا ئی اخرنی قاعده شوه او که څلور رکعتی وی نو دا ئي اوله قاعده شوه بیا به جګیږی یو رکعت به تش کوی وروسته به اخره قاعده کوی سلام به کرځوی دواړه طریقی جایز دی لیکن اولنی بهتره ده.

مسئله د مسبوق لپاره غوره خبره داده کله چی امام دواړو خواوو ته سلام وکرځاوه پس د هغه نه به مسبوق پورته کیږی لپاره د دی چی امام پسی د سهوی شک پاتی نه شی د امام د سلام کرځولو مخکی د مقتدی پاځیدل بی د عذره مکروه تحریمی دی مثلاً د اودس د ماتیدو یا د باد د وتلو ویره ورسره وی وخت ورسره کم وه د جمعی یا د اخترو د لمانځونو معذوریدل یا د مسحی د پوره کیدو ویره ورسره وه (رواه شرح منیه)

ج: لاحق مقتدی لاحق مقمتدی هغه ته ویل کیږی چی هغه امام پسی اقتدا کړی وی یو یا ټول رکعتونه ورنه تللی وی لکه دا چی امام پسی نیت وتاړه بیا ئي اودس مات شو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



اودس لپاره لاړه بیرته راغی ځو رکعتونه ورنه فوت شوی وه نو دی به د مسبوق په شان خپل لمونځ کوی لیکن پوره به ئی نه کوی او که ټول ورنه تیر شوی وه خپل لمونځ د سر نه کوی.

د: مسئله لاحق او مسبوق که یو سړی هم لاحق وی او هم مسبوق وه مثلاً یو رکعت ورنه تیر شوی وه بیا د نیت وروسته ئی اودس مات شو نو دا سړی هم لاحق دی او هم مسبوق نو د لاحق حکم دا دی چی دی به اول خپل فوت شوی رکعتونه اداکوی هغه پس که جماعت ختم شوی نه وه نو د امام مطابعت به کوی او که ختم شوی وه نو خپل لمونځ به پوره کوی ځنکه چی په مقتدی قرائت نشته نو لاحق به هم قرائت نه کوی یعنی الحمدالله او سورت به نه وائی لکه ځنکه چی په مقتدی د سهوی سجده نه لازمیږی همداسی لاحق به هم سجده نه کوی نیت وریسی وتاړه او په جماعت ورنه ځو رکعتونه ورنه لاړه نوکوم رکعت چی اول کی امام پسی نیولی ده نو دی مسبوق دی اوکوم رکعت ئی چی پس د شراکت نه فوت شوی دی نو دی لاحق کرځی دی به خپل لمونځ داسی اداکوی اول به هغه رکعتونه اداکړی کوم چی د شراکت وروسته فوت شوی دی قرائت به پکی نه کوی ولی چی دی لاحق دی نو په قیام کی به قدر د قرائت خاموش دریږی د قاعدی لپاره به د امام مطابعت ساتی او که لمونځ ختم شوی وه خپل لمونځ به ځانته کوی او که ختم شوی نه وه د امام مطابعت به کوی مثلاً زید راغی د ماسپښین جمعه ولاړه وه یو رکعت ئی شوی وه چی دی په دوهم رکعت کی شامل شو د زید اودس مات شو لاړه اوداسه ته بیرته راغی جماعت ختم شوی وه نوکوم رکعتونه چی جماعت کی د شرکت نه پس ورنه تللی وه هغه به د مقتدی په شکل داسی اداکوی چی قرائت پکښی نه کوی چپ به دریږی لکه امام پسی چی ولاړ وی اول رکعت به وکړی بیا به دوهم رکعت قاعده به وریسی نه کوی (رواه دورمختار و ردمختار)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شپږم باب

## د لمانځه بیان او مسائل

خپله لمونځ اظهار د بندګی ده بل دا چی لمونځ د الله‌ﷻ د حکمونو اولین حکم دی بل دا چی د اسلام د پنځه بناو نه دوهمه بناء پنځه وخته لمونځ چی پر هر مکلف مسلمان باندی هغه نر وی یا ښځه چی عاقل بالغ مرئی وی یا ازاد وی لمونځ وربانـدی فرض عین دی منکر ئی کافر دی څوک ئی چی قصداً ترک کړی د هغه شخص لپاره سخت وعیدونه دی.

د ادم ع زمانی راپدی خوا د هر نبی وخت کی د شریعت له نکاه دوه وخته لمونځ وه چی یو وخت د لمرختو وخت کی او بل د لمر لویدو وخت کی لمونځونه آداکول کله چی نبی کریم ص الله‌ﷻ معراج ته وباله نو الله‌ﷻ نبی کریم ص ته شپه او ورځ کی پنځوس لمونځونه تحفه ورکړه دی وخت کی د نبی کریم ص ملاقات د موسی ع سره کیږی موسی ورته وفرمایل چی ای محمده ص ستا امت شواروزکی پنځوس وخته لمونځ نه شی اداکولی نو نبی کریم ص د موسی ع په مشهوره الله‌ﷻ ته د کمیدو څو پیشنهادونه وکړل فرضاً اول پیشنهاد کی ورته ۴۰ دوهم پیشنهاد کی ورته ۲۰ همدارنکه څو پیشنهاد وروسته ئی پر ۵ وخته نبی کریم ص قناعت حاصل شو او د الله‌ﷻ د خوانه ورته دا هم زیری ورکړ شو چی چا دا پنځه وخته لمونځ اداکړو د هغو پخوانیو پنځوس وخته لمونځونو اجر ورکوم ځکه پر مسلمانانو فرض شو.

**د لمانځه باره کی لنډ لنډ حدیثونه** ۱ لمونځ د دین ستنه ده ۲ لمونځ د جنت کلی ده ۳ لمونځ د مومن معراج دی ۴ لمونځ بهترین جهاد دی ۵ لمونځ د زړه لپاره نور ده ۶ لمونځ د شیطان مخ توروی ۷ لمونځ د نبی کریم ص د سترکو یخوالی دی ۸ لمونځ د الله‌ﷻ د خزانو د غوښتنی بهترینه وسیله ده البته هسی لمونځ چی صحابه کراموکول او هر څه به ئی پری حاصلول لکه حضرت عصام رح یوه ذاهد بلخی نه پوښتنه وکړه چی ته خپل لمونځ ځنکه اداکوی هغه ورته وویل چی کله د لمانځه وخت راشی اول په ښه شان اودس وکړم مسواک پکښی استعمال کړم لمانځه ته لاړ شم په اطمنان ودریږم کعبه شریفه مخی ته راولم

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښې پل صراط باندی راولم ښی طرف جنت ته کړم او چپ طرف دوزخ ته کړم الله ﷻ په خپل سر حاضر او حضور وکښم او مرګ خپل څټ ته نږدی قیاس کړم. او دا لمونځ خپل آخرنی لمونځ وکښم چی ایا زه به بل لمانځه پوری ژوندی یم اوکه نه ؟ بیا لمونځ اداکړم په عاجزی سره خپل نیت وتړم الله اکبر ووایم خپل قیام قرائت رکوع سجده او قاعده په ترتیب سره وکړم البته په خشوع او خضوع سره نو د دی لمانځه په اداکولو الله ﷻ ته امید لرم چی دا لمونځ به می قبول شی.

حدیث شریف : حضرت ابوذر غفاری رض نه روایت دی فرمائی چی یوه ورځ نبی کریم ص د منی موسم کی د ونی یو شاخ ونیوه حرکت ئی ورکړو د ونی پاڼې تولی وریژیدی نبی کریم ص را ته وویل چی ای ابوذره مسلمان چی په اخلاص لمونځ وکړی د هغه کناهونه داسی د بدن نه تویږی لکه څنګه چی دا پاڼی توئی شوی او د ونی تنه پاکه صافه راووتله (رواه احمد با اسناد حسن الرافی)

په حدیث شریف کی راغلی چی کوم لمونځ په هغه اوداسه چی مسواک پکښی استعمال شوی وی هغه لمونځ د نورو لمونځونو نه ۷۰ درجی فضیلت لری نبی کریم ص فرمایلی چی ماته دائم الوقت جبرئیل امین په مسواک تاکید کړی ده او دا یوه سنت طریقه ده.

بل حدیث شریف کی راغلی مسواک ۱۰ فایدی لری لکه ۱ خوله صفا کوی ۲ د الله ﷻ د رضایت سبب کرځي ۳ شیطان په غصه کوی ۴ الله ﷻ سره ئی محبت پیداکیږی فرشتی هم محبت ورسره پیداکوی ۵ د غاښو او وری مضبوطوی ۶ بلغم رفعه کوی ۷ خوله خوشبوئی پیداکوی ۸ صفرا لری کوی ۹ د سترکو نظر تیزوی ۱۰ د خولی بدبوی لری کوی بل دا چی سنت طریقه ده.

حدیث شریف : حضرت ابوهریره رض نه روایت دی فرمائی چی نبی کریم ص یو ځلی وفرمایل چی د چا دکور دروازه کی یو نهر وی ډیری صفا اوبه ولری په هغه نهر کی د ورځي پنځه واری ولامبی ایا د هغه په بدن باندی خیری پاتی کیږی صحابه کرامو وویل چی نه هیڅ خیری د هغه په بدن نه پاتی کیږی نبی کریم ص ورته وفرمایل چی همدارنکه څوک خپل پنځه وخته لمونځ اداکړی د هغه شخص کناهونه په همدی شکل بدن نه لری کیږی (رواه بخاری مسلم او ترمذی)

ابوسعید خدری رض فرمائی چی نبی کریم ص فرمایلی چی څوک خپل پنځه وخته لمونځونه اداکړی یو لمونځ تر بل لمانځه پوری څومره صغیره کناهونه چی ولری د بل

(c) ketabton.com: The Digital Library



لمانځه په برکت اللهﷻ ورته معاف کوی.

حدیث شریف : عبدالله ابن عمر رض ارشاد نقل کوی فرمائی چی څوک د خپل پنځه وخته لمانځه حفاظت کوی نو دا لمونځ د ده لپاره د قیامت په ورځ نور یعنی رڼا وی او د حساب کتاب وخت کی ورته حجت او لوی دلیل وی او د خلاصی سبب ئ کرځی او څوک چی د خپل پنځه وخته لمانځه حفاظت نه کوی د هغه لپاره د قیامت په ورځ نه نور او نه هم ورته کوم حجت وی او نه د کوم خلاصون ذریعه وی نو داسی اشخاصو عشر به فرعون، امان، قارون اوبی بن خلف سره وی (رواه دورمنشور، منتخب کنز، مشکات، فی الکتاب الصلات)

حدیث شریف : حضرت ابن مسعود رض نه روایت دی فرمائی چی کله د لمانځه وخت راشی یوه فرشته اعلان کوی چی ای د ادم ع زویه جک شه د دوزخ هغه اور مړ کړه چی تاسو د خپلو کناهونو پواسطه پر خپل ځان بل کړیده. دینداره خلک جک شی د خپل لمانځه اداکولو لپاره روان شی نبی کریم ص فرمایل چی کله مسلمان خپل یو وخت لمونځ اداکړی تر بل لمانځه کناه ورته معاف شی (رواه دورمنشور)

کویا د اللهﷻ رحمت ته متوجی کیدل دی کله چی سړی د اللهﷻ خواته متوجی شی نو اللهﷻ ورسره مدد کار شی.

حضرت صهیب د نبی کریم ص ارشاد نقل کوی چی کله به پخوانی انبیا ع مو ته کوم مشکل پیش شو دفعتا به لمانځه ته متوجی شول او نبی کریم ص فرمائی چی کله څه واقعه درباندی راځی نو دفهتاً سجدی ته مراجعه وکړی (لمانځه ته) (رواه ابوداود)

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمایلی چی کله لمونځ کذار خپل لمونځ په ښه شان سره وکړی په خپل وخت او په جماعت سره ئی وکړی په خشوع او خضوع ئی اداکړی نو دا لمونځ د حشر په ورځ یو نورانی صورت باندی د اللهﷻ حضور کی ودریږی د لمونځ کذار لپاره دعا کوی او مغفرت ورته غواړی نو لمونځ کذار ته وائی چی اللهﷻ دی ستا هم داسی حفاظت وکړی لکه ښنکه چی تا څما حفاظت په دنیا کړی ده. چا چی خپل لمونځ صحی او درست نه وی کړی کنه او کپر ئی کړی وی قیام قرائت رکوع سجده او قاعده ئی په خشوع او خضوع سره نه وی اداکړی د لمونځ کذار لپاره ښیرا کوی ورته وائی چی اللهﷻ دی تا هم ما غوندی تبا او برباد کړی زه خو دی تبا کړم وروسته هغه لمونځ د زړی کپړی په شکل کړی پر مخ ئی ووولی (رواه دورمنشور و طبرانی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



حدیث شریف : په احادیثوکی ذکر شوی دی چی فرشتی هر وخت اللهﷻ ته په عبادت مصروفی وی یوه ډله فرشتی به تر قیامته پوری په رکوع کی وی بله ډله به تر قیامته پوری په سجده کی وی او یوه ډله به تر قیامته پوری په قیام ولاړی وی نو اللهﷻ د مومن د اکرام او اعزاز لپاره د دی ټولو مجموعی لپاره ئی دوه رکعته نفلوکی ثواب ورکړی ده بیا د قرانکریم تلاوت په لمانځه کی د هغوی په عبادت زیاته درجه لری (رواه فضائل اعمال)

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمایلی چی څوک یو وخت فرضی لمونځ قضا کړی د هغه شخص نوم د دوزخ په دروازه کی ولیکل شی هغه که بیا وروسته قضائی راوړی هم بیا به هم دی په دوزخ کی یو حُقُب چی ۸۰ کاله کیږی هلته سوزی دا چی د یوه قضا شوی لمانځه عذاب دوزخ کی ۸۰ کاله وی ایا د مونږه د څو لمونځو یا ئي چی بلکول نه کوی ایا د هغه به څه حال وی درصورت چی د حشر یوه ورځ د دنیا د یوه کال سره برابره دی پدی حساب به د یوه لمانځه قضا کوونکی قیامت کی د دنیا د عمر په حساب (۲۸۸۰۰۰۰۰) کاله دوزخ کی تیروی

سفیری رحمت الله فرمائی چی څوک د سهار لمونځ ونه کړی ملائکی ورته وائی ای فاجره او چی د ماسپښین لمونځ ونکړی ورته وائی ای خاسره او چی د مازدیکر لمونځ ونه کړی وائی ای عاصی او چی د ماښام لمونځ ونه کړی ورته وائی ای کافره او چی د ماخستن لمونځ ونکړی ملائکی ورته وائی ای د اللهﷻ د حق ضایع کوونکیه (رواه غالبة امواعظ)

حدیث شریف : د نبی کریم ارشاد مبارک دی فرمائی چی د قیامت په ورځ به اول کی لمانځه حساب کتاب کیږی که بنده د لمانځه په حساب کتاب کی کامیاب ووت نور نو ټولو اعمالوکی کامیاب وی او که لمانځه حساب کتاب کی ناکام شو باقی ټولو اعمالوکی به ناکام وی په نتیجه کی به اللهﷻ وفرمائی چی تاسو وکوری که عمل نامه کی نوافل ولری نو ورته تبادله ئی کړی همدارنکه په روژی زکات او نورو اعمالو حساب کتاب شورع کیږی (حدیث المغیره ، مسلم و طبرانی)

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمایلی چی څوک آذان واوری او دی جومات ته لاړنشی البته بی د عذر نه نو د هغی شخص کور یا بل ځای کی لمونځ نه قبلیږی (رواه مشکوة ابوداود)

حدیث شریف : یوه ورځ نبی کریم ص وفرمایل چی ځما زړه غواړی چی څو ځوانان راولم خس او خاشاک راټول کړم د هغه چا کور ته اور واچوم چی د جمعی لمانځه ته نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



راځی (رواه ابوداود او مشکوة)

بل حدیث شریف کی راغلی چی بدترین غل هغه دی چی د لمانځه غلا کوی صحابه کرامو وفرمایل چی د الله ﷻ رسول د لمانځه غلا یعنی څه ؟ نبی کریم ص ورته وفرمایل چی څوک لمانځه کی قیام قرائت رکوع سجده او قاعده سم او درست نه کوی (رواه فی الترغیب او احمد طبرانی)

حضرت ابوطلحه (رض) یو جلیل القدره صحابی یوه ورځ باغ کی لمونځ کاوه یوه مرغه والوت څنکه چی باغ ډیرکڼ وه مرغه یوه خوا بله خوا هوا کی کرځیده د وتلو لاره ئی نه پیداکوله دغه وخت د ابو طلحه رض سترکی پری ولکیدی لمانځه کی غلط شو چی ما څو رکعته کړی دی کله چی سلام وکرځاوه دفعتا نبی کریم ص ته ئی تشریف یووړ عرض ئی ورته وکړو چی ای د الله ﷻ رسوله ماته خو د خپل باغ د وجی دا مصیبت راغی چی لمانځه کی سهوه شوم نو دا باغ د الله ﷻ د رضا په خاطر تاسو ته درکوم ته څنکه چی پوهیږی هسی وکړه (فضائل اعمال)

حدیث شریف حضرت ابوهریره رض نه روایت دی فرمائی چی کله مړی په قبرکی دفن شی خلق ورنه واپس شی نو فرشتی ورته راشی که هغه مومن تقوا داره وی نو لمونځ به ئی سرته زکات به ئی ښی خوا ته او روژه به ئی چپی خواته او نور نیک عملونه ئی د پښو خواته وی نو فرشتی ورتلای نشی نو له دی به سوالونه نه کوی (رواه دورمنشور)

حضرت عبدالله ابن عباس رض فرمائی چی یوکس ټول ورځ روژه نیسی او ټوله شپه نفلونه کوی لیکن دی د جَمعی او جُمعی لمانځه ته نه ورځی او اشتراک پکښی نه کوی نو دا شخص دوزخی دی (رواه فضائل صدقات)

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمایلی چی څوک ۴۰ ورځی متواتر بی د قضائی نه چی یو تکبیر اولا هم ورنه فوت شوی نوی خپل لمونځ په خپل وخت او په جماعت سره اداکړی الله ﷻ داسی شخص ته دوه پروانی وعده کړی ده یو دا چی هغه به دنیا کی د نفاق نه خلاص کړم بل دای د دوزخ اور نه به ئی بچ کړم. (رواه ترمذی او مسلم)

حافظ ابن حجر رح فرمائی چی یوه ورځ حضرت ابوبکر صدیق رض حضرت عمر رض حضرت عثمان رض حضرت علی رض او اصحابه د نبی کریم ص سره مجلس کی ناست وه اول

نبی کریم ص وفرمایل چی ځما دنیا کی دری شیان ډیر خوښ دی ۱ خوشبوئی ۲ شه بی

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې یعنی ښه ښځه ۳ لمونځ چې ځما د سترګو یخوالی دی.

حضرت ابوبکر صدیق رض وفرمایل چې ځما په دنیا کې هم دری شیان خوښ دی ۱ ستاسو مخ مبارک ته کتل ۲ خپل مال خرچول په تا باندی ۳ دا چې ځما لور ستاسو په نکاح ده.

حضرت عمر رض وفرمایل چې ځما هم دری شیان دنیا کې ډیر خوښ دی ۱ امر باالمعروف ۲ نهیه عن المنکر ۳ او زړه جامه اغوستل.

حضرت عثمان رض وفرمایل چې ځما هم دری شیان ډیر خوښ دی ۱ د وږی مړول ۲ بربنډ ته جامه ورکول ۳ د قرانکریم تلاوت کول.

حضرت علی رض وفرمایل چې ځما هم دنیا کې دری شیان ډیر خوښ دی ۱ د میلمه خدمت ۲ کرمی کی روژه نیول ۳ په دښمن توره چلول.

دی وخت کی حضرت جبرئیل امین راغی وئی فرمایل چې تاسو د خپلی خوښی شیان روښانه کړل نبی کریم ص ورته وفرمایل چې ښه ده ته هم خپل د خوښی شیان وښیه جبرئیل امین عرض وکړو چې ځما دنیا کی دا دری شیان خوښ دی ۱ ورک ته لاره ښوول ۲ غریب عبادت کوونکی سره محبت کول ۳ د غریبانو د بال بچ سره مدد کول. همدارنکه الله ﷻ بیا د خپلو بندکانو دری شیان ډیر خوښ دی ۱ په خپل طاقت او توان سره د الله ﷻ لارکی خرچول ۲ د کناه په پیښمانتیا باندی ژړل ۳ په لوږه باندی صبر کول.

حدیث شریف : د نبی کریم ص مبارک ارشاد دی فرمائی چې څوک د پنځه وخته لمانځه اهتمام وکړی نو الله ﷻ د هغه لپاره (پنځه) قسم اعزاز او اکرام فرمائی لکه ۱ د هغه به دنیا کی د رزق تنکی لری کړم ۲ د هغه به د قبر عذاب لری کړم ۳ د قیامت په ورځ به عمل نامه په ښی لاس ورکړم ۴ په پل صراط به ئی د بجلی غوندی تیر کړم ۵ جنت ته به ئی بی حسابه کتابه داخل کړم. (رواه تنبیة الغافلین، او لیث ثمرقندی، ابن حجر)

په حدیث شریف کی راغلی چې څوک لمانځه کی پورته وکوری لمانځه کی حضور خرابیږی داځکه چې لمانځه کی نظر پورته پاتی کیږی. (رواه دورمنشور)

په حدیث شریف : کی راغلی چې څوک د ماخستن لمونځ په جماعت سره وکړی لکه دی سړی چې نیمه شپه ټول عبادت او ذکر سره تیره کړی وی. (فضائل اعمال)

او څوک چې د سهار لمونځ په جمعه سره وکړی لکه دی شخص ټوله شپه په عبادت او بندکی سره تیره کړی وی خوشبخته به تل خپل لمونځونه په جماعت سره کوی. (رواه

(c) ketabton.com: The Digital Library



فضائل اعمال)
حدیث شریف : نبی کریم ص فرمایلی چی لمونځ محوه کوونکی د گناهونو دی څوک چی اول لمونځ وکوی دوهم لمانځه پوری الله ﷻ ورته صغیره گناهونه معاف کوی.
یوه روایت راغلی چی که چیری خلکو ته معلومه شی چی د بانک او اقامت او د اول صف ناسته لمانځه کی څومره ثواب لری نو بیا به دا شخص په پچه اچولو سره دا چانس ځانته پیدانکړی حتمی به ئی بچه پری اچول. (رواه فضائل اعمال)
مسئله په مکروهه وخت کی د جنازی لمونځ او سجده تلاوت دواړه اداکیږی لیکن لږ غوندی کراهیت لری. (رواه فتاوه و دودیه)

## د لمانځه شرطونه

د لمانځه د صحت لپاره ۷ شیان بیرون د لمانځه نه دی چی د لمانځه خارجی شرائط بلل کیږی ۱ پاکوالی د بدن ۲ پاکوالی د جامی ۳ پاکوالی د جای ۴ ستر عورت دی ۵ د لمانځه نیت دی ۶ مخامخ قبلی ته دریدل ۷ وخت دی (رواه شرح التنویر)
مسئله کله چی د لمانځه نیت وتړل شی باید زړه کی پخه اراده ونیسی او که چیری په خوله نیت وتړی نو دا ورته بهتره خبره ده (رواه دورمختار)
مسئله د فرض او واجبو نیت کی تعین د وخت بلکول ضروری ده که د رکعتو تعین ئی ونه کړو باک نلری همدارنکه د ماسپښین لمانځه کی په نیت کی د مازدیکر نوم واخیستل شی خیر دی لمونځ ئی کیږی (رواه شامی دورمختار و ردمختار)
یا ئی د دوه رکعته په عوض څلور یا شپږ رکعته د خولی ووتل فرق نلری نو لمونځ ئی کیږی.
مسئله علما کرام فرمائی چی د فرض او واجب لمونځونو نه سوا نورکوم لمونځونه چی دی صرف د لمونځ نیت کافی دی چی ووائی لمونځ کوم نو دا تخصیص ضرور نه دی چی ووائی سنت د نن سبا یا ماسپښین یا تراویح نفل خسوف یا کسوف لیکن غوره دا ده چی د وخت تخصیص پکښی وشی او د نفلو اداکولو کی ضرورت نشته (رواه شامی و کبیری)
مسئله د امام لپاره د نیت تړل ضروری ده خپل د امامت نیت به کوی وائی به چی زه د دی خلکو امامت کوم (رواه شرح تنویر)
قبلی ته مخ کول که څوک داسی ځای کی کیر راغی چی قبله ورته معلومه نه وه څوک

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم نه وی چی د قبلی پوښتنه وکړی دلته به لمونځ کذار خپل فکر تر آخری پکار واچوی هری خواته ئی چی یقین راغی هغی خواته به لمونځ وکړی لمونځ ئي کيږی اوکه په لمانځه کی ورته د قبلی معلومات وشو نو بيا به مخ اړوی.

مسئله که چا په نيت کی مخ می د کعبی شريفی په لور ونه ويل لمونځ ئی کيږی ليکن غوره او بهتره دا ده چی ووائی (رواه عالم‌کير دورمختار)

## د لمانځه مستحبه طريقه

کله چی لموځ کذار په لمانځه دريږی ۱ نيت وتړی بيا به دواړه لاسونه غوږو ته پورته کړی الله اکبر به ووائی چی دا تکبير تحريمه دی بيا به لاسونه تر نامه لاندی وتړی بيا به سبحانک الهم ووائی بيا به اعوذبالله ووائی بيا به بسم الله ووائی بيا به الحمدلله ووائی بيا به يو اوږد آيات يا دری لنډ ايتونه ووائی بيا به رکوع ته لاړشی په رکوع کی به دری واری سبحان ربی العظيم ووائی بيا به قامی ته لاړشی سمع الله لمن حمده ووائی بيا به سجدی ته لاړ شی په سجده کی به دری واری سبحان ربی الاعلی ووائی په همدی شکل به دوهم رکعت وکړی قاعده وکړی په قاعده کی به التحيت تشهد درودشريف او دعا ولولی اول به ښی خواته ورسته به چپی خواته سلام وکرځوی (رواه شرح تنوير و ردمختار)

فايده په رکوع کی به داسی خميږی چی ملا سر او کوناتې ئی په يوه سطحه قرار ولری او دواړه لاسونه ئی په فراخوکو په زنکنونو کلک نيولی وی.

همدارنکه به قامه کی داسی نيغ دريږی لکه څنکه چی په قيام کی دی ولاړ وی نو کله چی د سجدی لپاره ځی بايد زنکنونه ئی نيولی وی او د سجدی تکبير به وائی کله ئی چی زنکونه پر مځکه ولکوی بيا به خپل دواړه لاسونه وروسته پوزه بيا به وچويلی د دواړو لاسونو منځ کی کيږدی داسی حالت کی به ئی د لاسونو او پښو کوتی قبلی خواته برابری وی څنکلی به ئی د ځمکی نه جکی نيولی وی خپلی متې به تخرک لاندی نه نيسی لری به ئی نيسی همدارنکه به ئی خپل ورنونه د پنډيو اوکيډي نه جدا نيولی وی په همدی شکل به ټول رکعتونه وکړی کله چی په قاعده کيناست نو اتحيات به تر اشهدان لااله الاالله ووائی کله چی د اشهدان لااله الاالله ويله او دی اشهد ته ورسيده د ښی لاس منځنی کوته به د غټي کوتی سره حلقه کوی غچه کوته ورپسی نوری دواړه کوتی به وروولی او د (لااله) په ويلو به د شهادت کوته اوچته وی او د (الاالله) په ويلو به ئی بيرته کښته کوی ورپسی به درود

(c) ketabton.com: The Digital Library



شریف الهم صل علا محمد او درود شریف الهم بارک علی محمد ولولیی بیا به الهم ربنا ولولی بیا به ښی خواته سلام وکرځوی وروسته به چپی خواته سلام وکرځوی.

په جمعه کی به مقتدی امام پسی اعوذبالله ، بسم الله ، الحمدالله او سورت نه لولی کله چی امام قامه کی سمیع الله لمن حمده وویل نو مقتدی به ربنالک الحمد ووائی.

## د ښځی د لمانځه طریقه

د ښځي د لمانځه طریقه هم د نارینه د لمانځه غوندی ده لیکن په څو شیانو کی فرق لری

۱ تکبیر تحریمه نارینه خپل لاسونه غوږو پوری پورته کوی پورته کیدو وخت د څادر او پټونه ویستلی وی او ښځه خپل لاسونه د پورته کیدو وخت په ټکری کی دننه نیسی.

۲ نارینه خپل لاسونه قیام کی نامه لاندی تړی او ښځه ئی په سینه باندی ږدی او خپل لاسونه داسی ږدی چی د ښی لاس رغوی به د چپ لاس رغوی په شا پروت وی او نارینه غوندی د نامه لاندی د رغوئی حلقه پری نشته .

۳ نارینه رکوع کی ټیټیږی ښځه صرف دومره ټیټیږی چی د لاسوکوتی ئی زنکنو ته ورسیږی.

۴ نارینه رکوع کی زنکنونه په پراخوکوتو نیسی البته ټینک نیسی او ښځه محضی خپلی کوتی په زنکنو نیسی.

۵ نارینه سجده کی څنکلی تشو نه بیرته نیسی او ښځی ئی متصل ورسره نیسی.

۶ نارینه سجده کی څنکلی مځکی نه اوچته ساتی او ښځي به ئي پر مځکه لکوی.

۷ نارینه سجده کی خپله خیټه ورونو او خیټی د تخرک نه جدانیسی او ښځه ئی متصل ورسره نیسی.

۸ نارینه سجده کی دواړه پښی دروی ښځی به ئی نه دروی دواړه پښي به ښی خواته باسی.

۹ نارینه رکوع او سجده کی خپل ځان فراخ نیسی او ښځی به خپل ځان ټول نیسی.

۱۰ نارینه قاعده کی ښی پښه دروی او په چپه پښه کینی او ښځی په چپ کناټی ناسته وی دواړه پښی ښی خواته باسی.

۱۱ نارینه خپل قرائت په جهر او خفیه کوی او ښځه ئی په خفیه کوی په جهر ورته نشته

(c) ketabton.com: The Digital Library



(رواه طحطاوی)

## د لمانځه فرائض یا احکام

په لمانځه کی ۷ فرضونه یا ارکان دی ۱ تکبیر تحریمه ۲ قیام ۳ قرائت ۴ رکوع ده ۵ سجده ده ۶ اخری قاعده ده ۷ په خپل عمل سره وتل د لمانځه نه (سلام کرځول دی) .

## د لمانځه واجبات

په لمانځه کی ۲۰ واجبات دی که چیری په دا شلو واجباتو کی یوا واجب څوک قصدی پریږدی نو لمونځ ئی فاسد شو اعاده ئی پری واجب کرځی ۱ د فرضو واجبو سنتو او نفلو ټولو رکعتونو کی د سورت فاتحی لوستل ۲ فاتحی سره د سورت ضمیمه کول ۳ د فرضو په څلور رکعتي او دری رکعتی کی د قرائت تعین کول دی ۴ د فاتحی لوستل اول کی ۵ خفیه لمونځونه په خفیه کول ۶ جهری لمونځونه په جهر سره کول ۷ مقتدی به امام پسی قرائط نه کوی ۸ مقتدی به د امام مطابعت کوی ۹ د لمانځه ترتیب دی ۱۰ د لمانځه د رکعتونو کول پر خپل ځای ۱۱ تعدیل د ارکانو وی یعنی رکوع سجده په خپل اطمنان سره کوی ۱۲ قامه ده ۱۳ د هغه تعدیل دی ۱۴ اوله قاعده ده ۱۵ دوهمه قاعده کی د تشهد ویل دی ۱۷ دواړه خواو ته سلام کرځول ۱۸ وترو واجبو کی دعا قنوت ویل ۱۹ او په دواړو اخترو کی د لمانځه تکبیرات دا ټول واجب طریقه ده.

## د لمانځه سنتونه

په لمانځه کی ۲۸ سنتونه دی ۱ تکبیر تحریمه د لاسو اوچتول تر غوږو ۲ دکوتو نیول په خپل حالت ۳ قیام کی د نارینه لاسونه نامه لاندی نیول ۴ ښی لاس په کیڼ لاس ۵ د ثنا ویل ۶ اعوذباالله ویل ۷ د بسم الله ویل ۸ امام پسی امین ویل ۹ د فرضو دریم او څلورم رکعت کی د فاتحی لوستل دی ۱۰ رکوع کی دری کرته تسبیح ویل ۱۱ رکوع کی به نارینه خپل زنکونه فراخ نیسی ۱۲ په رکوع کی دواړه پرکی یوځای کول او پنډی نیغی نیول دی ۱۳ په قامه کی امام به سمع الله لمن حمده وائی ۱۴ مقتدی به ربنالک الحمد وائی ۱۵ سجدی ته د تلو وخت کی به اول دواړه زنکنونه بیا به دواړه لاسونه بیا د تندی ایښودل دی ۱۶ په سجده کی دری واری تسبیح ویل ۱۷ د تکبیراتو انتقال دی ۱۸،۱۹ د امام لپاره د تکبیراتو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



سمع الله لمن حمده په جهر ویل ۲۱،۲۲ جلسه او قاعده‌کی به نارینه خپله ښی پښه بـه دروی او په چپه به‌کینی ۲۴ اخره قعده‌کی د تشهد وروسته درود شریف ویـل ۲۵ د سلام‌کرځـول اول ښی خواته او وروسته چپی خواته ۲۶ امام به سلام په جهرکرځوی ۲۷ مقتـدی بـه سلام خفیه‌کرځـوی ۲۸ د سـلام‌کرځولـو وخـت‌کـی د سـلام اچولـو نیـت دی (رواه دورمختـار و شامی)

## د لمانځه اداب او مستحبات

۱ تکبیر تحریمه‌کی لاسونه د لستونو او څادر نه ویستل دی ۲ پـه قیـام‌کـی د دواړو قـدمو ترمنځ څلورکوتی فاصله ۳ په حالت قیام‌کی سجدی جای ته او په رکوع‌کـی د دواړو قـدمو ظاهر ته او په سجده‌کی د پوزی سر ته او په قاعده‌کی غیږی ته‌کتل ۴ رکـوع‌کـی د لاسـونو کوتی خوری ایخودل دی ۵ په یوائی حالت‌کی د تسبیح دری واری ویل ۶ په قدر د طاقـت د ټوخی دفعه‌کول د ارکمی دفعه‌کول اوکه د دی طاقت ئی نه وه نـو د چـپ لاس پـه ظـاهر یا په لستونی باندی خوله پټول دا پورته د لمانځه آداب شول (شرح التنویر)

کوم وخت چی اقامت‌کی حی علی الفلاح وویل شـو امـام بـه مقتـدیانو تـه محـراب‌کـی ودریږی خپل نظر به مقتدیانو ته‌کړی اوکـوم وخـت چـی پـه اقامـت‌کـی قـدقامت الصـلات وویل شی امام به لمونځ شروع کړی.

مسئله‌که لمونځ د مازدیګر وه یا د سحر وه نو په لمانځه پسی اوکه د بل وخت وه پـس د سنتو نه مستحب طریقه ده چی دری واری استغفرالله الذی لااله الاهوالحی القیوم واتـوب الیه بیا به یوکرت ایات‌کرسی قل هوالله قل اعوذبالله قل اعوذبرب الناس یو یوکرت ووائـی همدارنګه ۳۳ کرته سبحان الله ۳۳ کرته الحمدالله ۳۴ کرته الله اکبر ووائی بیا به نـو څلورمـه کلمه لااله الاالله وحده لاشریک له الملک وله الحمد وهو علی‌کل شی قدیر ووائی.

## د لمانځه مکروهات

مسئله په لمانځه‌کی په بدن یا جامو باندی لوبی‌کول مکروه تحریمی ده همداسـی پیکـی اړوه ول او رااړول مکروه تحریمی ده اوکه سجدی تـه ئـی مزاحمـت‌کـاوه بیـا فـرق نـه لـری (شامی وکتاب الحج)

مسئله سجدی ته د تلو وخت‌کی د جامو ټولول لمونځ مکروه‌کوی (رواه شرح التنویر)

مسئله‌کوم ځای‌کی چی فکرکی پراکندی راځی لکه د لهو لعب ځای‌کی لمونځ مکـروه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده (رواه شرح التنویر)

مسئله د بل چا مخی ته لمونځ کول مکروه تحریمی دی درصورت چی منځ کی پرده نه وی اوکه ناست یا ولاړ وی او خبری کولی یا ولاړ وه یا ئی کارکاوه شاته ئی لمونځ کول مکروه ده.

مسئله په لمانځه کی د کوټو تقا ویستل په تشی لاس ایښودل ښی او چپی خواته د مخ او سر اړول دا ټول مکروه تحریمی دی د سترګو اړول ښی او چپی خواته لمونځ مکروه کوی په لاس او سر جواب ورکول لمونځ مکروه کوی (رواه شرحه هدایه)

مسئله په سر توری لمونځ کول مکروه ده اوکه د عاجزی د وجی وی نو فرق نه لری (رواه دورمختار)

مسئله که توپی یا لنګی د چا لمانځه کی ولویده غوره داده چی په سر ئی کړی لیکن د پټکی تړل یا د خولی بار بار په سر کول دا په عمل کثیره کی راځی ندی کوی (رواه دورمختار)

مسئله د نارینه دواړه څنګلی پر مځکه لمانځه کی ایښودل مکروه تحریمی دی (رواه هدایه)

مسئله که د جانداره شی تصویرونه د لمونځ کوونکی د سر د پاسه یعنی په چت کی ښی خواته یا چپی خواته وه نو لمونځ ئی مکروه ده اوکه شاته او پښو لاندی ئی وی فرق نلری اوکه تصویر وړکی وه په ولاړی ئی نشو لیدی یا پورته خواته وه په دی کی کراهیت نشته (رواه شرح التنویر)

مسئله په لمانځه کی د آیتونه صورتونه شمیرل په ګوتو باندی مکروه دی همدارنګه د تسبیحاتو شمیرل مکروه دی اوکه د یاداشت لپاره په ګوتو زورکاوه فرق نلری (رواه دورمختار)

مسئله په دوهم رکعت کی د قرائت لوستل د اول رکعت نه د دری ایتونو په اندازه زیات مکروه دی (رواه دورمختار)

مسئله په لمانځه کی د سترګو بندول مکروه دی اوکه د عاجزی او خشو ع لپاره وی فرق نه لری (شرح تنویر)

مسئله په لمانځه کی د خراشکی توکول بی ضرورته مکروه دی اوکه په ټوخی خراشکی راغی نو هغه کولای شی چپی خواته توکړی اوکه په جوماتکی وه بیا به ئی په جامو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وموشی (رواه مینه کبیری)

مسئله که په لمانځه کی چا یو غړی دری کرته وکراوه البته یوه رکن کی نو لمونځ ئی فاسد شو (رواه شامی)

مسئله په لمانځه کی په دواړو پوندو ناسته مکروه ده او د سپی په شکل لمانځه کی ناسته مکروه تحریمی ده لکه چی دواړه ورنونه ئی درولی وی سینی ته ئی نږدی کړی وی کوناتې پرمځکه او لاسونه ئی پر مځکه وی (واه دورمختار و ردمختار)

مسئله په لمانځه کی خوله کی پیسه یا بل شی نیول مکروه دی داځکه قرائت نشی ویلی (رواه شرح تنویر)

مسئله په لمانځه کی داسی پکړی تړل چی کوپړی ئی لوڅه وی خولی ونه لری مکروه ده (رواه دورمختار)

مسئله په لمانځه کی د څادر داسی اچول چی څنډې ئی اړولی نه وی اوکشته پرتی وی داسی حالت کی لمونځ مکروه کوی البته مکروه تحریمی ده همدارنګه که ئی کمیس کرتی یا چپنه ئی په اوکو اچولی وی او خپل لاسونه د لستونو نه ویستلی نه وی لمونځ مکروه تحریمی ده (رواه دورمختار و شامی)

مسئله په لمانځه کی بی ضرورته تکیه کول مکروه دی (رواه منیه)

مسئله که طعام تیار وه او دی وږی وه اول به طعام خوری بیا به لمونځ وکړی او که د لمانځه د فوت کیدو ویره وه لمونځ به وکړی بیا به طعام وخوری (رواه شامی)

مسئله که د لمونځ ګذار لویی یا وړی بولی راغللی یا کیډی په تنک کړو لمونځ ورته مکروه ده ولوکه لمانځه کی هم وی (رواه شرح تنویر)

مسئله که لمونځ کوونکی سورت تکمیل کړی نه وی یوه یا دوه کلمی ورته پاتی وی رکوع ته لاړ شی او په رکوع کی ئی سورت تکمیل کړو نو لمونځ ئی مکروه شو (رواه منیه)

مسئله په جماعت کی د امام اوچت دریدی په اندازه د یو شرعی ګز داسی حال کی د ټولو لمونځ مکروه ده اوکومه ځمکه چی چا په ظلم نیولی وی هلته هم لمونځ مکروه ده (رواه دورمختار)

مسئله کوم فرض لمانځه کی سنت ولری اوږده دعا مکروه ده امام اعظم رح په نزذ سنتو کی تاخیر راوستل مکروه دی. حدیث شریف کی راغلی چی نبی کریم ص به کله سلام وکرځاوه نو (الهم انت السلام و منک السلام تبارکت و تعالیت یا ذوالجلال والاکرام) په

(c) ketabton.com: The Digital Library



قـــــــــــدر بـــــــــــــــه کناســـــــــــــت او بـــــــــــس

همدارنکه امام ته د فرضو نه پس خپل ځای باندی سنت کول مکروه دی خپل ځای به بدلوی مقتدی لپاره یا چی ځوک په تنهائی لمونځ کوی نو بیا مکروه نه ده لیکن د ځای بدلول بهتر دی د امام محمد په نزد د صفو ماتول مستحبه طریقه ده د سنتو اداکول کور کی فضیلت لری (رواه دورمختار و شامی)

مسئله دکعبی شریفی د پاسه همدارنکه په لاره کی ژرنده کی او هغه مځکه چی په ظلم نیول شوی وی هلته لمونځ مکروه ده (رواه دورمختار)

## په هغو شیانو چی لمونځ فاسدیږی

مسئله که چا په لمانځه کی اوله قاعده پوره کړی نه وی قصداً یا سهواً ئی خبره وکړه دوم که د چا لمانځه کی خولی نه اه اوه یا اف یا ئی اواز وکړو دریم که په لمانځه کی وپرنجیده الحمدالله ئی وویل یا ئی د بل چا په پرنجی باندی یرحمک الله وویل څلورم که چا په لمانځه کی زیری وکړو او ده الحمدالله وویل پنځم په لمانځه کی الله اکبر پرځای چا الله جل جلاله یا اکبر وویل شپږم که په لمانځه کی چا اواز ورباندی وکړو او مقابل کی د ده د پوه کولو په خاطر چی زه لمانځه کی یم ده خپل قرائت په زوره کړو یا ئی سبحان الله وویل نو لمونځ ئی فاسد نشو یعنی فاسد کیږی نه. همدارنکه که امام د اخری قاعدی په عوض قیام ته لاړه او مقتدی د فتحی په نیت سبحان الله وویل خیردی بلکه بهتر هم دی او په لمانځه کی چا په چا قصداً یا سهواً سلام واچوه اکرکه علیکم ورسره نه وه اتم که چا دری یا څلور کرته نیت تړلی وی او قعده اولی کی سلام وکرځاوه پدی نیت چی ما لمونځ پوره کړی دی لمونځ ئی نه فاسد کیږی شرط دا ده چی خبری ئی نه وی کړی اوکه د ماخستن لمانځه کی پدی کمان چی ما د تراویح نیت تړلی دی په اوله قاعده کی ئی سلام وکرځاوه نو لمونځ ئی فاسد شو هم چا چی لمانځه کی غاړه تازه کړه او څه حرف پکښی پیداشو نو لمونځ ئی فاسد شو که عذر وه خیردی اوکه ئی بی د عذره وه یا ئي د زیری په جواب کی غاړه تازه کړی نو لمونځ ئی فاسد شو لسم که د چا په لمانځه کی په کتاب یا بله نوشته سترکی ولکیدی لیکن پی پوه نشو خیردی باک نلری اوکه ئی ولوسته څه مقصد ئی ورنه واخیسته نو لمونځ ئی فاسد شو یوولسم که ځوک لمانځه کی ولاړ وی د قرانکریم یو ایات یا زیات ئی ولوسته نو لمونځ ئی فاسد شو دولسم عمل کثیره که چا لمانځه کی هغه عمل چی د لمانځه د جنسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي یا هغه د لمانځه د اصلاح لپاره نه وي وئی کړو نو لمونځ ئی فاسد شو.

عمل کثیره هغه ته وائی چی په لمانځه کی ولاړ وي او بل شخص دی ووینی او هغه دا کمان وکړی چی دا سړی په لمانځه ندی اوکه دا عمل کثیره ئی د لمانځه د اصلاح لپاره وی لکه چی اودس ئی مات شه نو د اودس تازه کولو لپاره لاړه او بیرته راغی نو پدی عمل کثیره لمونځ نه فاسدیږی. دیارلسم / سهواً یا قصداً د څه شی خوراک یا څښاک ولوکه د یوی کنځلی (کنجت) په اندازه هم وی او په غاښوکی څه شی وی او هغه دی لمانځه کی تیر کړی که د نخود په اندازه وی یا زیات وی نو لمونځ ئی فاسد شو اوکه د نخود نه کم شی ئی تیر شی بیا نو فرق نلری.

څوارلسم /که د چا خوله په خواږه شی وی او بی د ژوولو ئی تیر شول نو لمونځ ئی فاسدیږی.

پنځلسم /که ښځی لمونځ کاوه بچی ئی ورنه تی وروده او پی بلکول پری راکوزی نشوی لمونځ ئي نه فاسدیږی اوکه ئی پی پری راکوزی شوی نو لمونځ ئي فاسد شو.

شپاړلسم لمانځه کی خپل امام نه سوا بل چاته فتح ورکول لمونځ فاسدوی همدارنګه که لمونځ کوونکی بل چاته د لمانځه د اصلاح فتح ورکړی هم لمونځ فاسد شو.

اوه لسم /که د امام لمانځه کی اودس مات شو او امام ووت امام بل څوک قائم مقام هم ونه درلوه او نه بل څوک ودریده داسی حالت کی د ټولو مقتدیانو لمونځ فاسدیږی.

اتلسم /که امام پر خپل ځای لمانځه کی لیونی نابالغ هلک یا ښځه ودروله دلته د ټولو لمونځ فاسد شو.

نولسم که سړی لمانځه کی وه او ښځی دی مچ کړو د ده لمونځ نه ماتیږی بیا ئی که شهوت راغی بیا نو لمونځ ئی ماتیږی اوکه چیری ښځی لمونځ کاوه سړی دا مچ کړه داسی وخت کی د ښځي لمونځ ماتیږی ولوکه شهوت ئی راغلی وی یا نه وی راغلی یا دا چی سړی په شهوت شکل کړی وی یا بی شهوته وی.

شلم /که په لمانځه کی د چا عورت شکاره شو یا پری نجاست ولکیده په هره اندازه چی وی منعه ده لمونځ ئی فاسدیږی.

یوویشتم /که په لمانځه کی د څه وجی لپاره د سجدی ځای ته په یوکرت وړاندی شو که امام د ده او سجدی ترمنځ یو صف نه تر بل صف ترمینځ د فاصلی په اندازه حرکت وکړی لمونځ ئی نه فاسدیږی اوکه دینه زیات وی نو لمونځ ئی فاسدیږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوه ویشتم / لمونځ کوونکی که په لمانځه کی یو رکن ادانکړی نو لمونځ فاسد شو.

درویشتم / د لمونځ کوونکی مخکی سپی یا پیشو تیر شول لمونځ ئی نه ماتیږی یا بل ځاروی وی هم نه ماتیږی لیکن د تیریدونکی لپاره سخته کناه ده بهتره داده چی لمونځ کوونکی خپل لمونځ داسی ځای کی وکړی چی هلته د انسانانو او حیواناتو تک او راتک نه وی (رواه دورمختار، و ردمختار، بحررائق، شامی، عالمکیر، و شرح تنویر) .

## د وتر واجبو بیان

د وتر لمونځ واجب دی واجب فرضو ته نږدی دی پریښودل ئی لویه کناه ده او قضائی راوړل ئی واجب دی.

مسئله وتر واجب دری رکعته دی کله ئی چی اوله قاعده وکړه دریم رکعت ته پورته شو الحمدالله پسی به سورته ووائی دواړه لاسونه به غوږو ته پورته کړی بیا به دواړه لاسونه وتړی اودا دعا قنوت به لولی (الهم انا نستعینک و نستغفرک ونومنوبک ونه توکل علیک ونثنی علیک الخیر و نشکرک ولانکفرک ونخلع ونترک من یفجرک الهم ایاک نعبد ولک نصلی ونسجدو الیک نسعی ونحفدو نرجو رحمتک ونخشی عذابک ان عذابک باالکفار ملحق)

اوکه دعا قنوت ورته یاد نه وی نوکولای شی چی دا دعا ولوی ( ربنا اتنا فی الدنیا حسنة وفی الاخرة حسنة وقنا عذاب النار)

یا دی دری واری الهم اغفرلی ولولی اوکه دائی هم د وسی پوره نه وه دری واری به یا رب ولولی صحیح کیږی نوکله چی رکوع ته لاړه خپله قامه سجده او جلسه به کوی اتحیات به لولی درود شریف او دعا به وائی سلام به کرځوی (رواه البدایع و شرح البدایه)

مسئله دعا قنوت په خفیه لوستل کیږی هغه که امام وی یا مقتدی وی (رواه منیه)

مسئله که ئی په دریم رکعت کی دعا قنوت هیره شوه نو دی رکوع سجدی او قاعدی وروسته به سجده سهوه وکړی بیا به اتحیات اول نه تر اخره ولولی سلام به وکرځوی (رواه شرح التنویر)

مسئله که چا فاتحه ولوستله او سورت ئی هیر شو دعا قنوت ئی چی ولوستله سورته ورته یادشو سورته به ولولی وروسته به دعا قنوت بیا ولولی رکوع ته به لاړ شی (رواه قاضی خان)

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسئله که مقتدی دعا قنوت لاخلاصه کړی نه وه امام رکوع ته لاړه مقتدی به دعا قنوت پریږدی د امام مطابقت به کوی او که مقتدی څه حصه نه وه لوستلی که ئی یقین وه چې اما رکوع پوره کولای نشی او زه به پسی ورسیږم نو ویل ورته بهتر دی بیا به رکوع ته امام پسی لاړ شی او که رکوع ورنه فوت کیده نو دعا قنوت به پریږدی رکوع ته به لاړ شی (رواه خانیه و شامی)

## د سنتو بیان

مسئله د سحر فرضو نه مخکې دوه رکعته سنت موکد دی چې په حدیثوکې د دی سنتو ډیر تاکید راغلی دی بلکه بعضې علما کرامو وربانډی د واجبو حکم کړی ده بل ځای ئي لیکلی چې دا دوه رکعته سنت دنیا نه او څه چې دنیا کې دی بهتره ده (شرح تنویر و ردمختار)

مسئله د ماسپښین لمانځه وخت کې د فرضو نه مخکې څلور رکعته سنت موکد دی همدارنګه د فرضو وروسته دوه رکعته سنت موکد دی په احادیثوکې هم د دی سنتو ډیر تاکید راغلی دی چې بی د عذره پریښودل ئی ښه عمل نه دی (رواه دورمختار و ردمختار)

مسئله د جمعې د لمانځه اولنی څلور رکعته سنت موکد دی بیا دوه رکعته فرض دی بیا څلور رکعته سنت موکد دی  د امام یوسف رح په نزد د فرضو وروسته شپږ رکعته سنت موکد دی (مجمع الانهار)

مسئله د مازدیګر لمانځه مخکې څلور رکعته سنت موکد ندی کول ئی ثواب لری نه کول ئی عذاب نه لری (رواه منتقی)

مسئله د ماښام دری رکعتو فرضو وروسته ورپسی دوه رکعته سنت موکد دی (رواه شرح تنویر)

مسئله د ماخستن لمانځه کې اول څلور رکعته فرض دی ورپسی دوه رکعته سنت موکد دی ورپسی دری رکعته وتر واجب دی (رواه شرح تنویر)

## د جُمعې د ورځې فضیلت

د جمعې په ورځ ټول مخلوقات سره یوځای شوی دی او پدی شپږ ورځوکې الله تعالی ځمکې او اسمانونه سره د کائناتو ټول ئی پیداکړی د حضرت ادم ع مبارک جسد ئی پدی ورځ تکمیل کړی د جمعې په ورځ ئی ادم ع جنت ته داخل کړی ده او د جمعې په ورځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ئی حضرت بابا ادم ع د جنت نه ویستلی چی د دنیا د ابادی ظریعه کرځیدلی دی او یو لوی نعمت کرځیدلی دی او د خلافت الهی او د عدل د ظهور یو سبب کرځیدلی دی.

د جُمعی د لمانځه بیان د ایات شریف مفهوم دی اللهﷻ فرمائی چی کله د جمعی د لمانځع اذان وویل شی نو تاسی د خدای پاک ذکر ته ورشی خرید فروش پریږدی. د جمعی لمونځ فرض عین دی چی متواتر په قرانکریم احادیثوکی او اجماع امت سره ثابت شوی دی د فرضیت انکار ئی کفر دی او که څوک ئی بی د عذره پریږدی هغه فاسق دی اللهﷻ د جمعی لمونځ د دی لپاره په خپلو بندکانو باندی فرض کړی ده چی مسلمانان په جمعه کی یو واری سره راټولیږی او جامع جومات کی سره ټول یوځای د جمعی لمونځ اداکوی

حدیث شریف : ابوهریرة رض نه روایت دی فرمائی چی د جمعی په ورځ یو داسی ساعت شته چی د مسلمان بنده په هغه کی چی جایزه دعا وکړی اللهﷻ هغه دعا قبلوی په تعین کی ئی شاه عبدالحق صاحب دهلوی فرمائي چی دا ساعت د خطبی ترختمیدو پوری دی بل دا چی آخری حصه کی ده (رواه بخاری شریف و مسلم)

حدیث شریف : د ابوهریرة رض نه روایت دی چی نبی کریم ص فرمایلی چی ټولو ورځوکی غوره ورځ جمعی ورځ ده. پدی ورځ کی به شپیلی پوه کیږی نو د جمعی په ورځ پر ما درود شریف ډیر ډیر وائی ځکه چی د جمعی ورځ سید الایام ده او د ټولو ورځو سرداره ورځ ده اللهﷻ ته دا مبارکه ورځ د وړوکی اختر او لوی اختر ورځو نه مرتبه زیاته کڼلی ده د جمعی په ورځ ټول ارواح سره راجمعه کیږی د جمعی په ورځ مړو نه د قبر عذاب بچ کیږی هر څوک چی د جمعی په ورځ یا شپه مړ شی هغه د قبر فتنی نه بچ وی د جمعی په ورځ دوزخ نه تیریږی د جمعی په ورځ جنتیان د خپل رب ج دیدارکوی (ابوداود ، مشکوة ، دورمختار و شامی)

حدیث شریف : د جمعی په ورځ غسل کول مسنونه طریقه ده مسواک وهل ډیر فضیلت لری، پس د غسل نه د پاکو جامو اغوستل ، عطر یا نوره خوشبوئی لکول جومات ته مخکی تلل ډیر ثواب لری ځکه چی ملائکی د جومات د راتلونکو نومونه دروازه کی لیکی (رواه بخاری و مسلم)

مسئله چا چی د جمعی په خطبه کی خبری وکړی د هغه مثال داسی دی کله چی خر په کتابونو بار کړی پروت وی او چا چی ورته وویل چی چپ شه نو د هغه هم جمعه نشته (ثواب ئی) (رواه مشکوة شریف)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د جمعی لمونځ پر چا فرض دی

۱ نارینه ده پر ښځه فرض نه دی ۲ آزاد دی په مرئی فرض نه ده ۳ مقیم ده پر مسافر فرض نه دی ۴ صحت دی پر مریض فرض نه ده ۵ په بینا دی په ړانده فرض نه دی ۶ په بندی فرض نه دی ۷ د شرعی عذر وخت کی فرض نه دی ۸ اسلام دی پر کافر فرض نه دی ۹ بلوغ دی په ماشوم فرض نه دی ۱۰ عقل دی پر لیونی فرض نه دی.

## د جمعی لمانځه د صحت شرطونه

د جمعی د لمانځه شرطونه ۶ دی ۱ شهر دی یا د شهر بیرون لوی کلی ۲ پدی لمانځه کی سلطان یا نائب حاضر وی ۳ وخت شرط دی (ماسپښین وخت) ۴ د خطبی ویل شرط دی ۵ جماعت دی په انفرادی حالت کی نه کیږی اقلً باید د جمعی په لمانځه کی ۳ کسه جماعت کی حاضر وی ۶ خطبه باید د لمانځه مخکی وویل شی (رواه تحتاوی علی مراتی)

## د جمعی د لمانځه د خطبی مسائل

مسئله کله چی امام خطبی ویلو په خاطر ممبر ته وخوت کینی به موذن به آذان کوی کله چی خطبی ته راوزی امام ته خبری کول مکروه دی.

مسئله که چا سنت یا نفل کول او خطبه شروع شوه سنت به پوره کوی او نفل به قطعه کوی (شرح تنویر)

مسئله په خطبه ویلو کی د غوږ نیول ورته واجب طریقه ده کله چی امام خطبه کی صلو علیه یا د نبی کریم ص نوم اخلی اوریدونکی به درود شریف وائی لیکن زړه کی به ئی وائی (رواه شرحه تنویر)

همدارنکه په خطبو کی یا د خطبی منځ کی چی خطیب به پر ممبر کنی د نورو خلکو دعا کی لاس اوچتول مکروه تحریمی ده اوکه پر زړه بی د لاس اوچتولو دعا وکړی فرق نلری (رواه دورمختار)

مسئله په خطبه کی دا شیان سنت دی ۱ خطبه په ممبر ویل ۲ خطبه په ولاړی لوستل ۳ د خطبی شروع کی اعوذبالله خفیه ویل دی ۴ خطبه ویلو کی قوم ته مخامخ دریدل ۵ د دو خطبو منځ کی د دری تسبیح ویلو په اندازه ناسته په ممبر باندی ۶ خطبه به نه ډیره لنډه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وائی او نه ډیره اوږده خلاصه د یوه سورت د مقدار نه اوږدول ئی مکروه ده (رواه عالمګیر و شامی)

## د جمعی د لمانځه مسائل

مسئله که د جمعی لمانځه کی څوک امام سره شامل شه په تشهد کی یا سجده سهوه کی یا د سجدی سهوی وروسته په تشهد کی دا مسبوق کڼل کیږی نو د جمعی لمونځ به پوره کوی شاملیدل ئی صحیح دی (رواه هدایه و شامی)

مسئله څوک چی نورو لمونځونو کی امامت کولای شی هغه د جمعی د لمانځه لپاره هم امامت کولای شی اوکه ئی نشی کولای نو هغه به ئي نه کوی (رواه در ورد)

مسئله که مریض د ماسپښین لمونځ کاوه دا ورته بهتره ده چی کله امام د جمعی لمونځ اداکړو وروسته به مریض خپل لمونځ وکوی (رواه دورمختار و ردمختار)

مسئله معزور مسافر او قیدیان که په مصر (شهر) کی وه او دوی د جمعی په ورځ د ماسپښین لمونځ اداکاوه نو د ماسپښین لمونځ به په جماعت نه اداکوی او په جماعت اداکول ورته مکروه تحریمی ده نو ځان ځان له به ئی کوی (رواه دورمختار و شامی)

مسئله کوم سړی چی د جمعی خطبه ولولی امامت د جمعی به هم هغه کوی اوکه خطبه یوه لوسته او مخکی لمونځ بل وکه دا هم جائز دی (رواه ردمختار)

مسئله د جمعی د لمانځه اول بانګ چی وویل شو پس سعیه واجبه ده چی پس د هغه نه خرید فروخت ونه کړی او د بل کارکول هم ورته مکروه تحریمی دی. اوکه په چا چی د جمعی لمونځ فرض نه وی هغه د دی حکم نه مستثنی ده اوکه هغوی خرید فروخت یا بل کار وکاوه نو دا حرام نده (رواه ردمختار)

نبی کریم ص فرمایلی چی فرشتی د جمعی د لمانځه د راتلونکو نومونه لیکی اول کی چی څوک راشی د هغه لپاره اوښ قربانی درجه ده څوک چی دوهم ساعت کی راشی هغوی لپاره د غوا قربانی درجه ده دریم ساعت کی چی راشی هغه ته د پسه قربانی درجه او څوک څلورم ساعت کی راځی هغوی ته د چرک د حلالولو خیرات کول دی. د جمعی لمانځه ته پیاده تګ ډیر ثواب لری چی په هر قدم ورته د یوکال د روژو ثواب لری همدارنګه د جمعی په ورځ د سورت کهف ویل او درود شریف ډیر ثواب لری (رواه بخاری و مسلم شریف)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اختر د لمانځه مسائل

د اختر لمونځ یوه واجب طریقه ده کوم شرائط او د صحت شرطونه چې د جمعې د لمانځه دی هغه د اختر د لمانځه لپاره هم دی بی له خطبی نه. دا ځکه چی د جمعی خطبه شرط ده او د دواړو اخترو خطبه سنت طریقه ده بل فرق ئی دا دی چی د جمعی خطبه د لمانځه نه یعنی فرضو نه مخکی ویل کیږی او د اخترو د لمانځه خطبه د لمانځه وروسته ویل کیږی خطبی ته غوږ نیول او دریدل واجب دی (رواه هدایه و بحر رائق)

مسئله د وړوکی اختر په ورځ دا شیان سنت دی لکه غسل کول مسواک وهل خوشبوئی لکول صفا جامی اغوستل سهار وختی د صدقی فطر اداکول عیدکاه ته د تلو مخکی خواږه شی خوړل عیدکاه ته مخکی تلل عیدکاه ته پیاده تلل او بیرته راتلل په بله لاره باندی (رواه بحر رائق و نور الایضاح)

مسئله د دواړو اخترو لمانځه طریقه داده اول به داسی نیت وکړی (نیت کوم چی اداکړم د وړکی اختر دوه رکعته واجب لمونځ سره د تکبیراتو چی پر ما واجب شوی پدی حاضر وخت خاص خدای پاک لره اقتدا می کړی پدی حاضر امام پسی مخ می د کعبی شریفی په لوری الله اکبر) لاسونه به په سینه وتړی .

په نیت کی د خاصو الفاظو ضرورت نشته لیکن صحت ئی ضرور ده په زړه سره او که نیت په بله ژبه کوی هم فرق نه لری کله ئی چی نیت وتاړه الله اکبر ئی وویل لاسونه ئي غوږو نه کوزکړل سبحانک الهم ئی تر اخره پوری ولوستله نو دری زائد تکبیرونه داسی اداکوی لاسونه به غوږو ته پورته کوی الله اکبر به وائی لاسونه به زوړند نیسی بیا به لاسونه غوږو ته پورته کړی الله اکبر به ووائی لاسونه به بیرته کوزکړی بیا به دریم کرت لاسونه غوږو ته پورته کړی الله اکبر به ووائی لاسونه به سینه وتړی. بیا به امام اعوذبالله بسم الله په خفیفه ولولی الحمدالله او سورت به په جهر ولولی د اول رکعت رکوع او سجده به باقاعده وکړی بیا به دوهم رکعت کی الحمدالله او سورت ولولی د رکوع نه مخکی به لاسونه غوږو ته پورته کړی الله اکبر به ووائی لاسونه به بیرته کوزکړی ځوړند به ئی ونیسی همداسی به دری تکبیره اداکړی څلورم تکبیر باندی به رکوع ته ځی باقاعده به رکوه سجده او قاعده کوی سلام به کرځوی.

فایده په نیت کی به د وړوکی اخر عیدالفطر او د لوی اختر نیت کی به عیداضحیه یا

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوی اختر یادوی (رواه دورمختار و شامی و بحر)

مسئله که په اول رکعت کی امام ه زائد تکبیرونه هیر شول، بیا ئي د فاتحی په لوستلو کی ورته یاد شوه یا د فاتحی په لوستلو وروسته ورته یاد شوه نو دفعتاً به خپل تکبیرونه کوی قرائت به د سر نه کرځوی او که امام سورت فاتحی نه پس لوستلی وه نو تکبیرونه بیرته راکرځوی خپل رکعتونه به پوره وکړی اخر کی به سجده سهوه وکړی (رواه فتح القدیر و شامی)

مسئله که امام دوهم رکعت کی زائد تکبیرونه پریښودل (هیر شول) بیا ئی رکوع کی ورته یاد شول نو په رکوع کی به ئی بی لاس اوچتولو نه ووائی بل روایت کی راغلی چی بیرته به ورو قیام ته ځی تکبیرونه به ووائی رکوع به بیرته راکرځوی اخر کی به سجده سهوه وکړی (رواه دورمختار و شامی)

مسئله څوک چی د اختر لمانځه کی امام سره داسی وخت شامل شه چی تکبیرونه ورنه تللی وه او د امام قرائت شروع کړی وه نو دی به خپل تکبیرونه اداکوی بیا به امام پسی وروسته غوږ نیسی (فتح القدیر دورمختار و شامی)

مسئله مقتدی که امام سره داسی وخت کی اختر لمانځه کی شامل شه چی هغه رکوع کړی وه که ئی یقین وه چی ما نه رکوع تیریږی نو په ولاړی به تکبیرونه ووائی بیا دی رکوع کی شامل شی او که یقین وه چی رکوع رانه ختمیږی رکوع کی به ئی بی له لاس اوچتولو تکبیرونه ووائی اکر که تکبیرونه پورته نوی کړی هم امام پسی پورته شو صحت پیداکوی (رواه فتح القدیر و شامی)

مسئله که چا امام پسی صرف دوهم رکعت ونیوه هغه به د امام سلام کرځولو پس پورته کیږی الحمدالله او سورته به لولی دری زائد تکبیرونه به کوی رکوع سجده او قاعده به کوی سلام به کرځوی لیکن بهتره داده چی اول به تکبیرونه ووائی وروسته به قرائت شروع کړی (رواه فتح القدیر و شامی)

مسئله که چا امام سره اخره قاعده کی ځان شامل که کله چی امام سلام ورځاوه دی به پورته کیږی خپل لمونځ به باقاعده لکه چی نورو امامانو سره اداکوی اداکړی تکبیرونه به هم وائی (رواه بحر رائق)

مسئله که د دواړو اخترو لمونځونه د عذر د وجی نه په اوله ورځه ادانکړی د وړوکی اختر تر دوهمی ورځی او د لوی اختر تر دریمی ورځی مواخر کړی لیکن د وړکی اختر

(c) ketabton.com: The Digital Library



لمونځ د دوهمی ورځی نه او د لوی اختر د دریمی ورځی نه زیات نشی مواخرکولای او که ئی مواخرکړه جواز نلری لمونځ ئی نه کیږی اکرکه عذر هم ولری (رواه بحر رائق و هندیه)

مسئله که د چا په عیدکاه‌کی اودس مات شو او ده نه لمونځ فوت کیده تیمم ورته جواز لری (رواه قاضی خان)

مسئله که د دواړو اخترو لمونځونه د عذر پواسطه اوله ورځ ادانکړی‌کولی شی چی د وړوکی اختر تر دوهمی ورځی او د لوی اختر تر دریمی ورځی تاخیرکړی. (رواه قاضی خان)

مسئله د اختر د لمانځه مخکی نفل‌کول‌کورکی او هم عیدکاه‌کی مکروه دی همدارنکه د اختر لمانځه نه بعد عیدکاه‌کی نفل‌کول مکروه دی اوکه په‌کورکی وی بیا فرق نه لری دلته بیا ښاښت نفل‌کول غوره دی (رواه فتح القدیر)

مسئله د اخترو په لمانځوکی بانک او اقامت نشته خطیب به متصل د لمانځه اداکولو وروسته ممبر ته خیږی خطبه به شروع‌کوی ناسته ورته پکار نده (رواه قاضی خان)

مسئله همدارنکه د اختر لمانځه نه مخکی نفل اداکول نر او ښځی او نورو ته جواز نلری (رواه دورمختار و شامی)

## تکبیرات تشریق

تکبیر تشریق (الله اکبر الله اکبر لااله الاالله والله اکبر الله اکبر ول الله احمد) چی د لوی اختر د میاشتی د عرفی د ورځی سهار لمانځه وروسته همداسی د اختر د اولی ، دوهمی ، دریمی ورځی پنځه وخته لمونځوکی همدارنکه د اختر د څلورمی ورځي د مازدیکر لمانځه پوری چی تول ۲۳ لمونځونوکی ویل‌کیږی دا واجب طریقه ده.

مسئله تکبیر تشریق د یوم عرفی د سهار د فرضو وروسته یو ځلی ویل‌کیږی تر څلورمی ورځی د لوی اختر البته د مازدیکر لمانځه پوری‌کله چی د فرضو نه سلام وکرځوی نر وی که ښځه مسافر وی یا مقیم وی یو ځل تکبیر تشریق ویل ورته واجب طریقه ده نارینه به ئی په جهر او ښځه به ئی خفیفه وائی (رواه بحر رائق و شامی)

مسئله که د امام تکبیرونه هیر شول مقتدی به ئی حتمی تکبیرات شروع‌کوی وائی به ئی اوکه د چا لمونځ قضا شو په قضا ئی لمانځه‌کی به هم د تکبیراتو قضائی راوړی (رواه بحر

(c) ketabton.com: The Digital Library



رائق و شامی)

مسئله که د فرض لمانځه وروسته چا ته ضرورت پیښ شو تکبیرونه ورنه هیر شول یا ئی اودس مات شو یا ئی قصدا خبری وکړی یا ئی سهواً خبری وکړی نو تکبیرونه ئی ساقط شول (رواه دورمختار و شامی)

مسئله که په دی ورځوکی د جمعی ورځ راغله نو د جمعی د لمانځه وروسته ویل ئی واجب دی همداسی د اخترو لمونځوکی ویل بهتر دی او د جنازی لمانځه کی ضرور ندی او واجب هم ندی (رواه دورمختار و شامی و بحر رائق)

نوټ د ذوالحیجی د اول تاریخ نه تر قربانی کولو پوری د ویښتانو او نوکانو اخیستل خلاف د مستحبی طریقی ده کله چی قربانی وکړه خپل ویښتان او نوکان به کټ کوی یوځای به دفن کړی چی د قیامت په ورځ تله کی ورته وزن زیاتوی.

## د جنازی د لمانځه بیان

دا چی د مرگ سلسله ابتدا نه د هر زیروح لپاره شروع شوی نو تر قیامته پوری دوام لری لکه چی الله ﷻ فرمائی (کل نفس ذالقت الموت) یعنی هر زیروح به په خپل وخت سره مری هیڅ رد بدل به پکښی نه وی نو الله ﷻ د امتحان لپاره داسی فرمایلی دی (خلق الموت والحیات لیبلوکم ایکم احسن عملا ) نیک بخته هغه شخص ده چی د الله ﷻ حکمونه او د نبی کریم ص مبارکی طریقی پر ځان عملی کړی وی خپل عمر ئی د شریعت په رڼا کی خپله بندکی او عبادت کی تیر کړی وی.

کله چی انسان پیداکیږی خپله دی په ژړا وی خپلوان ورته خوشحاله او خاندی همداسی دی چی کله د عمر وروستی مرحله کی دنیا نه ځی دی په خندا او خپلوان ئی ټول په ژړا وی دلته نیک بخته هغه شوک دی چی دی نیک عمل سره ځي او د هغه عظیم سفر لپاره ځان سره مناسبه تغذیه او خرچه ولری

| | |
|---|---|
| بیت: یاد داری که وقت زادن تو | همه خندان بودن و تو نالان |
| آن چنان زی که وقت رفتن تو | همه نالان بودن و تو خندان |

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمایلی چی مرگ د مومن لپاره خدائی ډالی ده مطلب دا چی مرگ د مومن لپاره دنیوی تکلیفونو د خلاصون وجه ده او جنت ته د داخلیدو او خپل رب ج سره د ملاقات ظریعه ده چی بنده یوه عالم نه بل عالم ته انتقال کوی چی علما

(c) ketabton.com: The Digital Library



کرامو ئی مثال د ماشوم خیال د مور خیټه کی ښودلی ماشوم د مور خیټه کی داسی خیال کوی چی بی له د مور د خیټی بله دنیا نشته وروسته چی دنیا ته راشی پته ورته ولګیږی چی دا خو دنیا ده همدارنګه دی دنیا نه پس بله دنیا هم شته نوکله چی مړ شی تعلق ئی عالم برزخ او عالم روح سره تعلق بسته شی نو بیا دا دنیا هتمی ورته ښکاری لکه څنکه چی ماشوم ته د مور خیټه حتمی ښکاره کیده (رواه دورمختار و شامی)

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمایلی چی ای خلکو د مرک نه مخکی تاسو په کناهو توبه وباسی او په نیکو اعمالو تلوار وکړی هسی نه چی په بل کار مصروف شی او توبه درنه پاتی شی نو الله ﷻ سره خپل زړه وتړی خپله ژبه په ذکر عادت کړی او خپله صدقه مسحقینو ته خفیه ورکړی (فضائل صدقات)

## د جنازی د لمانځه مسائل

د جنازی لمونځ فرض کفائی ده په مکلفینو باندی کوم شرائط چی نورو لمونځونو کی دی پدی لمانځه کی هم پری واجب دی یعنی (قدرت، عقل ، بلوغ او اسلام) چی پوره پری خبر شی.

مسئله که د امام جنازه کی اودس نه وی او ده بی اودسه جنازه وکړه د جنازی لمونځ ئی نه کیږی اوکه د امام اودس وه د مقتدیانو اودس نه وه او جنازه ئی وکړه جنازه ئی وشوه دلته تنها د مقتدیانو لمونځ ونشو امام لمونځ وشو داځکه که جنازه کی یو نفر هم وی جنازه کیږی (رواه دورمختار و شامی)

مسئله که د جنازی د لمانځه فوت کیدو ویره وه کولی شی چی تیمم ووهی او لمونځ وکړی اوکه اوبه هم موجودی وی او په استعمال ئی ځوک قادر نه وی تیمم ورته جواز لری (رواه بحر رائق)

مسئله د میت شرائط ۱ چی مسلمان وی دکافر جنازه نشه او مسلمان چی هر څنکه وی لکه فاسق وی یا بدعتی وی سوا د څو اشخاصو نه چی هغه د اسلام باچا نه بغاوت کړی وی دوهم ډاکو دی چی عین جنک مړ شی نو په داسی کسانو د جنازی لمونځ نشته اوکه چیری بی له جنک نه مری یا قتل کیږی نو د جنازی لمونځ ئی شته دریم چا چی خپل پلار قصدا وژلی وی د هغه جنازه نه کیږی څلورم چا چی خودکشی کړی د هغه جنازه ئی کیږی قصدا وی یا سهوا وی دکناه خبره ئی بیله ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسئله که مړی وړکی نابالغ وی صرف پلار ئی مسلمان وه یا ئی پلار کافر وه مور ئی مسلمانه وه په دواړو حالاتو کی د هغه جنازه کیدای شی داځکه چی طفل ته د مسلمان اطلاق کیږی (رواه شامی)

مسئله که مړی ته غسل نه وه ورکړای شوی یا د اوبو په نبود تیمم هم نه وه ورکړی شوی د هغه د جنازی لمونځ درست ندی اوکه ئی داسی حال قبرکی ښخ شوی وی په قبر ئی چنازه کولی شی (رواه شامی)

مسئله که ئی د مړی جنازه کړی وه دفن شوی وه وروسته ورپه یاد شو چی دی ته خو نه غسل او نه بل څه ورکړل شوی وه بیا به ئی جنازه وکړی داځکه چی مخکی ورته د طهارت شرط موجود نه وه او اوس ورته د طهارت شرط پیدا شو شرط ئی دا دی چی د غسل لپاره راویستل کیږی نه بعضی علما کرام وائی چی مړی بی غسله او به تیممه دفن شی د هغه په قبر جنازه نشته (رواه بحر رائق)

مسئله میت نه مراد هغه څوک دی چی ژوندی پیداشوی وی بیا مړ شوی وی اوکه مړ پیداشوی وی پر هغه د جنازی لمونځ نه کیږی (رواه شامی)

## د جنازی د لمانځه د اداکولو طریقه

د جنازی د لمانځه طریقه داسی ده چی اول نیت لکه (نَوَیتُ اَن اُصَلِی لِ اللهِ تعالی اَربَع تَکبِیرَات صَلات الجَنازَةِ اَثْنَا ءُ لِ اللهِ تَعَالَی وَالدُّعَا ءُ لِهَذَا المَیَّت) اوکه ئی په پښتو ژبه کوی لکه نیت کوم چی اداکړم د جنازی لمونځ سره د واړه تکبیراتو اقتدا می وکړه حاضر اما پسی مخ می د کعبی شریفی په لوری الله اکبرکله ئی چی نیت وتاړه الله اکبر ئی وویل لاسونه غوږو نه کوزکړل او په نامه ئی وتړل بیا به سبحانک الهم وبحمدک وتبارکتمک وتعالی جدک وجل ثنائک ولاالله غیرک ووائی بیا به بی د لاس اوچتولو نه الله اکبر ووائی بیا به درود شریف وائی بیا الله اکبر ووائی نوکه چیری عاقل او بالغ وه دا دعا به ووائی لکه (اَلّٰهُمَّ اغْفِرْلِیْ لِحَیِّنَا وَ مَیِّتِنَا وَ شَاهِدَنَا وَ غَائِبنَا وَ صَغِیّرنَا وَکَبِیْرنَا وَ ذَکَرنَا وَ اُنْثَانَا اَلّٰهُمَّ مَنْ اَحْیِیْتَهِ مِنَّا فَاَحْیَیْتَهُ عَلَی الاِسْلَامِ وَ مَنْ تَوَفَّیْتَهُ مِنَّا فَتَوَفَّهِ عَلَی الْاِیْمَانَ) اوکه چیری مړی اصلی لیونی یا نابالغ هلک وی د هغه لپاره بیا به دا دعا ولولی لکه (اَلّٰهُمَّ اْجعَلْهُو لَنَا فَرْطًا وَّ جَعَلْهُولَنَا اَجْرَوَ زُخرً وَجَعَلْهُولَنَا شَافِعَةً وَ مُشَفَّةً) ووائی اوکه چیری بیا مړی اصلی لیونی یا نابالغه انجلی وی دا دعا به ووائی لکه اَلّٰهُمَّ اَجْعَلْهَا لَنَا فَرْطًا وَ جَعَلْهَا لَنَا اَجّرً وَ زُخْرً وَ

(c) ketabton.com: The Digital Library



جَعَلْهَالَنَا شَافِعَةً وَّ مُشَفَّعَةً به ووائی بیا به بغیر د لاس اوچتولو نه الله اکبر ووائی سلام به نبی خواته وکرځوی.

یادونه د جنازی لمانځه‌کی کله چی اول تکبیر وروسته سبحانک الهم وویل بیا ئی دوهم تکبیر وویل دوهم تکبیر وروسته به درود شریف الهم صل علی محمد وعلا ال محمدکما صلیت علی ابراهیم وعلی ال ابراهیم انک حمید مجید ووائی دریم تکبیر وروسته به پورتنی دعا الهم اغفرلی ووائ.

د جنازی په لمانځه‌کی د قرانکریم لوستل همدارنکه رکوع او سجده پکښی نشته په کومو شیانو چی نور لمونځونه فاسدیږی د جنازی لمونځ هم پری فاسدیږی.

## د جنازی د لمانځه فرضونه

په لمانځه د جنازی‌کی دوه شیان فرض دی څلور تکبیرونه او قیام دی په ولاړی به‌کوی او دری شیان پکښی سنت دی ۱ د خدای پاک حمد او ثنا ویل ۲ درود شریف ده ۳ د میت لپاره دعا کول (رواه شرح التنویر)

مسئله په جنازه‌کی مستحبه طریقه داده چی باید صفونه دری جوړ شی مثلا اوه‌کسه په اول صف‌کی دری‌کسه دوهم صف‌کی او دوه‌کسه به دریم صف‌کی ودریږی (رواه بحر رائق و هندیه)

مسئله‌که چا ته جنازه‌کی دعا یاد نه وه صرف دا به ووایی (الهم اغفر للمومنین والمومنات) او‌که دا ئی هم نشو لوستلای نو صرف د څلورو تکبیراتو ویل هم ورته‌کفایت کوی لمونځ ئی‌کیږی داځکه چی تکبیرونه د مړی لپاره رحمت دی بل دا چی د جنازی لمانځه‌کی درود شریف ویل سنت دی (رواه بحر رائق و هندیه)

مسئله‌که چیری ډیر جنازی موجودی وی بهتره دا ده چی د یوه یوه میت جنازه ځانته وشی‌کوم چی اول ئی راوړی اول به د هغه جنازه وکړی همداسی په ترتیب سره وکړی. او که د ټولو جنازه یوکرت‌کوی ټول به په یوه صف داسی ږدی چی د ټولو سرونه یوی خواته راشی نو د مړی سینه به د امام مخی ته راشي او‌که جنازو صف لمانځه غوندی راشی نو د یوی جنازی سر به د بلی جنازی خپو سره راشی هم جواز لری بهتره اوله طریقه ده (رواه دورمختار و ردمختار)

مسئله د جنازی معطلول د نفرو زیاتوالی لپاره مکروه ده باید تاخیر ورنه‌کړی (رواه شامی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسئله کوم جومات چې د پنځه وخته لمانځه او د جمعې لمانځه لپاره جوړ شوی وی بې د عذره هغه کې جنازه لمونځ کول مکروه تحریمې دی او که چیری بیرون د جومات وی لمونځ کوونکی که داخل کې وی یا بیرون د جومات وی بیا نو فرق نلری او که باران یا بل مشکل وی بیا فرق نه لری (رواه ردمختار و هندیه)

مسئله که ولی چاته اجازه وکړه او بل شریک ئی نه وه مثلا د مړی دوه ځامن وه مشر کشر ته د منعې حق لری که مشر یو امام مخکې کاوه د کشر بل امام مخکې کاوه دلته حق د مشر دی (رواه ردمختار)

مسئله د ولی بې اجازې نه چا جنازه وکړه ولی حق لری چې جنازه وکرځوی که مړی ښخ شوی وی کولای ئی شی چې پر قبر جنازه وکړی (رواه دورمختار و ردمختار)

مسئله که چا وصیت وکړو چې ځما جنازه د فلانی سړی وکړی یا ئی وصیت وکړو چې فلانی سړی دی ماته غسل راکړی پدی وصیت عمل ضرور ندی بلکه ولی کولای شی چې د جنازی د لمانځه لپاره او غسل لپاره ئی بل شخص ورته انتخاب کړی او یا ووائی چې ما فلانی جای کې دفن کړی یا ووائی فلانی کس د ماته کفن راکړی دا لازم العمل کیدای نشی (رواه محیط و هندیه)

مسئله د جنازی لمونځ بې د عذره په ناستی کول جائز ندی (رواه هندیه و ردمختار)

مسئله که امام د جنازی څلور تکبیرونه څلورو نه زیات کړل مقتدی به دلته مطابعت د امام نکوی چپ به دریږی کوم وخت چې امام سلام وکرځاوه دوی به ئی هم وکرځوی (رواه ردمختار)

مسئله ۱ که مړی پاک په کټ پروت وی او جای ناپاک وی د جنازی لمونځ کیږی او که کټ ناپاک وی او مځکه پاکه وی دی کې اختلاف د علماو دی بعضې وائی کیږی او بعضې وائی چې نه کیږی ۲ بل شرط ئی ستر عورت دی که مړی لوڅ وی جنازه ئی نه کیږی ۳ شرط ئی دا ده چې مړی باید حاضر وی ټول یا اکثره بدن ئی پوره وی لکه نیم بدن سره د سر سره باید وی نو په غیاب کې جنازه نه صحیح کیږی ۴ شرط ئی دا دی مړی باید لمانځه کې مخی ته پروت وی شاته یا بلی خواته د مړی ایښودل جواز نلری ۵ شرط ئی دا دی چې مړی باید په کټ کې وی یا به پر مځکه وی او که چیری د څاروی په شا وی یا دا چې انسانو لاسو کې اوچت نیولی وی پداسی حالاتو کې جنازه نه کیږی (رواه ردمختار)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د تراویح د لمانځه بیان

د تراویح لمونځ سنت موکد دی چی په هر مسلمان نر وی یا ښځه چی عاقل او بالغ وی د رمضان میاشت کی هر ماخستن د فرضو او سنتو وروسته د وتر واجبو نه مخکی پوره ۲۰ رکعته تراویح لمونځ سنت طریقه ده (رواه ملات الفلاح)

مسئله که چا وتر واجب د تروایح نه مخکی اداکړل هم جواز لری لیکن د فرضو او سنتو مخکی جواز نلری (رواه ملات الفلاح)

مسئله په تراویح کی د لمانځه نیت سنت موکد دی تراویح قضائی نلری که چا وکړل نفل کرځی (شامی)

مسئله په تراویح کی پس د هرو څلورو رکعتونو نه تسبیح ویل سنت کفائی او مستحبه طریقه ده (فتاوه سراجیه)

مسئله د رمضان میاشت کی یو واری د کلام پاک ختمول سنت طریقه ده زیات خو بهتره خبره ده (رواه بحر رائق)

مسئله که دی ماخستن جمعه نه وه شوی ټولو خپل لمونځونه یوازی یوازی کړی وه نو لازم دی چی تراویح هم یوازی وکړی داځکه چی تراویح د جماعت تابع دی (رواه بحر رائق)

مسئله کله چی چا نه څو رکعته تروایح پاتی وی یعنی دی د لمانځه منځ کی راغلی وی نو دی به خپلی باقی تراویح د واجبو د سلام کرځولو وروسته اداکړی (رواه مبسوط و هندیه)

مسئله که چا تراویح بی د عذره په ناستی وکړی مکروه ده بعضی علما کرام لا وائی چی په ناستی تراویح نه کیږی لیکن اوله خبره صحیح ده (رواه قاضی خان)

مسئله اوږدی تراویح داسی حافظ پسی پکار دی چی هغه پدی رمضان کی لدی نه اول په تراویح کی ختم د قران کریم نه وی کړی که نه نو بیا حافظ ته پکار دی چی دوباره پر خپل ځان ختم د قرانکریم په تراویح کی نذر اومنی احتیاط ورته پکار دی (رواه مجموعة الفتاوه)

مسئله په نا بالغ هلک پسی تروایح کول د علما کرامو اختلاف دی نو بی ضرورته بی ئی ورپسی نه کوی (رواه بحر رائق و شامی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسئله که په خپله محله کی جومات کی ختم نه کیده د ختم لپاره بل جومات ته ورتلل جواز لری ورتلای شی (رواه قاضی خان)

## د نفلی لمونځونو مسائل او بیان

فایده : په احادیثوکی د ځینی نفلو ډیر ثوابونه او فضیلتونه راغلی په کومو نفلی لمونځونوکی چی زیات ثوابونه دی هغه دادی لکه (صلات تهجد، صلات اشراق، صلات تسبیح، صلات اوابین، تحیة الوضو او تحیة المسجد او صلات اضحیه (څاښت ) لمونځ هم ده)

صلات تهجد /شپه کی د خوبه جکیدل نفل کول ډیر ثواب لری لیکن د تهجد لمانځه کی د نورو نفلو نه ډیر ثوابونه دی او مرتبه ئی اوچته ده ځنی علماکرام وائی چی دا لمونځ سنت طریقه ده (رواه نورالایضاح)

مسئله د تهجد لمونځ ۸ رکعته دی اوکه چا ۱۲ رکعته وکړل بهتره خبره ده کم دکمه باید ۲ رکعته ئی وکړل هم فرق نلری لیکن ثواب ئی کم دی (رواه در و شامی ومراتی )

مسئله که څوک په تهجدو عادت وی هغه لپاره ئی ترکول مکروه دی اوکه فرضاً جک نشو نوکله چی نور یوه نیزه راجک شو قضائی د تهجدو به راوکرځوی د هغه ځای نیسی (رواه شامی)

مسئله که چا د تجهدو وخت قضائی لمونځ راوکرځاوه دا هم تهجدوکی ورته حسابیږی (رواه شامی)

صلات اشراق /کله چی لمونځ کذار د سحر لمونځ اداکړو بهتره دا ده چی پر خپل ځای ناست وی تلاوت دکلام ربی وکړی یا خپله نوره وظیفه چی ولری تکمیله کړی دنیا ئی خبری ونه کړی بیا کله چی نور یوه نیزه راوخوت نو دوه یا څلور رکعته نفل به وکړی (رواه ترمذی شریف)

په حدیث شریف کی راغلی چی د اشراق لمونځ کوونکی ته د یو حج او یوی عمری ثواب الله ﷻ ورکوی اوکه په کوم کار مصروف شه د لمر په یوه نیزه ختلوکی ونه کړو لږ وروسته هم فرق نلری لیکن ثواب اول وخت کی لری (رواه ترمذی )

صلات اوابین / د ماښام د لمانځه وروسته ۶ رکعته نفل کول ډیر ثواب لری اکثره علما کرامو لیکلی چی دوه رکعته سنت موکد هم پر شپږو رکعتوکی شامل دی (رواه دورمختار و

(c) ketabton.com: The Digital Library



شامی)

صلات تحیة الوضو /کوم وخت چی اودس وکړی او اندامونه ئی لا وچ شوی نه وی دوه رکعته نفل به وکړی پس د غسل نه هم دا حکم لری درصورت چی مکروهه وخت نه وی (رواه دورمختار و شامی)

تحیة المسجد /کوم وخت چی څوک جومات ته داخل شی هغه ته سنت طریقه دا ده چی دوه رکعته نفل وکړی بیا بـه‌کینی اوکـه د ناسـتی وروسـته ئی وکـړل هـم فـرق نلـری در صورت چی مکروهه وخت نه وی اوکه چا بی اودسی یا بلی وجی نفل ونه‌کړه نو مستحبه طریقه داده چی دری یا څلورکرته سبحان الله والحمدالله ولا الـه الاالله والله اکبر ووائـی (رواه شرح تنویر و شامی)

مسئله‌که څو واری یو شخص جومات تـه داخـل شـی نـو یـو کـرت ورتـه تحیـة المسـجد کفایت‌کوی هغه ئی خپله خوښه‌کـه اول‌کـی‌کـوی یـا ئـی آخـرکـی‌کـوی (رواه دورمختـار و ردمختار)

مسئله تحیة المسجد مقصد تعظیم د جومات دی په حقیقت‌کی تعظیم د اللهﷻ ده‌که د جومات داخلیدو وخت اول فرض سنت یا بل لمونځ وکړو دا هم‌کفایت‌کوی داځکه چی د مسجد شریف احترام پدی سره هم اداکیږی (رواه در و شامی)

مسئله تحیة السمجد لپاره صرف دوه رکعته تخصیص نشته بلکـه څلور رکعتـه هـم‌کـولای شی (رواه شامی)

صلات اضحیه (څاښت لمونځ)د دی لمانځه وخـت د لمـر ختلـو نـه تـر څاښـت (زوال) پوری ده لیکن غوره دا ده چی ورځ څلـورمی حصـی د ورځـي تـه ورسـیږی دی وخـت‌کـی دوه څلور یا اته رکعته نفل اداکول دی چی د دی لمانځه په احادیثوکـی ډیـر فضـیلتونه بیـان شوی دی (رواه شرح تنویر)

صلات تسبیح / په احادیثوکی د صلات تبسیح ډیر ذکر راغلی دی او فضیلتونه ډیـر لـری چی خپله نبی‌کریم ص خپل تره حضرت عباس رض ته ښوده او ورتـه وئـی فرمایـل چـی پـه اداکولو د دی لمانځه سره ستا ظاهری او باطنی‌کناهونه بلکه زاړه هر قسم چی دی اللهﷻ ئی پر خپل فضل سره ورته معاف‌کوی بل ئی دا هـم فرمـایلی چـی دا لمـونځ اول بایـد هـره ورځ‌که نه نو هفته‌کی یو کرت اوکه په هفته‌کی نشی اداکولای میاشـت‌کـی یـوکـرت اوکـه میاشت‌کی نشی‌کولای په‌کال‌کی یوکرت اوکه په‌کال‌کی ونه‌کړو په عمرکی باید یوکـرت

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا لمونځ خو حتمی آداکړی (رواه غنیه، در، شامی)

پدی لمانځه کی ۳۰۰ کرته دریمه کلمه شریفه (سبحان الله والحمدالله ولاالله الاالله والله اکبر) ویل کیږی

طریقه ئی داسی ده کله چی نیت ئی وکړو البته د څلورو رکعتو نفلو سبحانک الهم وروسته به ۱۵ کرته ووائی. اعوذباالله بسم الله الحمدالله او سورت ئی وویل نو ۱۰ کرته به پورته کلیمه شریفه ووائی بیا کله چی رکوع ته لاړه دری واری تسبیح وروسته به ۱۰ کرته ووائی بیا چی قامی ته لاړه د سمع الله وروسته ئی ۱۰ کرته وائی بیا به سجدی ته ځی سجده کی به پس د تسبیحاتو نه ۱۰ کرته وائی همداسی جلسه کی کی به ئی ۱۰ کرته وائی دوهمه سجده کی به ئی د تسبیحاتو وروسته ۱۰ کرته وائی چی د یوه رکعت ټول تسبیحات ۷۵ کرته کیږی همدارنکه نورو دری باقی رکعتو کی تکرار کړی نو دلته په څلورو رکعتو کی ټول ۳۰۰ کرته تسبیح ویل کیږی دا ئی اوله او بهترینه طریقه ده (رواه دور و شامی)

مسئله پدی څلورو رکعتو کی هر سورت چی لوستلای شی ودی ولولی اوکه چیری ئی الهکم التکاثر، والعصر، قل یا ایهاالکافرون او د اخلاص سوروتونه ولوستل بهتره ده (رواه ردمختار و شامی)

مسئله که په صلات تسبیح کی سهوه شو د سجدی سهوی سجدوکی دا تسبیح نه ویل کیږی داځکه چی ۳۰۰ واری ویل ئي چی تعین شوی هغه پوره شوی دی (رواه شامی)

مسئله که په یوه مقام کی مذکوره تسبیحات هیر شول بیرته به نه ورکرځی باقی به بل مقام کی په دغه عدد پوره کوی مثلا په قامه کی ورنه هیر شول په سجده کی به ئی پوره کړی اوکه چیری په رکوع کی هیر شول په قامه کی به ئي نه وائی ځکه چی دا مختصر وخت دی نو په سجده کی به ئی پوره کړی همدرانکه که په اوله سجده کی هیر شول په جلسه کی به ئی نه وائی دوهمه سجده کی به ئی ووائی (رواه شامی)

صلات سفر / څوک چی دکوره په سفر روانیږی کورکی باید دوه رکعته نفل اداکړی چی کورکی دا غوره شی پریخودل بهترینه تحفه ده (رواه دورمختار و ردمختار)

مسئله د سفر واپس وخت کی به اول جومات ته ځی دوه رکعته نفل به کوی بیا به کور ته ځی دا به تل نبی کریم ص کول (دورمختار و ردمختار)

مسئله مسافر باید په یوه منزل کی قیام اختیارکړی چی دا یوه مستحبه طریقه ده او په ناسته کی به اول دوه رکعته نفل اداکول بیا به کینی (رواه طحطاوی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



صلات استغفار / که چا څه کناه وکړه هغه بايد دوه رکعته نفل اداکړي بيا به په ډيره عاجزی سره خپله توبه پيښماني به وښی او طلب د بخښنی وکړی آينده به کناه نکوی اللهﷻ مهربان ذات دی بخښنه به ورته وکړی (تحتاوی و شامی)

مسئله په استغفار او توبه سره چی د بنده حق نه اداکيږی بهتره دا ده چی حق حقدار ته وسپاری داځکه چی بعضی کتابوکی راوړی که چيری د يوه شرعی درهم شپږمه حصه کی پردی حق څوک لاندی کړی د قيامت ورځ کی به په بدله کی ورته ۷۰۰ لمونځونو ثواب ورکوی (رواه در و رد)

صلات قتل / کوم وخت چی مسلمان قتل وکړی ورته مستحبه طريقه دا ده چی دوه رکعته نفل به کوی بيا به اللهﷻ ته د خپلی کنا د مغفرت دعا وکړی داځکه چی دا لمونځ او دعائی دنيا کی آخری عمل دی يوځلی نبی کريم ص د صحابه کرامو نه څو قاريان د قرانکريم تعليم لپاره يوځای وليږل په لاره کی د مکی کافرانو هغه کرفتار او په شهادت ئی ورسول سِوا د حضرت حبيب رض نه هغه ئی مکی شريفی ته د ځان سره بوته هلته ئی په ډير اهتمام او خوشحالی سره کفارو په شهادت ورساوه نو ده مبارک د شهادت نه مخکی دوه رکعته نفل د هغوی په اجازت سره دا اداکړی او مستحب وکرځيده (رواه طهتاوی او غنيه )

صلات استخاره / څوک چی وغواړی چی يو کار وکړی يا ئی ونه کړی چی هغه ځما لپاره فايده يا نقصان لری اوکه نه ؟ په دی کی به دی اللهﷻ نه صلاح واخلی نو دی ته استخاره ويل کيږی طريقه ئی داسی ده چی اول به دوه رکعته نفل وکړی بيا به په ښه فکر سره دا دعا ولولی (الهم انی استخيرک بعلمک و استقدرک بقدرتک و اسئلک من فضلک العظميم فانک تقدر و لا اقدر و تعلم ولا اعلم و انت علام الغيوب انکنت تعلم ان هذالامر خير لی فی دينی و معاشی و عاقبة امری (وعاجله و اجله) فاقدره و يسره لی ثم بارک لی فيه و انکنت تعلم ان هذا الامر شر لی فی دينی و معاشی و عاقبة امری (وعاجله و اجله) فاصرفه عنی و اقدر لی الخير حيث وکان ثم رضنی به ط

دلته چی کوم قوس کی لغاتونه ليکل شوی دی هغه لولی کله چی هذالامر ته ورسيږی پدغه وخت کی به خپل مراد اللهﷻ نه غواړی بيا به په يوه پاک ځای په اوداسه سره څملی مخ په قبله به اوده شی نوکله چی د خوبه پاڅيدی کومه خبره مو چی زړه ته پريوته د هغه مطابق به عمل کوی (رواه شامی و شرحه مينه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسئله که په یوه پیره په استخاره څه نتیجې ته ونه رسیدی دوهمه ورځ بیا ئی وکړی همداسی تر شپږو ورځو پوی وکړی امید دی چی الله ﷻ به ئی ښه والی او بدوالی ورته معلوم کړی (رواه شامی)

مسئله بعضی کتابو کی راغلی چی که په خوب کی ورته سپین والی او ژید والی علامت ئی ولیده نو علامت د ښه والی دی او که توروالی یا سوروالی ولیده دا علامت د بدی ده نه دی کوی (رواه شامی)

مسئله که چا د حج کولو اراده وکړه نو داسی استخاره به کوی چی فلانی وخت کی به زه لاړشم او که نه ؟ په نورو دینی کارو کی به هم داسی کوی (رواه غنیه و شامی)

صلات حاجت / د حاجت پوره کولو لپاره هم دا لمونځ کول مستحبه طریقه ده د ماخستن لمانځه وروسته به د څلورو رکعتونو نیت وتړی په اول رکعت کی به الحمدالله پسی د دری واری ایات کرسی او باقی دری رکعتو کی به هر رکعت کی الحمدالله پسی یو یو کرت سورت اخلاص سورت قل اعوذبرب الفلق سورت قل اعوذبرب الناس ولولی د لمانځه پس به خپله دعا وکړی دیرو علما کرامو دا لمونځ تجربه کړی ده الله ﷻ ورته حاجتونه براورده کړی.

صلات کسوف او خسوف / لمر چی کله تندر ونیسی هغه ته کسوف وائی او سپوږمی چی تندر ونیسی هغه ته خسوف وائی داسی حالت کی باید دوه رکعته نفل ادا شی چی دا یوه مسنونه طریقه ده دا لمونځ په جماعت سره اداکیږی البته جومات کی (رواه دورمختار و ردمختار)

مسئله پدی لمانځه کی نه بانک شته او نه اقامت (اصلات جامعة) اواز به کوی (رواه مراق الفلاح)

مسئله قرائت به په جهر سره نکوی بلکه په خفیه به ئی کوی (رواه مراقی وکبیر )

مسئله کوم وخت چی سپوږمی تندر ونیسی دی وخت کی هم دوه رکعته نفل کول سنت طریقه ده لیکن ځان ځان له کور کی یا مسجد کی (رواه مجمع الانهار)

مسئله پس د لمانځه نه امام به دعا کی مخ په قبله ځان مشغول کړی مقتدیان به امین وائی تر هغه پوری چی د لمر تندر ختم شوی نه وی او که وخت د لمانځه راغی دعا به پریږدی (رواه طحاوی و مراقی)

صلات استسقا /کوم وخت چی باران زیات شی د دریدو امکان ونه لری داسی وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



سوال او دعاکول مسنونه طریقه ده طریقه ئی داسی ده مسلمانان به په جمعه اوری سره په خپلو عادی لباسو سره دکوره وځی په ډیره خشوع او خضوع سره به پیاده خپل ښاروی به د ځان سره اخلی کافران به ځان سره ملګری کوی. توبی به باسی پردی حق به آداکوی اللهﷻ نه به خپل مغفرت غواړی بیا به دوه رکعته نفل بانک اقامت سره په جماعت وکړی امام به قرائت په جهر سره کوی پس د لمانځه به امام خطبه لولی بیا به امام مخ په قبله دریږی لاسونه به ئی اوچت نیولی وی د باران دعا به کوی او مقتدیان به امین وائی د استسقا دعا چی خپله نبی کریم ص کړی ده لکه (الهم سقنا غیثاً مغیثاً مریاً مریعاً نافعهً غیر ضار عاجلً غیر اجلٍ الهمم اسق عبادک و بهیجتک و انزل رحمتک و احی بلدک المیت) به وائی نو دری ورځی سر په سر وتل پکار دی (مشکوة شریف)

د امام اعظم رحمت الله په نزد د استسقا صرف دعا ده او هم استغفار ده که ئی لمونځ ځان ځان لره وکړو یا ئی په جماعت سره وکړو جواز لری لیکن سنت ندی (رواه کبیری و دورمختار)

د قضائی لمونځونو راکرځول که چا نه بلا عذره لمونځ قضا شو نو دی د دوکناهو مرتکب شو ۱ چی لمونځ ئي پریښووه ۲ او تاخیر ئی وکړو که په تاخیرکولوکی لمونځ راوکرځاوه اوله کناه ئی لری شوه یعنی لمونځ ئی اداشو دوهمه کناه به ئی په توبی سره پوره کیږی نو که چیری قضائی لمونځ ئی راونه کرځاوه او توبه ئی ووستله توبه ئی قبوله نه ده (رواه شرح تنویر و ردمختار)

مسئله که څوک ویده شو یا ئی هیر شو لمونځ ئي قضا شوکوم وخت چی بیدار شو یا ئی یاد شو نو قضائی به راکرځوی حتمی به بی د عذره قضائی کی تاخیر نه وی (مضمون حدیث)

مسئله که د چا لمونځ د څو ورځو قضا شوی وی باید ژر ئی قضائی راوړی که ټول یوځای کولای شی بهتره ده نو دا ورته ضرور نه دی چی د ماسپښین به ماسپښین کی وکړی او مازدیکر مازدیکر کی وکړی نوکوم وخت ئی چی مساعد وکانه هغه وخت کی ئی کولای شی (رواه شامی)

که چیری په میاشتو اوکلونو لمونځونه قضا شوی وی نو د هغوی لمونځو قضائی راوړو کی به هم تاخیر نه کوی څومره چی وخت لری هومره به قضائی راوړی دلته څه خاص اندازه نشته چه فلانی وخت په ما دومره او فلانی وخت دومره لمونځونه قضا شوی تنها

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوره کول ئی ضروری دی په هره اندازه او هره موده کی چی وی اداکولای ئی شی (رواه شامی)

مسئله قضائی لمونځو نه دری وخته لکه طلوع غروب او استوا کی نکیږی نور هر وخت کیږی (رواه دورمختار و ردمختار)

مسئله که چیری شپږ لمونځونه یا زیات د شپږو نه ترتیب پری واجب ندی چی اول به اول کی قضائی راوړی او دوهم دوهم وخت کی قضائی راوړی نو کوم لمونځ ئی چی زړه غواړی ودی کړی (رواه دورمختار و شامی)

مسئله که وتر واجب ورنه قضا شو مخکی د سحر د لمانځه به ئی قضائی راوړی بیا به د سحر لمونځ کوی (رواه دورمختار و شامی)

مسئله قضائی صرف د فرضو او واجبو وی د وخت نه وروسته د سنتو قضائی نشته او که چیری د سهار فرض او سنت دواړه ورنه قضا شول بیا به ئی د زوال د شروع مخکی قضائی راوړی او که زوال نه بعد وه صرف د فرضو قضائی به راوړی (رواه شامی)

مسئله که هلک یا نجلی نابالغ وی د ماخستن لمونځ ئی وکړو اوده شو او شیطان بازی ورکړه سحر راپاڅیده نو لازم دی چی د ماخستن د لمانځه قضائی راوکړځی ځکه چی پخوا د بلوغ نه واقف نه وه د ماخستن لمونځ چی ده کړی هغه ورته نفل کرځی نن شپه چی بلوغ ته ورسیده لمونځ پری فرض شو (رواه خلاصة الفتوا)

مسئله که د چا پر زمه قضائی لمونځونه پاتی وی باید هغه اداکړی ولوکه مریض هم وی باید په اشاره کی اداکړی او که په اشاره ئی هم نشی اداکولای نو بایـد د مرک وخت کی وصیت وکړی چی پر ما دومره لمونځونه پاتی دی چی دا وصیت واجبه طریقه هم ده. نو بازماندکان به ئی د لمانځه فدیه اداکړی او که وصیت ئی ونه کړو یا ئي وصیت وکړو او بازماندکانو ئی فدیه ادانکړه دا سړی کناه کار دی په خپل هر لمانځه به ورته اخرت کی عذاب میلاویږی (رواه عالم کیر)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مریض د لمانځه بیان او مسائل

مسئله که لمونځ ګذار په ولاړه لمونځ نشو کولای خپل لمونځ به په ناستی وکړی او که د ناستی قدرت ئی نه وه نو په ناسته کی به ئي په اشاره وکړی او د ناستی قدرت ئی نه وه نو د ملاستی په اشاره سره وکړی (رواه دورمختار)

مسئله په لمانځه کی د سجدی لپاره مخی ته شی نه ږدی که ئی طاقت د سجدی نه وه نو مریضی به خپل لمونځ په اشاره سره کوی او که څه شی پر مځکه پروت وه او ضرورت وخت کی سجده پری لکولای شی (رواه شرح البدایه )

مسئله که لمونځ ګذار ناستی توان نه درلوده نو تکیه به ورته وهی او که د غورځیدو وه نو سر او سینه دی ورته اوچته کړی خپی به قبلی ته وغزوی او که بل قسم ئی قدرت وه نو خپی به قبلی ته نه غزوی بلکه دواړه زنګنونه به جګ نیسی لمونځ به اداکوی البته د سر په اشاره سره او د سجدی لپاره به اشاره کوی لږ د رکوع نه ټیټ او که مریضی د تکیی او ناستی قدرت نه درلوده مریض به ستونی ستخ څملوی خپی به ئی قبلی ته کوی خپل لمونځ به شاره وکړی (رواه هندیه و شرح التنویر)

مسئله که داکتر ئی سترکی عملیات کړی او ډاکټر ورته وویل چی ډیر احتیاط به کړی نو مریض کولای شی چی خپل لمونځ د ملاستی په اشاره سره وکړی (رواه شرح التنویر)

مسئله که سړی په مریضی کی د سر په اشاره هم لمونځ آداکولای نشی لمونځ ورته نشته دلته د سترکو او وریځو اشاره معتبره نده (رواه فتاوه ودودیه)

مسئله که د سړی بهوشی د یوی ورځی او یوی شپی نه واوښته نو د دی بهوشی قضائی پری نشته او که بهوشی ئی یوی ورځي او یوی شپی نه کمه وه نو بیا قضائی پری شته (رواه مراتی الفلاح)

مسئله که سړی روغ او جوړ وه په ولاړی لمونځ شروع کړی وه او په لمانځه کی داسی تکلیف پری راغی چی دریدای نشو لمونځ په ناسته کوی که ئی د سجدی قدرت نه وه په اشاره به ئی وکړی (رواه عالمکیر)

مسئله که د سړی دومره مریضی وه چی اودس ئی نشو کولای نه ئی ښځه وه او نه ئی شرعی مینځه وه دی مریض استنجا پری نشته ورور یا ځوی به ئی چار اندام اودس ورکړی لمونځ به وکړی که ښځه داسی ناجوړه وه او د هغی خاوند نه وه خور یا لور دی چار اندام

(c) ketabton.com: The Digital Library



اودس ورکړی دا به خپل لمونځ اداکړی داسی لپاره هم استنجا نشته (رواه عالمکیر)

## د مسافر د لمانځه بیان او مسائل

مسئله که چا کم د کمه دری منزله (سفر) اراده وکړه او په سفر روان شو شریعت کی دا د مسافر حیثت لری کوم وخت چی کورکلی یا شهر نه وځی نو خپل لمونځ به قصرکوی نو تر ځو چی خپل کلی یا شهر نه وتلی نه وی نو قصر به نکوی (رواه دورمختار و شامی)

مسئله د مسافر لپاره دری منزله لاره ده دا د یوی خوانه نه بلکه دواړو خواو نه (د تلو راتلو مجموعه ده ) (رواه دورمختار و شامی)

مسئلهکه چیری یو سړی د کومی کناه یا غلا لپاره د کوره ووت او د هغه مخی ته دری منزله لاره مخکی وه دا هم مسافر دی خپل لمونځ به قصر سره کوی او نور احکام د مسافر به هم پرڅان عملی کوی پاتی شوه د کناه خبره هغه به خپله کالی (رواه شرح تنویر)

مسئله که ځوک وکوره کلی او شهر په اندازه ۳ منزله یا دری شپو ورځو منزل یا د ۶۳ میله په اندازه سره سفر اختیارکړی هغه ته مسافر ویلی شو البته دا دری شپی او ورځی سفر به په پیاده د سړی منزل وی او که چیری دا منزل دی په آس موتر او جهاز وکړی هم مسافر دی (رواه عالمکیر)

مسئله د شریعت په لحاظ چی ځوک مسافر وی هغه به خپل ماسپښین مازدیکر او ماخستن ځلور رکعتی لمونځونه دوه رکعتی کوی قصر به ئی کوی د سهار ماښام او وتروکی څه تغیر نه راځی همدارنکه سنت به تول پوره کوی که په سنتوکی لاره کی تلوار د وجی نه ونکړه فرق نلری لیکن د سحر سنت به بلکول نه پریږدی حتمی به ئی کوی (رواه بحر رائق و شامی)

مسئله که د ماسپښین مازدیکر او ماخستن ځلور رکعتی چا پوره وکړل دا ورته کناه ده ځکه چی قصرکی الله ﷻ امرکړی ده اوکه فرضا چا وکړل نو دا به ورته نفل شی دوه رکعته فرض دی بیا وکړی (رواه شرح التنویر)

مسئله که په سفرکی چا نه لمونځ قضا شو بیا مقیم شو قضائی کی به خپل قصر لمونځ راکرځوی اوکه په مقیمت کی لمونځونه ورنه قضا شوی نو په سفرکی به ئی پوره ځلور رکعتی راکرځوی (رواه شرح البدایه )

مسئله که مسافر یوکلی کی یا شهرکی معطل شوکه چیری پدی کلی یا شهرکی ۱۵ ورځو

(c) ketabton.com: The Digital Library



او شپو اراده وه چې زه به دلته اوسم نو دی به قصر نکوی بیا نوکله چې لـدی کلـی یـا شـهر نه وځی مخی ته ئی دری شپې او ورځی منزل وی نو بیا به قصر کوی (رواه وسائل الارکان)

مسئله که مسافر لاره کی د هفتی لس ورځو اراده وکړه او د پـنځلس ورځـو نـه کـم وه هـر ځای به ئی اراده کوله چې زه به دلتـه اوسـم قصـر وربانـدی شـته اوکـه پـه کـوم ځـای کـی د پنځلس ورځو اراده وکړه چې دلته به اوسم نو بیا قصر وربالندی نشته (رواه شامی)

مسئله د مقیم اقتدا مسافر پسی صحی ده کوم وخت چې مسافر امام سلام وکرځاوه مقـیم به پورته کیږی خپل باقی رکعتونـه بـه پـوره کـوی لـیکن قرائـت بـه نـه اداکـوی (الحمدالله او سورت) به نه لولی په اندازه د قرائت به چپ دریږی اوکه سهوه شه نـو سـجده سـهوه بـه نـه کوی ځکه دی لا حق دی د امام مطابعت کی دی او اوله قاعده بـه پـدی مقتـدی فـرض وی له وجی د مطابعت نه. کله چې مسافر امام سلام وکرځاوه لازم دی چـې مقتـدیانو تـه ووائـی چې خپل لمونځونه پـوره وکـړی زه مسـافر یـم مخکـی ورتـه ویـل هـم ضـرور دی (رواه بحـر رائق)

مسئله د مسافر اقتدا مقیم پسی که مسافر څلور رکعتی لمانځـه کـی مقـیم امـام پسـی اقتـدا وکړه دی به د امام مطابعت کوی څلور رکعته به پوره پسی کوی لیکن قضا ئی کی بیا صـحیح نه ده (رواه دورمختار و شامی)

مسئله که سړی په کشتی یا جهازکی روان وه او د لمانځه وخـت راغـی کـه پـه ولاړه ورتـه فرصت نه وه نو خپل لمونځ به ناسته وکړی د مخ کرځـول قبلـی تـه ضـرور نـده پـه هـر طـرف چې روانه وه دی به خپل لمونځ هسی کوی (رواه شرح التنویر)

مسئله که سړی په اس یا اوښ سور وه او د لمانځه وخت راغی کوزیږی به خپل لمونځ بـه کوی اوکه څه خطره وه د ځناور یا بله څه وه نو بیا دی کولای شی چې خپل لمونځ تـر اخـر وخته وځنډوی بیا هم ویره وه ځناور به په قبله مخامخ ودروی د ځناور په شا به خپل لمـونځ وکوی (رواه دورمختار و شامی)

مسئله کوم ځای چې ختې ډیری وی او خپل لمونځ نشی کـولای مـال یـا بـل څـاروی نـه وی لکه اس یا اوښ نو دی به خپل لمونځ په ختوکی په ولاړی وکړی البته په اشـاره سـره او که ختې لږ غوندی کلکه وه نو مخی ته به کپړه واچوی سـجده دی پـری ولکـوی نـو پـه اشـاره به لمونځ نه کوی (رواه شامی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د صلات خوف مسائل

مسئله که د لمانځه وخت کی دشمن حاضر وه یا دا چی راتلونکی وه هغه که انسان وه یا ځناور وه دغه وخت کی مسلمان خپل لمونځ په جماعت کولی شو ودی کړی لیکن په طریقه د صلات خوف سره.

طریقه ئی دا ده چی مسلمانان به دوه ډلی کیږی یو فریق به په جماعت ودریږی او بله ډله به دښمن مقابلی ته اماده کی ونیسی که لمونځ دوه رکعتی وه یا د جمعی یا اخترو یا دا چی څلور رکعتی وه خو دوی مسافر وه قصر ئی کاوه کله اول فریق امام سره یو رکعت وکړه او سجدی نه راپورته شو دوی به لاړ شی دښمن مقابلی ته او که لمونځ څلور رکعتی یا دری رکعتی وه کوم وخت چی اول فریق امام پسی دوه رکعته وکړل سره د تشهد نه او امام دریم رکعته ته اوچت شو دوی به روانیږی د دښمن مقابلی ته نو دوی چی روان شول امام به انتظار باسی دوهم فریق ته کله چی هغوی راغلل خپل لمونځ به پوره کړی سلام به وکرځوی د دښمن مقابلی ته به لاړ شی (رواه دورمختار و هندیه و شامی) په صلات خوف کی به خپله وسله ساتل ضرور دی کوم ایات چی پدی باره راغلی هغه لپاره استحباب دی.

مسئله که جنک نا جائزه وه د ناجائزه غرض لپاره ئی حمله کوله یا دا چی یاغیانو اسلامی پادشاه سره مقابله کوله نو دکناه کارانو لپاره صلات خوف په طریقه لمونځ کول پکارندی داځکه چی د دوی کارکناه ده په لمانځه کی د دی عمل کناه نه معاف کیږی (رواه دورمختار و شامی)

مسئله که دښمن سړی پسی وه او سړی سپور وه په اس یا اوښ باندی په اشاره ورته جائز دی چی خپل لمونځ وکړی اوکه د اشاری ورته فرصت نه وه خپله حمایه به وکړی لمونځ به بیا وکړی (رواه شرح التنویر)

مسئله که چا په دریاب کی لامبو وهله وچی ته راوتلی نشو پښی او لاس ئی نه شورول خپل لمونځ به په اشاره سره وکړی اوکه د اشاری موقع هم نه ورته پیدا کیده نو خیردی لمونځ دی پریږدی ځان به هلاکت ته نه ورکوی کله چی په امن شو قضائی به راوکرځوی (رواه دورمختار و ردمختار)

مسئله که چا صلات خوف په خپله طریقه کاوه او دښمن لاړه نور به خپل لمونځ په

(c) ketabton.com: The Digital Library



صحیح طریقه وکړی لکه چی په امن کی ئی کاوه لمانځه کی به تلل او راتلل نه کوی او خپله مخه به هم د قبلی نه نه اړوی او که ئی مخ قبلی نه واړوه نو لمونځ ئی مات شو (رواه عالم کیر و دورمختار)

## د سجدی سهوی بیان او مسائل

په سجده سهوه کی طریقه داسی ده کله چی لمونځ کذار اخری قعدی ته ورسیده او اتحیات ئی تر عبده ورسول ولوستله امام به ښی خواته سلام وکرځوی بیا به تکبیر ویلو سره سجدی ته لاړ شی تسبیح به دری کرته ووائی په تکبیر ویلو به جک شی جلسه به وکړی بیا د تکبیر په ویلو سجدی ته لاړ شی خپل دری واری تسبیح ووائی په الله اکبر به پورته کیږی اتحیات درود شریف او دعا به ولولی سلام به کرځوی (رواه هدایه و دورمختار)

مسئله که د لمانځه کوم یو واجب چا په لمانځه کی پریښوده نو سجده سهوه پری واجبیږی په سجده سهوه دغه لمونځ پوره کیږی او که سجدی سهوه ئی ونه کړه لمونځ ئی نه کیږی کرځول ئي واجب دی (رواه مرائی الفلاح)

مسئله سجده سهوه پر دری خبرو واجبیږی ۱ ترک د واجبو ۲ یا تاخیر د واجبو ۳ په تاخیر د فرضو اوکه په لمانځه کی فرض پری شوه. نو د فرض تلافی په سجده سهوه نه کیږی لمونځ به کرځوی (رواه شامی)

مسئله که په چا سجده سهوه واجب شوه هیره ئی شوه او سلام ئی وکرځاوه لیکن د جماعت نه وتلی نه وه او خپله سینه ئی قبلی نه نه وه کرځولی خبری او نور عمل ئی هم نه وه کړی خیردی پس لدی به سجده سهوه وکړی نو لمونځ ئی وشو همداسی که ئی په ناسته ئی درود شریف یا څه وظیفه وغیره هم کړی وه هم خیردی د سهوی سجده به وکړی لمونځ ئی کیږی (رواه شرح تنویر)

مسئله که چا د فرضو اولو دو رکعتو کی سورت فاتحه ولوستله او سورت ئی هیر شو نو په اخری دوه رکعتو کی به الحمدل الله سره سورت ضمیمه کړی اخر کی به سجده سهوه وکړی (رواه شرح البدایه)

مسئله په وترو سنتو او نفلو کی په ټولو رکعتو کی الحمدالله سره د سورت وسل کول واجب طریقه ده . نو که په یوه رکعت ئی هیر شو نو سجده سهوه به کوی سجده سهوه پری واجبیږی (رواه عالمکیر)

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسئله که چا الحمدالله نه پس دوه سورتونه یا زیات ولوستل یوه رکعت کی نو پدی سره سجده سهوه نه لازمیږی نه دی کوی (رواه فتاوه هندیه)

مسئله که چا د فرضو اخری دوه رکعته ډک وکړه یا ئی یو رکعت ډک وکړو سجده سهوه پری نه کیږی (فتاوه هندیه)

مسئله که د فرضو په تش رکعت کی الحمدل الله وروسته دری پیری د سبحان الله ویلو په اندازه چپ ودریده پدی سورت کی هم سجده سهوه نه لازمیږی (رواه شرح البدایه)

مسئله که په قیام کی الحمدالله نه مخکی اتحیات ولوستله پدی سره سجده سهوه نه لازمیږی اوکه ئی وروسته د الحمدالله نه ولوستله نو سجده سهوه پری واجب شوه اوکه د فرضو په تشو رکعتو کی د الحمدالله پرځای اتحیات ولوستله هم سجده سهوه پری نه لازمیږی (رواه عالمکیر)

مسئله که په لمانځه کی چا سورتونه وړاندی وروسته ولوستل سجده سهوه نه پری لازمیږی (رواه شامی)

مسئله که په اوله قاعده کی چا دوه کرته اتحیات ولوستله نو سجده سهوه پری واجب شوه (رواه عالمکیر)

مسئله که چا د اتحیات پرځای الحمدالله یا بل څه ولوستل سجده سهوه پری واجب شوه (رواه عالمکیر)

مسئله که په وترو واجبو کی دعا قنوت هیر شو نو سجده سهوه پری لازم شوه (رواه شرح البدایه)

مسئله که امام په جهر لمانځه کی قرائت په خفیفه یا ئی خفیفه لمونځ په جهر ولوسته که امام پسی وی یا تنها وی دواړو حالاتو کی سجده سهوه پری واجب شوه (رواه دورمختار و شامی)

مسئله که د امام او مقتدیانو اختلاف راغی امام ویل چی دوه رکعته شول او مقتدیانو ویل چی دومره شول دلته د امام یقین کی ثابت وه د امام خبره صحی ده اوکه د مقتدیانو یقین ثابت وه نو امام به د مقتدیانو وینا عمل کوی (رواه دورمختار)

مسئله که څلور رکعتی یا دری رکعتی لمانځه کی د دوهم رکعت وروسته ئی اوله قاعده هیره شوه دریم رکعت ته اوچت شو بیا ئی یاد شو نوکه ناستی ته نژدی وه بدن ئی پوره نیغ شوی نه وه کینی به اتحیات به لولی بیا به دریم رکعت ته پورته شی داسی حالت کی سجده

(c) ketabton.com: The Digital Library



سهوه نشته اوکه دریدو ته برابر وه نو داسی حالت کی به نه کینی باقی خپل لمونځ به تکمیل کړی اخرکی به سجده سهوه وکړی (رواه شرح التنویر)

مسئله که په څلور رکعتی ئی اخره قعده پریښوده پنځم رکعت ته پورته شه ترڅو ئی چی پنځم رکعت سجده نه وی کړی بیرته به کینی اتحیات به لولی خپله سجده سهوه به وکړی او که چیری د پنځم رکعت سجده ئی کړی وه قصداً وه اوکه سهوً وی یو رکعت به بل ورسره تل کړی شپږ رکعته به پوره کړی سجده سهوه به نکړی لیکن لمونځ به راوکرځوی (رواه دورمختار و ردمختار)

مسئله که د سحر لمانځه دوهم رکعت وروسته اوله قاعدع ونه کړه دریم رکعت ته پورته شه او دریم رکعت سجده وکړه نو سلام به نه کرځوی پورته کیږی په څلورم رکعت به پوره کوی همدارنکه که د ماښام لمانځه کی اوله قاعده پریښوده څلورم رکعت ته پورته شو نو څلورم رکعت به پوره کوی دا ئی نفل شول لمونځ به بیرته راکرځوی (رواه شرح التنویر)

مسئله که چا اوله قاعده کی سلام وکرځاوه یاد ئی شو چی دا خو ځما اوله قاعده ده نو پورته کیږی به لمونځ به تکمیل کړی آخرکی به سجده سهوه وکړی اوکه د سلام کرځولو وروسته ئی کوم عمل وکړو لمونځ به کرځوی (رواه شرح تنویر)

مسئله که په څلور رکعتی نفلوکی اوله قاعده هیره شوه دریم رکعت ته جک شه که دریم رکعت سجده ئی نه وه کړی کینی به اوکه ئی سجده کړی وه نو څلورم رکعت به پوره کوی آخرکی هم ورته سجده سهوه نشته (رواه دورمختار)

مسئله د مقیم مسافر پسی د مسافر مقیم پسی د مسبوق او لاحق لپاره لازم او ضرور دی چی سجده سهوه کی د خپل امام مطابعت وکړی په سجده سهوه کی اشتراک وسره وکړی (رواه دورمختار و ردمختار و شامی)

مسئله که امام په هیره پنځم رکعت ته پورته شه او اخره قعده ئی هم کړی وه نو مقتدی به نه وریسی پورته کیږی انتظار به وکړی کله چی امام کیناست سلام ئی وکرځاوه مقتدیان به هم ورسره سلام وکرځوی اوکه کیناست نه پنځم رکعت ئی وکړو نو مقتدیان به خپل سلام وکرځوی د مقتدیانو لمونځ وشو امام به خپل لمونځ شپږ رکعته پوره کړی دوه رکعته به ورته نفل شی خپل لمونځ به بیرته نه کرځوی (رواه دورمختار و شامی)

مسئله په فرض سنت نفل د جمعی او د اخترو لمنځوکی د سجدی سهوی حکم یوشان دی لیکن بعضی علما کرامو فرمایلی چی د جمعی او اخترونو لمونځوکی به سجده سهوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نکوی ځکه چی کومه فتنه جوړه نشی (رواه دورمختار و ردمختار)

مسئله د ماسپښین فرضوکی اشتباه ورته پیداشوه چی ما دوه رکعته وکړل اوکه دری رکعته اوکه اول رکعت دی ورته ثابته نشوه نو لمونځ به مات کړی د سره د شروع کړی اوکه شک ورته راغی چی دا می اول دوهم یا دریم رکعت دی نو دلته ئي چی په کوم یقین مطابق به هغه حساب کړی داسی حالت کی سجده سهوه نشته (رواه دورمختار و ردمختار)

مسئله که پس د لمانځه نه یوه عادل سړی ورتهوویل چی تا خو څلور رکعته ونه کړه دری رکعته دی وکړل که د دی سړی وینا ئی یقین راغی چی دا سړی رښتیا وائی د احتیاط لپاره به خپل لمونځ راوکرځوی بدی ورته نشته بلکه بهتره ده ورته (رواه دورمختار)

## د لمانځه فضیلتونه

د لمانځه د قبولیت لپاره اول باید په ښه طریقه اودس وشی په اوداسه کی مسواک استعمال شی په خپل وخت سره په جماعت سره په پټکی تړلو سره په ارامه خشوع او خضوع سره ادا شی. داځکه چی علاوه د اوداسه نه تنها مسواک په استعمال ۷۰ درجی همداسی په جماعت سره ۲۷ درجی په همدی شکل ۷۰ درجی ورته په پټکی کی چی سنت طریقی دی اللهﷻ ورته اوچتوی همداسی خشوع او خضوع کی لکه چی حضرت عصام رحمت الله د یوه زاهد بلخی نه پوښتنه وکړه چی ته خپل لمونځ څنکه کوی هغه ورته وویل چی زه اول خپل اودس په ترتیب سره وکړم مسواک استعمال کړم کله چی په لمانځه ودریږم مخی ته کعبه شریفه راولم او خپلی پښي په پل طراط راولم ښی طرف ته جنت او چپی خواته دوزخ راولم اللهﷻ به خپل سر حاضر او ناظر وکنم مرک خپل څټ ته نږدی قیاس کړم او دا لمونځ خپل اخرنی لمونځ وبولم چی ایا بل لمانځه پوری به ژوندی یم یا به نه یم ؟ په ارامه نیت وتړم الله اکبر ووایم نو خپل قیام قرائت رکوع سجده او خپله قاعدع په ښه ترتیب سره وکړم نو اللهﷻ ته امید لرم چی ځما دا لمونځ قبول شی (رواه فضائل اعمال)

همدارنکه حضرت عبدالله ابن زبیر رض به خپل لمونځ چی حرم شریف کی کاوه نو د مکی شریفی کفتری به ورتلی او د ده په سر به کیناستی کفترو به داسی خیال کاوه چی دا د ونو تنی دی نو حکمت ئی دا وه چی په کامل خشوع او خضوع ولاړ وه نوکوم لمونځونه چی اللهﷻ په حضور قابل د قبولیت وی د هر رکن د اداکولو لپاره ئی دا فضیلتونه دی لکه چی بنده په لمانځه ودریږی نیت وتړی د الله اکبر ووائی اللهﷻ ورته ټولی صغیره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کناهونه عفوه کوی ۲ کله ثنا اعوذباالله او بسم الله ووائی اللهﷻ ورته د وجود د هر ویښته مقابل یوه یوه نیکی ورکوی ۳ په الحمدالله ویلو سره ورته اللهﷻ د یوه حج او عمری ثواب ورکوی ۴ کله چی رکوع وکړی او تسبیح پکښی ووائی لکه ده چی ۱۰۰ صحیفی تورات انجیل زبور او قرانکریم ټول تلاوت اللهﷻ ثواب ورکوی ۵ کله چی قامه کی سمع الله لمن حمده ووائی نو اللهﷻ د رحمت په نظر ورته وکوری ۶ سجده کله چی تسبیح ووائي او اللهﷻ ورته د یوه غلام د ازادولو ثواب ورکوی ۷ کله چی سجده ختم کړی اللهﷻ ورته د ټولو انسانانو او پیریانو په شمیر ثواب ورکوی ۸ کله چی سلام وکرځوی اللهﷻ د اتو واړو جنتو دروازی ورته خلاصی کړی په هره دروازه چی زړه وی داخلیدای شی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اووم باب

## د روژې مبارکې بیان او مسائل ئې

روژه د اسلام د پنځو رکنو نه دریم رکن دی. په یو کال کې د رمضان د میاشتې ۳۰ ورځې روژه نیول په هر مومن مسلمان هغه که نر وي یا ښځه چې عاقل او بالغ وي فرض عین دی.او منکر ی کافر دی.

حضرت سلمان فارسي (رض) فرمائي چې نبی کریم (ص) د شعبان په وروستي ورځ وعظ کاوه وئې فرمائل چې ای مسلمانانو تاسو باندې یوه لویه د قدر میاشت راروانه ده ، او په د میاشت کې یوه شپه په نامه د شب قدر چې دا شپه د روژې میاشت کې یوه بهتره شپه ده، پدې میاشت کې الله ﷻ په خپلو بندکانو باندې روژه نیول فرض کرځولې دي، پدې میاشت کې هره شپه ۲۰ رکعته تراویح هم ادا کیږي، الله ﷻ د دې میاشتې په عبادت کې ډیر ثوابونه او اجرونه بندکانو ته وعده ورکړیده چې د یوې نیکې ثواب ی غیر رمضان نه د فرضو سره برابر کڼلی ده یا دا چې بنده غیر رمضان نه ۷۰ فرضونه ادا کړې وي. دا مبارکه میاشت د صبر او زغم میاشت دی. چې د صبر بدله الله ﷻ د جنت وعده کړیده نو پدې میاشت کې خلقو سره غمخوری کول دي ، ځکه چې الله ﷻ دې میاشت کې مومن لپاره د رزق فراخي ورکوي.

وئې فرمایل چې دې میاشت کې څوک چاته روژه ماتې ورکړي الله ﷻ ورته د یوه روژه دار په پیمانه ثواب ورکوي. چې د اجرونو او ثوابونو بدله څو چنده ده.

د وعظ په جریان کې صحابه کرامو عرض وکړو چې ای د الله ﷻ رسوله مونږه دومره توان او قدرت کله لرو چې دومره روژه ماتې ورکړو نو نبی کریم ص ورته وفرمائل چې روژه ماتې په مړه کیده پورې تعلق نلري بلکه که روژه ماتې د یوې کجورې (خرما) په اندازه هم وي که هغه یو کیلاس اوبه یا یو بل شی وي چې د مسلمان روژه پرې ماته شي ( فضائل اعمال نه)

نبی کریم ص د وعظ په ادامه کې وفرمایل چې تاسې د روژې په میاشت کې یو لحظه هم په غفلت مه تیروی دا ځکه چې د الله ﷻ دا میاشت ستاسو لپاره پر درې حصو تقسیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړی ده ۱ حصه لس ورځی ی د رحمت ورځی دی ۲ حصه ی لس ورځي د مغفرت ورځی دی ۳ حصه لس ورځي ی د اور نه د نجات ورځی دی یعنی د رمضان د میاشتی ټولی ورځی او شپی ئی ډیری مبارکی او د قدر وړ دی

حدیث شریف : په احادیثوکی راغلی چی د جنت ۸ دروازی دی په هغه‌کی د یوی دروازی نوم ریان دی چی په دی دروازی باندی بی له روژه دار نه بل هیڅ شخص داخلیدای نشی د ریان معنی سیراب ته ویل کیږی چی هر طرف ته ی لوی لوی نهرونه رنکارنک کلان قسم قسم میوی ورته الله جَلَّ جَلَالُهُ زرغون کړیدی . روژه دار چی کله د ریان په دروازه جنت ته ورداخل شی هغه به د قیامت په ورځ له تندی نه بلکول محفوظ وی تل به سِراب او تازه وی ( رواه بخاری او مسلم شریف)

حدیث شریف : کله چی یو بنده یو نیک عمل وکړی الله جَلَّ جَلَالُهُ ورته یو په لس چنده اجر او ثواب ورکوی بلکه دی نه لا زیات تر ۷۰۰ پوری لیکن په روژه‌کی ثواب او اجر ته حد نشته دا ځکه چی روژه‌کی دی نه زیات اجرونه او ثوابونه موجود دی لکه څنکه چی الله جَلَّ جَلَالُهُ مهربانی کړی ده ( فَاَنَّهُ لِي وَ اَنَا اَجزِی بِه) دا ځکه چی روژه ځما لپاره ده او زه به خاص د هغه لپاره بدله ورکوم (رواه فتح الباری و شرحه صححی البخاری)

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمائی چی روژه دار لپاره دوه خوشحالی دی ۱ د روژه ماتی وخت ۲ د قیامت په ورځ به د خپل رب ج سره د ملاقات خوشحالی وی (رواه الخطیب)

## د شب قدر شپه

د رمضان میاشت کی ټولو شپو نه د شب قدر شپه الله جَلَّ جَلَالُهُ ته د قدر وړ شپه ده ځکه چی الله جَلَّ جَلَالُهُ خپل کلام کی دا شپه د خیر، برکت او بهتره شپه کڼلی ده چی بهتروالی ی د نورو زرو میاشتو نه چی د ۸۳ کلونو او ۴ میاشتو سره برابر ده نو چی الله جَلَّ جَلَالُهُ چاته د یوی شپی په عبادت کی د ۸۳ کلو او ۴ میاشتو سره برابر اجر او ثوابونه ورکوی نو دا یوه بهتره او غوره خبره ده.

۲ الله جَلَّ جَلَالُهُ خپل کلام پاک قرانکریم ئی د لوح محفوظ نه په مکمل شکل سره دنیا ته پدی شپه رالیږلی دی

۳ د آدم ع د مبارک وجود ماده ئی په همدی شپه راجمعه کړی او د جمعی په ورځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وجود تکمیل او روح ی پکی غزولی ده.

۴ په دور منشورکی راغلی چی الله ﷻ په همدی شپه حضرت عیسی ع اسمان ته خیژولی.

۵ په همدی شپه د جنت ونی هم لکول شویدی.

۶ په همدی شپه د بنی اسرائلو توبه هم قبول شوی هم ده.

## د شب قدر د شپی تعریف د اِنَّا اَنزلنا په سورت کی

الله ﷻ د شب قدر د شپی ټول تعریف د (اِنَّا اَنزَلنَا) سورت کی داسی فرمائی لکه (اِنَّا اَنزَلنَاهُ فی لیلة القدر) بی شکه قران پاک د قدر په شپه نازل شویدی (وَمَا اَدراک ما لیلة القدر) آیا تاسو ته معلومه ده چی دا څومره برکتی شپه ده او د فضیلت نه ډکه ده (لیلة القدر خیر من الفی شهر) شپه د قدر د زرو میاشتو عبادت نه بهتره ده (تنزل الملائکتُ) په دغه شپه کی ملائکی راکوزیږی (والروح فیها) او پدغه شپه روح القدوس (جبرئیل امین) هم راکوزیږی د یوه ټولی فرشتو سره د هغه چا لپاره چی هغه د الله ﷻ په ذکر او عبادت کی مشغول وی هغوی ته د مغفرت او ښښنی دعاوی کوی (بِاِذنِ رَبهم مِن کل امر) د الله ﷻ په حکم هر یوه امر د خیر اخلی او مځکی خواته راکوزیژی یو ټولی ملائکی راکوزیږی او بل ټولی پورته خیژی او په مومنانو باندی سلامونه ادا کوی ( حتی مطلع الفجر) دغه د برکتونو شپه تر شفق داغ یا سحره پوری ده (رواه فضائل اعمال)

حدیث شریف : نبی کریم ث مبارک ارشاد دی فرمائی چی کله د شب قدر په شپه جبرئیل امین یو ټولی فرشتو سره اسمان نه مځکی ته راکوزیږی. د جبرئیل امین په قومنده تولی ملائیکی سره تیت شی په هرکور، بحر، غره، او ځنکله ته ورځي د هر مومن سره پدغه شپه مصافحه کوی لیکن د هغه کور ته نه ورځی چی هلته سپی ، خنزیر ، او تصویرونه وی نه ورځي او د هغه چا کور ته نه ورځی چی هغه کورکی خلاف شریعت کارونه کیږی او داسی خلک د الله ﷻ د رحمت او نعمت نه محروم وی اوکوم کورکی چی د الله ذکر او عبادتونه کیږی د هغوی لپاره دا د رحمت ملائکی ټولی د مغفرت او رحمت دعاکانی کوی داسی وخت کی الله تعالی په هغو ملائکو باندی فخرکوی چی دوی د بندکانو په پیداکولو باندی اعتراضونه کول (رواه بیهقی او مشکوة)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د شب قدر شپې علامې

د شب قدر شپې علامتونه دير دی ځيني وايي په دی شپه ونی ، تيکی ، غرونه ، او هر شی په سجده پراته وی بل وای په د شپه نور ځليږی تولـه منطقـه ی روښانه کړی وی ځنی وايي په دغه شپه د فرشتو د سلام اوازونه اوريدل کيږی ځيني وای چی په دغه شپه د سمندر اوبه نمکيني وی همداسی ۴۶ قولونه د عالمانو ذکر شوی دی.

حديث شريف : د حضرت بی بی عايشه رض څخه روايت دی چی نبی کريم ص فرمائلی دی چی د شب قدر شپه د رمضان د مياشتی آخری لسو شپو کی او په طاقو شپو کی کوشش کوی لکه ۲۱ ، ۲۳ ، ۲۵، ۲۷ ، ۲۹ شپه کی وی.

حديث شريف : نبی کريم ص فرمائلی دی چی د رمضان مياشت يوه د صبر او زغم مياشت ده که چيری پر سړی د روژی په نيولو د کرمی تندی او نور شی څومره تکليفونه چی راځی هغه بايد په ډير شوق او ذوق وزغمی او برداشت ئی کړی ، نه داسی چی بعضی بی همته او بی عزته اشخاص چی د ورځی لږ غوندی وږی شی يا لږ غوندی کرمی وی يا ورځی لږ اوږدی وی نو د دوی شکوه او شکايت شروع شی بايد داسی بی غيرتی ته ځان ونه غورځوو خپله روژه په صبر او زغم ونيسو د تراويح لمونځونه د غريبانو مسکنيانو فقيرانو يتيمانو همسايه او بی وزلو سره خپله همدردی تر څو مو د لاسه کيږی ورنه ونه سپموو تر څو مو د الله ﷻ رضا پر نصيب وکرځی (رواه فضائل اعمال)

حديث شريف : حضرت ابو هريره نه روايت دی چی نبی کريم ص فرمائلی دی چی د دری کسانو دعا نه ردکيږی ۱ د روژه دار د روژه ماتی وخت کی ۲ د عادل پادشاه دعا ۳ د مظلوم شخص دعا چی الله تعالی د وريځو نه پورته اوچتوی او د اسمان دروازی ورته خلاصوی او اواز به ورته وشی چی قسم دی وی ځما چی ستا مدد به کوم اکرکه څه وقفه هم وکړی (رواه ترميذی کذر فی رد غيب)

بل حديث شريف : کی راغلی چی تاسو خپلو ځانو ته اولادو ته خادمانو ته خيری مه کوی کيږی چی قبولی شی بلخصوص د رمضان په مياشت کی (رواه فضائل اعمال)

حديث شريف : نبی کريم ص فرمائلی چی څوک د رمضان مياشت کی د حلالی نفقی نه بل روژه دار باندی څه وخوری فرشتی په همدی شپه په همدی شخص رحمت ليږی او د شب قدر په شپه جبرائل امين مصافحه ورسره کوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حديث شريف : نبی کريم ص فرمائلی دی چی دا څلور شيان پر خپل ځانونو عملی کړی ۱ د کليمی شريفی ذکر چی په ډيرو احاديثو کی ذکر هم راغلی بل چی افضل ذکر هم دی ۲ استغفار ويل چی په ډيرو احاديثو کی ذکر هم راغلی دی ۳ په روژه ماتی به طلب د جنت ديرکوی ۴ او تل به د دوزخ اور نه پناه غواړی بلخصوص روژه کی به ډير غواړی (رواه فضائل اعمال)

## د روژی نيت

روژه په ۷ قسمه ده ۱ فرض عين روژه لکه د رمضان د مياشتی روژه ۲ فرض غير معين روژه چی هغه د رمضان د مياشتی قضائی روژه ده ۳ واجب غير معين روژه لکه چا چی د نذر روژه خوړلی وی ۴واجب معين روژه لکه نذری روژه ۵ نفلی روژه ده ۶ مکروه تنزهی ده ۷ مکروه تحريمی روژه لکه د اختر په ورځ ايام تشريق او شکی روژی دی (رواه دور مختار و شامی )

مسئله روژه بی د نيت نه نه صحيح کيږی په زړه کی د روژی نيولو پخه اراده او قصد ضروری دی نو دا نيت شو . په خوله ی ويل ضروری ندی ليکن ويل ی بهتر دی نيت ی دادی (نَوَيتُ اَن اَصُوّمُ غَدً لِ اللهِ تعالی مِن شَهرِ رَمَضَان) يا به خلص دا وائی (بِصَمٍّ غَدٍ نَويتُ ) رواه دور مختار و رد مختار.

مسئله که چا په روژه کی نيت وکړو چی زه به سبا ته روژه نيسم ليکن د فرضی روژه نوم ی وانه خيست يا يی وويل چی سبا به زه نفلی روژه نيسم يا ی د نذز يا ی د کفاری نوم واخيست پدی تولو صورتو کی نيت ی صحيح دی او روژه ی ادا کيږی ( رواه بحر رائق و ردمختار)

## د شکی روژی بيان

د شک په ورځ د رمضان د مياشتی په نيت سره روژه نيول منعه دی او که فرضا چا ونيوله بيا معلومه شوه چی دا ورځ د رمضان ده نو فرض روژه ئی آداشوه او که ورته معلومه شوه چی دا د شعبان ديرشم تاريخ دی نو بيا ورته نفلی کرځی که بيا ی ماته کړه نو د نفلی روژی قضائی نشته (رواه دورمختار ورد مختار)

مسئله که د شک په ورځ چا د بل واجب روژی په نيت روژه ونيوله دا هم مکروه ده او

(c) ketabton.com: The Digital Library



که معلومه شوه چې دا د رمضان ورځ ده نو فرضي روژه ئې ادا کیږي اوکه د شبقدر اخرې ورځ وه دکومې روژې نیت ئې چې کړې وی وشو (رواه مصدریه و دورمختار)

مسئله که چا نیت کاوه چې صبا که روژه وه نو روژه به نیسم اوکه نه وه نو نه ئې نیسم نو پدې نیت سره هم روژه نه کیږي اوکه پدې نیت چې زه صبا روژه نیسم که رمضان وی روژه به مې ی اوکه روژه نه وه نو ځما روژه به نفلي روژه وی دا هم مکروه ده اوکه ئې دا ونیوله سبا روژه شوه نو روژه ی وشوه (هدایه مختار و ردمختار)

مسئله که چا د شک په ورځ څه خوړل څکل کړي وی بیا ثابته شوه چې نن ورځ د رمضان ده نو ده ته لازم ده چې تر ماښامه نه څه وخوری او نه څه وڅکي خپل ځان به روژه دار غوندي ساتي کر چې دا روژه ی نه کیږي. همداسې که د شک په ورځ څه نه خوړلي او نه څه څکلي وی او د رمضان د ورځې ثبوت داسې وخت کې وشو چې اوس ئې نیت د روژې نه صحیح کیږي دلته به هم تر ماښامه نه خوراک کوی او نه هم څه څښاک . روژه ی هم نه کیږي (رواه مجمع الانهار)

مسئله د شب قدر په ۳۰ شپه میاشت ونه لیدل شوه یا د وریځې یا بلې وجې سبب باندې بهتره دا ده چې قاضي، مفتي او نورو خواص احتیاط سبا ته د نفل په نیت روژه ونیسي لیکن عوام به د روژې نیت نکوی . نصف النهار پورې به انتظار وباسې خوراک څښاک به نکوی بیا که ثابته شوی چې نن ورځ د رمضان ده نو نیت به کوی روژه به نیسي اوکه نه نو پس د نصف النهار ه به ئې عوام خوری او څکې روژه به نه وی (رواه دورمختار و ردمختار)

## په کومو شیانو چې روژه نه ماتیږي

که چا روژه نیولې وه په هیره ئې څه وخوړه یا ئې څه وڅکل اکرکه په مړه کیږه هم وی روژه ئې نه ماتیږي ولوکه په هیره ئې څو واری څه وخوړل یا ئې وڅکل نو روژه ی نه ماتیږي ولوکه چا په هیره جماع هم وکړه پدې هم روژه نه ماتیږي (رواه شرح البدایه و هندیه)

مسئله که د چا بې اختیاره څه شی لکه مچ دوړه او لوګی حلق ته لاړه روژه ی نه ماتیږي که ئې قصداً وکړي نو بیا ئې روژه ماتیږي ( رواه شرح تنویر)

مسئله روژه دارکه رانجه یا تیل ولګوی روژه ی نه ماتیږي ولوکه حلق ته ئې هم لاړل او

(c) ketabton.com: The Digital Library



که قصداً وی بیا پری ماتیږی ( رواه شرح تنویر)

مسئله غیبت کول فحش ویل او کنځل کول غټه کناه ده لیکن روژه پری نه ماتیږی لیکن خیر او برکت به نلری (رواه قاضی خان)

مسئله که چا خوله کنکال کړه په اوداسه کی او په خوله کی څه لوندوالی پاتی شو او هغه لاړو سره تیر شی روژه ی نه ماتیږی او که ئی خواږه شی خوله ته واچول بیرته ی توکړل شیرینی خوندکی پاتی شو بیا ئی هغه تیرکړل روژه ئی ماتیږی (رواه دور مختار)

مسئله که د چا غوږ ته اوبه لاړی روژه ئی نه ماتیږی که ئی قصداً واچولی دی کی اختلاف دی لیکن کول ئی شه نه دی همداسی که ئی غوږ کی ډکی ننویست خیری ئی راویستی روژه ی نه ماتیږی (رواه دورمختار و فتح القدیر)

مسئله د خوشبویه شیانو په بویولو باندی روژه نه ماتیږی چی هغه لوکی لرونکی نه وی لکه کل ، عطر او عرق کلاب او داسی نورو باندی نه ماتیږی بلکه مکروه کیږی (رواه ردمختار)

## په هغه شیانو چی روژه ماتیږی خو تنها قضائی پری لازمیږی

مسئله که د رمضان میاشت وه د ورځی ئی د روژی نیت نه وه کړی ټوله ورځ ئی روژه دار غوندی نه څه وخوری او نه ئی وڅکل نو روژه ی نه کیږی قضائي پری واجب دی یا ئی نیت نه وه کړی د صبح صادق وروسته ئی نیت وکړو بیا ئی روژه ماته کړه دلته صرف د روژی قضائی پری لازم شوه (رواه مبسوط)

مسئله که چا د سر یا کیډی په زخم دارو واچول هغه سر یا کیډي ته ورسیدل نو روژه ماته شوه اوکه ی دارو سر او کیډي ته ونه رسیده نو روژه ئی نه ماتیږی ( رواه هندیه)

مسئله که روژه دار تیکه ، کودړی ، شیشه ، اوسپنه ، خاوری یا مالوچ یا کاغذ او نور شیان تیرکړل یا ئی بادام د پوستکی سره تیرکړه صرف د روژی قضائی پری واجبه ده (رواه خلاصه الفتوا)

مسئله که د روژه دار خوله وینی شوه برابره یا زیاته وینه تری لاړه نو روژه ماته شوه پده هم صرف قضائی راځی اوکه وینه کمه وه نو روژه پری نه ماتیږی اوکه په حلق کی د تیریدو سره خوند واخیست پدی هم روژه ماتیږی صرف قضائی به راوړی (رواه دور مختار)

مسئله که چیرته د روژه دار په حلق کی کَلی یا باران بی اختیاره لاړه روژه ی ماته شوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



قضائی به راوړی ( خلاصه فتواه و دور مختار )

مسئله که د روژه دار قی راغی که اختیاری وی او که غیری اختیاری او په ډکه خوله وی نو په داسی حالت کی روژه ماتیږی قضائی به راوړی او که کمه وی قضائی پری نشته (رواه فتح الباری)

مسئله که روژه دار په هیره څه وخوړل یا ئی وڅکل یا ی جماع وکړه بیا یې دا فکر وکړو چی روژه می ماته شوه بیا ئی قصداً څه وخواړه یا ئی څه وڅکل نو کفاره پری لازمه شوه ( رواه دورمختار و هندیه)

## په هغه شیانو چی روژه ماتیږی کفاره او قضائی دواړه پری لازمیږی

کله چی یو عاقل ، بالغ مقیم او مسلمان په رمضان کی چی د روژی اداکولو نیت ئی د شپی نه وی کړی بیا دغه روژه ماته کړی ولو چی چا مجبوره کړی هم وی او نه ورته څه شرعی عذر پیش شوی وی لکه حیض وغیره داسی وخت کی د روژی کفاره پری لازمه شوه ( رواه دور مختار و ردمختار)

مسئله شرعی عذر لکه د حیض راتلل او نا بالغ روژه نیول د مسافرو روژه نیول (مسافر روژه ونیوه بیا ئی وخوړه پداسی حالاتو کی کفاره نشته بلکه قضائی به راوړی (رواه دورمختار و ردمختار)

مسئله که د روژه داری ښځی حیض شروع شه یا ئی نفاس راغی نو روژه ی ماتیږی تر هغه وخته چی پاکه شوی نه وی د دی ورځو قضائی پری شته د مانځه قضائی نلری (رواه هندیه)

مسئله که روژه دار قصداً څه وخوری یا ئی څه وڅکل که په عذر کی نوی او بی عذره وی که هغه غذائی وی یا دوائی وی روژه ی ماته شوه قضائی او کفاره دواړه پری لازم شول (دور مختار و ردمختار)

مسئلهکه روژه دار د نیشی یا د بلی فایدی لپاره څه وڅکول لکه چلم سکرت وغیره او دهغه لوکی حلق ته لاړه نو پدی شخص کفاره او قضائی دواړه پری لازم شول (رواه دورمختار و ردمختار)

مسئله که روژه دار د چا غیبت وکړ یا ی مسواک وواهه بیا ئی دا خیال وکړ چی د ما روژه ماته شوه پس د هغه ی قصداً څه وخواړه یا ئی څه وڅکل نو قضائی او کفاره دواړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پری لازم شوه (رواه هندیه)

مسئله که د روژی دار خوب کی احتلام وشو یا ئی په نظر یا فکر سره انـزال شـو نـو پـدی دواړو حالاتو کی ئی روژه نه ماتیږی (رواه دور مختار و هندیه )

مسئله که روژه دار په ذکر کی اوبه وغیره څه وڅښول روژه ی نه ماتیږی اوکه ښځی خپل فرج کی داسی وکړی نو روژه ماته شوه قضائی به راوړی کفاره پری نشته (رواه شرح تنویر)

مسئله که نارینه د لویو بولو ځای کی او ښځه دواړو بولو ځای کی لمده کوتـه داخـل کـړه نو روژه ئي ماته شوه قضائی به راوړی اوکه چیری ئی وچه کوتـه داخـل کـړه نـو دی حالـت کی ئی روژه نه ماتیږی اوکه ئی دوباره داخل کړه روژه ئـی مـاتیږی قضـائی بـه راوړی ( رواه دور مختار و ردمختار)

## په کومو شیانو چی روژه مکروه کیږی

مسئله که روژه دار بی ضرورته څه شی وڅاکه بیا ئـی تـو کـړو چـی یـوه زره هـم حلـق تـه داخل نشي داسی حالت کـی روژه نـه مـاتیږی لـیکن مکـروه کیـږی اوکـه ښـځی د خاونـد د ویری نه د کتغ مالکه وکتله پر ژبه یا دا چی د ماشـوم لپـاره مـور ی څـه وژول چـی بچـی ئـی وخوری فرق نلری لیکن احتیـاط پکـی ضـروری دی چـی شـی ئـی تـیر نشـی (رواه هندیـه و ردمختار)

مسئله په خوشبوئی بویولو سره چی لوکی لرونکی نه وی په تیلو لکولو او رنجو سـره جـی روژه کی استعمال شی کراهیت نلری په مسواک وهلو سره هم روژه نـه مکـروه کیـږی کوشـش وشی چی لوند حلق ته داخل نشی نور نو اسـتعمال ئـی زوال نـه مخکـی کـه وی یـا وروسـته وی (رواه دورمختار و شامی)

مسئله په کرمی کی لامبل لوند زړوکی په سینه اچول پـه سـر اوبـه اچـول پـه خولـه او پـوزه کنکالولو باندی روژه نه ماتیږی اوکراهیت هم نه راولی (رواه شامی)

مسئله په روژه کی خوله کی اوبه نیول دیر ساعت روژه مکروه کوی همدارنکـه پـه اسـتنجا کی مبالغه (ډیر کوشش) کول هم روژه مکروه کوی (رواه عالمکیر)

مسئله د ښځی په ښکلولو سره روژه نه مکروه کیږی پدی شـرط چـی جمـاع نـه ځـان بـچ کولای شی (رواه هندیه وشامی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کفاری بیان او مسائل

د رمضان میاشت کی د فرض روژی کفاره داده لکه ۱ مرئی به آزادوی که دانشی کولی نو دوه میاشیتی پی در پی ۶۰ ورځی به روژه نیسی او که دا هم نشی کړای نو د ۶۰ مسکینانو ته به کتغ سره طعام سحر او ماښام کی ورکوی (رواه هندیه)

مسئله دکفاری دوه میاشتی روژه به داسی نیسی چی ټولی ۶۰ روژی به پی در پی نیسی چی قضائی پکی رانشی اوکه فرضاً یوه ورځ ئی بی د عذره قضائی پکی راوړه نو بیرته به د سر نه خپلی شپیته ۶۰ روژی شروع کوی بی د شرعی عذر لکه حیض او نفاس (رواه شامی)

مسئله که په منځ د دومیاشتو کی ۶۰ ورځو کی د سفر مریضی یا نفاس په وجه سړی یا ښځی نه روژه ناغه شوه بیا ئی هم کفاره نه آداکیږی بیا به ئی د سره خپلی روژی شروع کړی پی در پی به خپلی ۶۰ روژی پوره کوی اوکه چیری منځ کی د ښځی حیض پواسطه ناغه راغله خیردی کله چی پاکه شوه د خپلو روژو سلسله به جاری کړی (رواه شامی)

مسئله د روژی په کفاره کی یعنی د دومیاشتو دوران کی یوه ورځ ئی په هیره سره څه وخوړل یائی وڅکل یا ئی په هیره سره جماع وکړه دا چی په هیره روژه نه ماتیږی کفاره هم پری نشته (رواه شرح التنویر)

مسئله کومو ۶۰ مسکینانو ته چی په کفاره کی دودی ورکوی نو داسی کسانو ته به ډوډی ورکوی چی هغه ډیر وړوکی نه وی یا دا چی مخکی ډوډی هم نوی خوړلی وږی وی (رواه هندیه و شامی)

مسئله دکفاری ډوډي سره کتغ ضروری دی مستحبه طریقه دا ده چی ترکاری وغیره هم ورسره وی (رواه هندیه و شامی)

مسئله که چا د یوی روژی کفاری اداکړه بله وربانـدی راغله دا به هم په هغه شکل آداکوی (رواه دورمختار وشامی)

مسئله که په کفاره کی ډوډی لپاره پوره ۳۰ کسان راولی نو ډوډي به ورکوی شه به ئی مړوی او ۳۰ کسانو ته چی هغه مسکینان وی د ډوډي قیمت به ورکړی داځکه چی د ۶۰ کسانو کاله کول یوځل مشکل دی او که ئی چیری یو مسکین راوست هغه ته ئی ۶۰ ورځی او شپی ډوډی ورکړه هم کفاره ئی اداکیږی (رواه دورمختار و ردمختار).

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسئله کفاره صرف د رمضان د میاشتی د روژی ماتولو کی راځی او که چیری چا بی له رمضان د میاشتی بله روژه ونیوله مثلاً قضائی د رمضان نفلی یا نذری روژه ئی ونیوله بیا ئی قصداً هغه ماته کړه نو صرف دی د هغی قضائی راوړی کفاره ورباندی نه کیږی (رواه هندیه و ردمختار)

مسئله حضرت ابوهریره رض فرمائلی چی اصحاب صُفه تول ۷۰ کسه وه نو دی حضراتو به په ورځو ورځو هفتو هفتو روژه په نهره تیرولی حتی چی کله کله به د لوږی نه پرمځکه پری وتل په انصاروکی دیر مالدارخلق وه بیله جبر او ظلم نه به دوی خپل مالونه په دوی تقسیمول دوی به کذاره پری کوله (رواه دورمنثور)

## د فدیی بیان او مسائل

هغه شیخ فانی چی غنی وی نو په هغه د روژی میاشت کی د هری روژی بدله کی فدیه ورکول واجب طریقه ده خو ښه ئی اول د رمضان کی ورکول یا آخرکی ورکول دی ( رواه مبسوط ، و شرح التنویر)

فدیه :- د یوی روژی فدیه د سر سائی په اندازه ده که هغه جنس وی یا قیمت ئي نوهغه به مسکین ته ورکوی یا دا چی مسکین یا فقیر ئی سهار او بیګا دکورته راوست او طعام ئی ورکړو نو پدی سره د یوی روژی فدیه آداکیږی لیکن په سرسایه کی تملیک ضروری دی هغه به مالک کرځوی ( رواه مبسوط و شرح تنویر)

مسئله چا چی د رمضان روژه سفرکی یا مرض کی بلا عذره نه وی نیولی په هغه بیا فدیه نشته بلکه قضائی راوړل ئی ضروری دی هغه د ده خوښه ده چی پی در پی ئی نسی او که په وقفه ئی شکل ي قضائی راوړی ( رواه شامی و هندیه )

مسئله که د مړی د ترکی نه مخکی د هغه په تکفین او تجهیز ئی مصرف کیږی څه چی ورته پاتی وی د هغه نه به د هغه قرض اداکیږی بیا څه چی پاتی وی په دریمه حصه کی د مړی د وصیت مطابق عمل درآمدکیږی متباقی به ئی میراث خواره اخلی او که میراث خواره ئی نه وی نو ټول ئی په وصیت کی راځی د یوه مانځه فدیه هم په اندازه د رمضان د میاشتی د روژی ده واجب هم د مانځه حکم لری ( رواه سراجی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د نذري روژې بيان

په کال کی داسی روژې شته چی په هغو ورځو کی روژه نيول منعه شويدی چی هغو ورځو ته ايام نهيه وايی مثلاً د دواړو اخترونو لمړی ورځی د لوی اختر د مياشتی ۱۰ ، ۱۱ ، ۱۲ او ۱۳ تاريخ ( رواه شرح التنوير)

مسئله که چا پر ځان متواتر يو کال روژه نيول يا ئی متواتر يوه مياشت روژه نيول نذر پر ځان ومانه يا ئی يوه هفته روژه پر ځان ومنله دلته دا شخص مجبور دی چی په خپله وعده دا منل شوی روژې ونيسی او که چيری د دی روژو په نيولو کی دی يوه ورځ ناغه راولی مجبور دی خپلی روژې د سر نه شروع کړی ( رواه عالم کير)

مسئله نذر پر دوه قسمه دی يو ئی مطلق او بل ئی مُعَلَقْدی.

مطلق نذر هغه دی چی شرط پکی ايشی وی مثلاً سړی ووايی که ځما ورور يا ځوی جوړ شو نو زه به يوه مياشت روژه نيسم يا دا چی ما ته الله ﷻ که ځوی راکړ زه به سل روپی نذر ورکوم

مُعَلَق نذر هغه دی چی په هغه کی شرط نوی لکه چی ووائی زه به يوه مياشت روژه نيسم ( رواه شرح تنوير)

## د نفلی روژې بيان

د نفلی روژې نيت د شپی نه د ورځی د نصف النهار نه مخکی پوری کيږی دا ځکه چی که ئی د شپي نيت نه وه چی زه به صبا روژه نيسم او ده د ورځی د نصف النهار د مخکی نيت وکړو چی زه به نن روژه يم او د صبح صادق نه ئی څه نه وی خوړلی او نه يی هم څه نه وی څکلی او روژه ئی ونيوله دا روژه صحيح ده کيږی (رواه دورمختار)

مسئله که د نفل په نيت چا روژه ونيوله بيا ئی ماته کړه دلته قضائی پری لازميږی او که ښځی نفلی روژه نيولی وه حيض پری راغی روژه ئی ماته شوه قضائی به ئی راوړی ( رواه دورمختار)

مسئله که چا د رمضان د مياشتی قضائی روژه پاتی وی بيا دی قضائی روژې مخکی نفلی روژې نيسی ورته جواز لری (رواه عالمکير)

مسئله د عاشورا په ورځ يعنی د محرم په لسم تاريخ نفلی روژه نيول مستحبه طريقه ده دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه چې کله نبي کريم ص مديني منوري ته هجرت وکړو هلته ئې يهوديان وليدل چې ټول د عاشورا په ورځ روژه وه کله چې هغوی نه پوشتنه وکړه چې د څه لپاره ياست نو هغوی ورته وويل چې په دی ورځ الله ﷻ موسی عليه السلام ته او بنی اسرائيلو ته نجات ورکړی او په دغه ورځ فرعون د ټول فوج سره رود نيل تباه کړی او موسی ع ته ئې نجات ورکړی نو موسی ع يي په شکرانه کی پدغه ورځ روژه نيولی ده بيا نبی کريم ص وفرمائل چې مونږ هم په دغه ورځ کی خپل ځان شريک بولو وروسته نبی کريم ص د دغی ورځی روژه نيول خپل امت ته حکم وفرمايه (رواه شامی )

فايده بعضی رواياتو کی راځی چې پدی ورځ روژه نيول الله ﷻ ته اُميد دی چې د تير کال کناهونو لپاره کفاره دی بعضی علما کرام فرمائی چې پخوا دا روژه فرض وه وروسته په مستحباتو کی راغله (رواه شامی )

مسئله د شورا شپږو ورځو متعلق په ډيرو احاديثو کی راغلی چې که چا د رمضان د مياشتی روژی بيا ئی د دواړو اخترونو مياشت ۶ ورځی روژی ونيولی دا داسی کيږی لکه ده چې ټول کال روژه نيولی وی وجه ئی دا ده چې الله ﷻ د يوی نيکی بدله لس نيکی ورکوی کله چې الله خپل کلام کی فرمائلی (مَن جَاءَ بِاالحَسَنَتهِ فَلَهُ عَشرَ امثالِها) فرمائی چې چا يوه نيکی وکړه هغه لپاره لس چنده د نيکی ثواب ده نو نبی کريم ص وفرمائيل چې د روژی مياشت ۳۰ ورځی دی که مونږه لس په ديرشو کی ضرب کړو نو ۳۰۰ ورځی کيږی هلته د کال د ټولو ورځو شمير ۳۶۰ ورځي دی.

همدارنکه که څوک د شوال ۶ ورځی روژه ونيسی ۶ چې په لس کی ضرب شی ۶۰ ورځي ورنه جوړيږی اوس نو چې ۶۰+۳۰۰=۳۶۰ ورځی شوی نو پوره يو کال ورنه جوړ شو اوس داسی ورنه جوته شوه چې دی سړی پوره يو کال روژه نيولی وی د شوال په ۶ ورځو روژه نيولو کی پی در پی والی ضروری ندی څومره چې ناغه پکی راشی فرق نه کوی ليکن د شووال د مياشتی مابين بايد وی (رواه مسلم شريف)

مسئله د کُل (دوشنبی) ورځ او د زيارت (پنجشنبی) ورځ او د جمعی په ورځ همدارنکه د بزرکی (رجب) مياشتی په ۲۷ تاريخ د شب قدر په لسم تاريخ روژه نيول ډير ثواب لری همدارنکه د لوی اختر د حج مراسمو کی د لوی اختر په نهم تاريخ هم روژه نيول ډير ثواب لری ليکن د عرفی د ورځی روژه په خپله حاجی ته د حج مراسمو کی ورته مکروه ده دا ځکه چې حاجی د عرفی وقوف نه پاتی نشی ( رواه ابو داود)

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسئله خپله نبی کریم ص فرمائلی چی د عرفی د ورځی روژه نیول د تیر کال او راتلونکی کال کفاره کرځی در صورت چی د لوی اختر په نهم تاریخ پوره ونیول شی (رواه هندیه و ردمختار)

بل د ایام بیضی یعنی د قمری د میاشتی ۱۳ ، ۱۴ ، ۱۵ ، تاریخ روژه نیول په احادیثو کی ډیر راغلی دی چی دی دری ورځو روژه نیول داسی دی لکه ده چی ټول چی ټول عمر روژه نیولی وی وجه ئی دا ده چی لکه د شوال روژوکی بیان وشو چی الله ﷻ د یوه نیکی بدله لس چنده خپله وعده کړیده نو دلته چی ۳ ضرب ۱۰ شی ۳۰ ورنه جوړیږی یوه میاشت هم ۳۰ ورځی دی نو چی هره میاشت کی دی دری دری روژه ونیسی او دری دری روژی د دیرشو روژو سره برابریږی پدی خاطر دی سروکال روژه نیسی (رواهابو داود)

## د اعتکاف بیان

په جومات کی د عبادت او ذکر لپاره ایثاریدو ته اعتکاف وائي. د حنیفی مذهب په نزد اعتکاف پر ۳ قسمه دی ۱ واجب اعتکاف ۲ سنت اعتکاف ۳ نفلی اعتکاف.

۱ واجب اعتکاف خاص د نذر لپاره ده چی ووائی که ځما دا فلانی کار وشوو زه به دومره ورځی اعتکاف یم .

۲ سنت اعتکاف دا اعتکاف د روژی د میاشتی آخری لس ورځو اتکاف دی چی دا د نبی کریم ص طریقه ده.

۳ نفلی اعتکاف د دی اعتکاف لپاره نه څه وخت شته او نه څه تعداد دا اعتکاف هر وخت کی کیږی د امام صاحب په نزد هر څوک چی هر څو ورځي وغواړی کولی ئی شی لیکن د یوی ورځي باید کم نه وی.

د اعتکاف هدف مقصد د اعتکاف دا دی چی د روژی په مبارکه میاشت کی د شب قدر د شپی په لاس راوړل دی اوکه دا شپه ونه لیدل شی دا ټوله شپه په عبادت ورته حسابیږی دا طریقه خاص د الله ﷻ ذکر کی مشغولیدل دی . د اعتکاف لپاره غوره ځایونه ۱ مکه معظمه ۲ مدینه منوره ده ۳ بیت المقدس دی ۴ جامع جوماتونه دی ۵ خپل محلی جوماتونه دی.

مسئله معتکف ته اجازت نشته چی بی ضرورت نه د جومات نه ووځی نو د ضرووت

(c) ketabton.com: The Digital Library



لپاره لکه د جواب چای ، اوداسه لپاره د خوراک چښاک لپاره چی څوک نلری بل دا چی د ده ضرورت جومات کی نه پوره کیده او څوک یی د ضرورت د پوره کیدو نه وه وتلای شی لیکن وخت به نه تیروی عاجل به بیرته ځي (رواه دور مختار و شامی )

مسئله که څوک جومات کی ناست وی او هلته د جمعی لمونځ نه کیده د جمعی لمانځه لپاره بل جومات ته تلای شی لیکن وخت به ډیر نه تیروی او نه به ډیر وختی ووزی د زوال پس به ور روانیږی که هلته جومات کی لږ غوندی حصار شو فرق نلری اعتکاف ئی نه ماتیږی کوشش به کوی چی ژر جومات ته بیرته راشی (رواه در وَرَد)

مسئله که موذن اعتکاف وه او د اذان جای بیرون وه کولای شی چی بیرون د آذان جای ته ورشی ( رواه مبسوط )

مسئله په اعتکاف کی چوپ ناسته مکروه ده خپله ژبه به ئی د خیر په خبرو سره تلاوت د کلام ربی ، احادیثو ، تهلیل ، درود شریف استغفار ، قصص الانبیا ، حکایت صالحین ، وغیره وغیره باندی باید خپله ژبه خوځوی او لمده ئی وساتی (رواه فتاوه ودودیه)

د ضرورت مطابق کولای شی جی دنیوی خبری هم وکړی او که د خرید فروش ضرورت ورته پیدا شو هغه هم کولای شی لیکن هغه شی جومات ته راوړای نشی خوړل څکل او ویده کیدل ورته شته (رواه در ورد)

مسئله که ښځی د لس ورځو اعتکاف پر ځان لازم وکانړه ( یعنی نذر ئی ومانه ) نو دا به اول خپل خاوند نه اجازت وغواړی بیا به اعتکاف شی او که دا اعتکاف موده کی ورته حیض شروع شه نو مجبوره ده چی کله پاکه شوه نو بیا به د سر نه خپلی لس ورځي پوره کوی.

یادونه که معتکف چاته کنځل وکړی یا ئی جنک وکړو بد ئي وکړو لیکن اعتکاف ئی نه ماتیږی ( رواه در ورد)

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمائلی چی د شب قدر شپه په ۲۱ ، ۲۳ ، ۲۵ ، ۲۷ ، ۲۹ شپه د روژی مبارکی میاشت پلاس راوړی نو دا کولای شی چی د اعتکاف په ناسته کی راوړی او که چیرته میاشت ۲۹ ورځي وی نو بیا ئی کولای شی چی په ۲۰ ، ۲۲ ، ۲۴ ، ۲۶ ، ۲۸ شپه کی د اعتکاف په ناسته کی پلاس راوړی .

خپله نبی کریم ص مهربانی کړیده چی د شب برات (شب قدر) په شپه د میاشتی په ۱۵ مه شپه کی دالله تعالی عام رحمت د مخلوق وخواته متوجی وی .

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اتم باب

## د زکات بیان

زکات د اسلام د پنځو ارکانو نه څلورم رکن دی چی دا رکن د روژی مبارکی د میاشتی فرض کیدو نه مخکی د هجرت په دوهم کال زکات پر مسلمانانو فرض شوی دی چی دا فرضیت به د قیامت پوری باقی وی چی د زکات د ورکولو تائید الله ﷻ په خپل کلام کی ۳۲ ځایه د لمانځه سره یوځای ذکر کړی ده. زکات عبادت مالی ده که څوک ئی ادانکړی قیامت کی ورته سخت عذابونه الله ﷻ مقرر کړی دی منکر کافر دی

حدیث شریف : نبی کریم ص مهربانی کړی ده فرمائی چی چاته الله ﷻ مال او دولت ورکړی وی او د هغه مال زکات دی ورنکړی نو د قیامت په ورځ به دغه مال او دولت ورته یو کنجی مار شی او په غاړه کی به ئی پروت وی او ورته وائی به چی زه ستا هغه مال او دولت یم چی تا ورنه ذکات اداکړی نه ده (رواه بخاری شریف)

حدیث شریف : یوه ورځ نبی کریم ص مکه معظمه کی د حطیم شریف خوا کی قرار درلوده یو شخص ورته راغی وویل چی د فلانی تېول مالونه د سمندر موجونو تبا کړی نو نبی کریم ص ورته وفرمایل چی کوم مالونه سمندر او نور طوفانونه تبا کوی علت او موجبه ئی د زکات نه ورکول دی دا ځکه چی په کراتو مراتو د الله ﷻ د احکامو او دنبی کریم ص د ارشاداتو تاکید کیږی چی تاسو خپل مالونه په زکات سره حفاظت کړی او د خپلو بیمارانو علاج په صدقه سره وکړی او د بلاکانو دفعه په دعاکانو سره وکړی (رواه کنز)

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمایلی چی څوک حرام مال کټهی په خرڅولو کی هیڅ برکت نه وی او که صدقه د حرام مال نه ورکوی صدقه ئی قبوله نده او که په میراث ئی پریږدی نو ځانته ئی د دوزخ لپاره توشه برابره کړه.

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمایلی چی څوک د چا یوه لویشت مځکه په ظلم سره تصرف کړی د قیامت په ورځ به هغه مځکه د اور طوق جوړیږی غاړه کی به ورته واچول شی (رواه مشکوة)

حدیث شریف : فرمائی چی څوک ذکات ادانکړی هغه کامل مسلمان نه دی هر څومره

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې نور عملونه وکړي فایده نه لري (رواه ترغیب)

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمائی چې کوم قوم زکات ورنکړي الله ﷻ هغوی په قهطي مبتلا کوی ( رواه فی الترغیب و کنز)

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمائی چې کومه زنانه چې د خپلو غاړه کیو زکات ورنه کړی د قیامت په ورځ به ئی د اور غاړکی په غاړه وی او څوک چې د خپلو کوتو زکات ورنکړي همداسی د خپلو لښتیو زکات ورنکړي په قیامت کی به ئی د اور لښتی په غوږ وی (رواه ابو داود)

حضرت مولانا تهانوی رح فرمائی چې اعمال پر دوه قسمه دی چې یو ئی عبادت بدنی ده لکه لمونځ ، ذکر او عبادت دوهم ئی عبادت مالی دی لکه زکات ورکول او صدقه ورکول دی بیا په دی ټولو عباداتو کی اوله درجه عبادت لمونځ دی دوهمه درجه عبادت زکات او صدقه ده ځکه چې الله تعالی په خپل کلام کی ۳۲ ځایه د زکات ذکر کړی ده.

د آیات شریف مفهوم دی الله ﷻ فرمائی چې تاسو چاته پدی غرض شی مه ورکوی چې د هغه نه زیاته بدله وغواړی د الله ﷻ په لاره خرچه کوی او خرچه کوونکی باید کوشش وکړی چې چاته څه شی ورکړی نو اخیستونکی نه باید هیڅ بدله ونه غواړی یا د هغه د شکرانکی امید وکړی.

علما کرامو لیکلی چې نیکی پر دری شیانو کامله کیږی ۱ دا چې خپله نیکی ډیره کمه وګڼي ووائی چې ما هیڅ ندی کړی ۲ دا چې کله ئی د نیکو خیال راشی نو په کولو ئی باید تلوار وکړی هسی نه چې د کولو خیال بیرته بدل نشی ۳ دا چې نیکی به مخفی صورت سره کوی د ریاکاری او شهرت نه ځان ساتل بلکول ضروری دی.

زکات پر څو قسمه دی :- زکات پر ۶ قسمه ده ۱ د څناورو زکات ۲ د سرو او سپینو زکات دی ۳ د تجارت د مال زکات دی ۴ د کاز او معدن زکات دی ۵ د پیداوارو زکات دی ۶ صدقه فطر دی

په پورته شپږ قسم زکات کی څلورو مذاهبو متفقاً علیه سیوا د معدن چې د حنفیانو په نزد په عوض د زکات خمس یعنی پنځمه حصه واجب دی

مسئله که چا بل ته قرض ورکړ نو په قرض کی زکات نشته د نور مال چې نصاب ته ورسیده او کال پری تیر شی نو زکات پری واجب شو (رواه قاضی خان)

مسئله د زکات مال چې څومره زیات وی د هغه نه (څلویښتمه) حصه زکات ورکول کیږی

(c) ketabton.com: The Digital Library



مثلاً یوه شخص ۲۰۰ روپی لری پدی کی به پنځه روپی زکات ورکوی خلاصه چی په سلو کـی به دوه نیمی روپی زکات ورکوی او په څلویښتو روپو کی بـه یـوه روپـی زکـات ورکـوی کـه پـه اداکولو کی بلا عزره تاخیر راغی او دوهم کال پری تیر شو نو دا شخص سخت کناهکـار شـو توبه به باسی او که دوهم کال هم پری پوره تیر شوی وی نو بایـد د دووکلونـو زکـات اداکـړی (رواه قاضی خان)

مسئله د زکات په اداکولو کی نیت ضروری ده کله چی زکـات فقـیر او مسـکین تـه ورکـوی نو په نیت د زکات به ئی ورکوی بی له نیت به زکات نـه اداکـوی او ده سـره پخـوا د اداکولـو نه نیت زړه کی وی (رواه شرح البدایه)

مسئله که مستحق ته ئی په نیت د زکات ورکـړو او ظـاهره ئـی د قـرض یـا انعـام نـوم پـری کیښوده نو زکات ئی اداکیږی او که ئی ماشـومانو تـه پـه نامـه د اخـتر مبـارکی ورکـړی او د ده نیت د زکات وه دلته ئی هم زکات آداشو (رواه دورمختار وشامی)

مسئله زکات ، عشر ، خراج ، صدقه فطر ، نذر او کفاره کی قیمـت ورکـول هـم جـائز دی لیکن د قربانی وخت کی د قربانی قیمت ورکول جواز نلری(رواه شرح تنویر و ردمختار)

مسئله د زکات پیسی ټولی یوه فقیر او مسکین ته ورکول مکروه دی زکات ورکول اداکیـږی لیکن بهتره داسی ده چی دومره مقدار زکات فقیر ته ورکړل شـی چـی د هغـه ضـرورت پـری رفعه شی (رواه دورمختار و شامی)

مسئله چا چی پدی نیت چی راځه زه به فقیر په کور کی کښینوم زکـات بـه مـی اداشـی دا خبره غلطه ده پدی ئی زکات نه اداکیږی یا دا چی ډوډی تیاره کړی چی زه به فقـیران راولـم دا هم غلطه ده نو زکات ئی نه اداکیږی او که چیری ئی طعام فقیرانو ته ورکړو یعنی هغـه ئـی مالکان وکرځول یا ئی جامی واخیستی هغوی ته ئی ورکـړی او هغـه ئـی قـبض کـړی داسـی حالت کی زکات اداکیږی (رواه شرح تنویر و شامی)

مسئله که څوک د زکات واجب کیدو مخکی مړ شی او زکات ئی ادانشو کـړای نـو د هغـه د ترکی به زکات نه ورکوی او که ئی وصیت کړی وی نو بیا به د هغه د مال دریمی حصی نـه زیات ورکړی او که چیری دریمی حصی نه ئـی زکـات زیـات وی نـو لـدی مـال نـه ئـی نشـی ورکولای او که میراث خواره پری راضی وه بیا ئی کولای شی (رواه دورمختار)

مسئله نفلی صدقه ورکول هغه وخت مستحب دی چی د ده مـال د خپـل کـور د ضـرورت نه زیات وی او که نه وی نـو بیـا صـدقه ورکـول ورتـه مکـروه ده همداسـی د خپـل مـال تـول

(c) ketabton.com: The Digital Library



صدقه‌کول هم مکروه دی او که چیری د ده او د ده د بال بچ یقین او صبر توکل ئی وه او څه تکلیف سره نه مخامخ‌کیده بیا فرق نلری بیا داسی حالت‌کی ورته صدقه ورکول بهتره ده (رواه شامی)

## زکات پر چا فرض دی

هغه مسلما چی عاقل او بالغ وی او مالک د نصاب وی د خپل احتیاج نه پیسی زیاتی ولری نو په هغه زکات فرض عین دی منکر ئی کافر دی د قیامت به ورځ ورته سخت عذابونه مقرر دی په لیونی او نابالغ باندی زکات فرض نه دی (رواه دورمختار و ردمختار)

مسئله د سپینو زرو زکات چی نصاب دوه پنځوس نیمی تولی ته ورسیږی او د سروزرو بیا اووه نیمی تولی دی نو چا سره چی د اصلی احتیاج نه سوا کم دکمه په پورته مقدار سپین زر یا سره زر وی او ملکیت ئی ولری د هرکال په تیریدو سره به زکات پری واجب دی مجبور او مکلف دی چی د هرکال په اخرکی په پورته پیمانه خپل زکات ورکړی (رد مختار)

مسئله د سرو زرو او سپینو زروکالی لوښی وغیره باندی چی هغه استعمالوی زکات پری شته زکات به ئی حمتی ورکوی (رواه دورمختار و شامی)

مسئله فرض ئی کړه په یوه زمانه‌کی د سرو زرو نیمه توله په ۳۰ روپی ده او سپین زر توله په یوه نیمه روپی ده د یوه سړی سره زر حاجت اصلی نه سوا پنځه روپی وی او نیمه توله سره زر چی‌کال پری تیر شوی وی نو زکات پری واجب شو دا ځکه چی نیمه توله سره زر په دیرش روپی دی او په دیرش روپی سپین زر پنځه شلویښت تولی‌کیږی او د پنځو روپو اووه نیم تولی نو د دلته تولی دوه پنځوس نیمی تولو ته ورسیده نو دا د زکات نصاب دی (رواه شرح تنویر)

مسئله‌که چا خپل‌کورونه په‌کرایه ورکول نو دا په تجارت‌کی داخل ندی زکات پری نشته همدارنکه‌که دیکونه ، پتلی او نور شیان ئی واخیستلی او په‌کرایه چلول دا هم سوداکری نه ده نو پدی هم زکات نشته په همدی شکل په لاریو او موټرو هم زکات نشته خلاصه پدی چی خوک چی په‌کرایه‌کوم شی چلوی په هغو زکات نشته البته‌کوم‌کرایه چی جمعه‌کړای شی هغه د نصاب حد ته ورسیږی نو بیا زکات پری شته (رواه منیه و قاضی خان)

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسئله کوم مال چې څوک سوداکرې پرې کوې (تجارت) کوې دلته ئې که د خپل ضرورت لپاره څه پرې اخيستي وې نو زکات پرې نشته او بيا ئې د خرڅولو اراده وکړه بيا هم زکات پرې نشته البته چې وروسته له خرڅلاو نه که کال پرې تيرېږي نو بيا زکات پرې شته (رواه شرحه هدايه)

## د قارون قيصه

په سورت القصص کې او په اتمه رکوع کې د قارون قصه داسې راغلې ده چې قارون د موسى ع د تره ځوی وه او په بنې اسرائيلو کې يو غټ سرمايه دار وه چې د ده د خزانو کنجياني (کيلې کانې) به ئې يوه قوي شخص پورته کولای نشوی حضرت موسى ع د اللهﷻ د حکم په اساس ورته وفرمايل چې دومره تکبر مه کوه او د اللهﷻ حکم ته غاړه کيږده په خپل مال دولت مه نازيکه د اخرت لپاره ډير تالاش کوه داځکه چې اللهﷻ تاته هر څه او فريمانه درکړې دي او اللهﷻ تاسره ډير احسان کړې دی نافرمانې مه کوه او دنيا که فساد مه خپروه ځکه چې اللهﷻ فساد نه خوښوي قارون عليه لعنت ځواب ورکړو چې د ما څه شتمنې ده دا ما خپله په خپل کمال او خواريو باندې پيداکړې نو دا مال او دولت ماته چا غيبې نه دی راکړی او نه چا احسان راسره کړی د قارون پدې ځواب الله (ج) ډير په غوصه شو ولې چې دی بې دينه د پخوانيو امتونو نه هم عبرت وانه خيست چې هغوی د ده غوندې سرکشې کړی وه چې ټول تبا شول د جهنم کندې ته وغورځيدل. موسى ع بيا ورته پيشنهاد وکړو چې اللهﷻ حکم کړی چې بايد د خپلې هستې او مال ذکات ورکړی قارون تکراراً بيا د زکات ورکولو نه بلکول انکار وکړو خپلو طرفدارانو او خلکو ته ئې اعلان وکړو چې پر مونږه او تاسو باندې موسى ع دا مال او دولت فيرزو نلری غواړی چې د مونږه په څه ظريعه مال او دولت حاصل کړي نور ټول حکمونه ئې مونږه عملي کړی ليکن دا حکم ئې نه عملي کوو راځی چې موسى ع ته يوه لاره جوړه کړو او خپل ځانونه ورنه بيغمه کړو ټولو ورسره ومنله قارون ورته وويل چې ما يوه بدکاره ښځه پوه کړې او هر څه مې ورسره منلې دي هغه به په موسى ع تهمت ولکوی اول به ئې بدنام او خلکو ته په دروغو رسوا کړو وروسته به ئې د ټول قوم مخکې په جزا د اعمالو ورسوو هغه وه چې موسى ع بيا ورته وويل چې ای قارونه د اللهﷻ حکم ومنه او خپلو مالونو زکات وباسه قارون ورته وويل چې ای موسى ع ته تل ماته وائې چې د اللهﷻ حکم ومنه داسې وکړه چې ته سبا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته یا بله ورځ د ټولو بنی اسرائیلو مشران راوغواړه ټولو ته د الله ﷻ حکم بیان کړه چی ټول ئی ومنو موسی ع د ده داخبره هم ومنله بله ورځ ئی ټول بنی اسرائیل راوغوښتل موسی ع ممبر ته خیږی د الله ﷻ حکمونه ئی چی څه بنی اسرائیلو ته بیان کړی کله چی حضرت موسی ع د الله ﷻ د حکمونو په بیان شروع وکړه او ورته وئی ویل چی ای خلکو د الله ﷻ عبادت کوی د هغه سره هیڅوک شریک مه جوړوی د صله رحمی او نور حکمونه ئی ورته بیان کړل دا ئی هم ورته وویل چی کوم شخص ښځه ولری او هغه زنا وکړی باید رجم یعنی سنکسار شی په عین وعظ دوی ورته وویل ولوکه ته هم یی او دا کار وکړی باید سنکسار شی موسی ع ورته وفرمایل بلی هوکه ما نه د زنا فعل صادر شی هم باید زه سنکسار شم دی وخت قارون ښځی ته وائی چی جکه شه حال ووایه ښځه پورته کیږی الله ﷻ د بدکاری ښځی ژبه په حق چلولو جاری کوی په فصاحت اعلان کوی چی ای موسی ع ته بلکول پاک معصوم او سپیڅلی شخص یی او په حقه پیغمبر ئی قارون او ملکری ئی ټول په خیانت کی تا سره روان دی غواړی چی تاته توتیه جوړه او تا پکښی راکیر کړی د دی ښځی پدی اقرار سره اکثره بنی اسرائیل مسلمان شول او خپله موسی ع الله ﷻ ته په سجده لویږی د الله ﷻ شکرانکی اداکوی چی الله ﷻ له دی بدبختی نه ورته نجات ورکړو په همدی سجده کی د الله ﷻ د خوا نه په حضرت موسی وحیه راغله ورته وئی وفرمایل چی ای موسی ع نن ورځ می درته د مځکی اختیار درکړی ده هر څه امر چی پر ځمکی کوی درته تابع داره ده کله چی موسی ع سر پورته کوی ځمکی ته حکم کوی چی قارون سره د ټولو ملکرو ټول ونیسه او تیر ئی کړه ځمکی دفعتاً قارون ملکری ئی سره د مال او دولت سره ئی خپلی خیټی حواله کړه د ځمکی د تیرولو حالت کی ټولو موسی ع ته ډیر عزرونه او زاری وکړی لیکن حضرت موسی ع د یوه عذر او زاری ونه منلی ټول ئی غرق کړل د قارون د غرقیدو وروسته د الله ﷻ د خوا نه بله وحیه راغلی ورته وئی فرمایل چی ای موسی ع که چیری قارون خپله یا د ده هر ملکری چی یوه هم ماته رجوع کړی وای او له ما نه ئی مدد او کمک غوښتی وای نو ما به دوی ټولو ته نجات ورکړی وای دا چی دوی ټولو د خپل امید او توجو ما نه واړوله او ستا خواته ئی متوجی کړه ځکه تبا او برباد شول (رواه فضائل صدقات و فضائل اعمال)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دزکات مسحقین څوک دي

د زکات مستحقین مسکین یا فقیر مسکین دی. مسکین هغه اشخاص دی چی د یوی ورځی کزاری نه بل څه ورسره نه وی.

فقیر هغه دی چی څه مال ورسره وی لیکن د پس انداز څه حصه پکی نه وی (رواه شرح تنویر)

مسئله که د چا سره زر یا دوه زره روپی نقدی وی او هغه ئی د ضرورت نه زیاتی وی نور څه نه وی ورسره قرضدار هم وی که ئی چی قرض اداکړو بیا ده سره دومره روپی پاتی شوی چی نصاب ئی پوره کاوه نو زکات به ئی ورکړی اوکه ئی نصاب نه پوره کاوه نو زکات پری نشته همداسی یو سړی دکوره ووت په لاره کی غلو پیسی ورنه غلا کړی یا بل څه مصیبت ورته پیښ شو ترکوره ورسره خرچه نه وه داسی شخص زکات اخیستلای شی ولوکه دولت مند هم دی (رواه هندیه)

مسئله د زکات په پیسو باندی جومات، مسافرخانه، پل وغیره په تعمیرکی مصرف کول یا د مړی تکفین او تجهیز لکول درست نه دی زکات پری نه اداکیږی دا ځکه چی تملیک د فقیر پکښی نه راځي داځکه چی د زکات پیسی به حتمی فقیر قبض کوی (رواه فتاوه عالمکیر)

مسئله خپل مزدور او چاکر او نوکر ته زکات ورکول کیږی چی هغه مستحق وی لیکن په تنخواکی ئی ورته مجرا کولای نشی (رواه دورمختار و ردمختار)

مسئله خپل اصول او فروع ته زکات ورکول جواز نلری زکات ورکوونکی خپل پلار نیکه مور انا چی د مور خوانه وی زکات نشی ورکولای همدارنکه خاوند خپلی ښځی ته او ښځه خپل خاوند ته زکات نشی ورکولای لیکن علاوه له دینه نورو نسبتی رشته دارانو ته ئی ورکولای شی کوم چی مسحق د زکات وی لکه خور ورور وراره خورزه تره ماما ترور وغیره (رواه هندیه و ردمختار)

مسئله میری، پلندر، برکتی، رضاعی مور او پلار، رضاعی ځوی او لور ته د زکات ورکول جواز نلری باید داسی اشخاصو ته زکات ورنه کړی (رواه هندیه و شامی)

مسئله لیونی نابالغ ته چی اهل د قبض نه وی زکات ورکول ورته جواز نلری لیکن د هغوی ولی ته بیا زکات ورکول کیږی چی هغه د ولی یا نابالغ واکدار وی (رواه دورمختار و شامی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ښارویو زکات

کله چې سائمه ښاروی نصاب ته ورسیده او یو کال پری تیر شو نو پر هغوی زکات واجب دی سائمه ښاروی هغه ښاروی دی چې د کال په اکثره حصه کې په خپله څری او په کورکی ولاړ نه وی. چې واشه او کیاه کور ته نه راوړل کیږی او که چیری ئی نیم کال بیرون څرکاوه او نیم کال ئی کورکی ولاړ وه کیا وغیره ئی کور ته ورته راوړل که ئی هغه په قیمت راوړه یا بی قیمته نو داسی ښاروی سائمه نه دی. بل دا چې کوم ښاروی د شیدو لپاره ساتی یا ئی د نسل لپاره یا ئی د خرڅولو یا ئی لپاره د بار وړلو لپاره یا ئی د سورلی لپاره ساتلی وی یا ئي د حلالولو لپاره د چاغښت لپاره ساتلی وی نو دا قسم مال سائم کیدای نشی نو زکات هم پری نشته.

اوکه د تجارت لپاره وه سوایم ندی داسی حالت کی به د تجارت زکات ورکوی همدارنکه اوښان کاومیشی غواوی پسونه وزی او نور داسی ښاروی په سائموکی حسابیږی لیکن دشتی ښاروی په سائموکی نه حسابیږی (رواه هندیه)

## د وزو او پسو زکات

که وزی او پسونه د څلویښتو نه کم وی زکات پری نشته نوکله چې څلویښتو ته ورسیده تر ۱۲۰ وزو او پسو به ۱ پسه یا یوه وزه زکات ورکوی یو سلو شل ۱۲۰ نه تر ۲۰۰ چې ورسیدل نو بیا به تر ۳۹۹ پوری ۳ زکات ورکوی په ۴۰۰ کی به بیا ۴ زکات ورکوی همدارنکه به ئی په ترتیب سره به په سلوکی یو یو زکات ورکوی (رواه دورمختار و شامی)

## د غوا او میخو زکات

غواکانی او میخی که ۳۰ نه که کمی وی نو زکات پری نشته کله چې ۳۰ شوی نو بیا به یو کلن خوسی زکات ورکوی بیا کله چې غواکانی او میخی ۴۰ ته ورسیده نو تر ۵۹ پوری به د غوا یا د میخی ۲ کلن بچی زکات ورکوی بیا کله چې ۶۰ ته ورسیده نو بیا به دوه یوه نیم کلن بچی زکات ورکوی همدارنکه به په هر ۳۰ دانوکی یوکلن بچی او په هر ۴۰ دانوکی یو دوه کلن بچی زکات ورکوی(رواه دورمختار و ردمختار)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د عشر بیان او مسائل ئی

مسئله د آبی یا بارانی ځمکی چی اوبه ئی د ویالی یا نهر نه وی نو پدی ځمکه عشر شته او خپل عشر به ځمکی نه لسمه حصه ورکوی اوکه چیری د هغی ځمکی اوبه چی هرهڅ نه وی بیا ئی په قیمت ورته اخلی نو بیا د داسی ځمکی عشر شلمه حصه ورکول کیږی همداسی د باغ حکم هم دی (رواه شرح تنویر)

مسئله د میوه داری ځمکی نه هم د میوی نه عشر ورکول کیږی همدارنکه که ځمکه کی میوی دانی وی یا ترکاری وی با قاعده عشر ورنه ورکول کیږی (رواه دورمختار و ردمختار)

مسئله کور یا حویلی کی د چا ترکاری ، میوی داری ونی یا نور شی وی عشر پری نشته (رواه دورمختار و در مختار)

مسئله عشر د ځمکی په مالک کیږی لیکن بعضی علما کرام فرمائی چی څوک په خپله د حاصل خاوند وی هغه که د ځمکی خاوند وی یا دهقان وی نو په دواړو عشر واجب دی (رواه شرح تنویر)

## د صدقی فطر بیان

په چا چی زکات واجب وی اوکه نه وی لیکن صدقه فطر پدی واجب دی خپله او د بچو صدقه فطر به ورکوی

مسئله د خپل پلار، مور، بی بی د بالغ ځوی یا د لور پر ده صدقه ورکول واجب ندی

که دوی فقیر یا مالدار وی نو خپله به صدقه فطر ورکوی او اداکول ئی پری واجب دی (رواه دورمختار و ردمختار)

مسئله په هغه ښځه چی صدقه فطر واجب وی نو صرف خپله صدقه به ورکوی (رواه ردمختار)

مسئله د اختر د لمانځه مخکی د صدقه فطر ورکول بهتر دی که د مجبوریت د وجی وروسته ورکړی فرق نه لری (رواه دورمختار و شامی)

مسئله په صدقه فطر کی غنم ، اوربشی ، اوړه ، جوار چینی یا داسی نور یا ئی قیمت چی هغه د غنمو د قیمت یا پیمانه وی ورکول کیږی (رواه شامی و هندیه)

مسئله د صدقی فطر اندازه خورد کم یو چارک یا پنځلس خورده او صدقه فطر د کیلو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



حساب ۱ کیلو او ۶۴۱ کرامه یا ۱۶۴۱ کرامه ورکول کیږی (رواه هدایه و علامه شامی)

مسئله په زکات کی فقیران دی یعنی زکات فقیرانو او مسکینانو ته ورکول کیږی صدقه فطر هم خوارانو فقیرانو او مسکینانو ته ورکول کیږی (رواه دورمختار ، و ردمختار)

مسئله په صدقه فطر کی د جنس په عوض د هغه قیمت ورکول هم واجب دی لیکن د جنس ورکول بهتر دی (رواه شامی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نهم باب

## د ځنکدن د حالت بیان

کله چی انسان بلخصوص مسلمان له دینا رحلت کوی نو سنت طریقه دا ده چی ځنکدن وخت کی به د هغه شخص مخ ښی اړخ قبلی خواته وکرځوی لیکن مخکی بایـد دی راستن ته برابر اچولی وی ځنی وائی چی ستونی ستخ به ئي څملوی پښي بـه قبلـی تـه وغـزوی سر لاندی به څـه شـی ورتـه کیږدی چـی د اسـمانه یعنـی پورتـه کتلو نـه بـچ شـی مخ کـی بایـد څملولشوی وی داسی حالت په اړخ اړول او را اړه ول ئي تکلیف ورکاوه پـه خپـل حـال بـه ئی پریږدی کله ئی چی ساه اخیستل ژر ژر شروع شـول پښـی ئـی سستی شـوی د دریـدو نـه ودریدی پوزه ئی ککه شوه او د دواړو غوږو اوکیری د ویښـتانو د شـنکیدو تـرمنځ ئـي هغـه ځایونه کښیناستل نو دا علامت د ځنکدن دی دفعتاً به ورته په نرم اواز د کلمی شریفی تلقین ورته شروع کړی ویونکی به خپله کلمه شریفه (لااله الاالله محمد رسول الله) لولی چـی د ده ورته فکر شی او دی ئی هم ولولی لیکن نه به ورته وائی چی کلمه ووایـه دا چـی د ځنکـدن حالت سخت دی چی بل څه ئی د خولی نه ونه وزی یا انکار ونه کړی.

د کلمی شریفی د تلقین نـه مقصـد دا ده چـی ځنکـدن کـی د ده ژبـه پـه کلمـه د شـهادت جاری شی که چیری ئی یو ځلی کلمـه شـریفه وویلـه کفایـت کـوی تلقین کـوونکی بـه نـور د کلمی تلقین بندوی ولی مراد حاصل شو که ئی وروسته د کلمی شریفی ویلو ئی خـبری وکـړی نو تلقین کوونکی بیا ورته د کلمی شریفی تلقین شروع کړی بیا به سـورت یاسـین پـری شـروع کړی دا ځکه چی د سورت یاسین په لوستلو ځنکدن اسانه کیږی اوکـه چیری خدانخاسـته د ځنکدن حالت چا نه د خولی نه د کفر خبره وځي نو بد به پری نه وایو داسی به وایو چـی د ځنکدن حالت کی د ځنکدن د شخص نه عقل ئی پر ځای نه وی ځکه دا خبره ورنه ووتله نو دا معاف دی الله ﷻ د عفوه ورته وکړی (رواه دورمختار و بحر رائق)

مسئله د سا وتلو وروسته به د مړی اندامونه برابر کړی شی سترکی به ئی پټـي شـی زنـه بـه ئي وتړل شی د دواړو پښو کوتی به ئی وتړل شی اوکه سترکی ئی نـه پټیـدی پـه قـراه قـراه بـه ورته پټي شی پدی حالت کی به بسم الله وعلی ملة رسول الله به وائی نور به مړی بانـدی تـر

(c) ketabton.com: The Digital Library



غسل ورکولو د قرانکریم لوستل مکروه دی‌کله ئی مړی وغزاوه نو څه خوشبوئي به پری ولکول شي پدی وخت‌کی که څوک جنوب وی یا ښځه د حیض او نفاس حالت‌کی وی نو هغه به ورنه وځي بیا ئی څومره چی د وس پوره وی نو د مړی تکفین او تجهیز په چالاکی وکړی دا ورته بهتره خبره ده (رواه فتاوه هندیه و شامی)

مجاهد رحمت الله فرمائی چی‌کله سړی د مرګ حالت ته نږدی شی دی حالت‌کی ورته د مجلس یاران او ملکرو صورتونه مخی ته ورته راشی نوکه د مجلس ملکری ئی صالح او نیک خلک وی هغه ورته راشی اوکه چیری د مجلس ملکری ئی فاجر او فاسق وی هغه به ئی مخی ته راشی دا اوس د مونږه قضاوت پوری اړه لری چی‌کوم ملکری بهتره دی.

حضرت سوفیان رح فرمائي چی‌کله ملک الموت د انسان زړه د مرګ حالت‌کی مسحه کړی دی وخت‌کی دی د خلکو پیژندکلوی نه بلکول خلاص شی ژبه ئي بنده شی دنیوی ټول شیان هیرکړی فرمائی چی پداسی حالت‌کی که انسان د مرګ په نشه سپور نوی نو د ځنکدن د سختی د وجی به په ناستو خلکو توره وچلوی بعضی روایاتوکی راځی چی‌کوم وخت سا حلق ته راشی نو په دغه وخت شیطان ابلیس د ده دکمراه‌کولو ډیرکوشش‌کوی چی انسان‌کمراه‌کړی او خطا ئی باسی.

حضرت جنید رحمت الله‌کله چی وفات‌کیده چا ورته‌کلمه شریفه لااله الاالله تلقین کوله د مبارک ورته وویل چی ما دا کلمه مخکی یاده‌کړی او دا مبارک لفظ می هیرکړی ندی چی اوس ئی تانه یادکړم فعلاً الحمدل الله دا می وظیفه ده او ژبه می پری روانه ده.

بل ځای‌کی یوه جلیل القدره صحابی فرمایلی چی ماته یوه عابد وویل چی یو سړی بصره‌کی وفات‌کیده خلکو به ورته‌کلمه شریفه د (لااله الا الله) تلقین‌کوله او د ده پر ژبه به لس لس روپی او دا هم په لس لس روپی د ژبی وتله.

حضرت موسی ع‌کله چی وفات شو الله ﷻ ورنه وپوښتل چی د مرګ حالت دی ځنکه وه ؟ بیان ئی وکړه نو موسی ع ورته وویل چی یا الله ﷻ ته بهتر په هر څه عالم یی لیکن ما خپله د ځنکدن حالت پر ځان داسی احساس‌کړو چی ځنکه یو سړی ژوندی مرغه په اور دکبابولو لپاره اړه وی او را اړوی چی هغه نه مری نه ئی سا وزی او نه الوتلی شی او نه په بله طریقه ځانته نجات ورکولی شی او هغه په اورکبابیږی

په یو بل روایت‌کی د ځنکدن حالت داسی بیان‌کړی لکه ځنکه چی ژوندی چلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



(وزه) په ژوند د پوسته کوی یا د پوسته کیږی

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمایلی چی د ځنکدن د حالت مشکل داسی دی لکه ځنکه چی انسان په خپل بدن باندی ۳۰۰ توری داسی خوړلی وی چی د هری توری پرهر ئی پر بدن پوره شکاری نو دی ۳۰۰ تورو د زخمونو درد بدن ته او د ځنکدن سختی درد یوشان وی (الحدیث)

حدیث شریف : د نبی کریم ص ارشاد مبارک دی فرمائی چی ای خلکو تاسو د مرک نه مخکی د خپلو کناهونو توبه وباسی او په نیکو اعمالو تلوار وکړی هسی نه چی په بل کار مصروف شی او توبه درنه پاتی شی الله ﷻ سره خپل زړه وتړی خپله ژبه په ذکر عادت کړی او خپله صدقه مستحقینو ته خفیه ورکړی (رواه فضائل اعمال)

یو بزرک فرمائی چی دا د تعجب ځای دی چی څوک پدی یقین ولری چی مرک شته او هر وخت راتلونکی دی نو ولی بیا دی په لړ غوندی شادی کی خوشحالی کوی

بل د تعجب ځای دا دی چی څوک پدی یقین ولری چی دوزخ حق دی حشر ئی معلوم ندی نو بیا ولی په خبره دی خاندی

بل د تعجب ځای دا دی چی څوک تل د دنیا انقلاب وینی نو بیا ولی دنیوی خبرو باندی مطمن کیږی او ژوند ته نور هم شکلا ورکوی

بل د تعجب ځای دا دی چی څوک پدی یقین ولری چی تقدیر حق دی څه چی ورته مقرر وی هغه به وینی نو بیا ولی مصیبتونه اوچتوی

یوه ورځ حضرت بی بی عائشه رض نبی کریم ص نه پوښتنه وکړه چی ای د الله ﷻ رسوله ص چی بی د شهادت نه بل څوک له شهیدانو سره داخلیدای شی او د شهادت درجی وړای شی نبی کریم ص ورته وفرمایل چی څوک یوه شپه او یوه ورځ کی سل واری مرک یاد کړی نو هغه شخص د شهیدانو دله کی شامل دی (رواه فضائل صدقات)

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمایلی چی تاسو مرک ډیر ډیر یادوی ځکه چی دا عمل ستاسو کناهونه لری کوی او د دنیا سره بی رغبتی پیداکوی (رواه فضائل اعمال)

## د مړی د لمبلو د طریقی مسائل

مسئله مړی ته د لمبولو مستحبه طریقه داسی ده ۱ به تخته راوړه شی لږ غوندی خوشبوئي به ولکوی شی مړی به پری څملول شی جامی به ئی په قراره وباسی په فرضو به ئی پرده تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



زنکنو به ئي پټ کړي. که ماشوم وی نو بیا ورته د پردی اچول ضرورت نشته بی د غسل ورکوونکی او کمک کونکی نه بل څوک نه وی (رواه عالم کیر و شامی)

مسئله مړی ته په غسل ورکولو غسل ورکوونکی باید خلته پلاس کړی اول به استنجا ورکړی اول به استنجا په لوټو ورکړی وروسته به ئی په اوبو استنجا ورکړی په استنجا ورکولو کی به اوبه په پرده اچوی لاندی به استنجا ورکړی بیا به د استنجا خلته لری کوی بیا به ئی دواړه لاسونه تر مړوند پوری دری کرته ومینځی بیا به ئی خوله دری واری ومینځی حتی شوندو لاندی به ئی اوبه ور ورسوی او کوتی به پری ووهی بیا به ئی پوزه دری کرته ومینځي بیا به ئی مخ دری کرته ومینځی بیا به ئی دواړه لاسونه تر څنګلو پوری دری واری ومینځي بیا به ی د سر مسحه وکړی. بیا به ئي دواړه پښي تر بجلکو پوری دری واری ومینځی اول به ښی لاس او ښی پښه بیا به چپ مینځي که چیری مړی جنوب وه یا ښځه په حیض او نفاس کی وه نو عالمان فرمائی چی د چهار اندام اودس وروسته به د مړی سر او ږیره په صابون یا بل شی ومینځی چی صفا شی پدی شرط چی سر ئي ویښتان ولری بیا به مړی په کیڼ اړخ څملوی په شیر کرمه اوبو به چی عود یا بیری پانی پکښی جوش شوی وی نو دری واری به د سر نه تر پښو پوری واچوی چی ټول بدن ته ئی اوبه ورسیږی. بیا به ئی په تخته شاتخته څملوی د سر نه تر پښو پوری به دری کرته اوبه پری واچوی چی ټول لوند شی بیا به ئي په ښی اړخ څملوی د سر نه په پښو پوری دری کرته اوبه پری واچوی چی ټول لوند شی بیا به غسل ورکونکی مړی لږ غوندی ناستی ته برابر کړی که څه شی خیټه کی وی چی هغه خارج شی

کله چی مړی اول کی پر تخته ږدی د سر حصه ئی د پښو د خوانه لږ غوندی پورته وی کله چی پر تخته غسل ورکړای شو بیا به ئی اول په ښي طرف وروسته به سر وروسته په چپ طرف تر پښو پوری د عودو او کافورو اوبه پری واچوی بیا به ئي په یوه پاکه ټوټه وچ کړی مړی ته داسی غسل ورکول یو سنت طریقه ده (رواه دورمختار و ردمختار و فتاوه هندیه)

نوټ د ضرورت وخت کی چی د مړی د سر نه تر پښو پوری اوبه واچول شی او ټول بدن ئي وبهیږی او لوند شی داسی حالت کی فرض ادا شول

مسئله د مړی ویښتان تراش کول د نوکانو اخیستل او د ویښتانو کومنځول مکروه دی (رواه ردمختار و شامی)

مسئلهغاسل به بلکول د مړی عیبو ته نظر نه کوی او نه به ئی افشا کوی او که چیری مړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته ئی خپل او خپلوان غسل ورکړی دا ورته بهتره ده او مړی ته باید صالح خلک غسل ورکړی (رواه دورمختار)

مسئله ښځی ته د خاوند غسل ورکول جواز نلری اوکه خاوند مړ شی ښځه ئی غسل ورکولای شی دا ځکه چی د خاوند په مرک سره نکاح نه فسخه کیږی (رواه دورمختار و ردمختار)

مسئله که ښځه مړه شوه غسل ورکولو ته ئی نه بله ښځه وه او نه ئی بل محرم وه نو بیا به غیر سړی خلته پلاس کوی تیمم به ورکوی لیکن کوری به نه ورته سترکی به ئی پټوی (رواه قاضی خان)

مسئله که د مړی صرف سر پیداشو نو غسل ورته نشته اوکه بدن ئی پیدا شو او نیم نه زیات وه سر ئی ورسره وه غسل به ورکړی دفن به ئی کړی اوکه چیری نیم بدن ئی پوره وه نیم نه کم نه وه او سر ئی ورسره وه غسل به ورکوی دفن به ئي کړی (رواه بحر رائق)

مسئله یوځای کی لاشونه ډیر وه د مسلمان اوکافر فرق نه کیده داسی حالت کی به ټولو ته غسل ورکړی کفن به هم ورکړی او په یوه هدیره کی به ئی ښخ کړی (رواه شامی)

مسئله کوم وخت چی مړی نابالغ وه هغه که نر وی یا ښځه وی هر یو غسل ورکولای شی (رواه شامی)

## مړی ته د کفن ورکولو طریقه او مسائل

مړی ته غسل ورکول په ژوندیو باندی فرض کفائی ده (رواه شرح تنویر و شامی).

مسئله نارینه لپاره مسنونه کفن دری زړوکی دی ۱ ایزار ۲ قمیص ۳ او لفافه ده

۱ ایزار (دوهم څادر) دا د سر نه تر پښو پوری ده.

۲ قمیص د مری نه تر قدم پوری چی دا تکه په بر شکول کیږی دومره وشکول شی چی سر د مړی پکښی ننوزی

۳ لفافه دا د ایزار لږ غوندی اوږده ده دا د دی لپاره اوږد نیسی چی مړی ټول پکښی تاو شی د سر او پښو خواوی ئي وتړل شی (رواه دورمختار)

مسئله او د ښځي لپاره بیا مسنونه کفن پنځه زړوکی دی چی دری ئي د مردانه په شکل دی څلورم ئي سینه بند دی او پنځم ئی خمار (ټکری) دی چی شرعی دری کزه وی (رواه بحر شامی و دورمختار)

(c) ketabton.com: The Digital Library



نارينه ته د كفن وركولو طريقه : ١ به په كټ يا غولى لفافه وغوړول شى ٢ د پاسه ئى بيا ايزار وغوړول شى ٣ بيا به د قميص نيمه حصه پرى وغوړول شى نيمه حصه به ئى سر خوا ته ټوله كيږدى كله ئى چى مړى په صافى وچ كړو د تختى نه به ئي په قراره پورته كړى پكښى دى څملوى اول به ئي سر په قميص كى ورنه نباسى لمن به ئى په سينه تر زنكنو پورى وغوړوى د غسل پرده به ورنه ټوله كړى دوهم به د ايزار چپه خوا وروسته به ئى ښى خوا پرى راټوله كړى. بيا به د لفافى چپه خوا وروسته شى خوا پرى راټوله كړى د لفافى سر خواته او پښو خوا ته به ئى وتړى (رواه شامى و دورمختار)

ښځى ته د كفن وركولو طريقه : ١ به لفافه په كټ يا غولى وغوړول شى ٢ د پاسه به ئى ايزار وغوړول شى د ايزار د پاسه ٣ به د قميص نيمه حصه وغوړول شى او بله نيمه حصه به ئى سر خواته ټوله پريږدى ۴ د قميص پر سر به د تخرک په استقامت سينه بند واچول شى مړى به پكښى كيښودل شى نو پدى وخت كى به د مړى كوڅى دوه حصى كړى يوه حصه به ئى د قميص د پاسه د سينى ښى خوا ته او بله حصه ئى د سينى چپى خوا ته اوړدى واچول شى بيا به ټكرى د هغه پر مخ او ويښتانو باندى وغوړوى ليكن نه دى تړى او نه دى كلوله كوى نو بيا به ئى په ترتيب سره اول د ايزار چپه خوا وروسته ئى ښي خوا پرى راواړوى سينه بند به ټكرى نه پس او ايزار نه مخكى تړل هم جواز لرى اوكه د ټول كفن د پاسه ئى وتاړه هم جواز لرى (رواه دورمختار شامى وبحر)

مسئله نا بالغ متوفى ته كفن د بالغ په شكل كفن وركول كيږى البته چى د هغه موافق وى اوكه چيرى واړه وى نو هلک ته دوه يو ايزار او بل څادر وركول كيږى اوكه نجلى وه نو هغى لپاره درى جامى وى اوكه دوه جامى وى فرق نلرى (رواه عالمكير و شامى)

مسئله كه د انسان يو اندام يا نيم بدن بى له سره پيداشو نوكفن نه وركول كيږى يوه ټوټه كى به ئى تاوكړى شخ به ئي كړى اوكه بدن ئى نيم نه زيات وه يا پوره نيم وه او سر ئى ورسره وه نو بيا به پوره كفن وركوى (رواه شامى)

مسئله كه په قبر كى مړى پيداشو او خراب شوى نه وه كه تازه وه كفن به وركړى وروسته به ئى ښخ كړى (رواه شامى)

مسئله د كفن لپاره سپين تار والا كفن غوره ده هغه كه نوى وى يا مينځل شوى وى د وريو او څرمنى كفن مكروه دى همداسى د ښځي لپاره وريښمين كفن جواز لرى نارينه ته مكروه ده (دورمختار و شامى)

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسئله نارينه ته که درى ټوټې کفن نه وه دوه ټوټې هم ورته جواز لرى چې هغه يو ايزار وى او يوه لفافه کفايت کوى له دى نه کم مکروه دى (رواه دورمختار و ردمختار)
مسئله که د ښځې لپاره پنځه کفنه نه وه نو درى ټوټې هم ورته کفايت کوى چې يو به ايزار وى يوه به لفافه وى او دريم به ټکرى وى ورته کفايت کوى (رواه کنز الد قائق)

## د شهيد احکام او مسائل

شهيد پر دوه قسمه دى چې يو دنيوى او اخروى شهيد دى او بل صرف د اخرت شهيد دى نو دنيوى و اخروى شهيد ته غسل نه ورکول کيږى با قاعده به کفن هم نه ورکول کيږى چې اخروى ثواب ئى ډير دى نو بى غسله او بى کفنه به دفن کيږى دوهم قسم شهيد حکم بيا د نورو مړو غوندى دى غسل او کفن دواړه ورکول کيږى چې آخرت کى ورته ثواب شته.
اول قسم شهيد ته : کامل شهيد ويل کيږى چې د هغه لپاره ۷ شرطونه دى ۱ اسلام دى کافر نه شهيد کيږى ۲ چې عاقل وى ۳ چې بالغ وى که وړوکى وى نو هغه په اول قسم شهادت کى شامل دى ۴ هغه چې په پاکى کى شهيد شى جنابت کى نه وى يا ښځه په حيض او نفاس کى نه وى ۵ هغه دى چې بى کناه ووژل شى يا وسوزول شى يا ئى اوبه غرق کړى نو څوک چې په شرعى جرم کى ووژل شى هغه شهيد نه دى غسل وغيره ورکول کيږى. ۶ دا چې کله يو مسلمان بل مسلمان بغير آله جارحه وواژه او مړ ئى کړو يا ئى په آله جارحه سره سهواً وواژه يا څوک مړ وموندە شه پداسى حالت کى په قاتل باندى مالى عوض واجب دى بلکه قصاص نه واجبيږى پدى باندى غسل وغيره شته ۷ شرط ئى دا ده کوم شخص چې په آله جارحه يا غير آله جارحه مړ شو نو دا هم اول قسم شهادت کى شامل نه دى او که چيرى چا د خپل نفس بال بچ يا د بل مسلمان دفاع حالت کى ووژل شو نو دا کامل شهيد دى (رواه شامى)
مسئله که څوک د الله ﷻ لاره کى شهيد شو مزکوره شرائط پکښې نه وى نو دا هم شهيد دى خو صرف دا شهيد د آخرت دى يعنى ثواب موعود ورته نشته ليکن د دنيا احکام به ئى د نورو مړو غوندى وربانديى جارى کيږى يعنى هغه ته به غسل او کفن با قاعده ورکول کيږى (رواه دورمختار شامى و بحر رائق)
مسئله که څوک د حربى کافرانو يا د باغيانو يا ډاکوانو د لاسه قتل شو او په جنک پيداشو او اثر د قتل پرى وه دا شرط نشته چې په آله جارحه وژل شوى وى بلکه هغوى په

(c) ketabton.com: The Digital Library



تیکو ویشتلی وی په قتل ئی رسولی وی پداسی شخص باندی د شهید تول احکام جاری کیږی (رواه بحر رائق و شامی)

## د قبر د حالت بیان او مسائل

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمایلی چی قبر د جنت د باغو نه یو باغ دی یا د دوزخ دکندو نه یوه کنده ده بیا حضرت عثمان رض فرمایلی چی قبر د آخرت د منزلو نه لمړی منزل دی چا چی پدی منزل کی نجات حاصل کړو نو د ټولو منزلوکی ورته نجات دی اوکه پدی منزل کی پاتی راغی نور نو ټولو منزلوکی پاتی دی . بیا ئی د نبی کریم ص ارشاد وفرمایه چی ما بل منظر د قبر نه زیات د ویری او وحشت والا بل منظر ندی لیدلی داځکه چی قبر هره ورځ اعلان کوی چی زه دی نا اشنائی کور یم د خاورو چنجیو او ځناوروکور یم نو دلته څه درسره راوړی خالی مه راځی.

نو هرکله چی یوکامل مومن قبرکی کیښودل شی قبر ورته ووائی چی ستا راتلل ماته ډیر خوښ دی داځکه چی دنیا کی ستا کرځیدل پر مځکه باندی ماته ډیر خوښ وه نو اوس به ئی مکافاتووینی بیا به ورته قبر دومره فراج شی چی څومره ئي د سترکو نظر راځي د جنت دروازی ورته خلاصی شی د جنت پر نعمتو ئي سترکی یخی شی اوکه کوم بدبخته فاسق او فاجر په قبرکی کیښودل شی نو قبر ورته وائی چی ستا راتلل دلته سپیره او نامبارک دی کله چی ته دنیا کی ځما په سینه پهکبر بغض او بدبختی کرځیدی اوس ماته حواله شوی د خپل حالت او بدبختی عکس العمل به وینی نو مځکه د یوی خوا نه او بلی خوا نه وربا ندی راشی دومره ئی کلک ونیسی چی پوښتی ئي لکه د دواړو لاسونوکوتی یو بل سره ځنځیرکړای شی.

وروسته ۹۹ اژدهاران وربا ندی حواله شی نو هغه ماران به ئی تر قیامته پوری چیچی نبی کریم ص فرمایلی چی لدی مارانوکی یو مار دنیا ته راپوهکړی تر قیامته به هغه مځکه واښه شنه نهکړی

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمایلی چی د قبر د عذاب بچ کولو لپاره بهترین عمل د اللهﷻ ذکر دی او له دی نه بهترینه وسیله بلکول نشته (رواه ترمذی و ابن ماجه)

او په یوه روایت کی راغلی چی د شپی لخوا نه د تبارک الذی سورت لوستل د قبر د عذاب لپاره بهترینه وسیله ده حضرت ابن عمر رض فرمائی چی یوه ورځ نبی کریم ص ځما

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوره ونیوله راته ئی وفرمایل چی دنیا کی د مسافر غوندی ژوند اختیارکړه دنیا کی داسی فکرکوه چی په لاره روان یم خامخا به زه دا سفر ختموم او سحرکی به د ماښام انتظار باسم حتمی به د آینده لپاره د خپل مرض د صحت توشه برابروی.

هغه د صحت توشه به ستا د آینده مرض دواکرځي باید ژوندکی د مرک نه مخکی توشه برابره کړی (رواه مشکوة)

په حدیث شریف : کی راغلی چی قبرکی اولد متیازو مطالبه کیږی دا ځکه چی صحراکشت کی اکثره خلک د متیازو د څاڅکو ته فکر نه کوی چی تل جامو او بدن ته الوزی پدی وجه د قبر عذاب د متیازو څاڅکو نه پیداکیږی

حضرت بی بی عایشی رض یوه ورځ نبی کریم ص ته وویل چی ای د الله ﷻ رسوله ته چی هره ورځ د قبر د عذاب نه فنا غواړی څه وجه ده ؟ نبی کریم ص ورته وفرمایل چی ای بی بی ماته داخطره ده که زه چیری د قبر عذاب درته ووایم نو تاسو به خپل مړی د قبر د ویری او خوف نه ښخ نکړی که نه نو ما به دعا کړی وه د قبر عذاب به می ښودلی وه (رواه فضائل اعمال و فضائل صدقات)

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمایلی چی که چیری و حشی حیواناتو ته چی ځناور وی دومره د مرک حالت معلومات وشی لکه چی تاسو ته معلومات درکړ شوی دی نو ځناور به د مرک د ویری هری خواته خواره واره شی یو به هم ونه لیدل شی (رواه احیاه)

حدیث شریف : نبی کریم ص مهربانی کړی چی مړی قبرکی داسی وی لکه څنکه چی یو سړی اوبو غرق کړی وی او هغه هری خوا ته لاس او پښی اچوی چی خپل ځان د غرقیدو نه بچ کړی ډیر د احتیاج حالت کی وی همدارنکه مړی هم قبرکی د خپل پلار مور ورونو او دوستانو او مسلمانانو دعا ته او صدقی ته منتظر وی داځکه چی دعا او صدقه مړی ته د دنیا او مافیها نه بهتره ده

فضائل صدقات کی راغلی چی د یوه بزرک ورور مړ شو د هغه تکفین او تجهیز ئی وکړو قبرکی ئی دفن کړو څو ورځي وروسته خپل ورور په خوب کی وینی ورور نه پوښتنه کوی چی تر نن ورځي څه حال دربانی تیر شوی ما ته د قبر حالت بیان کړه وائی چی ورور راته وویل چی زه کله تاسو دفن کړم او تاسو رانه روان شوی پدی وخت کی ځما خواته د اور یو هیبت ناکه شغله راروانه وه پدی وخت دوستانو نه یو شخص ځما حق کی د مغفرت دعا وکړه الله ﷻ هغه خطرناکه د اور شغله ئی رانه بچ کړه (رواه فضائل صدقات)

(c) ketabton.com: The Digital Library



په یوه حدیث شریف کی راغلی چی په قبرکی د مړی واویلا چغې ئی یو انسانان او بـل پیریان ئي نه اوری نور ټول ساه لرونکی حیوانات ئی اوری (رواه فضائل اعمال)

## د دعا کولو طریقه او مسائل ئی

څوک چی دعا کوی د قبلیدو او نه قبلیدو چاته پته نه لګیږی دا چی الله ﷻ ډیر مهربـان غفور او رحیم ذات دی نوکله چی یو بنده په اخلاص او صداقت د الله ﷻ دربـار تـه خپـل لاسونه اوچت کړی بلخصوص پـه عـاجزی سره خپـل حاجـت وغـواړی در صـورت چـی د الله ﷻ خزانی ټولی ډکی دی اوکمی پکـی نشـته نـو خامخا بـه الله ﷻ د خپـل بنـده دعـا قبلوی لکه چی یو بزرک فرمائی

ثابت بنیانی رح فرمائي چی کله دعا کی څما ویښتان ودریږی زړه می په قرار شی سترکو نه می اوښکی روانـی شـی پـوهیږم چـی الله تعـالی څمـا دعـا قبولـه کـړی ده (رواه فضـائل صدقات)

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمایلی چی دعا کی د الله ﷻ غوښتنه ضروری ده ۱ دعـا د آخرت لپاره غټه زخیره ده ۲ په دعا کانو د دنیوی د بلا کانو مخ نیـوی کیـږی ۳ دعـا سـړی نه د مصیبتونو مخه نیسی ۴ دعا سره د استغفار ذکرکی د الله ﷻ نـه د مغفـرت امیدونـه ډیـر دی باید تل په د فرض واجب سنت او نفلـی لمونځونـو وروسـته همداسـی تـلاوت کـی دعـا وکړه شی

حدیث شریف : د حضرت ابـوهریره رض نـه روات دی فرمـائی چـی د دری کسـانو دعـا قبلیږی ۱ د روژه دار دعا د روژه ماتی وخـت کـی ۲ د عـادل پادشـاه یـا امیر دعـا ۳ د مظلـوم دعـا ده چـی د مظلـوم دعـا الـله ﷻ د وریځـو نـه پورتـه اوچتـوی د اسـمان دروازی ورتـه خلاصوی او د الله ﷻ د خوانه ارشاد وشی چی څما د قسم وی زه به ستا مددکوم اکـرکـه څه وخت وغواړی هم

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمایلی چی تاسو خپلو اولادونـو ، خادمـانو ، او نـورو تـه خیری مه کوی خصوص د رمضان میاشت کی داځکه که قبولی شی بیا بـه آرمـان کـوی چـی کاشکی ما دا بد نوای کړی او صبر می کړی وای

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمائی چی د رمضان میاشت کی په هـره شـپه او ورځ کـی د الله ﷻ د خوانـه د دوزخ قیـدیان ازاد شـی او هـر مـومن لپـاره هـره شـپه او ورځ د دعـا د

(c) ketabton.com: The Digital Library



قبلیدو امکانات ډیر وی په یوه روایت کی راغلی چی الله ﷻ په رمضان کی د عرش په فرشتو باندی حکم وکړی چی خپل عبادتونه تاسو پریږدی د روژه دار دعا ته امین ووائی چی د رمضان میاشت کی د بنده دعا ته د الله ﷻ په حکم باندی فرشتی امین ووائی نو په قبلیدو کی د داسی دعا هیڅ شک نشته (رواه فی الترغیب)

حدیث شریف : په حدیث شریف کی راغلی چی الله ﷻ د حشر په ورځ خپل بنده راغواړی ورته ووائی چی ای بنده ما تا ته د دعا کولو حکم کړی وه تا ما نه دعا وغوښته؟ داځکه ما تاته د دعا د قبلیدو وعده هم درکړی وه بنده ووائی هو ما دعا کړی دی نو الله ﷻ به ورته ووائی چی تا ماته کومه دعا کړی ده ما هغه قبوله کړی ده یوه می هم بی قبلیدو نه ده پریښی ولی چی تا مانه فلانی دعا غوښتی وه چی فلانی تکلیف رانه لری کړه هغه می درته دنیا کی پوره کړه چی تا د فلانی غم د لری کولو دعا دی کړی ما د هغه مقابل کی فلانی اجر او ثواب درکړی لیکن ته ئی په اثر پوه نه ئی

نبی کریم ص فرمایلی چی د هری دعا د قبلیدو اثرات به یکا یک بنده ته وشی نو هلته بیا بنده ارمان کوی وائی به چی زه که پوهیدی ما به تل د الله ﷻ دربار ته دعاکانی ډیری کولی نو اوس به زه دلته د هغو دعاکانو په مکافاتو او اجرونو برخوردار وای افسوس به ډیر کوی.

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمایلی چی د الله تعالی رضا د مور او پلار په رضا کی ده او مور پلار نارضایت د الله تعالی په نارضایت کی ده

فایده که د چا مور او پلار ورنه خفه مړه شوی نو د هغوی د نارضایت او خفه والی د تکافو لپاره باید هغوی ته ډیری دعاکانی او صدقی وکوی دا شخص به الله ﷻ فرمانبرداره اولادو کی حساب کړی (رواه فضائل صدقات)

## د سوال کولو مسائل

د ایات شریف مفهوم دی الله ﷻ فرمائی چی ما پیریان او انسان د دی لپاره پیدا کړی چی څما عبادت او بندکی وکړی.

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمایلی چی څوک ځانته د سوال دروازی خلاصه کړی نو الله ﷻ پر ده باندی په دنیا او آخرت کی د فقر دروازی خلاصی کړی او هر څوک چی د الله ﷻ په خاطر د ورکړی دروازه خلاصه کړی نو الله ﷻ پر ده باندی د نیا او اخرت د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خیر او برکت دروازی خلاصی کړی.

حضرت وهب رض د اللهﷻ ارشاد نقل کوی فرمائی چی کله بنده پر ما باندی توکل وکړی که چیری د ځمکی او اسمانونو ټول شیان یوځای شی دی شخص ته دوکه جوړه کړی نو زه به ده ته لاره وباسم.

**قصه** یوه بزرک فرمائی چی زه او ملکری می په غره کی اوسیدو دواړو خپل عبادت کاوه ملکری می خپله کزاره په وشو کوله او ځما لپاره اللهﷻ یوه هوسی مقرره کړی وه هغی به ماته شیدی راکولی نو ملکری مانه لږ غوندی لری اوسیده یوه ورځ ملکری راغی ماته ئی وویل چی دلته یوه قافله ولاړه ده راځه چی ورشو کوندی څه راکړی نو دلته به ئی راوړو ما ورسره نه منله لیکن ملکری می شله شو زه ئی مجبور کړم دواړه لاړو هلته ورسیدو هغوی یو څه راکړل بیرته راغلو نو ما په خپل ځای کی ډیر انتظار وکرو چی هوسی به راشی ماته به شیدی راوړی لیکن د هوسی درک معلوم نشو وجه ئی دا شوه چی ما د اللهﷻ د انعاماتو نعمت د تجارانو په هدیه د لاسه ورکړو نو دا اسپیره توب او اشتبا د مونږه وه چی د اللهﷻ د توکل نه مو خپل ځان غافله کړو. دا بزرک فرمائی چی پدی کی د مونږه دری شیان کناه وه ۱ کوم توکل چی مونږه اختیار کړی وه د هغه نه مو خپل ځان غافله کړو ۲ طمعه وه چی کوم روزی اللهﷻ راته مقرره کړی وه په هغه مو قناعت ونه کړلو ۳ کوم خوراک چی مونږه د تجارانو نه راوړی وه هغه ناپاک وه د هغه په وجه اللهﷻ د پاک طعام نه محروم کړو (رواه قضائل صدقات)

حضرت ابوهریره رض نه روایت دی فرمائی چی کوم شخص د مال د ډیروالی لپاره سوال کوی نو دا شخص اصل کی د دوزخ سکروټي ځان لپاره غواړی اوس ئی خوښه لږ غواړی اوکه ډیری (رواه قضائل صدقات)

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمائی چی سوال صرف دری کسانو لپاره جواز لری ۱ د هغه شخص لپاره چی د چا بوج یعنی تاوان ئی په غاړه اخیستی وی نو تر هغه وخته چی دا تاوان پوره کړی ورته جواز لری ۲ هغه چاته چی مصیبت لکه سیلاب طوفان اور یا بل آفت پیښ شوی وی او ټول څه ورنه تبا شوی وی نو کله ئی چی خپل احتیاج پوره شو سوال به بس کوی ۳ هغه شخص چی تل وږی وی او په ده دری کسان د فقر شاهدی ورکړی چی دا سړی وږی دی نو دی به دومره سوال کوی چی کزاره ئی پری وشی (رواه فضائل صدقات)

حدیث شریف : د نبی کریم ص ارشاد دی چی دوه کسانو ته سوال جواز نلری ۱ هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



غنی ته چی هر څه ولری ۲ د قوی تندرست شخص لپاره چی کار کولای شی سوال ورته جواز نلری.

یحیی بن معاذ رح فرمائی چی د دنیا کټلو لپاره عالم د علم نه او حکیم د حکمت نه بلکول خپل ځان محروموی.

حضرت سعید رحمت الله فرمائی چی کله یو عالم د دنیا دار دروازه کی ودریږی نو دا عالم یو لوی غل دی (فضائل اعمال)

حضرت ابن عمر رض فرمائی چی نبی کریم ص فرمایلی چی سوال کی اسرار مه کوی ځوک چی په اسرار څه اخلی هغه کی هیڅ برکت نه وی (رواه ترغیب)

حضرت ابوهریره رض نه روایت دی فرمائی چی نبی کریم ص فرمایلی چی الله تعالی کوم شخص ته د چا د خوانه څه شی ورکوی نو هغه دی اخلی ولوکه ورنه غوښتی ئی هم نه وی دا ځکه چی د الله تعالی د خوانه د ده لپاره روزی ده چی د هغه شخص پواسطه ورلیږل شوی ده (رواه فضائل صدقات)

## د بخل باره کی مسائل

د ایات شریف مفهوم دی الله ﷻ فرمائی چی تاسی اکاه اوسی چی شیطان مو د فقر او احتیاج نه ویروی او تاسو ته ناکاره وعدی (بخل) مشوری درکوی.

دا چی الله تعالی تاسو ته په خرچه کولو کی وعده دکناهونو د معافی درکړی ده داځکه چی الله ﷻ سره هر څه شته او ورکولای ئی هم شی پدی ایات شریف کی دوی اشاری د شیطان خواته شوی یوه د شیطان وعده فقر کی او بله ئی د بدو خبرو حکم کول دی درته وائی مال مه خرچوه ساته ئي د بلی ورځی خرچی لپاره نو تاسو دوکه نشی ځکه چی الله تعالی تاسو ته د رزق د زیات والی وعده درکړی ده او همداسی ئی دکناهونو د مغفرت وعده درکړی ده.

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمایلی چی الله تعالی چاته مال ورکړی او د هغه زکات او صدقه ورنه کړی نو هغه مال د قیامت په ورځ ورته یو کنجی مار جوړ شی چی د زهر د تیزوالی د وجی نه د هغه مار پر سر یو ویښته هم نه وی نو دا به ورته غاړه کی واچول شی ورته وائی به چی زه ستا هغه مال یم او ستا هغه خزانه کوره چی اوس تانه څه جوړوم او څه در پیښوم (رواه بخاری)

(c) ketabton.com: The Digital Library



حدیث شریف : نبی کریم ص فرمائلی چی کله یو مسلمان ورور ته چی هغه ضرورت ولری او دی کمک ورسره ونه کړی او په هغه ضرورت کی ورته څه بی عزتی واقع شی نو پدی شخص اللهﷻ خپل د کمک او امداد ټولی دروازی بندی کړی (رواه فضائل اعمال)

حدیث شریف : نبی کریم فرمایلی چی څوک خپله خیټه مړه کړی او کاونډي ئی وږی وی دا شخص مومن کیدای نشی.

د ایات شریف مفهوم دی اللهﷻ هغه اشخاص چی زړه کی خپل ځان لوی کڼی او په خپله ژبه فخر کوی خپله هم بخل کوی او بل هم بخل ته تشویق کوی او څه چی الله تعالی ده ته ورکړی هغه پټوی اللهﷻ فرمائی چی ما د ده لپاره د بی عزتی عذاب تیار کړی دی.

یوه ورځ نبی کریم ص ته چا سوال وکړو چی ماته څه راکړه نبی کریم ص ورته وویل چی ما سره څه نشته سوالکر ورته وویل چی کمیس دی راکړه چی ستا په غاړه کی دی نو نبی کریم ص دفعتاً خپل کمیس وویست سوالکر ته ئی ورکړو همداسی پورته ایات کی لیکلی چی تاسو نه بخل ډیر وکړی او نه ډیر زیاتی وکړی بلکه میانه روی اختیار کړی داځکه چی په میانه روی کی فقر پر چا نه راځي.

حدیث شریف : که څوک غواړی چی د قیامت په ورځ څما مقام جک وی او جکه درجه ولرم نو بیا دی شخص لپاره پکار دی چی څوک پده ظلم وکړی بیا دی عفوه ورته وکړی او څوک چی ده ته څه تحفه اوبخشش ورنه کړی او دی ورسره احسان وکړی او څوک چی د سره تعلق پری کوی او دی ورسره تعلق ساتی (رواه فضائل صدقات)

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمائی چی الله تعالی دا څلور قسم اشخاص نه جنت ته داخلوی او نه به د هغوی د جنت نعمتونه نصیب کړی ۱ هغه شخص چی تل شراب خوری ۲ هغه شخص چی سود خوری ۳ هغه شخص چی د یتیم مال په ناحقه خوری ۴ هغه شخص چی د مور او پلار نافرمانی کوی (رواه دورمنشور)

حدیث شریف : د حضرت ابوبکر صدیق رض نه روایت دی چی نبی کریم ص فرمایلی چی جنت ته ۱ چل باز (دوکه باز) ۲ بخیل سړی ۳ هغه شخص چی صدقه ورکړی بیا ئی یادوی نو داسی کسان هیڅ وخت جنت ته داخلیدای نشی (رواه ترمذی او مشکوۀ).

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمایلی چی سخی شخص اللهﷻ ته نږدی دی جنت ته نږدی دی خلکو ته نږدی دی او دوزخ نه لری دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بخیل شخص اللهﷻ نه لری دی جنت نه لری دی خلکو نه لری دی او دوزخ ته نږدی دی.

بیشکه چی جاهل سخی الله تعالی ته د عابد بخیل نه زیات محبوب دی.

امام غزالی رح فرمائي چی یوه ورځ حضرت یحیی ع شیطان نه پوښتنه وکړه چی تاته زیات محبوب څوک دی شیطان ورته وویل چی ماته ټولو نه محبوب شخص بخیل مومن دی او د ټولو نه زیات نفرت می فاسق سخی نه دی داځکه چی بخیل نه زه مطمن یم ولی چی هغه د خپل بخل پواسطه دوزخ ته خود بخوده روان دی زه هر وخت د فاسق سخی په فکرکی یم چی چیرته هغه ته الله تعالی د سخاوت په ظریعه معافی ونه کړی (رواه احیا)

حدیث شریف : د حضرت عمر رض نه روایت دی چی نبی کریم ص فرمایلی چی څوک (غله) راوړی او په خلکو ئی خوری هغه ته اللهﷻ روزی ورکوی او څوک ئی چی ساتی هغه لعنتی دی (رواه کنز فی المشکوة)

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمائی چی مومن ندی هغه کس چی دی ئي په مړه خیټه خوری او د دروازی کاونډی ئی وږی وی (رواه بیهقی فی الشعب کنز فی المشکوة)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لسم باب

## د نکاح مسائل او بیان ئی

د نکاح کول نفلي عبادت نه بهتر دی داځکه چې مسلمان بدکاری نه محفوظ ساتی تهذیب د اخلاقو پری راځي همداسی د اولاد سلسله پری جاری کیږی چې دا ورته صدقه جاریه ده. بل داچی ښځه هم د فتنی نه پری بچ کیږی او داسی نوری ډیری فایدی په نکاح کولوکی شته. بل دا چې نبی کریم ص فرمایلی چې نکاح ځما سنت موکد طریقه ده څوک سنتو نه انکارکوی هغه ځما نه نده (ابن ماجه)

مسئله دنیا ټوله استعمالیدونکی شی دی نو د دنیا ټولو شیانوکی ښه او بهتر شی نیکه او صالحه ښځه ده یعنی صالحه او نیکه ښځه د سړی لپاره د دنیا او اخرت لوی نعمت دی (رواه مسلم شریف)

مسئله نکاح د داسی ښځی سره چې هغه د مینی وی اولاد راوړونکی وی نبی کریم ص فرمائی چې زه ستاسو په ډیروالی فخرکوم (ابو داود نسائی)

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمایلی چې کوم وخت بچی د مور د حمل نه ناتکمیله ولویږی نو د قیامت په ورځ به هغه د خپل خدای ج سره جګړه کوی نوکله ئی چې مور او پلار دوزخ ته لاړ شی نو دا طفل ډیری زاری کوی چې یا الله ﷻ ته مهربان ذات ئی نو ځما سفارش د مور او پلار په حصه کی قبول کړه نو الله ﷻ ورته وفرمائی چې ای کچه او نامکمل طفله خپل رب سره جګړه کوونکیه څه خپل مور او پلار دوزخ نه وباسه او جنت ته ئی بوزه (رواه ابن ماجه)

## د نکاح تړلو طریقه

نکاح صرف په دوه خبرو سره تړل کیږی مثلاً یو سړی د کواهانو مخکی بل ته ووائی چې ما خپله لور تاته په نکاح درکړه او هغه ووائی چې ما قبوله کړه نو بس نکاح وشوه لیکن ضروری خبره دا ده چې د هغی لور نوم به ورته اخلی چې فلانی لور می (رواه دورمختار و ردمختار)

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسئله شاهدانو ته د دغې ښځې معلوم والی او تميز شرط دی چې هغه ئی ووينی يا ئي خبرې واورې اوکه دا په غياب کې وه‌کواهانو پيژندله نوم ئی واخيست يا ئي د پلار نوم واخيست يا ئی د پلار نوم د پيژندنی نه وه د هغه د نيکه نوم ئی واخيست هم بهتره خبره ده (رواه در ورد بحر رائق)

مسئله د نکاح د تړلو طريقه داسی ده اول به خطبه لولی ولی چې دا يوه مستحبه طريقه ده او په خطبه‌کی خاصو الفاظو ته ضرورته نشته نو هغه چې نبی‌کريم ص بهتره طريقه ده لکه (الحمدل الله نحمده و نستعينه و نستغفره و نومنو به و نتوکل عليه ونعوذبالله من شرر انفسنا و من سيآت اعمالنا من يهده الله فلامضل له ومن يضلله فلا هادی له ط و اشهدان لااله الاالله وحده لاشريک له و اشهد ان محمد واعبده ورسوله) نو بيا به دا آيات شريف لولی (ياايهاالناس التقو ربکم الذی خلقکم ومن نفس واحده و خلق منها زوجها و بث منهما رجال‌کثير ونساً والتقوالله الذی تسائلون به والا رحام ط ان الله‌کان عليکم رقيبا ط ياايهاالذين امنو التقو الله حق تقاته والاتموتن الا وانتم مسلمون ط يا ايهاالذين امنو التقوالله وقولو قول شديد ط يصلح الکم اعمالکم ويغفرلکم ذنوبکم ومن يتع الله ورسوله فقد فاز فوز عظيما) د خطبی وروسته به ولی يا وکيل ووائی چې تا فلانی لور فلانی په عوض د دومره روپو مهرکی دی هلک ته په نکاح شرعی محمدی سره ورکړه؟ هغه به ووائی چې ما ورکړيده بيا به خاوند ته ووائی چې تا د فلانی لور فلانی ته په عوض د دومره روپو مهرکی په نکاح شرعی محمدی سره قبوله‌کړی ده هغه به ووائی چې ما قبوله کړی ده نو بس نکاح ئی وشوه.

اوکه نکاح‌کيدونکی ښځه خپله حاضره وه يا کيدونکی خاوند غائب وه يا دواړه غائب وه نکاح ئی ولايتاً يا وکالتاً‌کيده يا دواړه خپله حاضر وه او نکاح ئی خپله وتړله نو په ايجاب قبول‌کی هم همدا الفاظ ويل‌کيږی (رواه در ورد)

مسئله هلک او انجلی دواړه بالغ وه او دوی خپله نکاح خپله تړلی شی‌که ښځی د شاهدانو مخکی وويل چې ما ځان تاته په نکاح درکړو او سړی وويل چې ما قبوله‌کړی نو نکاح وشوه درست او صحيح خبره ده (رواه دورمختار و شامی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## چا سره چې نکاح حرامه ده

لکه خپل اصل سره خپل فرعي سره نکاح حرامه ده يعنې چې مور نيا او د پلار د طرف نه وی اوکه د مور د طرفته وی دُبَرَه پوری او لور د لور لور د ځوی لور يعنی نوسِی کړوسی تر اخره پوری همداسی خور خوزه وريره د پلار خور د مور خور نو دا ټول په سړی حرام دی نکاح ئی نه کيږی (هدايه و دورمختار)

مسئله يو د نسب د رشتي په وجه او بل د تی د رويدلو په وجه ښځه پر سړی حرامه ده څنکه چې د دو نسبی خويندو جمعه جواز نلری همدارنکه د رضاعی خويندو جمعه هم جواز نلری (رواه بحر رائق)

مسئله يوه ښځه چې د چا په نکاح کی وی نو بل سره ئی نکاح جائزه نده همدارنکه د ښځې خاوند مړ شو او عدت د وفات ئی تير نه وه نو د بل سړی سره ئی نکاح نه کيږی همدارنکه که خاوند ئی خپله ښځه طلاقه کړه او دهغی عدت تير شوی نه وی د بل شخص سره ئی نکاح نه کيږی (رواه عالمکير)

مسئله څوک چې څلور ښځی ولری هغه ته پنځمه نکاح نه کيږی اوکه پدی څلوروکی ئی يوه طلاقه کړه او عدت ئی تير شو بيا کولای شی پنځمی ښځې سره نکاح وکړی (رواه هدايه دارالمتقی)

مسئله د مسلمانی ښځې نکاح سيوا د بل مسلمان سره د بل مذهب لرونکی سره نکاح نه کيږی هغه که مشرک وی يا اهل دکتاب وی د مسلمان سړی نکاح دکتابی ښځی سره کيږی جواز لری (دورمختار و ردمختار)

مسئله کوم هلک چې چا د ځوی په ځای نيولی وی هغه واقعي ځوی کيدای نشی نوکه هغه مړ شی ښځه ئی ورنه پاتی شوه هغه ئی نکاح کولی شی ليکن کوم وخت ئی چې عدت تير شی (رواه عالم کير)

مسئله که خدانخاسته په زنا سره د چا لور پيداشوه هغی سره ئی هم نکاح نه کيږی همدارنکه د ښځی ځوی ئی وه د زنا نه د هغه سره نکاح نه کيږی (بحر رائق)

مسئله د خپل پلار برکتی سره نکاح کولای شی همدارنکه پلار د خپل ځوی برکتی سره هم نکاح کولای شی (دورمختار و شامی)

مسئله چا د خپلی خوابنی سره که زنا وکړه د دی خوابنی لور هميش لپاره پر ده حرامه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوه او که په شهوت خپلې خوابنې ته لاس وروړی هم پرې حرامه شوه همداسې که سړی خپلې نکور سره زنا وکړی نکور ئې تل لپاره پر ځوی حرامه شوه (دورمختار و ردمختار)

مسئله که یوه سړی خپلې خښینې (د ښځې خور) سره زنا وکړه د خپلې ښځې حراموالي پکښې نه رازي لیکن صرف دګناه خبره بله ده او خپلې ګناه جزایه کالي (رواه شرح تنویر)

## په نکاح کی د ولی بیان

د هلک او انجلی د نکاح کولو او د نه کولو چې چاته اختیار ورکړ شوی وی نو هغه ته ولی ویل کیږی ولی عاقله بالغه ښځه په نکاح مجبورولای نشی هغه خپله عام تام اختیار لری بهتره دا ده چې هغه خپل واک ولی ته ورکړی داځکه چې د ښځې خپله نکاح کول یو قسم بی شرمی او بی حیائی ده ورته او د نابالغ اختیار ولی ته چې هغه په نکاح کی کفالت وکوی اودی ئې مجبور کولای هم نشی لیکن عاقل بالغ او ازاد مسلمان لپاره د مسلمانانو نابالغ، لیونی او مرئی وی ولی کیدای نشی نو په ترتیب سره یعنی پلار یی که هغه نه وی نو نیکه ئې او که هغه نه وی نو غور نیکه ئې او که پدی سلسله کی څوک نه وی سکه ورور ئې او که دا نه وی ناسکه ورور ئې که دا نه وی وراره ئې او که داهم نه وی خواهرزاده ئې او که دانه وی خپل تره ئې او که دانه وی د تره ځوی او که دا نه وی نو د خپل د خوانه او که د پلار د خوانه څوک نږدی قریب ونه لری نو له نږدی دستانو چې هر یو ورته نږدی وی ولی نیولای شی.

## د بیبیانو برابری

که یوه شخص دوه ښځې درلودې نو خاوند به هغوی ته مساوی په خوراک پوشاک او شپه تیرولو کی او نورو ټولو شیانو کی عدالت ساتی چې دا برابری او رویه یوه واجب طریقه ده.

لیکن په جماع کی برابری ضرور نه ده بلکه هغه مستحبه طریقه ده لیکن بله به بلکول جماع نه نه محروموال همدارنګه په محبت کی هم برابری ضرور نه ده داځکه چې مینه د زړه کار دی اما د شپې تیرولو کی برابری ضرور ده داسې به نکوی چې یوی ته به ماښام ورځی او بلی ته به ماخستن ورځي داسې به نکوی ګنهکاریږی لیکن که د ورځی یوی سره ډیر کینی او بلی سره کم کینی باک نلری نه ګنهکاریږی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حدیث شریف : نبی کریم ص فرمایلي چې څوک دوه ښځې لری او دی پکښې برابری نکوی د قیامت په ورځ به په یوه ډډه پریوتی وی او همدارنکه که د چا دری یا څلور ښځې په تولو یو حکم دی په کونډه کی په پیغله کی همدارنکه چې پخوا ئې واده کړی وی یا ئې وروسته واده کړی وی په ټولو کی یوشان حکم دی (رواه دورمختار)

## د مهر بیان او مسائل ئې

په شریعت کی مهر کم د کمه باید لس شرعی درهم وی د زیات لپاره حد نشته لیکن ډیر زیات هم نه وی کولای شی چې پنځه درهمه تعین کړی بهتره دا ده چې لس درهمه نه کم نه وی که چیری ښځې د خاوند سره صحبت نه وی کړی او نه ئې خلوت او دا ئې طلاقه کړه نو ورته نیم مهر ورکول کیږی (پنځه درهمه) (رواه فتح)

مسئله که په نکاح کی د مهر تعین ونه شو پدی نکاح نه کیږی او که ئې وویل چې مهر نشته نو بیا نکاح ئې درست ده (عالمکیر)

مسئله که ئې نکاح پټه کړی وه کواهان پکښې نه وه یا دا چې ښځه د بل د طلاق په عدت کی وه او عدت ئې نه وه تیر شوی او ده په نکاح کړی وه جماع ئې ورسره کړی وه یا ئې نه وه کړی نو هر یو کولای شی نکاح فسخه کړی (بحر رائق در و رد)

مسئله مهر څومره چې ژر ورکړی شي بهتره ده نیټه پکښې نه وی که ئې خاوند اداکړی نه وی او ښځې ورنه وغوښته خپل ځانته ئې د جماع وغیره شیانو ته نه پریښوده یا ئې چیری په سفر بووله او دا ورسره نه تله دلته ښځه حق لری چې حق ئې اداشی او که ئې حق اداشوی وی بیا ښځه حق نلری (رواه بحر در و رد)

مسئله که په نکاح کی مهر تعین شوی نه وی وروسته ښځه او خاوند دواړو خپله رضا مهر تعین کړو دلته به مهر مثل نه ورکوی او که ئې جماع ورسره کړی وی یو د هغه نه مړ شو بیا چې څومره په خپله رضا مقروی صحی ده (رواه عالم کیر)

مسئله که ښځې په خوښه خپل مهر خاوند ته معاف کړو که هغه تول وی یا کم وی ښځه بیا حق نلری چې خاوند نه ئې وغواړی او که ئې ښځې معاف کیدو ته مجبوره کړی وی او دا معاف کیدو ته حاضره نه وه نو دا معاف کیدای نشی ښځه ئې ورنه اخیستلای شی خاوند ته واجب دی چې ورئې کړی (رواه شامی)

مسئله که چا د چا لور غوښته او پخوائې څه پیسې ورکړی وی لور ئې ورنه کړه هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپلی پیسی بیرته اخستلای شی (رواه شرح تنویر و ردمختار)

## د کفارو د نکاح باره کی

دکافرانو خپل د منځی نکاح شریعت جواز ورکوی که دواړو ایمان یوځای راوړ نکاح ئی باقی ده او که دواړه محرم وه مثلا مجوسی وه خپله لور ئی په نکاح کړی وه یا ئی دوه خویندی په نکاح کړی وی یا ئی پنځه ښځی کړی وی دلته ټولو حالاتوکی به اول به د جدائی حکم ورکړل شی لور به پری طلاقه شی دوو خویندوکی به یوه پری طلاقه شی همداسی پنځمه ښځه به هم پری طلاقه شی (رواه شرح البدایه دورمختار و ردمختار)

مسئله که خاوند او ښځه کافران او غیرکتابی وه یو تری مسلمان شو بل ته به اسلام پیش کړی کی ئی اسلام راوړ نکاح باقی ده او که ایمان رانهووړ قاضی کولای شی نکاح ئی فسخه کړی (رواه دورمختار و ردمختار)

## د تی ورکولو بیان او مسائل

که مالدار سړی خپل بچی ته دائی ونیسی کولای شی وئی نیسی هغه که ښځی ته ورکاوه یا ئي نه ورکاوه. که دا ئی پیدانکړه یا دا چی سړی غریب وه اجوره ئی نشو ورکولای نو بیا مجبوره ده چی بچی ته تی ورکړی. لیکن ښځه د بل شخص بچی ته د خاوند بی اجازی نه تی نشی ورکولای ورته مکروه ده اوکه بچی ته د هلاکت خطر وه بیا د خاوند اجازت ته ضرورت نشته (رواه شرح تنویر)

مسئله د تی ورکولو موده چی خومره وی لکه چی دوه نیم کاله ورته تعین شوی دی لدی نه زیات هره ښځه چی وی بچی ته تی به ډیر نه ورکوی اوکه ئی موده پوره نه وه بچی خوراک کاوه بیا فرق نه لری (رواه شرح البدایه و بحر رائق)

مسئله یوی وړی نجلی ته د زید ښځی تی ورکړو نو دا نجلی په زید پلار ئی او نیکه ئی همدارنګه د زید په ځوی نوسی اوکړوسی حرامه شوه همدارنکه د زید د بلی ښځی پر ځوی هم حرامه نکاح ئی نه کیږی (رواه هدایه)

مسئله که یوه هلک او انجلی یوځای یوی ښځی نه ورکوتوالی کی تی رودلی وی نو دوی دواړه سره خور او ورور شول نکاح ئی نه کیږی همداسی که هر بچی د هری ښځي نه تی وروی هغه ئی مور شوه او د ښځی خاوند ئی پلار شو او د دوی اولادونه ئی د ده رضاعی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورونه او خویندی شوی نو د دوی یو د بل سره نکاح نه‌کیږی (رواه شرح تنویر و ردمختار)

مسئله نسیم او وسیم دواړه ورونه دی د نسیم یوه رضاعی خور ده هغه په نسیم حرامه ده او په وسیم نه ده حرامه نکاح کولای شی (هدایه)

مسئله د بچی‌کیدو ته چی د چا پی لاړی‌که هغه لږ وی یا ډیری بچی وڅکل یا ئی وخوړی بچی د ښځي په سینه ایښی وی یا ئی نه وی ایښی ولوکه په حلق‌کی ورڅخولی هم وی د رضاعیت سبب ئی ثابت شو (رواه بحر رائق دورمختار)

مسئله‌کومی ښځی خپلی پی د اوبو یا اوړو سره‌کډی کړی په‌کوم بچی ئی وخوړی یا ئی وڅکلی نو دلته د پیو مقدار شرط نه ده لږ وی یا ډیری نو بچی ښځي ته اولاد شو او ښځه د بچی مور شوه‌که اوبه په پیو ډیری وی بیا حرمت نه راځي (شرحه تنویر)

مسئله‌که دوارو ماشومانو د یوی وزی او یا یوی غوانه شودی وخوړی دلته رضاعی خوروالی او د ورور والی نه راځی (شرح تنویر)

مسئله‌که سړی د خپلی ښځی تی وروده پدی سره څه نه‌کیږی لیکن‌کناه ده د رشتو حُرمت هم پکښی نه رازی (شرح تنویر)

مسئله د یوی باکری نجلی چی د ۹ کلو وی په سینه ئی پی راغلی اوکوم هلک ته ئی ورکړی پدی‌کی حرمت راځي همدارنکه طفل د مړی ښځي پی ئی تیری شوی دا هم د حرمت حکم لری (رواه قاضی خان و هندیه)

## د طلاق مسائل او بیان ئی

طلاق د هغه خاوند واقع کیږی چی هغه عاقل او بالغ وی او دی خپله ښځه طلاقه‌کړی د نابالغ او لیونی په طلاق ښځه نه طلاقیږی‌که په خوب‌کی چا خپله ښځه طلاقه‌کړه طلاق نه واقع کیږی.

مسئله‌که ښځی ته خپل خاوند دری طلاقه یا څلور یا پنځه طلاقه ورکړه دلته صرف په دری صلاقه د ښځی طلاق واقع کیږی لیکن د مینځي بیا د دوه طلاقه نه زیات طلاقونه نشته همداسی ښځه خپل خاوند ته طلاق نشی ورکولای داځکه چی طلاق د خاوند حق دی (رواه هدایه)

مسئله طلاق پر ۳ قسمه ده یو رجعی بل بائن او دریم مغلظ دی نوکه چا ښځي ته رجعی طلاق ورکړی وه یو وه اوکه دوه او بیا هغه پیښیمانه شو نو دی‌کولی شی چی په

(c) ketabton.com: The Digital Library



عدت کی ښځی ته رجعیت وکړی نو نوی نکاح تړلو ته ضرورت نشته او که چیری په عدت کی خاوند ورته رجوع ونه کړه داسی حالت کی نکاح ئی ماتیږی بی نکاح بیا ورته رجوع نشی کولای او که چیری ئی طلاق بائن ورکړو هغه یو یا دوه طلاقه وه نو بیا دا شخص دی ښځی ته رجعت کولی نشی نه په عدت کی او نه پس د عدت نه او که ئی بیا نکاح ورسره وتړله او ښځه ورسره خوښه وه نکاح ئی تړلی شی که عدت ئی تیر وی یا تیر نه وی.

او که ئی طلاق مغلظ ورکړی وی داسی حالت کی بیا نه ورته رجوع کولی شی او نه ورسره بی تحلیله نکاح تړلی شی داځکه چی ده ورته پر دری طلاقه طلاق ورکړی ده (رواه شرح الهدایه)

مسئله که چا په صریع لفظ طلاق واچاوه مثلا ښځي ته وویل چی ماته طلاقه کړی یا ئی وویل چی ځما ښځه پر ما طلاقه ده نو په دی وینا ئی طلاق واقع شو که ئی نیت وه یا نه وه او که ئی قصداً ویلی وی یا ئی په ټوکه ویلی وه نو طلاق ئی واقع شو (البته رجعی طلاق)

او که دوه ځلی وویل چی ته طلاق ئی او یا ئي ورته وویل چی ته په دوه طلاقه طلاقه ئی نو دلته هم دوه طلاقه واقع شول او که ئی پر دری لفظو وویل چی ته طلاق ئی نو دلته مغلظ طلاق واقع شو.

مسئله که خاوند ښځی ته وویل چی څه طلاقه ئی دلته یو طلاق رجعی واقع شو (شرح التنویر ردمختار)

مسئله زید ښځی ته وویل چی ای یا او طلاقی یا زه طلاقه شه دلته هم رجعی واقع شو (شرح التنویر ردمختار)

مسئله که چا ښځی ته وویل چی ته طلاقه ئی ته طلاقه ئی او ته طلاقه ئی دلته دری طلاقه واقع شول (مغلظ) طلاق شو.

مسئله که د خاوند غرض د ښځي ویرول وه او ښځی ته دری طلاقه ذکر کړل او په زړه کی ئی دوهم او دریم طلاق نه وه نو دلته ورته یو طلاق واقع شو (رواه شرح تنویر و ردمختار)

مسئله په خط لیږلو سره هم طلاق واقع کیږی لکه څنګه چی زید خپلی ښځي ته طلاق نامه ولیږی نو طلاق ئی واقع شو که ئی زړه وی یا ئی زړه نه وی نو طلاق ئی واقع شو (رواه خلاصه ، هندیه)

مسئله که چا ښځي ته وویل چی طلاق به دی درکړم نو پدی نه طلاقیږی او که چیری

(c) ketabton.com: The Digital Library



وویل چی تا فلانی کار وکړ نو ته پر ما طلاقه ئی بیا هغی هغه کار وکړو نو داښځه وربانـدی طلاقه شوه (رواه تنقیح حامدیه)

یادونه طلاق ورکول پر دوه قسمه دی یو صریح ده او بل کنائی طلاق ده.

صریع طلاق هغه ته وائی چی په ښکاره لفظ سره ئی طلاقه کړی مثلاً لکه چی ووائی تـه طلاقه ئی یا ووائی چی ځما ښځه طلاقه ده یا ورته ووائی ته ما طلاقه کړی او داسی نور.

کنائی طلاق هغه ته وائی چی په مجمل لفظ سره طلاق ورکړی یعنی داسی لفظ ورتـه استعمال کړی چی هغه نه د طلاق مراد اخیستی شی او بله معنی هم ورنه اخستی شی مثلاً ووائی چی ته ما جدا کړی نو دا د نکاح د جداوالی معنی هم ورکوی او دا معنی هم ورکوی چی ته می کورکی جدا کړی دلته معلومه شی چی د ته طلاق پـه کومه خبره کی راځی (رواه فتاوه ودودیه)

یادونه دلته پورته جداوالی کی دری حالته موجود دی (۱ حالت د رضا ۲ حالت د غُصی ۳ حالت د مذاکری د طلاق دی)

مسئله که په طلاق رجعی کی خاوند په عدت کی د هغی سره جماع وکړه یا ئی ښکل کړه یا ئی په شهوت سره لاس ور وړ یا ئی اندام محفوصه ته په شهوت وکتل نو دا هم رجعیت دی رجوع ئی وشوه (هدایه)

مسئله که د یوی ښځي د طلاق د عدت موده دری حیضه وه نوکه ئی د دریم حیض موده لس ورځي وشوه د حیض موده ئی ختمیږی نو خاوند ورته رجعیت نشی کولای (رواه هدایه)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## یوولسم باب

## د ښځې باره کې څو شرعی خبری

۱ یوه مسلمانه نیکه او اصیله ښځي تل خپل پنځه وخته لمونځ په خپل وخت سره کوی اکثره وخت په تلاوت کی مصروفه وی وخت ناوخته خپل ذکر کوی تل د خپل کور او اولادونو خدمت کی لکیاوی.

مسلمانه او اصیله ښځه تل د خپل خاوند خیال ساتی دکور ټولو غړو سره په نیکه رویه ، لطف خوش د مشرانو احترام او دکشرانو سره د شفقت خیال ساتی .

۳ مسلمانه ښځه تل د ایمان ، تقوا او اخلاقو خبری کوی خپله تقوا او پرهیزکاری د آخرت لپاره لویه وسیله ګڼي د خپل کوره د خاوند په اجازه په ساده لباس وزی او خبری خپل کور کی او دکور بیرون په ارامه لهجه سره کوی.

۴ حدیث شریف : کومه ښځه چی مړه شی او له دی نه میړه ناراضه وی جنت ته هغه ښځه داخلیدای نشی (رواه ابن ماجه)

۵ حدیث شریف : نبی کریم ص فرمایلی چی د جنت لپاره بهترینه وسیله خاوند ده که هغه ورنه راضی وه ځای ئی جنت دی اوکه ورنه ناراضه وی نو د ښځي ځای دوزخ دی (رواه ابن ماجه)

۶ حدیث شریف : یوه ورځ نبی کریم ص عیدګاه ته روان وه یوه ډله ښځی ئی ولیدی ورته وئی فرمایل چی تاسو صدقه ډیره کوی او د خپل خاوند خیال ډیر ساتی او نیکه رویه ورسره کوی داځکه چی ما ډیری ښځی دوزخ کی ولیدی. ښځو عرض وکړو چی ای د الله ﷻ رسوله څه وجه وه؟ نبی کریم ص ورته وویل چی زنانه تل لعنت وائی لمونځونه په خپل وخت سره نه کوی خبری او غیبت ډیر کوی او د خپلو خاوندانو سره بد چلن کوی او ورنه ناشکری کوی (رواه مشکوة)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د یوې مسلمانی او نیکی ښځی سره د الله ﷻ وعده

۱ نیکه او مسلمانه ښځه د (۷۰) ولیانو درجه لری. ۲ هغه ۵۰۰ کاله مخکې د خپل خاوند نه جنت ته داخلیږی او د خپل خاوند د پزیرائی او استقبال ته ولاړه وی ۲ نیکه ښځه جنت کی د (۷۰) حورو سر داره وی او د (۷۰) حورو حسن لری ۴ کله چی د نیکی او اصلی ښځي نه خاوند راضی وی الله ﷻ ورته قیامت کی اختیار ورکوی چی د جنت ۸ دروازو کی په کومه ئی چی خوښه وی داخلیدای شی ۵ کومه ښځه چی د خپل بچی لپاره ناراحتی او بیداری زغمی الله ﷻ ورته د ۱۲ کلونو د عبادت اجر او ثواب ورکوی ۶ د حاملی ښځی ورځ په روژه او شپه ئی په عبادت الله ﷻ ورته حسابوی ۷ ښځی ته د ماشوم پیداکیدو وخت د هر رک د درد مقابل کی د یوه حج ثواب عملنامه کی ورته لیکی ۸ کومه ښځه چی د خپل کورکار په بسم الله شروع کوی فرشتی داسی ښځي ته د مغفرت دعاکانی کوی.

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمائلی چی که چیری دا څلور شیان چاته میلاوشی لکه ۱ شکر کوونکی زړه دی ۲ مشقت برداشت کوونکی بدن ۳ ذکر کوونکی زړه او ژبه ۴ هغه ښځه چی تل د خپل خاوند پر زړه او طبعیت چلن کوی او تل د خپل خاوند زړه ساتی او د کور ژوند خاوند سره په مینه او محبت سره تیره کړی نو الله ﷻ ورته د دنیا او اخرت خوبائی نصیب کړی (رواه فضائل اعمال)

## د ښځی د بدرفتاری وعیدونه (عذابونه)

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمائی چی دنیا کی دوه فتنی دی چی یوه فتنه د مال ده او دوهمه فتنه د ښځو ده چی سړی د تباهی کندی ته غورځوی (الحدیث)

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمایلی چی ځوانی د لیونتوب یوه حصه ده او ښځي د شیطان پړی دی چی سړی وربا‌ندی تړی او د تباهی خوا ته ئی حواله کوی (الحدیث)

حدیث شریف : بل ځای ئي فرمایلی چی یوه بدکاره او بده ښځه د زرو بدو سړو نه بده او خطرناکه ده

حدیث شریف : د ښځي لمونځ روژه او نور عبادت د سر نه یوه لویشت پورته نه ځي تر څو چی خاوند ورنه راضی نه شی

حدیث شریف : کومه ښځه چی خپل خاوند سره بد چلن کوی فرشتی وربا‌ندی لعنت

(c) ketabton.com: The Digital Library



وائی ورته وائی ای بدبخته دا خو تا سره څو ورځی میلمه دی دا دی ولی ناراضه کړو ځان د بدبخته کړو

حدیث شریف : کومه ښځه چی پردی شخص ته اوکوم سړی چی نا محرمی ښځی ته کوری الله ﷻ ورباندی لعنت وائی

حدیث شریف : یوه نااهله او بده ښځه خپل ځان سره څلورکسان لکه (پلار، خاوند، ورور، ځوی) دوزخ ته کشکاکی اوکه چیری دی څلورو اشخاصو د اصلاح کی ورته نصیحت کړی وی بیا نو دوی خلاص دی

حدیث شریف : د ښځی اواز هم لکه څنکه چی د دی بدن ستر دی اواز ئی هم ستر دی باید په ضرورت کی نامحرم سره په لوړ اواز او جرئت سوال او جواب وکړی او د هغه طمعه به شکوی

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمایلی چی که چیری بی له الله ﷻ نه بل چاته سجده کیدای نو ما به ښځی ته امر کړی وی چی خاوند ته سجده وکړی.

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمایلی چی د قیامت په ورځ به اول د لمانځه او وروسته به ټولو اعمالو نه مخکی د ښځي نه د خپل خاوند پوښتنه کیږی چی تا څه رویه ورسره کړی ده.

حدیث شریف : نبی کریم ص مهربانی کړی ده چی کومه ښځه نامحرمه خلکو ته کوری او پرده نه کوی تل نری جامی اغوندی سینکار نورو ته کوی د پردو خلکو توجو ځانته راړوی نو داسی ښځی بلکول جنت ته داخلیدای نشی حتی د جنت بوی به هم حس نکړی.

حدیث شریف : نبی کریم ص مهربانی کړی چی کومه ښځه د خاوند د اجازی پرته د کوره وځی یا دا چی فرار وکړی د داسی ښځی لمونځ روژه او نور عبادت د الله ﷻ دربار کی قبول ندی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ښځي په هکله نوري مسئلی

د مسلمانی ښځی ټول بدن ستر دی نامحرم کس ته حتی چی مخ هم نه شکاره کوی حتی چی د سر ویښتان او نوکان ئی څوک ونه کوری.

مسئله کومه ښځه چی خپله منکوحه ئی وی یا ئی شرعی مینځه وی جماع حلاله او د بدن هر ځای ته ئی نظرکولای شی ولوکه فرج ته ئی کتلای شی لیکن دا چی فرج ته کتل د سترکو دید کموی او هیره سړی ته راولی کتل ئی لازم نه دی (دورمختار و شامی)

مسئله همدارنکه مسلمانه ښځه د بلی مسلمانی ښځی هر ځای ته نظر کولای شی غیر د (نامه لاندی تر زنکو پوری) همداسی مسلمانی نیکی ښځی د بدکاری نه ځان ساتل پکار دی چی هغه بیا نورو سړو ته د سړی پرده ښکاره کوی (رواه دورمختار و شامی)

مسئله د ښځی محرم سړی ته لکه پلار تره ورور ماما وغیره چی نکاح نه ورسره کیږی نو د دی مخ سر سینه مت او پنډي ښکاره کول جواز شته لیکن کیدي ورنو او شاته ئی کتل منعه دی چی د شهوت خطره پکی راځي (رواه دورمختار و شامی)

مسئله نامحرمی ښځي سره کورکی یا بیرون دکور ناسته ولاړه او ملاسته حرام قطعی ده ولوکه کټونه ئی جدا جدا هم وی (رواه دورمختار)

مسئله همداسی د ځوانی خوانبی سره هم خور سره لور سره په تنهئی کوټه کی بی د عذره ملاسته شه نه ده ځکه د فتنی خطره ده.

مسئله په شرعی عذرکی لکه د ښځي مټ وغیره زخم وی ډاکتر صرف ورت کتلای شی بی ضرورته لاس وروړای نشی همدارنکه قاضی هم د ضرورت په وخت د ښځی مخ ته کتلای شی لیکن مسحه کولای ئی نشی بل دا چی څوک دکومی ښځي د نکاح طلب وکړی صرف هغه ښځه کتلای شی لیکن نیت ئی د سنت طریقی وی نه د شهوت په طریقه مسحه کولای ئی هم نشی (رواه شرح تنویر و شامی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دولسم باب

## متفرقه مسئله

## د قسم خوړولو بیان

قسم خوړل پر دری قسم دی ۱ غموس ۲ لغوه ۳ او منعقد قسم دی
۱ غموس قسم هغه قسم خوړلو ته وائی چی په یوه تیر شوی کار باندی په درواغو قسم وخوری لکه زید پرون نه وه راغلی اوس دی ووائی چی قسم دی زه پرون راغلی وم یا ئی د چا نه شی وړی وه او اوس وائی چی قسم دی ما ندی وړی نو په غموس قسم باندی کفاره نشته بلکه توبه به باسی.
۲ لغوه قسم هغه قسم خوړولو ته وائی چی په تیر شوی شی قسم وخوری او دی پدی فکر کوی چی زه دا خبره کوم لیکن واقعیت هسی نه وی مثلا زید خیال یا فکر کی ده چی عمر پرون راغلی وه نو دی قسم خوری چی وائی قسم دی عمر پرون راغلی وه لیکن هغه نه وه راغلی نو دی قسم ته لغوه قسم وائی پدی قسم کی نه ورته کفاره شته او نه ورته کناه شته لیکن باید داسی قسم نور ونه خوری.
۳ منعقده قسم هغه قسم خوړلو ته وائی چی په یوه راتلونکی کار باندی قسم وخوری او وائی چی زه به فلانی کار وکړم یا ووائی چی قسم ده زه به فلانی کار ونه کړم چی کوری د کولو کار ئی ونه کړو او چی ویلی وه چی زه به ئی ونه کړم او ده هغه کار وکړو او خپل قسم ئی مات کړلو نو په داسی قسم خوړولو باندی کفاره شته (رواه هدایه بحررائق او طحاوی) .

## د قسم خوړلو کفاره

څوک چی قسم وخوری او بیا هغه مات کړی اول دا ده چی خپل غلام به ازادوی دوهم دا ده چی لس مسکینانو ته به دوه وخته په ماړه نست ډوډی ورکوی یا به د مړولو پرځای د خوراک قیمت ورکوی لکه د روژی کفاره چی ورکوی یا به لس مسکینانو ته جامی ورکوی هغه داسی جامی چی ټول بدن ئی پری پټ شی لکه څادر یا اوږد کمیس او که چیری

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسکین وه جامی او ډوډې ئی ورکولای نشوه نو بیا به پی در پی دری روژی نیسی که ئی دا روژی یوه یوه جدا ونیوله کفاره ئی نه اداکیږی او که ښځه وه دی دری روژو کی ورته حیض راغی دا به هم کله چی پاکه شوه بیا به پی در پی دری روژی ونیسی (رواه شرح تنویر دورمختار و ردمختار)

دا چی قسم ماتول عام دی که ئی قصدا مات کړو یا ئی جبرا مات کړو که ئی په هیره مات کړو او که په خطائی سره نو د ټولو قسم ماتولو حکم یو دی حتمی به کفاره ورکوی (رواه در ورد و هندیه)

## د قسم الفاظ او مسائل ئی

که چا وویل چی قسم می دی په خدای پاک وی یا قسم می په خدای پاک ده یا قسم خورم په خدای پاک سره یا می دی قسم په خدای پاک وی یا وائی قسم می د وی د اللهﷻ په عزت او جلال یا د خدای پاک په لوئی می دی قسم وی یا خدای ج حاضر او حضور دی یا خدای پاک شاهد دی یا ئی د خدای پاک نوم وانه خیست او ویی وویلقسم می دی وی یا په قسم سره وایم یا قسم می دی وی چی دا کار به ونکړم دا ټول قسمونه شول کفاره به ئی ورکوی او که چیری چا قسم په قرانکریم وخوړ ځنی عالمان وائی چی پدی قسم نه راځی او ځنی عالمان بیا وائی چی قسم پدی راځي ځکه چی عرف ونه کرځی (رواه دورمختار و ردمختار)

مسئله که چا وویل چی ما که فلانی کار وکړو په ما دی غضب د خدای پاک وی یا وائی چی زه به غل یم زه به شرابی یم زه دا یم زه به دا یم دا قسم نه کیږی او که ئی داسی وویل چی که فلانکی کار می ونکړو زه به مسلمان نه یم زه به کافر یم زه به یهودی یم یا دی زه کافر دنیا نه تیر شم رسول ص نه به بیزار یم یا قرانکریم نه به بیزاریم او داسی نور ټول وینا قسم کی راځی (رواه دورمختار و ردمختار)

مسئله د خدای پاک نه سوا په بل چا باندی قسم نشته که چا ویل چی په رسول الله ص می دی قسم وی په کعبه می دی قسم وی په ځوانی می دی قسم وی د بچو په سر می دی قسم وی فلانی بابا می د ووهی دا قسمونه نه دی که چا وکړه نو کفاره پری نشته لیکن کناهکار دی (رواه هدایه)

مسئله که چا وویل چی حلال دی پر ما حرام وی زه به دا کارونه ونه کړم یا ئی وویل پر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما دی حرام حلال وی که می دا کار ونه کړو بیا هسی ونه شی یا ئی وویل چی دا کومی روپی د ما سره دی دا په ما حرامی دی بیا ئی هغه خرچی کړی دلته د قسم کفاره پری واجب شوه (رواه فتح القدیر)

مسئله که چا قسم سره متصل انشاالله وویل مثلا ووائی چی قسم پر خدای ج دی چی دا کار به وکړم انشاالله نو دا قسم ندی (رواه شرح التنویر)

مسئله که چا قسم وکړو چی زه به لمونځ ونه کړم یا به د مور او پلار سر خبری ونه کړم یا به نن زه غلا کوم او داسی په بله کناه خبره ئی قسم وکړو قسم ئی وشو خو ماتول ئی پری واجب دی ضرور به دا قسم ماتوی او کفاره ئی ورکړی که نه نو ورته ډیره کناه دی نور دی داسی قسم نه کوی (رواه شرح تنویر)

## د حد مسائل

مسئله که چا زنا وکړه او په هغه ثبوت شوه نو که هغه محسن (نکاح والا) وه نو رجم کیږی به په یوه میدان کی به سنکساریږی او که غیر محسن وه نو هغه لپاره سل دُری دی وهل کیږی به. محسن هغه ته وائی چی هغه ازاد مسلمان عاقل او بالغ وی په نکاح صحی سره ئی صحبت کړی وی همدارنکه د ښځی حکم دی چی هغه خاوند سره صحبت کړی وی (رواه دورمختار و ردمختار)

مسئله که چا لواطت وکړو هغه لپاره بیا تعزیر دی هغه نو د امام خوښه چی دیوال پری غورځوی او که ئی د بامه راخطا کوی کمر پری رااړوی یا ئي اوچت سرچپه ځوړندوی په اور ئی سوزوی په دورو ئی وهی او که بله جزا ورکوی هغه د ده خوښه ده نو یا به ئی زندان ته اچوی چی هلته مړ شی یا به هلته توبه وباسی او که ئی عادت وه باید هغه قتل شی سیاستن (رواه دورمختار و شامی)

مسئله د شراب څکلو لپاره که هغه ازاد وه نو ۸۰ دُری به وهل کیږی او که مریی وه هغه به ۴۰ دری وهل کیږی (رواه مجمع الانهار)

مسئله که محسن سړی وه یا ښځه وه نو زید ورته د زنا کنځل وکړی او پری ثابته شوه نو قاضی به زید ۸۰ دری ووهی او که زید مریی وه نو قاضی به ورته ۴۰ دری جزا ورکړی (رواه شرح تنویر)

مسئله که چا یو بل ته وویل چی زانی هغه ورته وویل چی ته زانی ئی دلته په دواړو حد

(c) ketabton.com: The Digital Library



جاري شو هر يو ئی چی مطالبه وکړی دواړه به جزاکالی (رواه دورمختار)

مسئله که چا یو بل ته وویل چی حرامی یا ئی د پلار نوم ورته واخیسته چی ته د هغه ځوی ئی حال دا چی د هغه مور محسنه وه نو په داسی شخص حد د قذف جاری کیږی (رواه هدایه و مختار)

مسئله که چا مسلمان ته وویل چی فاسقه فاجزه کافره خبیثه یا ئي وویل چی غله پدی شخص تعزیر شته اوکه ئي ورته وویل چی خره یا خنزیره تعزیر ورته نشته بهتره خبره دا ده که ویونکی شه سړی یا امام وه نو تعزیر ورته شته اوکه عامی وه نو ورته نشته تعزیر (رواه هدایه)

مسئله که عاقل بالغ کم دکمه سل روپی (درهمه) غلا کړی یا ئي داسی شی غلا کړو چی د هغه سل درهم قیمت وه او یا ئی د یوه محفوظ جای ته چی هلته د غلا امکان نه وه د هغه شخص لپاره حد دا دی یا به لاس ئی غوخ شی لیکن د پیو غوښی میوی قرانکریم مرغی ماهی وغیره ئی چی غلا کړی وی حد ورته نشته (رواه هدایه)

## د مرتد د حکم مسائل

خدانخاسته که مسلمان مرتد شو یعنی د اسلام نه واوښت اوکافر شو نو حکم ئی دا ده چی دری ورځی به هغه بندی خانه کی واچول شی اسلام به ورته پیش کړی که مسلمان شو خو بهتره ده اوکه مسلمان نه شو نو بیا به هغه قتل کړی شی اوکه ښځه مرتده شوه د هغی لپاره بیا قتل نشته نو تر هغه وخته به دا بندی وي چی تر څو ئي ایمان نه وی راوړی همدارنکه که هر نارینه یا ښځه د اسلام نه اوړی اوکفر کلمه هغه وائی د هغوی تیر شوی اعمال او عبادتونه ئی چی څه کړی وه هغه ټول ضایع شوی یعنی د هغوی نکاح ماته شوه که ئی حج کړی وه ضایع شول بیا ئی که توبه وویستله بیرته به ټول نوی کوی (رواه مجمع الانهار)

مسئله که خاوند مرتد شو نکاح ئی فی الحال ماته شوه که ئی بیرته اسلام راوړ بیا به نکاح تازه کړی اوکه ښځه مرتده شوه د بلخ د علما کرامو په وینا چی نکاح ئی نه ماتیږی بلکه څو ورځی به قیدیږی تر څو ایمان راوړی (رواه خلاصة الفتوا)

مسئله که چا په خپل اختیار دکفر کلمه وویله اکر که په ټوکه یا خندا سره وی نو دی بلکول کافر شو مسلمان باید حالاتو نه بلکول ځان وساتی که ښځه خاوند تهووائی چی ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه خدای ئی چی د زړه په حال پوهیږی هغه جواب ورکړی چی زه خدای یم نو پـدی کـافر شه اوکه چا وویل چـی ای د خـدای ج دومـره قـدرت نشـته چـی دا کـار وکـړی او ده ورتـه وویل چی هو نشته نو دوی کافر شوه.

که چا کناه کوله بل ورته وویل چی ته د خدای ج نه نه بیریږی هغه جواب ورکړ چـی هـو نو دی کافر شه که چا وویل چی ما داسی کار کړی دی چی خدای پاک تری خبر ندی او یـا چا وویل چی که خدای تعالی راته ووائی چی دا کار وکړه نو زه به ئی ونه کـړم یـا ئـی وویـل چی جبرئیل ع رانازل شی او هغه شاهدی ورکړی هم به ئی ونـه مـنم یـا ئـی د کـافر څـه کـار خوښ شو ده وویل چی زه دی هم داسی وای یا ئي ځوی مړ شـو وویـل چـی خدایـه تـا زه لیدلی یم پر ما د ولی ظلم وکړو یا د الله ﷻ او د هغه د نبی ص تحقـیر وکـړی یـا ئـی د دیـن اهانت وکرو په دی ټولو باندی دی کفر ته داخلیږی (رواه خلاصه و هندیه)

مسئله که د مسلمان زړه کی داسی خبره تیره شوه او هغه ئی پر ژبه وویل نو دی پـری کـافر شه اوکه هغه ته بده ښکاره شوه او خپله ژبه ئی پری نشوای خوږولی نو پـدی کـافر کیـږی نـه بلکه دا ښه ایمان دی (رواه خلاصة الفتوا)

## د لقطی (د میندلو) بیان

که چا یو شی پیداکړو او یقین ئی وه چی زه د دی شی چښتن پیداکوم او ورکولی ئی شـم نو هغه شی دی اوچت کړی بیا ئی که اوچت نکړو نو کناه نـه لـری اوکـه ئـي یقـین وه کـه دا شی بل څوک جک کړی هغه به ئی د خپل ځان کړی ښتن ته به ئی ونه رسـوی نـو جکـول د هغه شی ورته واجب دی لیکن د ځـان لپـاره نـه بلکـه د خپـل ښـتن لپـاره ئـی نـو دی تـه لقطی وائی.

د لقطی حکم دا دی چی اعلان به ضرورکوی په هغه ځای او د هغه ځای شـاوخوا کـی دا به ووائی چی ما شی موندلی دی نخه د ووائی که چا ئی نخه وویل نو ورکول به ئـی البتـه په ضمانت سره. اوکه چا شـاهدان درلـودل نـو شـی بـه بـی ضـمانته جبرً ورکـوی اوکـه څـو ورځی تیری شوی ښتن ئی پیدانشو طمعه ئی وشلیده که هغه شی د خوراک وه لکه میوه یـا نور غذائی شی او هغه خرابیده فقیر ته به ئی خیرات ورکړی اوکـه خپـل غریـب وه خپلـه بـه ئی وخوری یا به کار ورنه واخلی (رواه دالمنتقی و درمختار)

مسئله که ساتل شوی مرغی لکه باز طوطی خارو وغیره چا پیداکړو یقین وه چـی دا بـه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



چا وی نو اعلان ورته واجب دی همدارنکه د ساتل شوی هوسی حکم هم دی (رواه عالمکیر)

مسئله که په باغ کی د ونی نه میوه راوغورځیده هغی جکول او خوړل حرام دی او که میوه داسی وه که چا پوښتنه نه کوله او مالک ئی بد نه کڼل خوړل ئی فرق نه لری (رواه هندیه)

مسئله که زید د چا حق په زور او ظلم اخیستی وه بیا حقدار مړ شو بیا زید هغی وارث ته ورکړو نو زمه ئی خلاصه شوه او کوم ظلم او زور ئی چی پری کړی مقابل کی به دعا د خیر ورته وکړی توبه به باسی استغفار به کوی (رواه دورمختار و ردمختار)

مسئله او که په زید د چا قرض وه هغه مړ شو میراث خور ئی هم نه وه یا ئی نه پیژانده او نا امیده شو نو دی دی د هغه حق د خپل مال نه ورته خیرات کړی او د هغو خوا ته دی صدقه کړی نو داسی حال کی اخروی مطالبی ته ئی خلاصی شو (رواه دورمختار و ردمختار)

## د مفقود بیان

که زید مفقود وه بلکول ئی د مړی او ژوند پته ونه لکیده نو قاضی به د هغه مال ته څوک مقرر کړی چی د هغه د مال حفاظت وکړی لیکن اختیار به ئی محدود وی د زید د ښځی او بچو نفقه به د زید د مال نه ورکوی او نور مال ئی که د خرابیدو نه وی نو ضایع کوی به ئی نه هغه به نه خرڅوی محفوظ به ئی ساتی که چیری د زید د پیدایښ نه تر اخره ۹۰ کاله تیر شول پیدانشو قاضی به د مرک حکم پری کوی مال به ئی میراث خوارو ته تسلیموی ښځه ئی کولای شی بل چا سره نکاح وکړی (رواه هدایه دورمختار و ردمختار)

## د وقف بیان

خپل جایداد مځکه باغ وغیره د خدای پاک په لاره کی فقیرانو مسکینانو او غریبانو باندی چی د ده خپل مالکیت وی ډیر ثواب لری که وقف کوونکی مړ شی او د ده دی وقف شوی مال نه ترکومه وخته چی فقیران مسکینان او غریبان ورنه فایده اخلی ثواب ئی ورپسی رسیږی (رواه هندیه)

مسئله کوم شی چی وقف شوی وی هغه د چا مملوک نه کرځی هغه نه څوک خرڅولی

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي نه ئې حبه کولی شي او نه ئې میراث کولی شي هغه شي نه به کار اخلی ولی چې هغه وقف شوی دی (رواه اشبا)

مسئله که د جومات څه شي پاتي شي څوک هغه کورته وړای نشي جومات لپاره به تل ساتل کیږی یا دا چې هغه به خرڅیږی قیمت به ئې په جومات کی مصرف کوی (رواه دورمختار و شامی)

مسئله که جومات وران شو کنډواله وګرځیده هغه بیا هم جومات دی بلکه هغه تر قیامته جومات دی (رواه شامی و بحررائق)

## د ښکار بیان

کوم حیوان چې په داړو یا په پنجو شکارکوی او هغه قابل د تعلیم وی نجس العین نه وی لکه منزری یا خنزیر پدی باندی شکار جائز ندی ځکه چې دا قابل د تعلیم هم نه دی لیکن په سپی باز او باشه باندی شکار جواز لری داځکه چې دا شیان تعلیمی دی د تعلیم نه مقصد دا دی چې شکاری سپی ته ووائی ورشه رائی وړه سپی ځي هغه ورته ثابت راوړی همدارنکه باز د شکاری په قومنده ځی هغه شی ورته راوړی که چیری دا شکار سپی یا باز زخمی کړی وی یا ئی د زخم پواسطه مړ راوړ نو دا شکار حلال دی اوکه چیری سپی څه ورنه خوړلی وی نو بیا دا شکار حرام دی اوکه باز څه ورنه خوړلی وی هغه حلال دی (رواه دورمختار و شامی)

مسئله په باز وغیره له په ژوندی حیوان سره تعلیم ورکول مکروه دی (رواه شرح تنویر)

مسئله کوم وخت چې ښکاري غشی په ښکار پسی په بسم الله پریښوده د هغه نه زخم شو او دې زخم نه هغه ښکار مړ شو هغه حلال دی همدارنکه حکم د هر شی چې هغه تیره وی وینه بهوی (رواه شامی)

کوم حیوان حلال اوکوم حیوان حرام دی منزری لیوه کیدړه شادو سپی پیشو وغیره چې دا ټول په داړو یا پنجوماتی کوی دا ټول حرام دی همدارنکه باشه باتور باز وغیره دا هم حرام دی اوکوم حیوان چې په طبعیت کی ورته خبیث قبیح ویل شوی دی لکه منکک چرمخکی کربوړی مار چنکښه مچی سپږه وروه دا ټول حرام دی لیکن میخه غوا پسه وزه هوسی سوی وغیره دا ټول حلال دی همداسی کوتره زرکه تنزری او مړه رز وغیره دا هم ټول حلال دی (رواه هندیه در ورد)

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دریائی حیواناتو کی صرف یو ماهی حلال دی ولوکه دا ماهی په نجسو اوبوکی هم وی لیکن حلال وی نو که چیری ماهی اوبوکی مړ شی بیا هغه اوبه راپورته کړی هغه حرام دی خوړل ئی جواز نلری (رواه هدایه و شرح تنویر)

مسئله بی له ماهی نه د اوبو ټول حیوانات حرام دی خوړل ئی جواز نلری (رواه هدایه)

مسئله ماهی او ملخ بی له ذبحی نه حلال دی لدی نه سوا بل حیوان بی له ذبحی نه حلال نه دی او کومه کورنی چرکه چی کرځی راکرځي او پلیت شیان خوری هغه باید دری ورځی وساتل شی بیا ئی حلال کړی بی له دی نه خوړل مکروه دی (رواه شرح تنویر)

## د ذبحی بیان

د ذبحی طریقه داسی ده چی کله چاړه د حیوان په مری کیږدی نو حتمی به بسم الله الله اکبر ووائی او چاړه به پری راکش کړی ترڅو د هغه حیوان څلور رکونه لکه ۱ حلقوم ۲ مری چی خوراکی شیان پری کیدی ته داخلیږی ۳ باقی دوه شا رکونه چی د وینی جریان پری کیږی چی یو ئی یوه طرفته او بل ئی بل طرف ته دی او د دی ترمینځ حلقوم وی او مری دا ټول څلور شیان شول پری کړل شی او که پدی کی دری شیان پری شول هم صحی ده ذبحه ئی او که چیری دوه شیان ئی پری شی هغه صحی نه دی (رواه هدایه وردمختار)

مسئله کوم وخت چی چا د ذبحی وخت کی قصداً بسم الله ترک کړه ووئی نه ویل نو دا مال حرام شو خوړلی ئی نشی او که هیر شول مال ئی بی بسم الله حلال کړو صحی ده غوشه ئی خوړلی شی (رواه هدایه)

مسئله که چا دوه وزی پرله پسی ذبحه کړی نو ده یو واری بسم الله اکبر وویل چاړه ئی پر دواړو راکش کړه په یوه ذبحه ئی دواړه ذبحه کړی صحیح ده حلاله شوه (رواه شرح تنویر)

مسئله د مسلمان د لاسه ذبحه هر وخت حلاله ده هغه که نر وی یا ښځه بالغ وی یا نابالغ وی شرط دا ده چی ذبحه ئی با قاعده وی (رواه شرح تنویر)

مسئله د وزی پسه غوا او میخی چی حلال مال وی ذبحه ئی سنت طریقه ده او نحر ئی مکروه ده او اوښ چی حلالوی نو نحر ئي سنت طریقه ده او ذبحه ئی مکروه ده.

نحر دی ته وائی چی د مری په کوزه برخه کی مذکوره رکونه با قاعده پری کړل شی همداسی د وزی غوا غویی او میخی ځملول ذبحه کی سنت دی حیوان سا وتلو مخکی

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرې پوستول وغیره مکروه دی (رواه کنز الدقائق در در وبحر)

مسئله ذبحه به د غاړې د غوټې نه کښته وی که ئی د غوټې نه پورته ذبحه وکړه ذبحه درسته نه ده پدی کی اختلاف شته لیکن بعضی کتابوکی بیا راغلی چی د دری یا څلورو رکونو قطعه کول چی وشول حقه خبره ده ذبحه ئی وشوه که نه وه نو ونه شوه (رواه در، مخر، شامی)

## د قربانی بیان او مسائل

په کومه اندازه چی نصاب د صدقی فطر واجب کرځی نو قربانی هم پری واجب کرځی هغه که نر وی یا ښځه وی قربانی به خپل وخت کی پری واجب ده او که د هومره نصاب مالک نه وی نو قربانی پری نشته د قربانی په کولوکی اجر او ثوابونه ډیر دی په مسافر هم قربانی واجب نه ده که ئی وکړه بهتره ده (رواه دورمختار)

مسئله که غنی د قربانی ورځوکی مړ شو قربانی وجوب ئی غاړې نه وغورځیده (رواه هدایه در ورد)

مسئله د قربانی ورځی د لوی اختر د میاشتی په ۱۰-۱۱-۱۲ تاریخ تعین شوی دی اخری ورځ ئی ۱۲ تاریخ د لمر پریوتو پوری دی نور نو د قربانی وخت ختمیږی قربانی د اختر لمانځه مخکی جائز ندی او په اطراف کی چی هلته د اختر لمونځ نه کیږی د صبا ختو وروسته جواز لری چی وئی کړی د شپی قربانی ورته مکروه ده داځکه چی ذبحه کی څه شی واقع نشی احتیاط پکښی ضروری دی (رواه شرح تنویر)

مسئله وزه پسه کډ کډه غویی غوا میخه او سنډا او اوښ نه سوا د بل حیوان قربانی ئی نه کیږی وزه پسه د یو کال نه کم وی قربانی نه کیږی همداسی که غوا غویی میخه سندا چی د دوه کالو نه کم وی قربانی ئی نه کیږی همداسی اوښ او اوښه چی د پنځوکلو نه کمه وی قربانی نه کیږی (رواه دورمختار و شامی)

نوټ : پسه کډ او وزه که د شپږو میاشو وی او هغه یو کلن غوندی معلومیده قربانی پری کیږی (رواه دورمختار و شامی)

مسئله وزه پسه او کډ صرف یو سړی قربانی کولی شی اکر که ډیر غټ او چاغ هم وی همداسی بیا به غوا غوائی میخه سندا او اوښ کی بیا اوه کسان کولای شی شریک شی جواز لری او غوښه ئی باید ۷ حصی شی مساوی تقسیم شی که یو پکښی ناراضه شی د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولو قربانی خرابیږی (رواه عالمکیر و شرح تنویر)

مسئله کوم ښاروی چی په دواړو سترکو ړوند وی یا په یوه سترکه ړوند وی یا ئی د یوی سترکی نیم لیدی یا نظرکم کړی وی یا ئی یو غوږ یا ئی لکی پری شوی وی یا نیم هم پری شوی نو قربانی د داسی حیوان نه کیږی همدارنکه که دکوم ښاروی یوه پښه کوډه وی یا پښنه نشی لکولای یا ئي لکوی لیکن زور پری نشی کولای د داسی ښاروی قربانی جواز نلری اوکه ئی پښی ورسره مددکاوه اوکوډ کوډ پری تلو نه بیا خیردی کیږی (رواه هندیه)

مسئله د هغه ښاروی چی غاښونه ئی بلکول نه وی اوکه پاتی غاښونه ئی د غورځول شوو نه زیات وی نو قربانی کیږی همداسی د هغه ښاروی چی پیدایښ نه ئی غوږونه نه وه قربانی جایزه نه ده اوکه وه خو واړه وه نو بیا کیږی (رواه دورمختار)

اوکوم حیوان چی مادر زاتی شکر نه وی قربانی ئی کیږی اوکه وه خو هغه مات شوی وه نو هم قربانی ئی کیږی اوکه بلکول د بیخه مات شوی وی نو بیا نه کیږی.

اوکوم ښاروی چی مرکونی وی دومره ډنکر وی چی هدوکوکی مغز پاتی نه وی نو قربانی ئی نه کیږی اوکه چیری ډیر کمزوری نه وه بیا فرق نه لری همدارنکه د مریض حیوان چی مرض ئي معلوم وی جواز نلری (رواه هندیه)

مسئله که ئی د قربانی لپاره مال واخیست وروسته عیب پکښی پیداشو قربانی ئي نه کیده که سړی غنی وه بل مال به اخلی قربانی کوی به ئی اوکه فقیر وی نو قربانی کولای ئی شی (رواه دورمختار)

مسئله بکر غائب وه په سفرکی وه چا ورته د هغه بی اجازی قربانی وکړه قربانی ئی بلکول نه کیږی اوکوم کسان ئی چی شریکان دی د هغوی هم نه کیږی (رواه تاتارخانیه)

مسئله که د زید قربانی قصاب ورته ذبحه کوله او ده ورسره د مددکولو پخاطر پر چړی لاس ایښی وه دلته پر دواړو د بسم الله ویل واجب دی (رواه قاضی خان)

مسئله د قربانی غوښه به دری حصی کیږی یوه حیصه به خیرات کړی یوه حصه به خپلوانو ته ورکړی او بله حصه به خپله واخلی د قربانی پوستکی به خیرات کوی یا به خرڅوی د هغه پیسی به خیرات کړی (رواه بدایع الزایع در ورد)

مسئله که وزه یا غوا بلاربه وختله د هغی قربانی کیږی که بچی ورنه ژوندی ووت هغه به هم ذبحه کړی غوښه به ئی توله خیرات کړی شریکان به ئی نه خوری اوکه ئی وخوړه بیا د هومره قیمت خیرات کړی (رواه در ورد)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د خوراک او څښاک بیان

خوړل او څښل پر درې قسمه دي فرض مباح او حرام.

۱ دومره خوړل او څښل چې بنده ورنه د مرګ نه بچ شي او خپل لمونځ ولاړې وکړې نو دا خوړل او څښل پرې فرض دي تر مړیدو پورې خوراک او څښاک بیا ورته مباح دي او لدې زیات خوراک ورته بیا حرام دی. لیکن که سبا ته روژه وه روژې لپاره ئې ځان تکړه کاوه یا د میلمه لپاره ئې خواړه لګیا وه خیردې فرق نه لرې (رواه دورمختار و شامی)

مسئله د خوراک شروع کې به اول خپل لاسونه وینځی چې دا یوه سنت طریقه ده بیا به د خوراک په شروع کې بسم الله و علا برکت الله ویل او په اخرکې الحمدالله ویل سنت طریقه ده.

په شروع کې د بسم الله ویل او په اخرکې د الحمدل الله ویل په زوره ویل ضروری ده چې نورو ته تلقین ده چې نورو ته یاد شي هغوی ئي هم ووائی (رواه دورمختار و شامی)

مسئله د اضطرار حالت کې حرام هم سړي ته حلالیږی لیکن په قدر د ضرورت مثلا څوک د تندې مړکیده سوا د شرابو نه بل څه نه پیداکیده یقین ئی وه چې تنده مې پرې ماتیږی مرګ نه بچ کیږم خو صرف دومره به څښې چې مرګ نه پرې بچ شي همدارنګه د لوږی نه هلاک کیده بې د خنزیر د غوښې هلته بل څه نه وه لیکن دومره د خنزیر غوښه خوړلای شي چې د مرګ نه پرې بچ شي همدارنګه که د لوږی مړکیده د بل چا مال وه هغه بې اجازې دومره خوړی شي چې د مرګ نه پرې بچ شي (رواه هدایه و دورمختار)

## د نیشې شیانو بیان

شراب بلکول حرام دي او نجس هم دي ولوکه یوه قطره هم وی د شرابو ساتل کورکې خرید فروش ئی شرعا ناروا دي.

شراب په لغت کې د هر شي څښلو ته وائې دلته ورنه مراد نشه او شراب دي که شراب سرکه شول نو دا سرکه پاکه ده خوړل ئی جواز لرې ځکه چې حقیقت ئي بدل شو او د شرابو سرکه جوړول جواز لرې مکروه ندي (رواه هدایه و دورمختار)

مسئله د شرابو نه جدا کوم شي چې هغه نشه راوړی لکه بهنګ افیم چرس وغیره حکم ئی دا ده چې دا شیان ټول نجس ندي دا چې نشه راولی خوړل ئی حرام دي ولوکه یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زره هم وی لیکن د ضرورت وخت‌کی جواز لری لیکن په قدر د ضرورت (رواه دورمختار و شامی)

## د زرو او وریښمو بیان

د سرو زرو او سپینو زرو په لوښی‌کی خوړل حرام دی د زرو قاشقه سلائی قلم مشوانړی ناستی چوکی وغیره دا ټول منعه دی هم مردانه او هم ښځی لپاره لیکن د ښځي لپاره د سرو او سپینو زرو استعمال دکانړو په ظریعه جواز لری (رواه دورمختار و شامی)

مسئله د دوا لپاره د زرو ورق وغیره خوړل خوزیدونکی غاښ د سپینو زرو په تار مضبوطول جواز لری همدارنکه د سرو پوزه جوړول د ضرورت وخت جواز لری (رواه دورمختار و شامی)

مسئله د پادشاه ملک او قاضی لپاره د ضرورت لپاره د سپینو زروکوته جواز لری خو د یوه مثقال نه زیاته نه وی بعضی دا سنت‌کڼي لیکن د بل چا لپاره منعه دی

مسئله په‌کوته‌کی خپل نوم نقش‌کول د خدای پاک نوم او داسی نور جواز لری ځکه چی د نبی‌کریم په‌کوته‌کی نقش د (محمد الرسول الله ص) نوم نقش وه (رواه دورمختار و شامی)

## د بدن د صفائی بیان

د نوکانو اخیستل د سر د ویښتانو تراش‌کول د تخرک او نامه لاندی ویښتان لری‌کول یا د نارینه لپاره د سر ویښتان تراش‌کول د بریتو سنت اخستیل په هره جمعه‌کی یو وار مستحبه طریقه ده‌که په جمعه‌کی نه وی اقلاً باید پنځلس ورځوکی حتمی یو واری وی او د څلویښت ورځو ئی اړول مکروه تحریمی دی (رواه دورمختار ، شامی عالم‌کیر)

مسئله نارینه لپاره د سر ویښتان پریښودل او یا ئي تراش‌کول یا ماشین‌کول ئی ورته سنت طریقه ده د انکریزانو غوندی سر جوړول مشابهت دی د انکریزانو سره دککری تراش هم فرق نه لری د ښځی لپاره د سر ویښتان ماشین‌کول یا تراش‌کول یا قیچی‌کول حرام دی په حدیث‌کی لعنت پری ویل شوی همداسی‌که ښځه نارینه غوندی ځان جوړکړی یا نارینه ښځی غوندی دا ټول حرام دی (رواه دورمختار و شافی)

مسئله د ننکی ویخته لری‌کول جواز لری یعنی خط جوړولی شی همدارنکه وری زونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم اخستلای شي لیکن د هجراکانو (بدکارو) سره ئی مشابهت ونه شي (رواه تاتار و خانیه )

مسئله د بریتو خیریل بعضی بدعت بولی او بعضی ئی سنت بولی پدی طریقه د قیچی کول چی د بره شوندی د بره غاړی سره برابری شی سنت دی اوکه بریت د دواړو ډډو نه پاتی وی فرق نه لری (در و رد)

مسئله د ږیری تراش او پری کول منعه دی البته که د یوه موټي ئي ږیره اوږده وه د یو موټی نه که زیاته وه پری کولای ئی شي د چلکار (لاندی شوندی لاندی وړه ږیره) د خوا او شا ویښته لری کول علماو بدعت ویلی دی

فایده شیخ عبدالحق محدث دهلوی د مشکوة شریف په شرحه کی فارسی ژبه کی داسی ویلی دی لکه حلق کردن لحیه حرام است / و روش / افرنج و هنوز وغیر هم است وکذاشتن به قدر قبضه واجب است و انکه ان را سنت کویند به معنی طریقه ملوک در دین است یا به جهت انکه سبوت ان به سنت است.

ترجمعه د ږیری خرییل حرام دی دا طریقه د فرنکیانو یهودیان وغیره وه په قدر د قبضی ئی پریښودل واجب دی ځکه چی په حدیث شریف کی راغلی چی امر ئی واجبو سره دلالت کوی ولوکه بعضی احادیث ئی په سنتو باندی تصدیق کوی (رواه اشعة المعاد باب السواک کتاب طهارت ۱۲۸)

مسئله د زینت پواسطه د سپینو ویښتانو ویستل مکروه دی د مجاهد لپاره د دښمن روعب اچولو په خاطر مستحبه طریقه همدارنکه ورته اوږده ویښتان پری شودل هم مستحبه طریقه ده (رواه در ورد)

مسئله د تخرک د ویښتانو تراش کول فرق نلری لیکن ویستل ئی بهتر دی همدارنکه د نامه لاندی ویښتان به نارینه تراش کوی او زنانه به ئي په کوتو شکوی باسی یا به ئی په نوسی باسی تراش کول ورته جواز نلری ویستل یا شکول ئی سنت طریقه ده (رواه ردمختار و شرح تنویر)

مسئله نوکان باید په ترتیب لری کړل شی لکه اول به د ښی لاس د مسواک کوتی نه شروع کړی په غچه کوتو به ئي ختموی بیا به ئی د چپ لاس غچی کوتی نه شروع کړی په غټه کوته به ئي ختموی په اخرکی به د شی لاس غټه کوته نوک اخلی د پښو دکوتو د ښي پښي د غچی کوتی نه به ئي شروع کوی په ترتیب به ځی د چپی پښی په غچه کوته به ئی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ختموی.

د نوکانو پری کول په غاښو باندی مکروه دی همدارنکه په جنابت کی هم د ویښتانو خریل او د نوکانو اخستل وغیره مکروه دی (رواه در ورد)

## د غیبت بیان

مسلمان ته غیبت کول حرام دی دا په کلام ربی ثبوت شوی ده او غیبت دی ته وائی چی د یو مسلمان ورور ناکاره خبره بیانوی که هغه ئی واوری بده پری ولکیږی دی ته غیبت وائی که چیری هغه خبره په هغه کی بیا نه وی دا یو بهتان دی چی پری ولکاوه.

تنبه: غیبت کول کناه کبیره ده د قیامت په ورځ به د غیبت کوونکی نیکی غیبت کړل شوی ته ورکیږی مسئله د بعضی کسانو غیبت جواز لری لکه ۱ یو سړی لمونځ اودس کوی او روژه نیسی لیکن خلکو ته په لاس یا ژبه ضرر رسوی نو د هغه غیبت بل ته جواز لری پدی خاطر چی د ده په په تظاهر دوکه نشی بل دا چی پادشا باندی بد ویل چی ده ته ئی زجر ورکړی وی جواز لری.

۲ یو سړی په ښکاره ناجائزه کارونه کوی د داسی شخص ناجائزه کارونه شکاره کول جواز لری بلکه ثواب لری اوکه هغه ئی په پټه کول نو بیا به ئی شکاره کوی.

۳ زید خیانت کر سړی دی بکر د عمر نه مشوره غوښته چی زه د زید سره معامله کوم نو عمر به هغه واقعیت وائی دا هم ښه خبره ده.

۴ اعتقاد چی د شریعت نه خلاف وی مبتدیع وی د هغه حال نه بل اکاه کول جائز دی.

۵ حاکم ته فریاد کول چی فلانی ورسره بد کړی دی پدی کی هم بدی نشته (رواه در ورد)

مسئله د مجهول سړی غیبت جواز لری چی بل پری پوه نشی لیکن که پوه شه ویونکی نوم واخیست دا غیبت شو (رواه در ورد)

## د سلام اداکولو بیان

د سلام اداکول سنت موکد دی او جواب ورکول سلام ته واجب طریقه ده سلام به په لړ په زوزه اچول شی چی بل ئي واوری اوکه سړی کوڼ وه باید د ژبی او شونډو خوزولو ئی پوه کړی (رواه در ورد)

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسئله چا سلام پر یوه جماعت واچاوه نو یو شخص به جواب د سلام ورکوی (رواه در ورد)

مسئله‌که چا وویل چی په زید ځما سلام وایه پدی شخص د سلام رسول واجب شول که زید ته سلام ورسیده ده ته هم جواب واجب دی.

مسئله تلونکی به په ناست سور به په پیاده سلام اچوی وروکی به په لوی سلام اچوی او لږ به ئی په ډیرو اچوی.

مسئله داسی ځایوکی چی څوک خطبه وائی په لمانځه ولاړ وی تلاوت‌کوی اذان یا اقامت‌کوی طعام خوری څوک په بولوناست وی اودس‌کوونکی باندی په دینی تدریس ناست وی اجنبی ښځو باندی په فسق فجر څوک ناست وی وغیره باندی سلام اچول ښه ندی.

## د ستر بیان او مسائل

د نامه لاندی تر زنکنو پوری عورت دی نور د سړی هر ځای ته نظرکول جواز لری.
همدارنکه د ښځي هرځای ته نظرکول د بلی ښځی لپاره جواز لری سوا د نامه لاندی تر زنکنو پوری لیکن مسلمانه ښځه به د بدکاری ښځی نه ځان ساتی ځکه بدکاره ښځه د سړو سره د هغی حال بیانوی فتنه ورنه جوړیږی همدارنکه دکافری ښځی حیثیت د مسلمانی ښځي لپاره د اجنبی نارینه لری (رواه دورمختار)

مسئله‌کومه ښځه چی د سړی محرمه وی یعنی د هغی نکاح تل ورسره حرامه وی په نسبت سره یا سبب سره د هغی مخ سینی مټ او پنډی ته نظرکولای شی لیکن‌کیدی شا او اورنو ته ئی نظر نه شی‌کولای (رواه دورمختار)

مسئله‌کومه ښځه چی د سړی منکوحه وی یا ئي مینځه وی جماع ورسره‌کولای شی هرځای بلکه اندام مخصوصه ته‌کتلای شی لیکن اندام خصوصه ته‌کتل د سترکو دید‌کموی او هیره سړی ته راولی (رواه دورمختار و شامی)

مسئله اکرکه د ښځي مخ عورت نه دی بلکه علما کرامو د فتنی د پیداکیدو د وجی فتوا ورکړی ده او د نامحرمو ته ئی د مخ شکاره‌کول منعه ضرورکڼلی ده بلکه د ښځي یو ویښته هم نامحرم ته جواز نلری چی وئی وینی پدی وجه ئی د سر دکمنځولو ویخته او د نوکانو د ښخولو حکم‌کړی چی نامحرم ئی ونه وینی او نظر ئی پری ونه لکیږی همدارنکه د هر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ریشته دار لکه د تره ځوی د ماما ځوی د ترور ځوی د عمه ځوی وغیره چې د هغې ورسره نکاح خیږی ستر او پرده ورته ضروری ده.

همدارنکه د ښځې د خاوندکوم رشته دار سوا د پلار او نیکه نه نور ټولو نه پرده ضروری ده.

مسئله په حدیث شریف کی راغلی چې د داسی کسانو کورته تک او راتک ناسته ولاړه کی د فتنی خطره ډیره لیدل کیږی او لیدل شویدی.

همداسی د خصی ایزک او مخنص ته هم پرده د ښځې ضروری ده او هغه ښځه چې بوډې وی د هغی لاس او مخ ښکاره کول فرق نه لري (رواه دورمختار و رد)

مسئله په شرعی عذرکی مثلا د ښځې مټ زخم وه ډاکټر صرف هغه لیدلی شی او ضرورت کی لاس وروړل هم شی همدارنکه قاضی کولای شی چې د ضرورت وخت ورته وکوری مسحه کولای ئی نشی همدارنکه کـه څوک کومه ښځې سره غواړی نکاح وکړی صرف کتلای ئی شی لیکن په سنت طریقه نه د شهوت د وجی نه همدارنکه دا ئی کولای شی چې د ضرورت وخت د ښځي اندام مخصوصه کتلای شی لاس ورداخل کولای هم شی (رواه شرح تنویر)

## د رشوت اخستلو بیان

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمایلی چې په رشوت ورکونکی او رشوت اخستونکی الله ﷻ لعنت ویلی دی بل ځای بیا نبی کریم ص فرمایلی چې رشوت ورکونکی او اخستونکی واړه دوزخیان دی.

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمایلی چې کوم قوم کی سود رواج وی الله ﷻ په هغوی قهطی راولی اوکوم قوم کی چې رشوت رواج وی هغوی کی تل دښمن لخوانه ویره وی.

په حدیث شریف : کی بیا راغلی چې څوک د چا سپارش کوی او پدی سپارش کی ده ته څه رسیږی بیا هغه دی قبول کړی نو دا شخص د دوزخ یوه دروازه کی داخل شو (رواه مشکوة)

حدیث شریف : نبی کریم ص فرمایلی چې د قیامت په ورځ به د سړی خپل اندامونه کواهی ورکوی لکه چا چې په سترکو څه لیدلی وی په غوږو ئی اوریدلی وی په لاس ئی څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړی وی په پشو ورغلی وی په ژبه ئی څه ویلی وی همدارنکه ټول اندام به شهادت ورکوی هلته بیا انکار او بهانی بلکول فایده نلری.

حدیث شریف : په حدیث شریف راغلی چی څوک تل سبحان الله الحمدالله و الله اکبر یا نور تسبیحات وائی نو دا تسبیحات به د قیامت په ورځ د ده اندامو ته قوت ورکوی او پردی شخص به کواهی ورکوی (رواه مشکوة او مسلم)

## جنیات څو قسمه دی

دنیا کی دری قسم جنیات موجود دی ۱ د مار لړم او چینچو په شکل ۲ هوائی جنیات دی چی هوا کی ځی او راځی ۳ هغه جنیات دی چی د انسانانو غوندی حساب کتاب ثواب او عذاب کی شامل دی.

اول چی د مار لړم او چینچیو غوندی دی هغوی مغزونه لری لیکن نه پوهیږی سترکی لری وینی نه او غوږونه لری اوری نه.

دوهم د انسان په شکل دی لیکن روحونه ئی د شیطان په شکل دی.

دریم قسم د فرشتو په شکل دی هغه بیا جنتی هم دی.

حضرت یحیی ع ابلیس ته وویل چی د انسان باره کی څه خیال لری ابلیس ورته وویل او انسان ئی په دری قسمه ورته معرفی کړو.

۱ استغفار کوونکی / مونږه غواړو چی دوکه ئی کړو بیا هغه توبه وباسی د مونږه خواری عبث کړی.

۲ یو قسم ماشوم غونده / دا قسم مونږه ژر تیر باسو لاس مو پری بر دی هر څه پری کولای شو.

۳ تقوا داره انسان / هغه تاسو غوندی دی څومره چی پری خپل وس وکړو هغه کمراه کولای نشو.

## د سکندر کبیر یا ذوالقونین قصه

مجاهد رحمت الله فرمائی چی د ځمکی پر مخ څلور پادشاهان تیر شوی چی په ټول جهان ئی پادشاهی کړی ده چی په هغوی کی دوه مسلمانان وه لکه حضرت سلیمان ع او ذوالقرنین وه او په کفارو کی یو ئی نمرود وه او بل بخت نصر وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پنځم حضرت امام مهدی صاحب ده چی اخره زمانه‌کی به دنیا ته ظهورکوی په ټولو به حاکمیت پیداکوی.

یادونه د ذوالقرنین په نبوت‌کی اختلاف دی د ذوالقرنین اصلی نوم سکندر وه چی پلار ئي د نجوم لوی عالم وه ده یوه شپه خپلی ښځی ته وویل چی هغه ستوری فلانی ځای ته راغی نو ما به ویښ‌کوی اوس زه ډیر ستړی یم بیدیږم‌کله چی هغه ستوری فلانی ځای ته راغی زه او ته به جماع وکړو نو الله‌ﷻ به ما او تاته یو داسی ځوی راکړی چی هغه به تر آخری زمانی ژوندی وی دی وخت‌کی د ده دا خبره ترور ئی شاته ولاړه وه وائی وریده‌کله چی د سکندر پلار ویده شو نو د ښځی ئي هغه خبره د یاده ووتله لیکن دا چی ترور ئی چی هغه ستوری ته متوجی وه هغه ستوری چی هغه ځای ته راغی دی خپل خاوند جک کړو جماع ئي ورسره وکړه حامله شوه د هغی ځوی چی پیداشو نو نوم ئی خضر ع پری کیښوده. کله چی د سکندر مور اسمان ته وکتل‌کوری چی هغه ستوری چی خاوند وظیفه ورکړی وه هغه ستوری د هغه ځایه تیر شوی وه خاوند ورته وویل چی ولی دی ویښ نکړم ښځی ورته وویل چی ما ته حیا راغله جرئت رانه لاړه بیا ئي ورته وویل چی دا واری فکر ونیسه‌که چیری دا بل فلانی ستوری فلانی ځای ته راغی ما به حتمی ویښوی نو ښځی هسی وکړو خاوند ئی ویښ‌کړو جماع ئی چی وکړه الله‌ﷻ ورته ذوالقرنین خوی ورکړو.

لیکن دا چی د سنکدر پلار چی د نجوم علم پواسطه ئي د هغه ستوری د حکمت باره کی ۴۰ کاله انتظار ویستلی وه په دی امید چی پدی شپه به زه‌کورداری‌کوم ما ته به الله‌ﷻ خضر ع غوندی ځوی راکړی او هغه به تر قیامته ژوندی وی لیکن ښځی ئي دا امید ورته د خاورو سره خاوری‌کړلو (رواه حیات الحیوان)

## د تعلیم اداب

په تعلیم‌کی دری شیان ډیر ضرور دی چی د تعلیم په شروع باید وویل شی لکه ۱ د تعلیم فضیلت ۲ د تعلیم مقصد ۳ د تعلیم اداب دی.

۱ د تعلیم مقصد / دا ده چی مونږه د ښو اعمالو په قیمت او فضیلت پوه شو او د بدو اعمالو په ضرر او نقصان باندی ځانونه پوه‌کړو زمونږ او ستاسو زړونه د الله تعالی د‌کلام پاک او د نبی‌کریم ص د احادیثو نه اثر واخلی او په زړونوکې مو پوره د دین غوښتنه، شوق او استعداد پیداشی

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲ د تعلیم فضیلتونه / د تعلیم فضیلتونه بی شماره دی دلته به دوه یا دری فضیلتونه ذکر کړو لکه

الف / حدیث شریف : دی نبی کریم ص فرمایلی تاسو چی کله د جنت په باغچو تیریږی نو په هغه کی وخری صحابه کرامو عرض وکړو چی ای د اللهﷻ رسوله د جنت باغچی څه شی دی نبی کریم ص ورته وفرمایل چی د جنت باغچی د علم مجلسونه دی

ب / حدیث شریف : نبی کریم ص بل ځای فرمایلی دی چی د یوی دینی خبری اوریدل بهتر دی د یو کال عبادت نه

ج / حدیث شریف : یوه ورځ نبی کریم ص د ذکر او تعلیم پر دوه حلقو تیریده وئی فرمایل چی دا دواړه د خیر کارونه دی لیکن د تعلیم کار غوره ده دی مبارک پکښی کناست

د / حدیث شریف : یوه ورځ نبی کریم ص ابوذر غفاری ته وفرمایل چی سبا لار شه ته یو ایات د قرانکریم زده کړه نو دا تا ته د سلو رکعتو نفلو نه بهتر دی او که یو باب د علم دی زده کړو دا درته د زرو رکعتو نفلو نه درته بهتره دی.

۳ د تعلیم اداب / کله چی د تعلیم حلقه کښیناستو اول باید اودس ولرو په اوداسه کینو خوشبوئی ولکوو د قاعدی په شکل کینو د تعلیم د حلقی اداب مراعات کړو.

متکلم ته غوږ ونیسو او خبری په غور واورو چپ کینو په تعلیم کی سوال ونه کړو یو د بل شاته کینو کله چی متکلم د اللهﷻ نوم اخلی باید جل جلاله ووایو او که د نبی کریم ص نوم واخلی درود شریف یا صلی الله علیه وسلم ووایو او که د صحابه کرامو نوم اخلی رضی الله عنه او که د امامانو محدیثنو علما کرامو یا مشائخو نوم واخستل کیږی رحمة الله علیه او که د ازواج مطهراتو نوم اخستل کیږی رضی الله عنها به وایو .

## د مشوری بیان

په مشوره کی هره ټولنه مطابق د خپل مسلک او خپل هدف لپاره مشوره کوی په مشوره کی هم دری شیان ضروری دی ۱ د مشوری مقصد ۲ د مشوری فضیلت ۳ او د مشوری اداب دی.

۱ د مشوری مقصد مثلاً د دین په باره کی نیکه مشوره کوو چی د دین په احکامو ښکه خپل ځان پوه کړو ښکه ئی بل ته ورسوو تر څو د دین احکام او د شریعت محمدی طریقی پر خپل ځان کور ماحول او ټولنه کی عملی کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲ د مشورې فضیلتونه مشوره هم په هرکارکې ډیر فضیلتونه لرې لکه ۱ الله تعالی مشوره کول د نیکو بنده‌کانو صفت‌کڼلې دی لکه (وامرهم شورا بینهم) یعنی د دوی‌کار په مشوره سره وی بل ځای نبی‌کریم ص ته الله ﷻ فرمائلی چې د خپلو صحابه‌کرامو سره مشوره کوی ( وشاورهم فی الامر )

**فایده** د مشورې فایده دا ده چې په خلکوکې مینه محبت او الفت پیداکوی امیر او مامورین د شیطان د شر نه مخفوظ وی هر ملکرې دین‌کې فکرمن جوړیږی‌که مشوره‌کې څه خبره راځې یو په بل ملامتی نه راځی.

۳ د مشورې اداب په مشورې‌کې د هر یوه شخص مقصد باید د الله ﷻ رضا وی په مشورې‌کښې اول باید امیر وټاکل شی هغه به د هر یوه رایه اخلی اخرکې به‌کومه غوره مشوره چې لازم بولی هغه به ټاکی دوهم هر ملکرې نه به رایه اخلی دریم د مشورې موضوع به معلوموی څلورم د هر ملکرې رایه به استقبالوی پنځم امیر چې د چا رایه وانه خیسته یا ئی د هغه په رایه نظر ورنه‌کړو هغه باید خفه نشی شپږم افراد به خپله رایه اسرار نکوی اوم یو د بل رایه به نه ردکوی اتم د امیر رایه‌کې د الله ﷻ او د هغه رسول نافرمانی نه وی نهم‌که چیرې څوک د مشورې ماتول غواړی باید د ټولو مشوره ماته شی.

## د دولس اوصولو عملی کول

پر څلوروکارو باندې باید ځان عادت‌کړو لکه ۱ په تکبیر اولی باندې ۲ په ذکر باندې ۳ په تهجدو باندې ۴ د امیر په اطاعت باندې

پر څلوروکارونو عادت باید په قدر د حاجت وکړو ۱ د خوراک‌کول ۲ د خوب‌کول ۳ خبرې‌کول ۴ او د جومات نه بیرون وتل

دا څلورکارو ته باید بلکول ونه‌کړو لکه ۱ سوال‌کول ۲ طمعې‌کول ۳ اسراف‌کول ۴ او د چا شې بې اجازې اخستل

## کرام الکاتبین

الله ﷻ د هر بنده لپاره دوه فرشتې په نامه دکرام الکاتبین مقررکړې دی چې یوه ئې په ښی اوږه قرار لرې‌کله چې بنده نیک عمل وکړی دفعتا ئې هغه خپل دفترکې لیکی دفعتاً ئې لیکی

(c) ketabton.com: The Digital Library



بله په چپه اوږه قرار لری نوکله چی بنده بد عمل انجام کړی نو دا مهربانه فرشته د بنده دا بد عمل د ورځی تر اخره نه لیکی پدی خاطرکه دا بنده توبه وباسی بل د الله ﷻ رحم اوکرم دی چی په خپل کلام کی فرمایلی چی د بنده د یوه نیک عمل بدله کی لس چنده نیکی درکوم او د یوه بد عمل بدله یو په یو ده

کرام الکاتبین د بنده د نیکو اعمالو او بدو اعمالو نه یو لوی دفتر جوړ وی د قیامت په ورځ به د غاړکی په شکل غاړه کی پروت وی د هر ښه عمل لکه د لمانځه روژی صدقی او نورو ښو عملونو همدارنکه د بدو اعمالو لکه غیبت زنا وغیره هر یو ځان ځان ته یوه پاڼه ورته لکه د امیل غوندی غاړه کی پروت وی د حشر په میدان به د هر عمل ځواب ورکوی او د بدن هر غړی به پری شاهدی ورکوی انکار به هم کولای نشی (ومن الله التوفیق)

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**